بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

حامداً و مصلیاً ═══ کلا انہا تذکرۃ

فمن شاء ذکرہ فی صحف مکرمۃ مرفوعۃ مطہرۃ بایدی سفرۃ کرام بررۃ

تذکرۂ قادریہ

پښتو

یو د فیوضاتو او برکاتو څخه ډک ماهر علوم شریعت او واقف رموز طریقت عمدۃ الاصفیاء العارفین قدوۃ الاولیاء الکاملین سیدنا و مولانا شیخ المشائخ السید

طاهر علاؤالدین

القادری الگیلانی البغدادی مدّ ظله العالی صدر مشائخ الطریقة القادریة العظمیٰ

او دا کتاب په اشاره او سرپرستی د سیدنا و مولانا الشیخ السید محمود محی الدین القادری الگیلانی مد ظله العالی په پښتو ژبه ترجمه او چاپ سو

حال دربار غوثیه

شارع الگیلانی کوئٹه (پاکستان)

التماسِ مُسلم

ہفت جنت ورثۂ اجدادِ غوثؓ
رشکِ فردوس دارم بغداد غوثؓ

بشنو ذکرِ غوثؓ از اولادِ غوثؓ
قصّۂ رو دادِ غوثؓ اورادِ غوثؓ

از یقیں سُوئے علاء الدیں ببیں
تازہ گرد و در دلِ تو یادِ غوثؓ

او قریب است و حبیب است و نقیب
جانشینِ مسندِ ارشادِ غوثؓ

مسلمؔ

لہ حقوق د تذکرہ قادریہ محفوظ دی

ش باہو نکی :- مولوی عبدالواحد و مولوی عبدالمالک

کاتب :- عنایت اللہ طالب

طبعہ :- لومړی

تعداد چاپ :- ۱۰۰۰

مطبعہ :- شاھد پروسس۔ کراچی

ھدیہ :-

د تذکرہ قادریہ فہرست

شمارہ	مضمون	مخ
۱	د کتاب مقدمہ	۱۴
۲	اول باب د حضرت غوث پاک قدس سرہ العزیز فضیلت او ښہ والی.	۲۶
۳	د حضرت مؤلف دام ظلّہ العالی د نسب شجرہ.	۲۷
۴	د دہ د خلافت او پیشوائی شجرہ	۲۸
۵	د حضرت غوث الاعظم قدس سرہ العزیز فضیلت	۲۴
۶	د غوث پاک قدس سرہ العزیز د نسب برکتناکہ او عالیہ شجرہ.	۳۷
۷	مورثی سلسلہ ئی.	۳۹
۸	د پیشوائی او خلافت شجرہ.	۴۱
۹	د دہ د اولاد او پاکو اہل بیتو بزرگ نومونہ.	۴۳
۱۰	د حضرت غوث پاک قدس سرہ العزیز عمر او د زیږید و ځای.	۴۸
۱۱	د حضرت قدس سرہ العزیز د کمالیت او ــ او سادا تو ثبوت.	۴۹

شماره	مضمون	مخ
۱۲	د حضرت قدس سره العزیز څیره مبارکه .	۵۰
۱۳	د حضرت قدس سره العزیز غوره عادتونه .	۵۱
۱۴	د بزرګانو بیانات او بشارات د غوث دوران شاه جیلانی (رض) په حق کښی .	۵۴
۱۵	هم عصره بزرګان او د حضرت غوث الاعظم قدس سره مقام فضیلت .	۶۸
۱۶	د غوث پاک قدس سره العزیز ارشادونه .	۹۱
۱۷	په البازالاشهب د نومولو وجه او تشریح .	۱۰۲
۱۸	غوث پاک او د هغه اولاد پاک .	۱۰۴
۱۹	دوهم باب د قادریه سلسله د فضیلت په ثبوت کی	۱۰۹
۲۰	د طریقه القادریه العلیه تشریح او بیان	۱۱۷
۲۱	ومریدته د خاندانی او پیشوائی شجرود ورکولو وجه او سبب .	۱۲۶
۲۲	د خلافت نامی مضمون .	۱۲۷
۲۳	دریم باب - د گیلانیه بغداد یه کورنی ابتدائی (پیلیز) حال .	۱۳۱
۲۴	د نقیب الاشراف عهده .	۱۳۴
۲۵	د نقابت (نقیب کیدلو) بیان - او معنی -	۱۳۶

شمارہ	مضمون	مخ
۲۶	د موجود گیلانی بغدادی خاندان وضاحت۔	۱۴۱
۲۷	د نقابت او تولیت (نقیب کیدو او سرپرستی) د رتبی لایق۔	۱۴۶
۲۸	د سید نا شیخ المشائخ الحسیب النسیب حضرت عبدالرزاق (رض) د خلف الرشید حضور غوث پاک قدس سرہ العزیز د اولاد و څخه چې کوم څوک نقیب الاشراف تا کل سویدی۔	۱۶۲
۲۹	د سید نا الشریف الحسیب النسیب حضرت عبدالعزیز (رض) خلف الرشید سید نا شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سرہ العزیز د پاک اولاد څخه نقباء او سجاده نشینان۔	۱۶۴
۳۰	قادریه جیلانیه بغدادیه مشران۔	۱۷۶
۳۱	السید پیر سید حسن گیلانی نقیب د کابل (بن سید علی النقیب بغداد)	۱۷۷
۳۲	نقیب زاده سید عبدالرزاق بن سید سلیمان النقیب رضی اللہ تعالیٰ عنہ۔	۱۷۸
۳۳	سید عبدالقادر گیلانی بن سید عبداللہ دام ظلہ العالی۔	۱۷۸

شمارہ	مضمون	صفحہ
۳۴	نقیب زادہ سید جمال الدین گیلانی ابن ارشد سید پیر محمود حسام الدین نقیب الاشراف رضی اللہ تعالیٰ عنہ	۱۷۹
۳۵	نقیب زادہ سید علی کمال الدین بن سید شیخ المشائخ پیر محمود حسام الدین نقیب الاشراف رضی اللہ تعالیٰ عنہ۔	۱۸۱
۳۶	نقیب زادہ سیدنا احمد ظفر القادری الگیلانی بن سیدنا شیخ المشائخ محمود حسام الدین نقیب الاشراف رضی اللہ تعالیٰ عنہ۔	۱۸۲
۳۷	نقیب زادہ سیدنا عبد الرحمٰن المحض الگیلانی الثانی بن شیخ المشائخ محمود حسام الدین نقیب الاشراف رضی اللہ تعالیٰ عنہ	۱۸۳
۳۸	نقیب زادہ یوسف ضیاء الگیلانی بن سیدنا شیخ المشائخ محمود حسام الدین نقیب الاشراف۔	۱۸۳
۳۹	نقیب زادہ شیخ المشائخ پیر طاہر علاؤ الدین دام ظلہ العالی و فیوضہ ابن سید شیخ المشائخ سیدنا محمود حسام الدین نقیب الاشراف	۱۸۴

شمارہ	مضمون	صفحہ
۴۱	السید نقیب زادہ محمد مجد الدین گیلانی بن سیدنا شیخ المشائخ حضرت عبد الرحمٰن نقیب الاشراف (رض)	۱۸۹
۴۲	سیدنا عبد القادر بن سیدنا منصور گیلانی بن سید صفاء الدین دام ظلہ العالی.	۱۸۹
۴۳	سیدنا ناصر الدین بن سید صفاء الدین ابن سیدنا شیخ المشائخ عبد الرحمٰن نقیب الاشراف.	۱۸۹
۴۴	سید احمد گیلانی دام ظلہ ابن سید رشید بن عثمان	۱۹۰
۴۵	آل ذکریا سید محمد گیلانی بن سید عبد اللہ بن سید احمد (آل ذکریا) رضی اللہ تعالیٰ عنہ	۱۹۰
۴۶	سید محی الدین بن سید عبد الرزاق بن سید خضر الگیلانی (آل ذکریا) دام ظلہ.	۱۹۰
۴۷	آل مراد	۱۹۱
۴۸	آل خمیس	۱۹۱
۴۹	خبر تیا	۱۹۲
	شکرم باب	۱۹۹
۵۰	دمدرسی او جامع مسجد گیلانیہ مختصر حال.	۱۹۹
۵۱	حضور پاک قدس سرہ العزیز او دھغہ مدرسہ.	۲۰۰
۵۲	مسجد جامع گیلانیہ.	۲۰۲

شماره	مضمون	مخ
۵۳	د بارغوښتنه او مزار مقدس۔	۲۰۷
۵۴	د سیدنا عبدالرحمٰن مکتبه قادریه	۲۱۸
	پنځم باب	۲۲۳
۵۵	قلبی الهامونه او معنوی کشفونه ناسوتی او جبروتی حقیقتونه غوښتنه او معراجیه تذکره۔	۲۲۴
	شپږم باب	
۵۶	د قدس سره العزیز تصانیف خطبی او نصیحتونه۔	۲۵۳
۵۷	د سید محبوب سبحانی قطب ربانی شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز تصانیف	۲۵۴
۵۸	د وعظ خطبه	۲۵۶
۵۹	د ښو او نیکو اعمالو په اړه۔	۲۶۶
۶۰	د علم په باره کښی۔	۲۶۹
۶۱	د فنا په متعلق۔	۲۷۱
۶۲	د پرهیزګاری او ورع په باره کښی۔	۲۷۴
۶۳	د محبت په باره کښی۔	۲۷۹
۶۴	د همت په باره کښی	۲۸۰
۶۵	د شوق په باره کښی	۲۸۱
۶۶	په مسلمان کښی د کومو شیانو وجود لازمی دی۔	۲۸۲

شمارہ	مضمون	مخ
۶۷	د بنو اعمالو تلقین او بنو ونه۔	۲۸۳
۶۸	د دنیادارانو په باره کښی۔	۲۸۴
۶۹	د نفس د پریښودلو او توبې کولو په باره کښی۔	۲۸۶
۷۰	د تقدیر او اندازی په باره کښی۔	۲۹۲
۷۱	د ظاهری اسبابو د پریښودلو په اړه۔	۲۹۹
۷۲	د رضا په اړه۔	۳۰۳
۷۳	د دنیا جسمانی تکلیفونه۔	۳۰۹
۷۴	د توکل په اړه۔	۳۱۳
۷۵	د احکامو او فرائضو د عملی کولو په اړه۔	۳۱۴
۷۶	د قضا او قدر په اړه۔	۳۱۸
۷۷	د ماسیوی الله د پریښودلو په اړه۔	۳۲۵
۷۸	د هوا او نفسانی هوس څخه د پرهیز په اړه۔	۳۳۱
۷۹	د د عاد قبول والی په اړه۔	۳۳۴
۸۰	د الله تعالیٰ څخه د سوال کولو په اړه۔	۳۳۷
۸۱	د ولی د اوصافو په اړه۔	۳۴۰
۸۲	وصیتونه مقاله نمبر ۷۵ ع۔	۳۴۳
	اووم باب	۳۴۵
	د حقیقی طالب لومړی فرض	۳۴۶
۸۳	په پوهو ران و نو کښی۔	۳۵۰

شمارہ	مضمون	مخ
۸۴	دمرشد کامل صفتونه او دهغه پیژندنه۔	۳۵۰
۸۵	د قادریه سلسلی د بیعت مجمله طریقه۔	۳۷۴
۸۶	د سلسلهٔ قادریه نقیبیه طاهریه بغدادیه د بیعت طریقه۔	۳۷۷
۸۷	د عهد او بیعت د تشریح او وضاحت په بیان کښی۔	۳۸۴
۸۸	د ذکر بالجهر او بالخفی د تشریح او شروع کولو د ترتیب په بیان کښی۔	۳۹۸
۸۹	د نفی او اثبات د ذکر د تعلیم بیان د مرشد د طرف څخه د مرید په حق کښی۔	۴۰۲
۹۰	د طریقه قادریه موافق چله کشی کول۔	۴۰۹
۹۱	د مقاماتو تشریح پرځلورو فصلونو او څلویښتو مقاموںو مشتمله ده۔	۴۲۱
۹۲	اول فصل د شریعت په بیان کښی	۴۲۱
۹۳	دوهم فصل د طریقت په بیان کښی	۴۲۳
۹۴	دریم فصل د حقیقت په بیان کښی	۴۲۶
۹۵	څلورم فصل د معرفت په بیان کښی	۴۳۰
۹۶	دهغه آداب چه د هغوی پرځای کول د مرشد په حق کښی د مرید دپاره واجب دی۔	۴۳۳

شمارہ	مضمون	مخ
۹۸	هغه آداب چه مرید ته ئې د خپل نفس او ذات په اړه اداکول واجب دی.	۴۴۳
	هغه آداب چه مرید ته ئې د خپل نفس او ذات په اړه اداکول واجب دی	۴۴۸
۹۹	هغه آداب چه د ذکر، فکر او ورد ونو په وخت کښې اداکول واجب دی.	۴۵۳
۱۰۰	د الهی تقرب د پاره د اسماء اصول او فروع بیان	۴۵۶
۱۰۱	اسم اصول او توجه.	
۱۰۲	د اوو قسمه نفسونو او د هغوی د صفتونو بیان.	۴۷۰
۱۰۳	د صوفیانو د مقاماتو او د اوو نفسونو د اسماء او صفاتو جدول.	۴۷۶
۱۰۴	د حزب په ذریعه د اوو نفسونو د حالاتو اظهار او د هغوی علاج.	۴۷۸
۱۰۵	نه گونې اسماء.	۴۹۳
۱۰۶	د اسماء فروع په بیان کښې	۴۹۳
۱۰۷	د شیخ د تصور بیان.	۴۹۴
۱۰۸	د قادریه شریفی سهل العمله وظیفی.	۴۹۵
۱۰۹	د قادریه شریفی ختم.	۴۹۹
۱۱۰	قصیده غوثیه یا احمدیه مبارکه.	۵۰۰
۱۱۱	قادری دسترخوان.	۵۱۱

شمارہ	مضمون	مخ
۱۱۲	چهل قاف (څلویښت قافه)	۵۱۵
۱۱۳	چهل کاف (څلویښت کافه)	۵۱۶
۱۱۴	سبع کاف (اووه کافه)	۵۱۷
۱۱۵	اوراد الاسبوع (یعنی هفته واره وظیفی)	۵۱۷
۱۱۶	ورد الاحد (دیکشنبی د ورځی وظیفه)	۵۱۸
۱۱۷	ورد الاثنین (ددوشنبی د ورځی وظیفه)	۵۲۰
۱۱۸	ورد الثلاثاء (دسه شنبی د ورځی وظیفه)	۵۲۱
۱۱۹	ورد الاربعاء (دچهار شنبی د ورځی وظیفه)	۵۲۲
۱۲۰	وردیوم الخمیس (د پنجشنبی د ورځی وظیفه)	۵۲۳
۱۲۱	ورد یوم الجمعة (دجمعی د ورځی وظیفه)	۵۲۳
۱۲۲	وردیوم السبت (د شنبی د ورځی وظیفه)	۵۲۶
۱۲۳	ورد صلوة الکبریٰ (دلوی درود شریف وظیفه)	۵۲۸
۱۲۴	صلوة کنز الاعظم (دلوی خزانی درود شریف)	۵۴۶
۱۲۵	دعاء الاستغاثة (د فریاد رسی دعا)	۵۴۹
۱۲۶	قصیده در توحید الهی (الله تعالی په توحید کښی قصیده)۔	۵۵۳
	اتم باب: دلویو بن رګانو ارشادات (ښوونی)	۵۵۷
۱۲۷	د شریعت او حقیقت تعلق	۵۵۸

شماره	مضمون	مخ
۱۲۸	شریعت او حقیقت۔	۵۵۸
۱۲۹	د الله تبارک و تعالیٰ د پاکی په اړه۔	۵۶۱
۱۳۰	د روح په اړه۔	۵۶۷
۱۳۱	د الله تعالیٰ د توحید په اړه۔	۵۶۹
۱۳۲	د ایمان په اړه۔	۵۷۵
۱۳۳	د عشق او محبت په اړه۔	۵۷۸
۱۳۴	د انسان په اړه۔	۵۸۳
۱۳۵	د نفس ماهیت (حقیقت او کیفیت)	۵۸۶
۱۳۶	د حضرت پیر دستگیر محبوب سبحانی غوث صمدانی حضرت سیدنا شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز مدحه۔	۵۹۳
۱۳۷	د حضرت قدس سره العزیز بله مدحه۔	۵۹۵
۱۳۸	د حضرت غوث الثقلین عبد القادر قدس سره العزیز مدحه۔	۵۹۸
۱۳۹	د سلام هدیه په دربار کبنی د خیر الانام او بزرگانو عظامو علیهم الصلوة والسلام سره د شجرهٔ پیشوائی۔	۵۹۹
۱۴۰	د کتاب خاتمه۔	۶۰۰
۱۴۱	د سلسله قادریه غوثیه بغدادیه شجرة العلیا۔	۶۰۸

دکتاب مقدمه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِیْنَ وَ
الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِنَا وَحَبِیْبِنَا وَشَفِیْعِنَا وَ
نَبِیِّنَا مُحَمَّدٍ رَحْمَةٍ لِّلْعَالَمِیْنَ وَخَاتِمِ الْاَنْبِیَآءِ وَالْمُرْسَلِیْنَ
صَادِقِ الْوَعْدِ الْاَمِیْنِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَاَزْوَاجِهٖ
وَاَهْلِ بَیْتِهٖ وَاَتْبَاعِهٖ وَمَنْ اِتَّبَعَهُمْ بِالْاِحْسَانِ اَجْمَعِیْنَ
اِلٰی یَوْمِ الدِّیْنِ وَعَلٰی وَارِثِ حَالِهٖ مَوْلَانَا الْاَمِیْنِ
الْمَکِّیْنِ ۔ الْقُطْبِ الرَّبَّانِیِّ وَالْفَرْدِ الْجَامِعِ الصَّمَدَانِیِّ
الْمَحْبُوْبِ السُّبْحَانِیِّ غَوْثُ الْاَغْوَاثِ شَیْخِ الْکُلِّ وَ
سُلْطَانِ الْاَوْلِیَآءِ سَیِّدِنَا اَبُوْ مُحَمَّدٍ مُحْیِ الدِّیْنِ
حَضْرَتْ عَبْدُ الْقَادِرِ الْجِیْلَانِیُّ الْحَسَنِیُّ الْحُسَیْنِیُّ
رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَزْوَاجِهٖ وَاَوْلَادِهٖ
وَعَلٰی جَمِیْعِ خُلَفَائِهٖ وَخُدَّامِهٖ اَجْمَعِیْنَ بِرَحْمَتِكَ
یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ ۝

د اسلامی ملت او طریقت وروڼو! تاسی ته په
ښه توګه معلومه ده چې موږ د اوخت تر یو داسی
دور او زمانه تیرین وو چه په ظاهره دخپلو رنګینو

او شعیده بانږیو په وجه بیخی زړه وړو نکی د فرصت او مهلت څخه پکه دارام او راحت ورکوونکی په نظر راځی، مګر په باطن کښی بی اندازی په زهرو لړلی او سرتر پایه بی ګټی ده۔ موږ فقط ددی په ظاهری بنایسته او ښکولا زړه بایللی دی۔ په داسی تیزی او په سل شوقه ورځخلو چه موږ ته نه د خپل اصل او د ریځ خبر سته، او نه د خدای تعالی جل جلاله د احکامو پروا. او نه د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د هدایاتو او لارښوونو وطرف ته کتنه، او نه د تیرو بزرګانو د اقوالو او افعالو لحاظ۔ او نه د خپلی دنیوی او آخرتی ګټی په زړه کی نیول، نه د آخرت د عذاب او ثواب تصور او نه د قیامت او جزاء د ورځی اندیښنه، نه د مرګ او د قبر د عذاب یاد ونه، او نه د اسلام او د دغه د اصولو د را خپلید و شوق په موږ کښی څیړه وهونکی دی۔ که چیری شوق هم وی نو هغه دا دی چه موږ ته په ډوا یا نارواو لارو او حیلو مال او دولت جاه او عزت زر او بښځه، زور، او محکه، غرض داچه د عیش او عشرت پټول دنیوی اسباب او سامانات حاصل سی۔

تاسی پوهیږی چه د اسی ولی کیږی ؟

داله دی جهته چه نورو هغه قوموښو کوم چه د سره څخه د اسلام د بښمنان راغلی دی چه د د بښمنی بنکاره دلیل ئې په قرآن پاک کښی موجود دی - هوښ په خپلو سیاسی چموا و چلبان یو سره د اسلامی اصولو څخه منحرف کړی او اړولی یو - په دا ډول چه کوم کار چه د وی په څورلس سوه ١٤٠٠ کاله کښی و نه کړای سو - مګر په دی لږ عمر کی یعنی د څلویښت کاله څخه را هیسته تر نن ورځی پوری هغو سرته ورساوه ، او په خپلو اړادو او مقاصدو کی کامیاب سوله . چه د دی وجه داده چه موږ انسانانو یو څه خو د خپلی مفلسی په خاطر د هغو قوموښو - د ظاهری حالاتو مال او دولت ، په ګټلو سره د حرص او سرا بښی لاس اوږد کړی - او د مال او دولت د خاوند کید لو د پاره مو په ظاهری او باطنی توګه خپل ځان د هغو په چرکاټ کښی واچوی ، نه یوازی د اچه د هغو تقلید او پیروی شروع کړه بلکه مذهب اسلام داسلام پر دین موچه د رب العزت خوښ کړه سوی دین دی ، او د دی خبری بنکاره ثبوت د قرآن شریف د غه توری دی = اِنَّ الدِّیْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ = د یږ زاړه او

شوې بیدلی دین ګمان وکړی، او دا اسلام او رهبرانو ته مو
ملا او دا اسلام و دین او مذهب ته مو ملا ئړم و یل
فخر او کمال و ګڼلې ـ خدای پاک (ج) دی موږ ته هدایت
وکړی او خدای (ج) دی دکو ټه او سم یعنی چلانده
او ناچلانده د پیژ ندلو عقل راکړی ـ

اسلام د فطرت او طبیعت دین دی د ده شروع د حضرت
آدم علیه السلام څخه سویده ـ تکمیل او پوره والی ئ
د آنحضرت علیه الصلوة و السلام پر ذات مبارک باندی
و سو ۰ او صحابه ؤ رضوان الله علیهم اجمعین د دغه
پاکی او بنسی د رختی آبیاری او پالنه په خپله وینه سره
کړې ده ۰ او لکه حضرت غوث الاعظم داسی او لیاؤ
د دغه د نور څخه موجودات نورانی کړله ۰ د همدغه تر
تاثیر لاندی چې و د توحید زامنو یعنی مسلمانانو بې ټاله
د دین او د نیا او روحانی ترقیانی او پر مختګونه وکړه
د د غه دین هر اصل څرنګدی، روښانه او ځلانده دی ۰
انصاف لرونکی اغیار او بیګانه ګان هم د اخبره منی چه
د د غه او سنیو مشکلاتو او غمونو د حل او خلاصون
کیدی (چا بی) همدغه د توحید دین دی ۰

دوهم خاص وجه دا هم ده چه په او سنی زمانه

کښی چه په عام ډول د سمی لاری ته کم رهنمایان او لار ښوونکی دی ـ داچه په غږغږو او نغارو دعوت کوی ، پخپله دوی د شریعت د علم څخه د ناخبر تیا په وجه د برابری او سمی لاری څخه په زړو میله لیږی دی چه محضی (مازی) د خپلی شهوت پرستی او بازاری شاهدانو لپاره داسی نابلده او عجیبه حیلی اوچمونه جوړ وی. چه ساده خلگ او د شریعت د علم څخه بی برخی انسانان د سمی او حقی لاری څخه لیږی بیا یی او د ضلالت او گمراهی وخاته ئ ور اچوی او د هغوديين خراب او تباه کوی.

د غسی پیرا و مرشد خپل ځان د پاکو پنځوتنو محبت کو نکی او د غوث الاعظم عاشق او د اهل سنتو والجماعتو پیرځان بنکاره کوی او د خپل نس په ساتنه پسی گرځی. عموماً د غه شان خلگ د شریعت او طریقت څخه په ډډو ستر گو تیښته کوی. خاص بیا د لمانځه روژی، زکوٰة او د غسی نورو څخه.

د اسلام دارکانو د ادا کولو څخه تښتید و نکی او د کبیره گناهو کونکی وی. د هغو شکل او مشابهت د ملحد او کافر غوندی وی، هغه بچه بان وی، هغه د حلولی، امتزاجی، تناسخی، اوچرسی اصولو عقیده لرونکی وی.

یعنی (انسان خدای او خدای ج انسان بولی) د راګ او رنګ
یعنی د سرو زر او بنایست شوقی وی او د مجازی محبوب
قائل وی، روح قدیم بولی، د عذاب او ثواب، او اخرت
څخه منکر، وقبر ته د سجدی او خپله ده ته د نورو د
سجدی کولو شیدا او عاشق وی (چه دکتونکو په نظر
کښی د ده قدر او عزت پیدا شی) او هغه دی ښه او
خدای ته رسیدلی وبولی مطلب دا چه د هر نوی او زاړه
بدعت کونکی وی.

د غه رنګه و مریدانو ته هم د فقیری اسانه
لار ور ښیی او د شریعت او طریقت څخه د خلګو په منکرکولو
کښی خاص مهارت لری. چه همدغسی بی مطلبه وضعی
حدیثونه او جوړ کړه سوی روایتونه او خپله ددوی
جعلی دروغجن بیانونه خاصو خاصو مریدانو ته
د خدای (ج) د راز په ډول ور اوروی او هغوی د خپلی
جعل سازی په دام کښی داسی راکښیباسی چه توبه،
اوحال دا چه په هغو طالبانو او مریدانو کښی داسی
کسان ډیر وی چه د خدای (ج) د محبت او د محمد رسول
الله صلی الله علیه واله وسلم د فرمانبرداری او
د شرعی احکامو د عملی کولو په صحیح معنی سره

عاشق او شوق مند وی ۔ بلکه د اسلام په لاره کښی د خپل مال او سر د قربانی کولو څخه هم ځان نه د ریغه وی۔

مګر د وی پر غلطه لاره باندی د تلو په وجه کوم چه د شریعت څخه د د وی د کم علمی او د بد مجلس نتیجه او میوه ده ، نه د خدای (ج) په د ربار کښی قبلیدلای سی او نه په خپل مقصد کښی کامیابی ترلاسه کولای شی. بلکه ټوله عمر د باطلو عقیدو په حق بللو کښی تیر کوی، او د خَسِرَ الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةَ یعنی د (دواړه ئ خطاء) مثال او مصداق وګرځی۔

نو کله چه زمون مرشد مولانا شیخ المشائخ سراج السالکین سالک منهاج العارفین انیس الغریبین تاج العاشقین صاحب التکوین والتمکین نقیب زاده حضرت سید محمد طاهر علاؤ الدین القادری الګیلانی دام ظله العالی ۔ چه زوی دی د مرحوم سیدنا ومولانا شیخ المشائخ صلحب السمو والسماحة نقیب السادات والاشراف حضرت پیر محمود حسام الدین رضی الله تعالیٰ عنه چه د عراق ملک په بغداد کښی اوسیدونکی دی، د سیاحت او مسافری په دوران کښی د د غسی قسم ګمراه سوو خلګو حالات او کیفیات محسوس کړه. نو د

تبلیغ او ددین د اشاعت په ذریعه ئ د دی د اصلاح و
طرف ته د خپلی منصبی فریضی په توګه توجه وښندل
نو دد غه دینی مقصد په خاطر ئ په عارضی او
پیښکی ډ ول د کوټ (کوټه) په ښار کښی قیام اوهستوګنه
و فرمایل او خپل کورنی مشکلات او معاملی ئ تر شا په
یو کونج کی و غورځولی، فقط د خلګو د رشد او هدایت لپاره
ئ د تبلیغ او اشاعت سلسله جاری کړه - همدغه ډ ول
سر بیره پردی آن حضرت هره ورځ د وعظ او نصیحت څو
کتابونه شائع کړه مفت ئ و و یشل .

① مثلاً محبوب سبحانی کتاب چه څو ځله ئ ډ ډ ډ ډ
د مختلفو چاپ خانو څخه چاپ سوی او شائع سوی دی.
② تحفهٔ الطاهریة فی الاوراد القادریة.
③ سوانح عمری حضرت غوث الاعظم په انګریزی.
④ د فتوح الغیب انګریزی ترجمه .
⑤ د قادریه شریفی شجری، او اوراد او وظیفی اوداسی
نور .....

اوس حضور پر نور د دغه کتاب چه نوم ئ (تذکره
قادریه) ده د تر تیب کولو حکم صادر کړ - نکه څرنګه
چه ئ زه و خپل خاص حضور ته طلب کړم او یو یو

توری ئې په ملغلرو پاشونکی ترجمان (حقیقت په ژبه) باندی راته وړاندی یه ، چه کټ مټ هغه توری په توری بیله کومې کمی او نقصان څخه احقرالعباد د تحریر اوبیک په میدان کښی راوړاندی کړې .

په دی کښی داسی روحانی اسرار ، قرآنی وظیفی رشتیا او منل سوی ایمانی رمزونه او اشاری چه د جد مکرم و معظم حضرت محبوب سبحانی غوث صمدانی ابومحمد محیي الدین شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز الحسنی و الحسینی څخه نسل پر نسل دیوی سینی څخه بلی سینی ته ترده پوری رارسول سویدی .

د دین د بیاژوندی کولو په خاطر ئې بیله بخله او بیله کومه تغیره دکاغذ پر مخ باندی لیکلی دی - دا داسی نوادری او نا بلده خبری دی چه د صحیح العمله کامله پیرانو اومرشدانو څخه هم نه سی تر لاسه کیدلای . چه ددی تشریح او بیان ددی لپاره چه خلګ فیض ورڅخه حاصل کړی ، بیخی په اسانه اوعام فهمه لهجه د عملیاتو د ترکیب او فاید و سره په اردو کښی ده او د اصلی وظیفو عبارت په عربي کښی په مفصله توګه

ورکړه سویدی، وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ .

په داسی ډول چه ټولو مضامینو ته په نهه باب کښی او هر باب ته په یوځو مضامینو کښی ترتیب ورکړه سویدی .

(۱) لومړی باب د حضرت غوث پاک قدس سره العزیز په فضیلت کښی پر ټولو اولیاء کرامو باندی .

(۲) دوهم باب :- د طریقه قادریه په فضیلت کښی پر ټولو طریقو باندی .

(۳) دریم باب :- د گیلانی خاندان په لنډ تعارف او فضیلت کښی دی .

(۴) څلورم باب :- د مسجد جامع او دربار غوثیه د متعلقو اداروا و شعبو په بیان او ن یارتو په حالاتو کښی دی .

(۵) پنځم باب :- د ده پیر ذات گرامی قدس سره العزیز باندی د قلبی الهاماتو او معنوی کشفیاتو په بیان کښی دی .

(۶) شپږم باب :- د کتابونو او تصنیفونو خطبو او وینیحتو په بیان کښی دی .

(۷) اووم باب :- د پټو اسرارو او ارادو ، او د قادریه

شریفی د وظیفو په بیان کښی دی .

(۸) اتم باب :- د هغه یوځی غلطیو په ازاله اوجواب کښی دی چه د شریعت اوطریقت په باره کښی د اسلام ناپوهه د بنمنانو مشهوره کړی دی.

(۹) نهم باب :- دکتاب خاتمه ده .

لومڑی باب

دحضرت غوث پاک قدس سرہ العزیز

فضیلت

اک

بندہ والی

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د مصنف دام ظلہ العالی پیژندنه

او

شجره نسبی و پیشوائی

د قطب ربانی غوث صمدانی محبوب سبحانی ابو محمد محی الدین شیخ الکل سیدنا حضرت عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز د مبارک بحث او بیان تر شروع کولو د مخه دا لازمه بولم چه د مرشدنا و مولٰنا شیخ المشائخ نقیب زاده پیر سید طاهر علاؤ الدین القادری الگیلانی دام ظله العالی چه ددی کتاب مصنف اوجرړونکی دی، نسبنامه د شجره نسب او شجره پیشوائی په ذریعه سره ولیکم، ددی د پاره چه ویونکوته په اسانی سره علم حاصل سی چه ددی ده دام ظله العالی د حضور غوث الاعظم قدس سره العزیز سره څه نسبت اوکوم تعلق دی؟ او ده لره ولی دغه دخیر د کار په پوره کولو کښی د و مره دلچسپی او مینه پیدا ده

اودی ولی ددی کارکولو ته اماده سویدی؟

ددی کار په اړه ددې دهغه معلومداړه کار نامو
او نه ستړی کیدونکی وس، اوتوان تفصیل او بیان د
اوږد والی له جهته نظرانداز او پریږدم. او انشآء الله
تعالیٰ ددې (دام ظله العالی) اخلاقو او ښو کارونو په باره
کښی به د خاندان نقیبیه گیلانیه بغدادیه په تړاو
کښی رونړاوا چول سی. دلته خو صرف د خاندان گیلانیه
بغدادیه د ستر گودتور زړه ارام بی نظیر بدرمنیر
شهزاده د نسبی او پیشوائی تعلقاتو اظهار اوځرگندونه
مقصود دی.

چه ددی کتاب ویونکو ته ددې په باره کښی څه
معلومات وسی چه آنحضرت د طریقت دکوم دریاب
دریکتا اود معرفت دکوم کان گوهر بی بهادی.

(وما توفیقی الا بالله)

د حضرت مؤلف دام ظله العالی د نسب شجره

سیدنا و مرشدنا شیخ المشائخ الحسیب النسیب
الشریف نقیب زاده طاهر علاؤالدین القادری الجیلانی

البغدادی دام ظله العالی زوی دی نقیب الاشراف ومتولی
الاوقاف صاحب السمو والسماحة شیخ المشائخ سیدنا
الشریف حضرت محمود حسام الدین القادری الجیلانی
رضی الله تعالیٰ عنه دی زوی دی د نقیب الاشراف صاحب
السمو والسماحة الفخامة الشریف شیخ المشائخ سیدنا
حضرت عبد الرحمٰن ظهیر الدین المحض القادری
الجیلانی وزیر اعظم مملکت عراق (رضی الله تعالیٰ عنه)
چه دی زوی دی د نقیب الاشراف الحسیب النسیب
سیدنا الامام حضرت علی قادری جیلانی رضی الله
عنه، چه دی زوی دی د نقیب الاشراف ومتولی الاوقاف
سیدنا الامام حضرت سلمان قادری گیلانی رضی الله
تعالیٰ عنه، چه دی زوی دی د سیدنا الامام شیخ
المشائخ نقیب الاشراف حضرت مصطفیٰ قادری جیلانی
رضی الله تعالیٰ عنه، چه دی زوی دی د شیخ المشائخ
قدوة العارفین نقیب الاشراف سیدنا حضرت زین الدین
قادری جیلانی رضی الله تعالیٰ عنه، چه دی زوی دی
د شیخ المشائخ قدوة العاشقین سیدنا الامام محمد
درویش قادری جیلانی رضی الله تعالیٰ عنه، چه دی
زوی دی د العارف بالله شیخ المشائخ سید الانام

سیدنا حسام الدین قادری جیلانی رضی اللہ تعالیٰ
عنہ، چہ دی زوی دی د شیخ المشائخ صاحب التکوین
والتمکین سید الانام سیدنا نور الدین قادری جیلانی
رضی اللہ تعالیٰ عنہ، چہ دی بیان وی دی د سیدنا الامام
الشریف شیخ الاسلام عارف باللہ و متوکل علی اللہ حضرت
ولی الدین قادری جیلانی رضی اللہ تعالیٰ عنہ، چہ دی
زوی دی د سیدنا شیخ المشائخ امام الشریعت
حضرت زین الدین القادری الجیلانی رضی اللہ تعالیٰ
عنہ، چہ دی زوی دی د سیدنا الامام الشریف قدوۃ
السالکین شیخ المحدثین شیخ المشائخ حضرت شرف الدین
القادری الجیلانی رضی اللہ تعالیٰ عنہ، چہ دی زوی
دی د سیدنا الامام الشریف شیخ المشائخ حضرت
شمس الدین القادری الجیلانی رضی اللہ تعالیٰ عنہ،
چہ دی زوی دی د سیدنا الامام الشریف شیخ المشائخ
العارف الربانی حضرت محمد الهتاک القادری الجیلانی
رضی اللہ تعالیٰ عنہ، چہ دی زوی دی د سیدنا الشریف
الامام النقی المقتدیٰ شیخ الاقطار الاعلی شیخ المشائخ
حضرت عبد العزیز القادری الجیلانی رضی اللہ عنہ،
چہ دی زوی دی د حضرت غوث الثقلین شیخ الکل سلطان

الاولیآء مالک اذمة المتصرفین رئیس المحبوبین سلاب الاحوال الدرة البیضاء البان الاشهب سیدنا حضرت عبدالقادر الجیلانی الحسنی الحسینی قدس سره العزیز.

د ده د خلافت او پیشوایی

شجره

الحسیب النسیب الشریف سیدنا و مولٰینا نقیب زاده شیخ المشائخ طاهر علاؤالدین قادری گیلانی بغدادی دام مجده، تر لاسه کړیده، د خپل محترم پلار سیدنا الشریف شیخ المشائخ حضرت حسام الدین نقیب الاشراف و متولی الاوقاف قادری بغدادی دام مجده څخه، هغه د خپل محترم پلار شیخ المشائخ سیدنا حضرت عبدالرحمٰن المحض نقیب الاشراف و متولی الاوقاف قادری بغدادی دام مجده څخه، هغه بیا د خپل محترم پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا علی نقیب الاشراف و متولی الاوقاف قادری بغدادی رضی الله تعالیٰ عنه څخه، هغه بیا د خپل اکا د زوی او مرشد شیخ المشائخ عبدالقادر گیلانی قادری بغدادی څخه، هغه بیا د خپل محترم پلار او مرشد شیخ المشائخ ابوبکر قادری گیلانی بغدادی څخه، هغه د خپل

محترم پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا اسمٰعیل قادری گیلانی بغدادی څخه ، هغه بیا د خپل گران پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا عبدالوهاب قادری گیلانی بغدادی څخه ، هغه بیا د خپل محترم پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا نورالدین قادری گیلانی بغدادی څخه ، هغه بیا د خپل گران پلار او مرشد محمد درویش قادری گیلانی بغدادی څخه ، هغه بیا د خپل محترم پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا حسام الدین قادری گیلانی بغدادی څخه ، هغه بیا د خپل محترم اکا او مرشد شیخ المشائخ سیدنا ابی بکر قادری گیلانی بغدادی څخه ، هغه بیا د خپل محترم پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا یحییٰ قادری جیلانی رضی الله تعالیٰ عنه څخه ، هغه بیا د خپل محترم پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا نورالدین قادری جیلانی رضی الله تعالیٰ عنه څخه ، هغه بیا د خپل محترم پلار او مرشد سیدنا ولی الدین قادری جیلانی رضی الله تعالیٰ عنه څخه ، هغه بیا د خپل محترم پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا زین الدین قادری جیلانی رضی الله تعالیٰ عنه څخه ، هغه بیا د خپل محترم پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا شرف الدین

قادری جیلانی رضی اللہ تعالیٰ عنہ، ھغہ بیا د خپل محترم پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا شمس الدین قادری جیلانی رضی اللہ تعالیٰ عنہ څخہ، ھغہ بیا د خپل محترم پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا محمد الھتاک قادری جیلانی رضی اللہ تعالیٰ عنہ څخہ، ھغہ بیا د خپل محترم پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا عبد العزیز قادری جیلانی رضی اللہ تعالیٰ عنہ څخہ، ھغہ بیا د خپل عزتمند پلار او مرشد شیخ المشائخ سیدنا عبد القادر جیلانی الحسنی الحسینی قدس سرہ العزیز څخہ.

محترمو لوستونکو د پور تنیو ذکر کړه سوو شجرو د مطالعی او ویلو څخه به وتاسی ته داخرګنده اوروښانه سوی وی، چه نومورې ستایل کړه سوی یعنی د دی کتاب مصنف اوجوړونکی، د حضرت جناب پیر دستګیر محبوب سبحانی غوث صمدانی سیدنا شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز د لمسیانو د یویشتم پشته (پښته) څخه د صاحب السمو والسماحة الشریف سیدنا شیخ المشائخ حضرت محمود حسام الدین نقیب الاشراف والسادات متولی الاوقاف دربار غوثیه قادریه رضی اللہ تعالیٰ عنه ساکن بغداد شریف، ګران زوی دی، او د دربار غوثیه

وجنوبی دروازی ته بیخی مخامخ د سړک (شارع گیلانی) پر
هغه بله غاړه یو پراخ اوغټ بلډنګ (بنګله) چه د پلار
او نیکه د وخت څخه جوړ دی، مالک اووارث دی او په
همدغه کښی هستوګنه کوی.

اوس فقط وخلګو ته د هدایت اولاړ ښوونی د تبلیغ
او اشاعت په غرض او د خپلو پلرو او نیکه ګانو او خصوصًا
د خپل عزتمند نیکه حضرت غوث الاعظم جیلانی قدس
سره العزیز پر نقش قدم باندی د تلو په غرض او د
اسلامی روایاتو او تعلیماتو د تازه ساتلو په منظور
د لنډو وړځو لپاره ټی په خپل راتګ او مبارک تشریف
درلودلو سره د پاکستان ته ښایست ورو وباخښه، او
په عارضی او پیښکی ډول ټی د کوئټه بلوچستان په ښار
کښی د دربار غوثیه شارع الګیلانی روډ پر پته - او
ادرس باندی هستوګنه غوره کړیده د دی لپاره چه
نژدی اسلامی ملګری خاص او عام لوی او کوچنی د د ه د
لاړ ښوونو او هدایاتو، فیضونو او برکتونو څخه فیض یافته
او برخه مند سی. (پر رسولانو (استاذو) خورسول دی اوبس)

سګ درګاه غوثیه خلیفه سرکار بغداد حکیم عزیز احمد
چک نمبر ۲۷۹ کلال ګلی نمبر ۵ دارالفیوض غوثیه

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د حضرت غوث الاعظم قدّس سرّہٗ فضیلت

د القطب الربانی محبوب سبحانی شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز د بزرگ نامه او د ده کرامات او کشفیات او د الله تعالیٰ په وړاندی د ده د مقبولیت څخه هر لوی او کوچنی خبر دی، څکه چه دی مور زاده د خدائ ولی او محبوب پیدا سویدی، چه د شیدو روولو (شیر خوارگی) په وخت کښی لاهم د روژی د مبارکی میاشتی په احترام کښی روژه نیونکی وُ او تردی وروسته د مدرسی ته د تلو په وخت کښی ملائکی دده پرسا تنه مقرری وی - د غلو او یرغلگرو په مخ کښی ئ لاهم د رواغ د خولی څخه راونه وتل او نه وبیریدی، د بزرگی مور په اجازه سره ئ و بغداد شریف ته تشریف راوړی د علوم شرعیه تحصیل ئ وکړ - او تردی وروسته ئ لوی لوی مجاهدی، د[عه] درانه درانه کوششونه وکړه - او پنځریشت[۲۵] کاله

عه درانه کوششونه، د نفس وژل، محنت او مجاهده کول، ټوله د ریاضت سره یوشی او ورته دی ۱۲ مترجم عفی عنه

پر له پسی د عراق په څنګلونو کښی بی اوبو اودانی (خوراک)
څخه په عبادت اونفس وژلو کی بوخت وُ. او څلویښت کاله
ئ بیله ناغی د ماخستن په اوداسه دسهار لمونځ سره
د اپوندو، درود ولو او وظیفو ادا کاوه چه اخر ئ د
الله تعالیٰ د خاص فضل او کرم څخه د عنی ثیت او خلافت
لوړ ترینه مرتبه حاصله کړه او د زمانی پر ټولو اولیاؤ
ئ لومړی توب وګاټه او د خلګو د هدایت لپاره و ټاکل
سو، اود (وَکُلُّ وَلِیٍّ لَهُ قَدَمٌ وَاِنِّیْ عَلٰی قَدَمِ النَّبِیِّ
بَدْرِ الْکَمَالِ) د لوړ آواز ه کلمود و یلو حقدار ه سو.

د د غه ټولو حالاتو، او کراماتو، او او ر شاداتو، او
داسی نورو په اړه د هری زمانی د حالاتو نوشته کونکو
او یاد داشت لیکونکی، او د تاریخ پوهانو، بلکه لوی لوی
قدر تمندو خدای (ج) ته رسیدلو بن ر ګانو غټ غټ
معتبره او پنځه جامع کتابونه جوړ کړی او تالیف کړی
دی تر چاپ ورو ستئ د تبلیغ او اشاعت په غرض
د خدای (ج) پر مخلوق باندی تقسیم او لوی ثواب ئ
حاصل کړی دی. کوم چه اوس هم په هره ژبه او هر
ښار کښی د هری کتبخانی څخه تر لاسه کیدای سی. مګر
په هغو کښی د غه مضمونونه بیخی کم پیدا کیږی، کوم

چه په دی کوچنی کتاب کښی ځای کړه سویدی.

لکه څرنګه چه د اوږد والی له ویری څخه د آنحضور قدس سره العزیز د ژوند د حالاتو د کشف او کراماتو د ذکر ځای او ګنجایش دلته نه سو پیدا، نو صرف د ده قدس سره العزیز فرمایل کړه سوی او علمی او مستعمل کړه سوی وظیفی، د شریعت او طریقت مرتبی او منزلی د صوفی ګرټ او فقیری اصول د مجاهدی او ریاضت ترکیبونه، او د نفس وژلو او الله تعالیٰ ته درسیدلو لاری، د حقیقت راز، او د معرفت سر او داسی نور نور د اسلام د اصولو څخه عنوره او عمده بی بها ملفظی د تحریر او نوشتی وډګر ته راوړل سویدی. پر کومو باندی چه د عمل کولو څخه که چیری د خپل فضل ملګری وُو - نو سل په سل کښی د کامیابی تهینګ امید دی.

همدغه رنګه د خاندان ګیلانیه بغدادیه، او نقیب الاشراف او د اوقافو د متولیانو، د قادریه د داعیانو په اړه او د صحیح صحیح حقدارانو او د دربار عالیه د تخت نشینانو په باره کښی ضروری کیفیات اماده کړه سوی دی، چه پر خپل خپل موقع او ځای ټی کتونکی اولوستونکی ملاحظه کولای سی.

اَصْلُهَا ثَابِتٌ وَ فَرْعُهَا فِی السَّمَآءِ

دغوث پاک قدس سره العزیز عالیه

اومبارکه شجره

القطب الربانی والفرد الجامع الصمدانی محبوب سبحانی ابومحمد محی الدین السید الشیخ حضرت عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز رضی الله تعالیٰ عنه وارضاه عنا، زوی دی د امام الشریف حضرت ابی صالح الملقب سیدنا موسیٰ جنگی دوست رضی الله تعالیٰ عنه، دی زوی دی د امام الشریف سیدنا عبدالله جیلانی (کوم چه نومړی میوه په جیلان کښی پیدا سوه)، چه دی زوی دی د امام الشریف سیدنا یحیٰ الزاهد رضی الله تعالیٰ عنه (چا چه تر ټولو د مخه په جیلان کښی هستوګنه غوره کړه)، چه دی زوی دی د امام الشریف سیدنا محمد رضی الله تعالیٰ عنه، چه دی زوی دی د امام الشریف سیدنا داؤد رضی الله تعالیٰ عنه، چه دی زوی دی د امام الشریف سیدنا موسیٰ رضی الله تعالیٰ عنه، چه دی زوی دی د امام الشریف سیدنا عبدالله رضی الله تعالیٰ عنه، دی زوی دی د

د امام الشریف سید نا موسیٰ الجون رضی الله تعالی عنه، دی
زوی دی د امام الشریف سید نا عبد الله المحض رضی
الله تعالیٰ عنه، دی زوی دی د امام الشریف سید حسن
مثنی رضی الله تعالی عنه، دی زوی دی د امام الشریف
سید نا امیر المؤمنین و امام المتقین حضرت حسن رضی
الله تعالیٰ عنه و ارضاه عنا، دی زوی دی د امیر
المؤمنین اسد الله الغالب امام المشارق و المغارب حلال
المشکلات و النوائب ابن عم رسول الله صلی الله علیه و
اله و سلم و زوج البتول[عه] علی رضی الله تعالیٰ عنه ابن
ابی طالب کرم الله وجهه، چه دی زوی دی د عبد المطلب
چه دی زوی بیا زوی دی د هاشم، هغه زوی دی د
عبد مناف، هغه زوی دی د قهر، هغه زوی دی د
مالک، هغه زوی دی د نضر، هغه زوی دی د کنانه،
دی زوی دی د خزیمة، هغه زوی دی د مدرکة،
هغه زوی دی د الیاس، هغه زوی دی د مضر، هغه
زوی دی د نزار، هغه زوی دی د معد، هغه زوی دی
د عدنان، هغه زوی دی د ـ اد ـ، هغه زوی دی د
اود، هغه زوی دی د همیسع، هغه زوی دی د جمل،
هغه زوی دی د بنت، هغه زوی دی د قیذار، هغه زوی

عه بتول عربی لفظ دی معنیٰ ئی پریکونکی ده او د رسول ص د مبارکی لور فاطمه رض لقب هم چه د دنیا د اړیکو
څخه بری وه ۱۲ مترجم عفی عنه

دی د حضرت اسمٰعیل ـ بیح الله علیه السلام چّه د ی زوی دی
د حضرت ابراهیم علیه السلام و علی نبینا محمد افضل
الصّلوٰة و السلام .

مورنۍ سلسله یې

د حضرت قدس سره العزیز د محترمی مور رضی
الله تعالیٰ عنها کنیت ام الخیر او لقب ئې امة الجبار
او د مبارکه مقدسه اسم فاطمه لور د سید نا
حضرت عبد الله صومعی الحسینی رضی الله تعالیٰ عنه
چه د ی زوی دی د سید نا حضرت ابی جمال رضی الله
تعالیٰ عنه ، چّه د ی زوی دی د سید نا حضرت محمد
رضی الله تعالیٰ عنه ، چّه د ی زوی دی د سید نا حضرت
محمود رضی الله تعالیٰ عنه ، چّه د ی زوی دی د
حضرت سید نا طاهر رضی الله تعالیٰ عنه ، چه د ی زوی
دی د سید نا حضرت ابی عطار رضی الله تعالیٰ عنه ، چّه
د ی زوی دی د سید نا حضرت عبد الله رضی الله تعالیٰ
عنه ، چه د ی زوی دی د سید نا حضرت ابی کمال رضی
الله تعالیٰ عنه ، چه د ی زوی دی د سید نا حضرت
عیسیٰ رضی الله تعالیٰ عنه ، چه د ی زوی دی د حضرت

ابي علاؤ الدين رضی الله تعالیٰ عنه ، چې دی زوی دی
د سیدنا حضرت محمد رضی الله تعالیٰ عنه ، چه دی زوی
دی د سیدنا حضرت علی رضا رضی الله تعالیٰ عنه ، چې
دی زوی دی د سیدنا حضرت موسیٰ کاظم رضی الله
تعالیٰ عنه ، چې دی زوی دی د سیدنا حضرت امام
جعفر صادق رضی الله تعالیٰ عنه ، چې دی زوی دی
د سیدنا حضرت امام باقر رضی الله تعالیٰ عنه ، چې
دی زوی دی د سیدنا حضرت امام زین العابدین رضی
الله تعالیٰ عنه ، چې دی زوی دی د حضرت امام المتقین
و امیر المؤمنین سیدنا امام حسین رضی الله تعالیٰ عنه
وارضاه عنا شهید کربلا ، چې دی زوی دی د حضرت
امام المؤمنین اسد الله الغالب امام المشارق و المغارب
حل المشکلات و النوائب د رسول علیه السلام د اکا زوی
او پیغلی لورئ (فاطمة رض) خاوند علی رض ، ابن ابي طالب
کرم الله تعالیٰ وجهه ، چې دی زوی دی د عبد المطلب ،
چې دی زوی دی د هاشم ، چې دی زوی دی د عبد
مناف .

د پلرنۍ او مورنۍ شجرو له مخې حضور غوث
پاک قدس سره العزیز ، د بزرګ پلار له طرفه څخه

حسنی او محترمی مورله طرفه څخه حسینی سید د پاکو
اهل بیتو څخه دی.

رضی الله تعالیٰ عنهم وارضاهم عنا

د پیشوائ او خلافت شجره

السید شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز
چه مخ کښی ئ ستاینه وسول څرفته شریفه (چپنه) د
حضرت ابوسعید المبارک المخزومی رضی الله تعالیٰ عنه
څخه اغوستی ده، چه هغه د حضرت ابوالحسن علی بن
محمد القرشی النکاری رضی الله تعالیٰ عنه څخه، هغه د
حضرت شیخ ابوالفرح طرطوسی رضی الله تعالیٰ عنه
څخه، هغه د حضرت ابوالفضل عبدالواحد التمیمی رضی
الله تعالیٰ عنه څخه، هغه د خپل شیخ حضرت ابوبکر
شیخ شبلی رضی الله تعالیٰ عنه څخه، هغه د حضرت
شیخ ابوالقاسم جنید بغدادی رضی الله تعالی عنه څخه
هغه د خپل ماما حضرت سری سقطی رضی الله تعالیٰ
عنه څخه، هغه د خپل شیخ حضرت معروف کرخی
رضی الله تعالیٰ عنه څخه، هغه د خپل مرشد د باطن د

قبله حضرت سید ابوالحسن علی بن موہٰی رضا رضی اللہ
تعالیٰ عنه څخه، هغه د خپل مرشد او پلار حضرت موسیٰ
کاظم رضی اللہ تعالی عنه، هغه د خپل مرشد او پلار
حضرت سید جعفر صادق رضی اللہ تعالیٰ عنه، هغه د
خپل مرشد او پلار حضرت سید محمد باقر رضی اللہ تعالیٰ
عنه څخه، هغه د خپل مرشد او پلار حضرت سید
زین العابدین رضی اللہ تعالیٰ عنه څخه، هغه د خپل مرشد
او پلار سید شباب اهل الجنت و نور نظر اهل سنت
امام حسین شهید کربلا رضی اللہ تعالیٰ عنه څخه، هغه
د خپل مرشد او پلار حضرت امیر المؤمنین اسد اللہ
الغالب علی کرم اللہ وجهه، زوی د ابی طالب څخه، هغه د
خپل مرشد هادی او پیشوا حضرت محمد مصطفیٰ احمد
مجتبیٰ صلی اللہ علیه وسلم چه خاوند د لولاک لما
مالک د دواړو جهانو محبوب رب کبریا څخه،

دیو بل سند له مخی حضرت محبوب کرحی د خپل
مرشد حضرت داؤد طائی څخه، هغه د خپل مرشد او
پیشوا حضرت حبیب عجمی څخه، هغه د خپل مرشد خواجه
حسن بصری رضی اللہ تعالی عنه څخه، هغه د خپل مرشد
او پیشوا حضرت امام امیر المؤمنین اسد اللہ الغالب علی

کرم الله تعالی وجهه څخه، هغه د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه، ده د حضرت جبرائیل علیه السلام څخه،

د ده د اولاد او پاکو اهل بیتو بزرګ نومونه

۱) السید الشیخ الحسیب النسیب الشریف المقتدی حضرت عبدالرزاق القادری الجیلانی رضی الله تعالی عنه.

۲) السید الشیخ الحسیب النسیب الشریف المقتدی حضرت عبدالعزیز القادری الجیلانی رضی الله تعالی عنه.

۳) السید الشیخ الحسیب النسیب الشریف المقتدی حضرت عبدالجبار القادری الجیلانی رضی الله تعالی عنه.

۴) السید الشیخ الحسیب النسیب الشریف المقتدی حضرت عبدالوهاب القادری الجیلانی رضی الله تعالی عنه.

۵) السید الشیخ الحسیب النسیب الشریف المقتدی حضرت عبدالغفار القادری الجیلانی رضی الله تعالی عنه.

۶) السید الشیخ الحسیب النسیب الشریف المقتدی حضرت عبدالغنی القادری الجیلانی رضی الله تعالی عنه.

۷) السید الشیخ الحسیب النسیب الشریف المقتدی حضرت

صالح القادری الجیلانی رضی اللّٰه تعالیٰ عنه .

⑧ السید الشیخ الحسیب النسیب الشریف المقتدیٰ حضرت محمد القادری الجیلانی رضی اللّٰه تعالیٰ عنه .

⑨ السید الشیخ الحسیب النسیب الشریف المقتدیٰ حضرت شمس الدین القادری الجیلانی رضی اللّٰه تعالیٰ عنه .

⑩ السید الشیخ الحسیب النسیب الشریف المقتدیٰ حضرت ابراهیم القادری الجیلانی رضی اللّٰه تعالیٰ عنه .

⑪ السید الشیخ الحسیب النسیب الشریف المقتدیٰ حضرت یحییٰ القادری الجیلانی رضی اللّٰه تعالیٰ عنه چه تر پولو کشر دی .

او د آنحضور رض نیک طالعه بختوره لور سیده جنابه فاطمه رضی اللّٰه تعالیٰ عنها .

د آنحضور رضی اللّٰه تعالی عنه بزرگه مکرمه او محترمه مور سیده جنابه فاطمه ام الخیر امة الجبار رضی اللّٰه تعالیٰ عنها ، لور د سید عبد اللّٰه صومعی حسنی حسینی ده رضوان اللّٰه تعالی علیهم اجمعین .

د دوی څخه فقط دری صاحبزاده (سیدنا عبدالرزاق سیدنا عبد العزیز ، سیدنا ابراهیم) رضی اللّٰه تعالیٰ عنهم اولاد ونه سویدی . چه د بغداد شریف څخه ماسیوا په نورو

اطرافنو او گوښو کښې هم سره تیت سویدی، دد غه پاکو
اولادو څخه دده قدس سره العزیز یو صاحبزاده سیدنا
حضرت شیخ المشائخ الحسیب النسیب الامام المقتدیٰ
صاحب السمو والسماحة رضی الله تعالیٰ عنه وارضاه عنا
عبد العزیز صاحب تر ټولو زیات په علم او فضل، رضا
او توکل، ادب و اداب، زهد او تقوی کښې مشهور ه سو.
او د ده لمسیانو دخپل نیکه پر قدم، قدم باندی په ټلو
سره په عالم اسلام کښې هغه شهرت او نوم وګاټه چه
د هغو په اړه د اسلامی کتابو مصنفین او د عراق او عرب
د تواریخو تاریخ پوهان، یاداشت لیکی نکی او قیصه لیکونکی
او داسی نور رطب للسان (لاندې ژبی) دی او همدوی
د خپل لوړ نیکه حضرت غوث پاک رضی الله تعالی عنه
د روحانی فیضونو، برکتونو، او علومو او نیکیو څخه تر
کامیابی او حق ته رسیدلو وروسته د هغه د بغیدو
ځای (بغداد عراق) ټ خپل د او سیدلو ځای جوړ کړ
د پاکی روضی (زیارت) د ابادی او پاکه د مسجد جامع
او مدرسه قادریه، د درس او تدریس د نظم برابرید
او د قادریه د او قافو او جائیدادونو د انتظام، د میلمنو
د ډډې د ساتنې د نورو ملکونو سره د دوستانه اړیکو

د تبلیغ او اشاعت د سلسلې ، او دا سی نور د ټینګولو څخه
علاوه ـ عثمانی او عباسی پاچهان او د موجوده حکومت والیان
او د ټول عالم خلګ ئ د خپل ځان عاشقان جوړ کړل ـ د
نقیب السادات والاشراف لوړ تر ینه مرتبه ئ حاصله
کړیده . همدغه وجه ده چه د د نیا حکمرانان او مسئله
نشینان ، او د فقیرانو د هری سلسلی پیاوړی هادیان
او د طریقت د هر مسلک کاملان ، بلکه درویش او عالم
لوی لوی خدای (ج) ته رسیدلی ، د مسکینانو په شان
ملنګ جوړ یدل د محتاجی لاس اوږد ول او د حاجتونو
عق ښتل د دواړو وجهانو فخر او سر لوړی ګڼی .

د الا نه بلکه په غیر اسلامی ټولنه کښی لاهم پیرو
د پوهی خاوندانو د ده قدر او منزله پیژندلی حاجتونه
ترې غواړی خپل در وښ وته ، او نیاز ونه ادا کوی نوحق
خبره داده چه د غه د جیلانیه بغداد یه کورنی بزرګان
هغه حضرات دی . کله چه په میدان کښی ودریږی ـ
دوی پاچهان دی ، چه کله ګرفت او نیول وغواړی دوی
غالب او غښتلی دی ، کله چه خبری کوی دوی علماء دی ـ
کله که پر یو مسئله دلیل وړاندی کوی دوی جواب
ویونکی او ادیبان دی او کله چه دالله په ذکر کښی

کښینی نو دوی عابدان دی ، چه کله پریوچا ناراضی ښکاره کړی دوی سلاب الاحوال دی۔

د دوی داسی ښکاره کار نامی دی دکومو څخه چه د دوی شهرت د دنیا په هرګوټ کښی خپور سوید ی اودکومو خوشبوئ چه د مخکی پر مخ پاشل کیږی. اودکومو ذکر چه په صحراؤ کښی هم او اباد یوکښی هم ستنه. غرض داچه د دغه خاندان جیلانیه لپاره ـ هغه لوړ ترین جهانی عظیم الشان شهرت حاصل دی چه دنورو شهرت و دغه ته نژدی هم نه سی رسیدلای.

په همدا اوس کښی یو کتاب چه نوم ئ دی محبوب سبحانی ، په یاد کښی د غوث صمدانی قطب ربانی شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز ـ د لاهور آرټ پریس څخه چاپ سو۔

نقیب زاده پیر او مرشد طاهر علاؤالدین زوی د مرحوم نقیب الاشراف و السادات السید الشیخ حضرت حسام الدین القادری الجیلانی د عربو د ملک د عراق په بغداد کښی د باب الشیخ او سیدونکی چه د مغربی پاکستان دکوئټه د دربار غوثیه دانجمن قادریه د مشر په توګه کوم تقریر او پیغام نشرکړ په هغه کښی د د غه

خاندان گیلانیه د بنی گنهو او کمالاتو ذکر او بیان په تفصیل سره درج دی، او په دغه کتاب کښی هم په یوجلا او علیٰحده (الاٹیده) باب کښی ذکر کړه سوی دی وی گورئ.

د حضرت غوث پاک قدس سره العزیز عمر او د زین یدو ځای

د حضرت قدس سره العزیز د نیکمرغه زین یدو په اړه وند ټولو یاد داشت لیکلونکو او د ژوند د پیښو او قصو نوشته کونکو بلکه ټولو محقیقینو په اتفاق د دې ثابته کړی ده چه د ده زین یدل د ایران د ملک د صوبه (ولایت) طبرستان د گیلان یا جیلان د علاقی په نیف نومی کلی کښی په یوولسمه د ربیع الثانی (دوهمی خور) سنه ۴۷۰ھ د سیدانو په یوه کورنۍ (چه د دوو، درو پشتونو یا پښتونو څخه دلته اباد وه) کښی وسوه. چه د دغه وجه څخه حضرت د جیلانی یا گیلانی په نوم سره نامداره سو او په بغداد شریف د عربو په ملک عراق کښی په یوولسمه د ربیع الثانی (دوهمی خور) سنه ۵۶۱ هجری د یو نیوی ۹۱ کلونو په عمر کښی د دنیا څخه کوچ وکړی. د نسب

شجره اومورنۍ شجره ئې مخکې ددې څخه لیکلې ټیره سویده چه د هغه سببه څخه تر لمس پنکاره ده ـ چه حضرت قدس سره العزیز د محترم پلار د طرفه څخه حسنی او د بن رګ او عزتمندی مور د طرفه څخه حسینی سید دی.

د حضرت قدس سره العزیز د کمالیت او سادات و (سیدانو) ثبوت

علامه ابن حجر عسقلانی (رض) فرمائی چه حضرت د روژی مبارکی په میاشت کښی د روژی په د وران کښی د خپلی محترمی مور شیدو ته خوله نه وروړله (دهغی ټی ئې نه رودی) د دی سببه د هغه خبری شهرت (آوازه) په ټول بنار بلکه په اطرافو او شاوخوا کښی خپره سوه. چه د سیدانو په کور کښی یو کوچنی پیدا سویدی چه د روژی د وختونو په د وران کښی شیدی نه خوری. دا منل سوی خبره ده چه د نسب د ثبوت لپاره بناری شهرت او په خلګو کښی مشهور والی یو ضروری جزء دی. چیری چه یو څوک او سیږی د هغه د حسب او نسب (د مور او پلار د خاندانی سلسلی) څخه ټول خبر یږی

د دی سببه څخه په عوامو کښی د دی خبری آوازه خپریدل چه د سیدانو په کورنۍ کښی داسی کوچنی پیدا سوی دی. چه دروژی مبارکی په میاشت کښی دروژی په وختونو کښی شیدی نه خوری - دده مبارک د محبوبیت ښکاره دلیل دی او دغه لوی شهرت د حضرت قدس سره العزیز د سیادت ښکاره اوصریح ثبوت دی.

فاعتبروا یا اولی الابصار ۔

د حضرت قدس سره العزیز څیره مبارکه

شیخ موفق الدین قدامة القدسی رحمة الله علیه بیانکوی چه زمون شیخ السید حضرت محی الدین ابو محمد عبد القادر جیلانی رضی الله تعالیٰ عنه کمزوری بدن وُو اوکمزوری صورته وُو - دده قد مبارک میانه دده وړځی باریکی اویو د بله سره پیوسته وی، دده د معرفت خزانه سینه خلاصه وه - دده بن یره گنډه، اوږده برداره، خوشنما لوی آوازه اوزړه وړونکی وو.

دغه رنگه ابو عبدالله بن محمد بن خضر حسنی موصلی د خپل پلار څخه نقل کوی چه هغه فرمایله چه

زه نتر دیارلسو کلونو پورې د حضرت په بابرکته خدمت (۱۳)
کښې و اوسیدم - لیکن د څوکندې په دغه زمانه کښې ما
هیڅکله نه ولیدل چه د حضرت پر بدن مبارک باندې
دې مچ ناست وې یا دې یو قسم خیره اوګرځ یا خوله
هم را وتلې وې ۔

د حضرت قدس سره العزیز غوره عادتونه

دده سکوت او خاموشۍ په نسبت د کارکولو ډیره وه
د خپلې مدسې څخه ئې ماسیوې د جمعې د ورځې څخه بل
هیڅکله د باندې تشریف نه وړې، همغه هم ترمسجد
جامع او مسافرخانې پورې - د ده پر لاس مبارک د بنار
غټو غټو معززینو توبه وکښله - او غټو غټو یهودیانو
او عیسائیانو اسلام قبول کړې - د ده د ښتیا خبره پر همه
باندې په ولاړه سره فرمائیله او د ظالمانو مذمت
(بدې) بیانوې - هرلوې او کوچنې خاصو او عامو د ده
قدس سره العزیز ډیر تعظیم او عزت کاوې. څومره
کرامات چه د ده څخه بنکاره سوه - تر نن پورې دهیڅ
څخه بنکاره نه سوه - نه زمانې د ده په مثل پیدا کړې

پوهېدو خت ولیان او د ژمانې واقعه نویسان په اتفاق
طور سره د دې خبرې قائلین دي او په خپلو خپلو
تصنیفونو او یا تألیف کړه سوو کتابونو کښې دغه فضیلت
تحریر کړې راغلی دی چه ده (قدس سره العزیز) خراب
او منسوخه کاوې. او سنت ئې جاري رښتیا ویل دده
عادت، طرز او طریقه وه - په عمر کښې هیڅکله
ده دروغ نه دی ویلی، دی مبارک حسیب او نسیب
نجیب الطرفین (د مور او پلار د واړو خوا وُ څخه شریف)
وُ - د خپل جد امجد (بزرګ نیکه) سید المرسلین
خاتم النبیین حضرت محمد مصطفیٰ احمد مجتبیٰ صلی
الله علیه وسلم د پاکو احادیثو حافظ وُو، حنبلی
مذهب وو او د ده شیخ د وخت فقیه او صالح اوهم
پیر نرم دل وُو همیشه په ذکر او فکر کښې او سیدی
نصیحت کول او ما فی الضمیر بیانول خاص د ده حصه
وه د شریعت پیر سخت پابنده وو، خلوت، سیاحت،
مجاهده (نفس کشي ریاضت) محنت او مشقت، د نفس
مخالفت، لږ خوراک او لږ خوب د ده طریقه او عادت
وُو - په ځنګلونو او بیابانونو کښې او سیدل عبادتونه
کول د ده معمول وو، د تقوی او ریاضت په اړه ده پیر

سخت امور او کارونه اختیارول او خوښول ئ ـ قدوة العارفین سلطان المشائخ سردار اهل طریقت او مقبول د خاص او عامو د ښو اخلاقو خاوند او سخی وو ـ د ده خوله (عرق) خوشبویه وه ـ پر جسم اطهر (پاک بدن) ئ مچ هیڅکله نه کښینستی ـ د شیخ حماد الدباس په خدمت کښی واوسیاً ده طریقه حاصله کړه ـ

ده خبری په لوړ آواز او سرعت سره کولی د ښی خبری د ښو دلو او د بدی او حرامی (خرابی) څخه د منع کولو څخه ماسیوی ئ بله هیڅ خبره نه کوله ـ

د ده ستر خوان پرا خه وُو ـ چه پر هغه باندی دی، خپلو میلمنو سره کښینستی ډوډی ئ خوړله ـ د غریبا او مسکینانو سره دی قدس سره العزیز په کښینستو د علم طلبو ونکی (طالبان) د ده سره په موجود و، او د سره او سیدل ـ هرچا د غه فکر او خیال کاوی چه ستر توله د ده اعتبار او عزت د حضرت (قدس سره العزیز) په نظر کښی زه لرم ـ

هغه نه هیڅکله د امیرانو او رئیسانو د تعظیم له پاره ولاړ سویدی او نه هیڅ وخت د دوی د انو او پاچها دروازی ته تشریف وړی دی ـ او نه هیڅ وخت د هغو

پر فرش او او اوار ید و پرشی کښینستلی دی او نه ئی هم یو واری د هغوی سره د وډی خوږ لی ده ـ د وخت خلیفه ته چه به ئی خط لیکی نو د اسی به ئی لیکی .

عبدالقادر تاسی ته د دی خبری حکم درکوی (یا پر تاباندی د هغه حکم نافذ (جاری)) او د ده اطاعت واجب دی ؏

دَبَنْ گانو بَیَانات اوْ بشَارَات دَ غَوْث دَوْرَان شاهْ جیْلَانِی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ پَہْ حَق کښیْ

① په البشارة المحمدية وقافلة النور هامش کښی لیکل سوید ی چه یو واری حضرت بایزید بسطامی رضی الله تعالیٰ عنه د حضرت خضر علیه السلام څخه د امام مهدی په متعلق تشریح طلب کړه چه هغه څوک دی او څه وخت تشریف راوړی ؟

هغه په جواب کښی و فرمایل چه الله تبارک و تعالیٰ هادی دی او مهدی (هدایت یافته) ته هم یئ او نه هم یم ـ بلکه هر صاحب د رشد او هدایت خاوند مهدی دی او په هره تیره سوی او راتلونکی زمانه

کښی ښکاره کیدله او ښکاره کیږی راځی.

بیا باین ید بسطامی (رض) وفرمایل چه په اولیاؤکرامو کښی ټولو افضل او د ولایت لوړ مقام د چا دی - پس د غه باندی حضرت خضر علیه السلام وفرمایل چه ورو سته تر خلفاؤ راشد ینو او اهل بیتو مطهره وُو یو هلک حسیب النسیب د سیدانو په کورنۍ کښی حسنی او حسینی پیدا کیږی چه د هغه مقام خلافت دی (چه د ټولو مقاماتو د قطبیت او غوثیت څخه لوړ او برتر دی) د هغه نوم مبارک سید عبدالقادر جیلانی (قدس سره العزیز) کیږی - د هغه ظهور او ښکاره کیدل د پنځمی صدی په آخر کی د عراق په ملک د بغداد په ښار کښی کیږی.

سلطان الاولیآء او رجال الغیب غوث او قطب اخیار وابرار، اوتاد وابدال او داسی نور ټوله د ده تر حکم لاندی او تابع کیږی ؛ چه د ده مبارک لقب غوث الاعظم والبان الاشهب وی.

② د تذکرة الصوفیه مؤلفه حضرت محمد نعیم الجولانی رضی الله تعالیٰ عنه پر (۹۸) مخ باندی لیکلی دی چه یوه ورځ ابوالقاسم جنید بغدادی رضی الله تعالیٰ عنه په مسجد کښی پر ممبر سر بیره وعظ او نصیحت

کاوی چه د فعتاً ده ته د غه خیال او تصور تیراوو راندی
شو چه د اولیاؤ کرامو څخه تر نن پورې زما هم مرتبه یا
هم پله (برابر) یا تر ما برتر اولوړ صاحب دکشف او کرامت کامل
اوپوره بزرګ بالکل نه څوک سویدی ، نه تر قیامته
پورې کیږی - لکه چه د وعظ او نصیحت په مجلس کښی
د د غه خیال د بنکاره کولو نیت او اراده هم کړې وه تراوسه
پورې ئې هیڅ کلمه دتر بې مبارکی څخه نه وه را ایستلی
چه د حضرت سیدنا غوث الاعظم شیخ عبد القادرجیلانی
قدس سره العزیز مقدس روح د ده په باطن باندی
تجلی وفرمایله - چه د د غه څخه بیهوښه سود همبر
څخه لاندی راولویدی - تر لږ وخت وروسته چه هر
کله په هوښ کښی راغلی فوراً ئې وفرمایل چه تر ما افضل
او اعلی بلند اوبرتر د لوړو مراتبو او منازلو حامل ــــ
دوړونکی اوپور ته کونکی یو تن حضرت غوث الاعظم
عبد القادر جیلانی الحسنی الحسینی (قدس سره العزیز)
په بغداد او عراق کښی بنکاره کیږی چه د هغه لمر تر
ابد الاباد (همیشه) پورې په فلک الافلاک باندی جلوه
ریزه او بنکاره کیږی او هیڅکله هم (د غه لمر) نه
لویږی - د د ربار الهی د تولو مقربینو څخه د هغه شان

او د هغه مرتبه بر تره اولوړه یې ځ او لوړه به وی.

(۳) شیخ ابو سلیمان المنجبی رحمة الله تعالی علیه بیان کوی چه زه یو وخت په بغداد شریف کښی یو شریف نوجوان چه د هغه نوم مبارک سید عبدالقادر قدس سره العزیز دی لوی شهرت ئ کیږی - ده و فرمایل چه د هغه مبارک مشهور والی او شهرت په اسمانو کښی تر دی هم پورته یات دی - په ملاءِ الاعلیٰ کښی د هغه نوجوان د بان اشهب په لقب سره بلل کیږی - نژدی زمانه راځی چه د ولایت امر د هغه وطرف ته ور سیږی او او د هغه مبارک څخه به تقسیم د مرا تبو د ولایت ورکول کیږی په اذن د الله پاک جل جلاله صادر او پیدا کیږی.

(۴) ابن نجار رضی الله تعالیٰ عنه په خپل تاریخ کښی بیان کړی دی چه ماد ابو شجاع په تاریخ کښی لیدلی دی هغه لیکی چه شیخ عبدالقادر جیلانی رضی الله تعالیٰ عنه د شیخ حماد په خدمت کښی تشریف فرما سو په ادب سره کښینستی - تر لږ وخت ورو سته ئ تشریف یووړی - نو دده مبارک شیخ حضرت حماد و فرمایل ، چه د د غه عجمی مرتبه ډیره لوړه یږی حتیٰ چه دده مبارک قدم د وخت او زمانی د ولیانو پر

غاړو ایښوول کیږی ، (هغوی به ددې مبارک پښو وړاندی عاجزی غوره کوی)

⑤ یووخت ددې شیخ شیخ حماد ته ددې مبارک ذکر اویاد ونه وسوه ، دی (قدس سره العزیز) دغه وخت په عالم شباب (ځوانی) کښی وُو نو آنحضرت (شیخ حماد) ددې قدس سره العزیز په متعلق وفرمایل چه ماددې پس سر مبارک دوُه (۲) بیرغونه لیدلی دی ، چه د محکی څخه نیولی تر ملکوت اعلی (عالم ارواح) پوری رسیږی او په افق اعلیٰ (د اسمان په کنارو) کښی ددې نامه شهرت دی - رضی الله تعالیٰ عنه ۷

⑥ شیخ ابوالنجیب سهروردی رضی الله تعالیٰ عنه بیان کوی چه د ۵۲۳ سنه هجری واقعه ده - چه زه یو وخت په بغداد شریف کښی د حضرت شیخ حماد په خدمت کښی حاضر وم هغه وخت شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز یو اوږد او عجیب تقریر وکړ - نو شیخ حماد رضی الله تعالیٰ عنه وفرمایل - عبدالقادر قدس سره العزیز تاسی ته عجیب عجیب تقریرونه کوی - تاسی ته ددی خبری ویره نسته چه خدای تعالیٰ ستاسی پر یو خبره ستاسی څخه مؤاخذه

(جواب طلبی او پوښتنه) وکړی - نو حضور ممدوح (شیخ عبد القادر قدس سره العزیز) خپل لاس مبارک د هغه پر سینه باندی کښیښوو ی او وئ فرمایل تاسی د نړۍ په نور سره ملاحظه او توجه وکړی چه نمایږ ورغوی باندی څه لیکنی دی - تر لږ وخت وروسته هغه خپل لاس را استه کړی پر دغه باندی شیخ حماد وفرمایل چه ما دده مبارک په ورغوی کښی لیکلی ولیدل چه هغه د خپل پروردګار څخه او یا (۷۰) عهد (اقرار او پیمان) اخستی وُو - چه هغه (خدای تعالیٰ) دده مبارک (قدس سره العزیز) څخه پوښتنه او موخذه نه کوی. بیا شیخ موصوف (حماد) و فرمایل: اوس هیڅ حرج، ویره او پروا نشته. ذَالِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَ اللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝

(۷) شیخ ابو محمد شنبکی رض بیان کړی دی چه زمون شیخ ابو بکر بن هوار را چه کله دده (قدس سره العزیز) ذکر او یاد ونه کوله نو فرمایل ئ چه نژدی ده چه په عراق کښی به دپنځمی صدی په مابین کښی شیخ عبد القادر جیلانی رحمة الله علیه ښکاره او پیدا سی. د هغه په علم فضیلت او بزرګی به ټول متفق او متحد سی. پر ما باندی

د اولیاؤ د مقام کشف و سو، نو ما ولیدل چه په هغوی کښی هم دده تر ټولو لوړه درجه وه بیا ما نه د مقربینو د مقام کشف و سو نو ما ولیدل چه دده په هغوی کښی هم لوړه درجه وی، بیا پس ما باندی د اهل کشف د حالاتو کشف و سو (د کشف د خاوند انو حالات را نه کشف سوه) نو ما ولیدل چه دی مبارک (قدس سره العزیز) په هغوی کښی هم پر اعلیٰ مقام وُو. هغه نه هغه مظهر ممبرو د کول کیږی چه ما سیوی د صدیقینو او اهل توفیق د خاوند انو څخه د توفیق الهی بل هیچا نه نه وړکول کیږی.

دی مبارک په د هغو ربانی علماؤ څخه وی چه د هغوی د اقوالو او افعالو تقلید او پیروی کول په کار دی - الله تعالیٰ دده مبارک قدس سره د برکت څخه خپلو پیرو بندګانو ته لوړی درجی ورکوی - هغه قدس سره العزیز به د اولوالعزم اولیاء الله څخه وی، چه په هغوی د قیامت په ورځ فخر کول کیږی.

⑧ د شیخ ابوبکر بن هوارا څخه سره د سنده بیان سویدی چه هغه یوه ورځ خپلو مریدانو ته بیان

وکړی چه ژردی چه په عراق کښی به یو عجمی شخص چه د خدای تعالیٰ د خلګو په ښین به لوړه مرتبه لری او د شریف حسنی او حسینی خاندان سره به ئی تعلق وی - ښکاره او پیدا به سی سکونت او استوګنه اختیار وی - قَدَمِیْ هٰذِهٖ عَلٰی رَقَبَةِ کُلِّ وَلِیِّ اللّٰهِ - به وایی - او د وخت ټوله اولیاء دده پیروی کوی.

(۹) شیخ عبد اللطیف بیان کوی چه ماد خپل بن رګ پلار څخه واورید ل دغه بیان وکړی چه د شیخ عزان متورح البطائحی څخه بیان کوی چه بغداد ته یو عجمی شریف نوجوان عبد القادر قدس سره العزیز داخل سو یدی - ژر دی چه د غه نوجوان د ډیر هیبت او عظمت، جلال او کرامانو سره ښکاره سی او په حال او احوال او د محبت په درجه کښی پر ټولو غالب سی - د نقص فانو څخه د کوت او فسادامان ورکول کیږی - لوی او کوچنی به ټوله دده تر حکم لاندی سی په قدر او منزلت کښی به دده قدم راسخ او ټینګ سی د حقائقو په معرفتو نو کښی ده ته ید بیضاء ورکول کیږی. په مقام حضرت القدس

کښی د د ه ژ به خلا صید لای سی یعنی د د ه عرض به
الله تعالیٰ ته قابل د قبول وی۔ د مرتبو او منصبونو ـــ
خا و ند وی۔

(۱۲) ذکر سوی شیخ (عبد اللطیف) بیان فرمائ چه
همدا رنگه یو غټ جماعت د هغه قدس سره العزیز
په اړ و ند د شیخ ا حمد الرفاعی قول بیان کړ یدی۔
چه زمون د شیخ منصور البطائحی په مخ کښی د شیخ
عبد القادر قدس سره العزیز ذکر وسو۔ هغه د ده
په متعلق و فرمایل چه هغه قدس سره العزیز
په نژدی زمانه کښی را تلونکی دی چه د هغه وطرف
ته به د خلگو رجوع ، رغبت او میلان وی په عارفینو
کښی به د هغه عزت او منزلت د پیر او مرتبه به لږ
لوړه وی۔ هغه په داسی حال کښی وفات کوی چه
هغه و خت به د خدای تعالیٰ او د هغه د رسول مقبول
صلی اللّٰه علیه و سلم په نزد پر مخ د محکی د ده څخه
د پیر زیات محبوب بل هیڅوک نه وی۔ ستاسی څخه چه
هر څوک تر هغه وخته پورې ژوندی وی پر هغه
لازم دی چه د هغه حرمت او عزت و پیژنی او د هغه
قدر وکړی۔

(۱۱) شیخ عبدالرحمٰن طفسونجی فرمایلی دی چه حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز زمونږ د تاج العارفین شیخ ابوالوفا علیه الرحمة بابرکته خدمت ته تشریف راوړی - هغه قدس سره العزیز د غه وخت په عالم شباب (ځوانی) کښی وو - هر وخت چه به ئی زمونږ د شیخ موصوف خدمت ته تشریف راوړی نو شیخ موصوف د ده د تعظیم لپاره ولاړ یدی او حاضرینو ته به ئی هم فرمایل چه د ولی الله د تعظیم د پاره ولاړ سی حُینی وختونه شیخ موصوف د هغه د استقبال لپاره پنځه ولس قدمه مخ ته ځم ورتلی -

یو واری خلګو د شیخ موصوف د دغی درجی د تعظیم کولو وجه او سبب وپوښتی. نو هغه وفرمایل چه د غه نوجوان به یو عظیم الشان شخص سی کله چه د ده وخت راسی نو هر خاص او عام به د ده وخواته رجوع او میلان کوی - هغه وخت زمونږ شیخ موصوف داهم وفرمایل چه په بغداد کښی زه هغه ویم په یولوی مجلس کښی به قَدَمِیْ هٰذِهٖ عَلٰی رَقَبَةِ کُلِّ وَلِیِّ اللّٰهِ فرمائی هغه به په خپل د غه قول کښی حق په جانب وی (پرحق به وی) او د وخت د ټولو ولیانو غاړی به د

هغه په مخ کی کښته وی ۔ دی به د نهولو لپاره د وخت قطب وی.

ستاسی څخه چه هرځوک د هغه وخت پیدا کړی نود هغه لپاره په کار دی چه د هغه خدمت پر خپل ځان لازم کړی.

(۱۲) شیخ علی بن هیتی رحمة الله علیه فرمائی چه یو واری زهو بن شیخ شیخ ابوالوفاء رحمة الله علیه پرتخت باندی ناست وو د خلگو سره ئی خبری کولی چه په د غه وخت کښی دده په خدمت کښی دده په خدمت کښی حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز تشریف راوړی ۔ دی په دغه وخت کښی خاموش او پټه خوله سوا او حکم ئی وکړی چه شیخ موصوف د مجلس څخه وباسی ۔ پس د غه باندی هغه قدس سره العزیز د مجلس وایستل سو دوهم واړ ئی بیا تشریف راوړی او ده خبری قطع او پر یښوولی بیا ئی وایستی او بیا ئی د خلگو وطرف مخاطب سو هغه دریم واری بیا تشریف راوړی نود اواری دی د تخت څخه را کښته سو ۔ د حضور قدس سره العزیز سره ئی غیږ په غیږ رو غبړ وکړ او پر تندی ئی مچ کړی

اوحاضر ینو ته ئې وفرمایل چه د بغداد خلګو د ولی
الله د تعظیم د پاره ولاړ سی ما دده د اهانت او سپکاوی
لپاره دده دایستلو حکم نه وو درکړی - بلکه صرف ددی
لپاره چه تاسی دی په بنه پوهه ئې بیا ابو الوفاء رح
وفرمایل :- عبد القادر قدس سره العزیز نن وخت
زما لاس دی او نژدی ده چه دغه وخت ستاسی په
لاس کښی سی - هر یو څراغ چه روښانه سی هغه مړ
کیږی - مګر ستاسی څراغ به تر قیامته پوری روښانه
وی ددی څخه وروسته ده خپل جای نمانه تسبیح
قمیص ، پیاله او خپله لکړه حضور قدس سره العزیز
ته ورکړه څه وخت چه مجلس ختم او خلاص سو نو
دی د ممبر څخه راکښته سو او حضور ممدوح ئې تر لاس
نیولی پر آخری حُینه کښینستی او د خلګو په مخ کښی هغه
ته وفرمایل چه عبد القادر قدس سره العزیز
ستاسی به هم عظیم الشان وخت وی ، نو هغه وخت
دغه سپینه ږیره ته یاد لره په همدغه وینا کښی
د فتوحاتو څخه دده پک روح پروان وکړی - رضی
الله تعالیٰ عنه .

⑬ محمود المتعال رحمة الله تعالیٰ علیه بیان وکړی

چه ماد خپل بزرګ پلار څخه واوریدل چه زه د شیخ
حماد رحمة الله تعالیٰ علیه په خدمت کښی حاضر وم په
دغه وخت کښی ناګاه حضرت شیخ عبد القادر قدس
سره العزیز تشریف راوړی د غه وخت د ی مبارک
په عالم شباب کښی ؤ ۔ شیخ حماد رحمة الله تعالی علیه
دده د تعظیم لپاره ولاړ سو او وئ فرمایل ۔ مَرْحَبًا
بِالْجَبَلِ الرَّاسِخِ وَالطَّوْدِ الْمَنِيفِ لَا يَتَحَرَّكُ ۔ یعنی د دغه
لوړ غره کوم چه په ځیخ ر قم سره نه سی ښوریدلای
را تګ د ی مبارک وی ۔ بیا ئ د ی پر خپل باز و او بغل
کښینا وی، څه وخت چه د ی کښینستی نو د ده قدس سره
العزیز څخه شیخ حماد ؒ پوښتنه وکړه ۔ چه په حدیث
او کلام کښی څه فرق د ی ؟ حضور و فرمایل ۔ چه
حدیث هغه د ی چه د هغه خواهش او غوښتنه وسی
لکه په سوال اوجواب کښی چه کیږی ۔ او کلام هغه د ی
چه پر ن ړه باند ی صدمه وکړی یعنی پر ن ړه خپل
ژور اثر واچوی لکه څرنګه چه د ن ړه د بیدار یدلو
د خواهش څخه بیقراره کیدل د ټولو اعمالو څخه افضل
او غوره د ی دا ئ وا و ر یدل ۔ شیخ موصوف وفرمایل
ته سید العارفین یئ ستا عدل او انصاف تر مشرق

او مغرب پورې رسیږي ستاسو قدمو لاندې د زمانې
ولیان خپلې غاړې غوړوي. ستاسو تبه لوړیږي - ته
د خپلو هم عصرو اقرانو او امثالو څخه لوړ، فائق او
ممتاز کیږي رضی الله تعالی عنه -

⑭ د شیخ مسلم بن نعمة السروجي څخه یوچا پوښتنه
وکړه چه د اوخت د وخت قطب څوک دی ده وفرمایل
چه د وخت قطب د غه وخت په مکه معظمه کښې دی
او اوس پر خلګو باندې مخفي او پټ دی - هغه د صالحانو
خلګو څخه ماسیوا بل هیڅوک نه پیژني او د عراق
وطرف ته ئې اشاره وکړه وئې فرمایل چه نژدې ده
چه یو نوجوان عجمي چه د هغه نوم عبد القادر قدس
سره العزیز وی - په بغداد کښې حاضر او پیدا اسی.

کرامات او خوارق العادات (د عادت څخه مخالف کارونه)
به د هغه څخه په پیروالی سره بشکاره سی - همد غه
غوث او قطب دی چه په لوی او عام مجلس کښې به
قَدَمِيْ هٰذِهٖ عَلٰى رَقَبَةِ كُلِّ وَلِيِّ اللّٰهِ فرمائې او په خپل
د غه قول کښې به حق په جانب وی - د وخت ټول ولیان
به د ده تر قدم لاندې سی. خدای تعالی د ده برکتونه
ذات څخه خلګو ته پیره نفعه او فایده رسوی.

هم عصره بزرگان او د حضرت غوث الاعظم قدس سره العزیز د مقام فضیلت.

① شیخ ابوالبرکات صخر بن صخر بن مسافر بیان کوی چه زه د زمانی په اولیاؤ کښی د هر یوه د غوث صمدانی قدس سره العزیز سره د اوعده وه چه هغه به په خپل ظاهر او باطن کښی بیله اجازی څخه د آنحضور هیڅ تصرف نه کوی.

ده ته د حضرت القدس په مقام کښی د هم کلام کیدو مرتبه حاصله وه، دی د هغو اولیاؤ کرامو څخه دی، چاته چه په ژوند او مرګ د واړه وکښی پوره تصرف حاصلیږی.

② شیخ ابوالغنائم بطائحی رحمة الله علیه بیان کوی چه زه یو وخت د ده وکورته راغلم نو ما او لیده چه څلور نفره د ده سره ناست دی کوم چه ما هیڅکله نه لیدلی وه او نه می هم پیژندله - زه پر خپل ځای باندی ودریدم، کله چه د غه خلګ ولاړ سوه او ولاړه نوده

ما ته وفرمایل چه ورسه د دوی څخه د څان د پاره دعا وغواړه - نه د مدرسی په صحن (غولی) کښی د دوی سره ملا و او یو څای سوم او د دعا کولو غوښتنه می حُسینی وکړه - د دوی څخه یوه بن رګ ما ته وفرمایل چه ستا لپاره د خوشقسمتی خبره ده چه ته د داسی چا په خدمت کښی ئ چه د هغه د برکته څخه الله تعالی مخکه برقراره لری او د هغه د دعا له برکته پر ټوله مخلوق باندی رحمت کوی ، د نور و او لیاؤ په شان موښ هم د ده د مهربانی په سایه کښی او سیښ و او د ده د حکم تابعداره یو .

دائ وویل هغه څلور سره بن رګان ولاړه نه په تعجب کښی سوم وده ته بیرته راغلم - خو د مخه تر دی چه نه یو څه ووایم ده وفرمایل چه کوم څه چه دوی تاته ویلی دی ته نه ما په ژوند کښی په هغه څوک مه خبروه - ما عرض وکړ چه حضور قدس سره العزیز دا څوک وه ؟ ده مبارک وفرمایل . داد کوه قاف رئیسان وه کوم چه دا اوس وخپل خپل څای ته هم رسیدلی دی .

(۳۰) شیخ ابوالفتح هروی ویلی دی چه ماد شیخ

علی بن هیتی څخه اوریدلی دی چه هغه ویلی چه
د هیڅ مرید شیخ د شیخ عبد القادر جیلانی قدس
سره د مرید نه شیخ عفوره او افضل نه سی کیدای.

④ قدوة العارفین شیخ ابو سعید قیلوی فرمایلی
دی چه د حضرت شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره
العزیز مقام (مَعَ اللّٰهِ وَ فِی اللّٰهِ وَ بِاللّٰهِ) وُ، چه
د هغه په وړاندی لوی لوی حُواکونه او طاقتونه
بیکاره وه، ده له ډیرو متقدمینو (پیشینه وُ) څخه
سبقت او ترڅخه والی اخیستی دا سی ځای ته رسیدلی
ُ چیرته چه تنزل او کښته والی ممکن نه دی، الله
تعالیٰ دده د تحقیق او تدقیق د وجه څخه دی یو ډیر
لوی، لوړ، قدرتمند، مقام ته رسولی وو.

⑤ د هغه پورته یاد سوی شیخ بیا فرمایلی دی چه
شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز چه (قَدَمِیْ
هٰذِهٖ عَلٰی رَقَبَةِ کُلِّ وَلِیِّ اللّٰهِ) فرمایل د هغه وخت دده
پر زړه باندی الٰهی تجلّیات کیدلی، او د جناب رسول
الله صلی الله علیه وآله وسلم د طرفه څخه د ه ته یو
خلعت (خلات) را لیږل سوی وُ، د هغه خلعت (خلات)
مقربو ملائکو را وړی د اولیاوُ کرامو په عامه ټولنه

کښی ئ ده ته ور واغوستی د غه وخت ملائکی او رجال
الغیب دده په مجلس کښی چار چاپیره صف صف په هوا
کښی دا پول در یدلی وه چه د اسمان کنگری بیخی نه سوی
لیدلکیدای ، د غه وخت د مخکی پس مخ هیڅ ولی داسی نه
وُ چه هغه دی خپله غاړه نه وای کښته کړی .

⑥ د غه ستایل سوی شیخ بیا فرمایلی دی چه ما څو
واړه جناب سرور کائنات علیه الصلوٰة والسلام او نور
نبیان علیهم الصلوٰة والسلام د ده قدس سره العزیز
په مجلس کښی تشریف لرونکی لیدلی دی ، د غه رنگه
ما څو واړه ولیده چه په هوا کښی د انبیاء علیهم
الصلاة والسلام پاک روحونه څلور سره طرفونه ته
گرځی راگرځی اود ملائکو او رجال الغیب پلی دده - و
مجلس ته راتلی او یو پر بل ئ چا بکی او تر څه والی
کاوه - حضرت خضر علیه السلام څخه د حضور و
مجلس ته د ده د پیر راتگ وجه وغوښتله - هغه
وفرمایل د چا چه فلاح او خلاصون مطلوب وی
هغه ودغه مجلس ته همیشه راځی .

⑦ شیخ ابو محمد حسن (رض) ویلی دی چه ما د شیخ
علی قرشی بیان (ویینا) واوریده چه هغه یوسړی

ته ویلاه چه که چیری ته حضرت شیخ عبد القادر قدس سره العزیز ته وگوری نو گواکی ته یو داسی سړی ته گوری چه دهغه د خپل رب په لار کښی خپل ټوله قوت بان لی دی او د طریقت خاوندان ئ مضبوط کړی دی، ټوله د وصف او حکم او حال له مخی توحید وُو او د ده د تحقیق په ظاهره او باطن کښی شریعت وُو او د زړه فراغت او موجودات پانی گنهل او الهی مشاهده د ده وصف وُو دی پر یو داسی مقام او منزله باندی وی چیری چه د شک او شبهی گرد سره خای نه وُو او نه د ده سرّ په مقام کښی بیگانه ؤ له د جگړی کولو موقع نه لاسه کیدای سوه، او نه په زړه کښی یو ډول خفگان ممکن وو، ملکوت اکبر د ده نه شا پاته وُو او ملکِ اعظم د ده نه قدمو لاندی وُو.

⑧ شیخ ابو محمد بن شعیب المغربی بیان کوی چه د حضرت حضر علیه السلام سره زما ملاقات وسو - نو ما دهغه څخه د مشرق او مغرب د مشائخو حال غوښتی چه د شیخ حضرت عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز حال می هم حُینی وغوښتی نو ده وفرمایل چه هغه خو امام الصدیقین او حجة العارفین او د معرفت روح دی

د الله تعالیٰ د ټولو ولیانو تر منځ وده ته تقرب او نژدیکی
حاصله ده۔

⑨ شیخ محمد بن ابی العباس المخضر الحسینی الموصلیؒ
بیان کوی چه ما د خپل بزرګ پلار څخه واورید ل چه هغه
ویله چه د ۵۵۱ شپږنه هجری قصه ده چه د حضرت شیخ
عبد القادر جیلانی قدس سره په مدرسه کښی ما په
خوب کښی ولیدل چه د محکی او د ریا یو مشائخ سر ه
راټول وی د کومو چه مشردیؒ وی (مقصد د دغه محفل
مشردیؒ وو) په د وی کښی ځی د بعضو پیر سر باندی
فقط لنګوټه او پیر لنګوټه باندی یو چادر، او د ځینو
پیر سر باندی دوه چادره، او د ه پیر لنګوټه باندی
دریمی چادره ولیدل ۔ ما په خپل خوب کښی فکر واچه
چه د ده پیر لنګوټه باندی دری چادره څرنګه دی؟

په د غه کښی زما ستړګی خلاصی سوی، نو ما چه
وکتل د ی زما و سر ته ولاړ وُ و یل ئ، یو د شریعت
دو هم د حقیقت او د ریم د عظمت او بزرګه۔

⑩ شیخ بقا بن بطو النهر مکی رحمه الله فرمائی چه ابراهیم
الاعراب بن شیخ ابی الحسن علی الرفاعی بیان کوی چه
زما پلار زما د ماما سیدی حضرت شیخ احمد الرفاعی

څخه پوښتنه وکړه چه حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز چه (قَدَمِیْ عَلٰی رَقَبَةِ کُلِّ وَلِیِّ اللّٰهِ) فرمایلی دی نو ایا دی په واقع کښی هم د دی خبری پر ویلو امر کړه سوی وُو - که یا ده وویل چه بیشکه هغه د دی پر ویلو امر کړه سوی وُو.

(۱۱) بیا د غه ټیر ستایل سوی شیخ فرمائی چه زه یو وار د شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز په مجلس کښی حاضر سوم د غه وخت ده د ممبر پر اوله ځینه باندی وعظ کاوه - په دی وخت کښی ده خپلی خبری وکړی لږ کړی پټه خوله سو او بیا کښته راتاسو - دوهم وار بیا ممبر ته وختی پر دوهمه ځینه کښینستی په د غه وخت کښی ما اوله ځینه ولیده چه بیخی پراخه سوی وه او پر دی باندی د پر ښه فرش عوض بدلی وی او جناب سرور کائنات علیه الصلوٰة والسلام او حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر او حضرت عثمان او حضرت علی رضی الله عنهم تشریف راوړی وی، په د غه وخت د حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز پر زړه حق تعالیٰ (ج) تجلّی وکړه خو د دی برداشت ئی ونکړای سو.

پر را لو یدو سو ۔ خو جناب سرور کائنات علیه الصلوٰة
والسلام دی را تینګ کړ ، تردی وروسته دی دچوغکی
(مرغی) په شان بیخی کوچنی سو او بیا دی بیرته
غټ سو او پر یو هولناکه صورت باندی سو ، بیا
ماد جناب سرور کائنات علیه الصلوٰة والسلام او د
هغه د اصحابو د دغه پوول را بنکاره کیدلو وجه دده
(یعنی د غوث قدس سره) څخه وپوښتله ۔ نوده وویل
چه د هغه (نبی صلی الله علیه وسلم) او د هغه د اصحابو
پاکو روحانو ظاهری شکل اختیار کړی وُو او خدای تعالیٰ
جل جلاله دده (صلی الله علیه وسلم او دده د اصحابو
پاکو روحانو ته د دغه طاقت ورکړی دی ۔ لکه چه د
معراج حدیث د دی خبری پوره دلیل دی ، د دغه رنګه
چه چا ته الله تعالیٰ قوت ورکړی هغه دی د څوک
په صورت هم لیدلای سی ، د دغه رنګه ماد دغه وخت د
ده دکوچنی کیدو وجه هم وپوښتله نو ده وویل
چه اوله تجلیٰ چه کومه وه بیله کومک څخه د نبی
صلی الله علیه وسلم هیڅ انسانی طاقت یٰ نه سی برداشت
کولای ۔ د دغه وجهی څخه که چیری حضرت رسول
الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړی نه وای نو

زه رالویدم ، په همدغه خاطر همغه (صلی الله علیه وسلم) زه را تکیه کړم - دوهمه تجلّی د جلال وه د کومی څخه چه زه کوچنی سوم - او دریمه تجلّی د جمال وه دکومی څخه چه زه بیې ته لوی سومه.
(ذَالِکَ فَضْلُ اللّٰهِ یؤْتِیهِ مَنْ یَّشَآءُ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِیْمِ)

(۱۲) شیخ عبد البطائحی رحمه الله بیان کوی چه د شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز په برکتمند ژوند کښی زه د شیخ احمد الرفاعی په خدمت کښی اتفاقاً حاضر سوم - نو زه ولاړم ورته نژدی و او سیدم او ترڅو ورځو پورې هلته وم ، یوه ورځ ده ورماته وفرمایل چه ته د حضرت شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز یوڅه حالات څومره چه تاته معلوم دی بیان کړه ، نو ما دهغه حالات بیانول چه یو سړی راغلی او د شیخ احمد الرفاعی وخواته ئې اشاره وکړه ماته ئې وویل چه ته نمونې په مخ کښی ودده (احمد الرفاعی) څخه ماسیوړی د بل چا ذکر مه کوه پر دی خبره باندی دی ډیر په غصه اودرد سو او دهغه سړی وخواته ئې وکتل - نو سمدستی هغه

سړی ولویدی او مړ سو ، بیا ده وویل چه د حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز ومې تبو ته څوک رسیدلای سی ؟ هغه سړی دی چه د شریعت دریاب ئ راسته طرف ته او د حقیقت دریاب ئ چپه طرف ته دکوم څخه چه وغواړی او به اخلی ، د هغه هیڅ جواب او مثال نسته .

د عنه رنگه ما د ده څخه واوریدل چه د عنه وخت ده خپلو وړیرو شیخ ابراهیم الاعراب او د هغه وروڼو شیخ ابوالفرج او شیخ نجم الدین احمد (د شیخ علی الرفاعی اولاد رضی الله عنهم ته) (چه د عنه وخت ده رحمة الله تعالیٰ علیه یو سړی کوم چه بغداد ته وړ سیږی ی . نو د حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز څخه لومړی د بل چا زیارت مه کوی . بنائی که د ظاهری څوند په حال کښی وی او که هغه مړ سوی وی ، حکه چه د هغه لپاره داوعده اخیستل سویده چه - کوم صاحب الحاله چه وبغداد ته ولاړ سی او تر تولو لومړی دده (شیخ عبدالقادرؒ) ملاقات ونه کړی . نو د هغه څخه دده حال ایسته او نیستی کیږی .

(۱۳) شیخ ابوالاصفیاء حضرت شهاب الدین عمرالسهروردی رحمه الله فرمائی چه په ۵۰۶ هجری کښی زما بزرگ اکا حضرت شیخ ابونجیب عبدالقاهرالسهروردی رح د حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز و خدمت ته تشریف راوړی چه زه هم هغه وخت د ده سره وم نو زما بزرگ اکا چه به ترکومه وخته د ده په خدمت کښی ناست وُ نو هغه وخته به دی په پښه خوله اوادبناکه وو او د هغه خبری به ئی اوریدلی بیا زمونږ څخه رخصت سو و مدرسه نظامیه ته روان سو - نو ما پس لاری د ده (اکا) څخه د دی وجهه وغوښتله نو ده راته و فرمایل چه زه د هغه څرنگه ادب و نه کړم حال دا چه وهغه ته پوره وجود او کامل تصرف ورکړ سویدی، او په عالم ملکوت کښی په هغه سره فخر کول کیږی او په عالم کون کښی هغه دا وخت منفرد او یوازی دی زه د دا سی سړی څرنگه ادب و نه کړم چا ته چه الله تعالیٰ زما او د نړۍ او لیاؤ پرزړه او د هغو پیر حال او احوال باندی قدرت ورکړی دی، که چیری دی وغواړی هغه دی بند کړی او که وغواړی پری دیږدی.

(۱۴) شیخ عبدالرحمٰن بن ابوالحسن علی بطائحی الرفاعی

بیان کوی چه ـ کله چه زه و بغداد ته ولاړم ـ نو د شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز په پاک خدمت کښی دهم حاضر سوم ، نو کله چه ما دده د حال اودده د زړه د فراغت او داسی نور څه ما سیوی دده نور حالات ولیدله نو زه حیران پاته سوم ، کله چه بیرته راغلم او خپل بزرګ ماما ته می ددی خبری اطلاع ورکړه ـ نو هغه وویل ـ چه زویه ! د حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز رنګه طاقت چا ته رسیدلی دی ؟ او پر کوم حال چه هغه دی ـ څوک کیدلای سی او کوم ځای ته چه دی رسیدلی څوک رسیدلای شی ـ

⑮ حضرت شیخ عدی البرکات صخر بن صخر بن مسافر رحمة الله علیه بیان کوی چه ما د خپل بزرګ اکا شیخ عدی بن مسافر رحمة الله تعالیٰ علیه څه پوښتنه وکړه چه پخوا تردی ما سیوی د حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله تعالیٰ علیه څه یوبل شیخ هم (قَدَمِیْ هٰذِهٖ عَلٰی رَقَبَةِ کُلِّ وَلِیِّ اللّٰهِ) ویلی دی ؟ ده وفرمایل چه یا ـ ما پوښتنه وکړه چه د دی معنیٰ څه ده ؟ ده وویل د دی څخه خالص د فردیت مقام مراد دی ـ ما

وویل چه ایا په هره ن مانه کښی فرد وی؟ د ه و ویل
چه هو ـ مگر ما سیوی د حضرت شیخ عبد القادر
جیلانی قدس سره العزیز څخه بل هیڅ اته د د غه د
ویلو حکم نه د ی سوی ـ بیا ما عرض وکړی چه آیا
د ی د د غه پر ویلو امر کړه سوی وو ؟ د ه وویل چه
هو هغه د د غه پر ویلو امر کړه سوی وو ـ او ټولو اولیاؤ
خپل سر و نه کښته کړه ـ وگوده ملائکو هم حضرت آدم
علیه السلام ته سجده وکړه کله چه الله تعالیٰ ورد وی
ته د آدم علیه السلام لپاره د سجدی کولو امر وکړ ۔

(۱۶) حضرت شیخ علی بن هیتی رح بیان کوی چه د یو
پلا قصه د ه چه زه او شیخ بقاء بن بطو رحمة الله تم
علیه د هغه (شیخ عبد القادر) قدس سره العزیز
سره د حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه وپاک
مزار نه د قبر د ن یارت لپاره ولاړو د غه وخت ما
و لیدل چه امام موصوف (احمد بن حنبل) د خپل قبر
څخه راووتی او د ی (شیخ عبد القادر رح) ټی په خپله
سینه پوری و نیوی او وی ویل چه شیخ عبد القادر
(قدس سره العزیز) زه په علم شریعت او علم حال
کښی ستاسی محتاج یم ۔

(۱۷) شیخ عمر کیمیا رحمة الله تعالیٰ بیان کوی چه د شیخ قدس سره العزیز هیخ مجلس داسی نه وُو چه په هغه کښی دی یهود و او نصاراؤ اسلام نه وی قبول کړی - یا دی قطاع الطریق (لاروهونکی) او خنګ وژونکی او بد عقیده خنګ نه را تله توبه دی نه وی کښلی.

یو وار د ده و مجلس ته یو راهب چه نوم ئی سنان وُو راغی - او چه راغی اسلام ئی قبول کړی په عامه ټولنه کښی ئی په ولاړه بیان وکړ چه زه د یمن اوسیدونکی یم او زما په زړه کښی دا خبره را وګرځیده چه زه اسلام قبول کړم - بیا ما د دی خبری کلکه اراده وکړه چه په یمن کښی چه کوم څوک تر ټولو ډیر افضل او بهتره وی زه یه د هغه پر لاس اسلام قبلوم - زه د همدی خبری په فکر کښی وم چه ما ته خوب راغی ما حضرت عیسیٰ علیه السلام په خوب ولیدی - ده وفرمایل چه سنان! ته بغداد ته ولاړ سه او د حضرت شیخ عبد القادر جیلانی پر لاس اسلام قبول کړه ځکه چه هغه دا وخت د محکی پر مخ تر ټولو خلګو افضل او بهتره دی.

(۱۸) شیخ لُوُ لُوُ، الار منی مخاطب په علی الا نفاس فرمائی چه شیخ ابو الخیر عطا المصری چه کله زما مجاهده

اوکوشش ولیدی نومانته ئ وویل ، چه زه داولیاءالله
څخه دُچا و طرف ته منسوب یم نو په دغه وخت کښی
ماوده ته وویل چه نماشیخ حضرت شیخ عبدالقادر
جیلانی قدس سره العزیز دی کوم چه قدمی هٰذا علی
رقبه کل ولی الله ئ فرمایلی دی - اوکله چه ده دا
وفرمایل نودغه وخت د محکی دمخ دری سوه ۳۱۳ دیرلس
اولیاؤ الله وُ خپلی غاړی کښته کښ ی کړی دکومو چه
تفصیل په لاندی ډول دی .

(۱) اوولس په حرمینو شریفینو کښی (۲) اوشپیته په
عراقؔ کښی (۳) او څلویښت په عجمو کښی (۴) اودیرش
د شام په ملک کښی (۵) او شل په مصر کښی (۶) اواووه
ویشت په مغرب کښی (۷) اویوولس په حبشه کښی (۸)
اویوولس د یاجوج ماجوج په بند کښی (۹) او اووه - د
سراندیب په دښت کښی (۱۰) او اووه څلویښت په کوه
قاف کښی (۱۱) او څرویشت د بحر محیط په ټاپو گانو کښی.
او په زیاتؔ شمیر بزرگانو لکه شیخ عدّی بن مسافر، شیخ
ابوسعید قیلوی رح ، شیخ علی بن هیتی رح ، شیخ احمد
بن رفاعی ، شیخ ابوالقاسم البصری رحمة الله تعالیٰ علیه
شیخ حیات الحرانی رح او داسی نورو د دی خبری شاهدی

ورکړیده چه حضرت شیخ د (قدمی هٰذه علی رقبة کلّ ولیّ الله) پرویلو باندی امرکړه سوی وو .

سربیره پردی چه کوم څوک د دی څخه انکار وکړی حضرت شیخ ته دهغه دگوښه کولو هم پوره پوره واک ورکړسویدی ، د غه رنگه ما په مغرب (لویدیځ) او مشرق (ختیځ) کښی د الله تعالیٰ ولیان چه خپلی غاړی ټ کښی کړی وی ولیدل ، او ما یو سړی ولیدی چه ده خپله غاړه نه وه کښوه کړی نو د هغه حال یل پ ول سو .

(۱۹) کومو بزرگانو چه خپلی غاړی کښته کړی دی د هغو څخه د حُسین مبارک نومونه په لاندی پ ول دی، شیخ بقاء بن بطو، شیخ ابو سعید القیلوی ، شیخ علی بن هیتی شیخ احمد بن الرفاعی رحمة الله تعالی علیهم دوی خپلی خپلی غاړی کښته کړی وی فرمایل (علی رقبتی) خلگو پوښتنه وکړه چه تاسی څه وایاست ؟ دوی وفرمایل چه دا وخت په بغداد کښی حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز (قدمی هذه علی رقبة کلّ ولیّ الله) وفرمایل . او شیخ عبدالرحمٰن الطفسونجی ، شیخ ابوالمجیب السهروردی ، غاړی کښته کړی وی فرمایل

چه علی رأسی، او شیخ موسیٰ الزولی، شیخ حیات الحرانی شیخ ابو محمد بن شیخ ابو عمر رح، شیخ عثمان بن مرزوق، شیخ ابو الکرم، شیخ ماجد الکردی، شیخ سوید البخاری، شیخ ارسلان الدمشقی - هم غاړی کښی کړی او خپلو خپلو مریدانو او دوستانو ته ئې دا دعه خبر هم ورکړ - او شیخ ابو مدین المغربي په مغرب کښی غاړه کښیه کړه او وئې فرمایل - چه نَعَمْ وَاَنَا مِنْهُمْ اَللّٰهُمَّ اُشْهِدُكَ وَاُشْهِدُ مَلٰٓئِكَتَكَ اِنِّيْ سَمِعْتُ وَاَطْلَعْتُكَ - ای باداره ته شاهد حال ئې او ملائکی ستا نه شاهد وسه چه ما واورېدی قول د شیخ چه (قدمی هٰذا علی رقبة کل ولی الله) واورېدی او د هغه تعمیل می وکړ -

شیخ ابراهیم المغربي او شیخ ابو عمر، شیخ عثمان بن مرورة البطائحی، او شیخ مکارم رحمة الله تعالی علیه شیخ خلیفه، شیخ عدی بن مسافر رح او داسی نور رضی الله عنهم فرمائی چه، کله چه حضرت شیخ قدس سره العزیز (قدمی هٰذه علی رقبة کل ولیّ الله) وفرمایل نو د غه وخت یوه چیره لویه پله په هوا کښی الوتی په نظر را غله، کوم چه د ده وخوا نه را تله او حضرت

خضر علیه السلام هغوی ته حکم کړی وو چه د ده په پاک
خدمت کښې حاضر سی ـ کله چه ده وفن[عه] ایل نوښتو لس
اولیا وو کرامو وده ته مبارکی ورکړه اود اخطاب ټی وفرمانده
کړ .

یَا مَالِکَ الزَّمَانِ ، یَا اِمَامَ الْمَکَانِ ، یَا قَائِمًا بِاَمْرِ
الرَّحْمٰنِ یَا وَارِثَ کِتَابِ اللّٰهِ یَا نَائِبَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی
اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَ سَلَّمْ وَ یَا مَنِ السَّمَآءُ وَ الْاَرْضُ ـ
مَائِدَتُهُ وَ یَا مَنْ اَهْلُ وَ قُتِهٖ کُلُّهُمْ عَائِلَتَهُ وَ یَا مَنْ
یُنْزَلُ الْغَیْثُ بِدَعْوَتِهٖ وَ یَدُرُّ الضَّرْعُ بِبَرَکَتِهٖ وَ لَا
یَحْضُرُوْنَ عِنْدَهُ اِلَّا مُنْسِکَةً رُؤُسَهُمْ وَ یَقِفُ الْغَیْبَةُ بَیْنَ
یَدَیْهِ اَرْبَعِیْنَ صَفًّا کُلُّ صَفٍّ اَرْبَعُوْنَ رَجُلًا وَ کُتِبَ فِیْ کَفِّهٖ
اِنَّهُ اَخَذَ مِنَ اللّٰهِ مَوْثِقًا اَنْ لَّا یَمْکُرَ بِهٖ وَ کَانَتِ الْمَلَائِکَةُ
تَمْشِیْ حَوَالَیْهِ وَ عُمُرُهُ عَشْرَ سِنِیْنَ وَ تُبَشِّرُهُ بِالْوِلَایَةِ[ع]

یعنی ای با چا! د زمان، او امامه! د مکان، او قائمه!
په حکم د الله الرحمٰن، او وارثه! د قرآن او نائبه!
د رسول الله صلی الله علیه وسلم ـ ای هغه څوک چه!
چه اسمان او مځکه گډ یا دده دسترخوان دی او ټوله اهل
د زمانې دده اهل او عیال دی، او ای هغه څوک چه! د چا
ده دعا څخه چه باران راوړی، او د کوم چا برکته څخه

ع یعنی (قدمی هذه علی رقبة کل ولی لله ـ ټی وویل ۱۲ مترجم عفی الله عنه

چه په غلا نحوُ کښی شیدی را کښته کیږی او د چا په دربار کښی چه او لیاړ د سر پر کښته کیږی او برخه پیدا کوی او د چا سره چه د رجال الغیب څلویښت صفه ولاړ دی په هر صف کښی اویا اویا نفره دی او د چا چه په ورغوی کی نوشته سویدی چه ده د الله تعالی څخه وعده اخیستی ده کومه چه هغه (ج) خواه مخواه پوره کوی او د چا پر شاوخوا چه ملایکی را ګرځیدی هغه وخت لا ، کله چه دده عمر صرف لس کاله وُ و او ده ته ئی زیږی ورکاوه چه دی د خدای تعالیٰ ولی ګرځیږ .

(۲۰) شیخ مطر رحمة الله تعالیٰ علیه بیان کوی چه یووار موږ یو څو نفره (د شیخ المکارم او شیخ محمد اخلاص (رح) او شیخ احمد العربینی رحمه الله تعالیٰ سره کښینستو خبری موکولی نو د غه ذکر سوی شیخ مکارم (رح) وفرمایل چه زه الله تعالیٰ حاضر او ناظر ګڼم دا وایم چه په کومه ورځ چه حضرت شیخ رحمة الله تعالیٰ علیه قدمی هذه علی رقبة کل ولی لله وفرمایل ، هغه ورځ د محُکی دمخ نه تولو ولیانو ولیدل چه قطبیت (قطب والی) بیرغ د حضرت شیخ و مخ ته جګ سوی وی او د غوث تاج د ده پر سر ایښودل سوی وی - او ده قدس سره العزیز

د تصرف تام پټوله خلعت (خلات) کوم چه د شریعت او حقیقت په نقش او نگار ښائسته کړ سوی وو اغوستی او قدمی هذه علی رقبتی کل ولی الله فرمائی - د وی پټولو واو ریدل او په یوه آن کښی ئی سر و نه کښته کړه او دده د مرتبی اقرار ئی وکړ، تر دا سی اندازی چه په لس ځایو ابدالانو کوم چه د وخت پاچهان وه هم خپل سر و نه کښته کړه. بیا شیخ مطرح فرمائی چه د شیخ مکارم څخه پوښتنه وسوه چه لس ابدالان څوک څوک دی - نوده و فرمایل شیخ[۱] بقا بن بطو شیخ ابو سعید[۲] القیلوی، شیخ علی[۳] بن هیتی، شیخ عدی[۴] بن مسافر، شیخ موسیٰ[۵] الزولی، شیخ احمد[۶] بن رفاعی، شیخ عبد[۷] الرحمٰن الطفسونجی، شیخ ابو محمد[۸] بصری، شیخ حیات[۹] بن قیس الحرّانی، ابو مدین[۱۰] المغربی، رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین - د دی په اوریدلو شیخ محمد اخلاص اوحمد العرینی رح وویل چه بیشکه ته رشتیا وائی - او زما عن تمند وروړ شیخ عبد الجبار او شیخ عبد العزیز رضی الله تعالی عنهما و ارضاهما عنا هم ددې تائید وکړ.

(۲۱) شیخ موسی بن هامان الزولی بیان کړی دی چه حضرت شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز

دا وخت خیر الناس ـ او سلطان اولیاء ـ او سید العارفین دی ـ نه دیوداسی سړی چه ملائکی دهغه ادب کوی ولی ادب ونکړم۔

په سیف الربانی کتاب کښی را نقل سویدی چه شیخ علی بن شیخ عمر المقدسی الشاذلی رضی الله تعالیٰ عنه فرمایلی دی چه کوم سړی چه د حضور ممدوح قدس سره العزیز د مبارک قدم د ټولو اولیاء الله پر غاړو باندی ایښودلو څخه انکار وکړی یا تر قیامته پوری دده پر مرتبو او منزلو یا شان یا پوره او تام تصرف باندی یوځله اعتراض وکړی یا ئی کوی نو دده به هغه حال وی کوم چه د شیخ صنعان اصفهانی سوی ؤ ـ یعنی د هغه حال سلب او ایسته سو۔ او د هغه پر اوږه باندی د سُوَرُ قدم سو۔

(۲۲) شیخ محمد المواهب الشاذلی رضی الله تعالیٰ عنه فرمایلی دی چه، کوم څوک چه د حضرت غوث پاک قدس سره العزیز د قدم او فرمان (قدمی هٰذه علیٰ رقبة کل ولی لله) څخه انکار کوی د هغه پر اوږه به د سُوَرُ قدم کیږی، لکه د صنعان اصفهانی د قصه څخه چه ښکاره ده، شیخ عیسیٰ تجانی عارف بالله رضی الله تعالیٰ عنه

فرمایلی دی:

مَوْلَایَ عَبْدُ الْقَادِرِ جِیْلَانِیْ
اَعَوْنَا عَلٰی ذِی خِسَّۃٍ اَظْمَانِیْ

زما آغا او بادار حضرت عبد القادر جیلانی، یعنی د نادارو او کمزورو بی ساری ملگری.

(۲۳) حضرت شاه بهاؤ الدین نقشبندی رضی الله تعالیٰ عنه د نقشبندیه د خاندان مجدد کامل اوولی د الله تعالیٰ د اولیاء کامل ترین، د حضرت غوث پاک قدس سره العزیز په شان کښی فرمائی

بادشاه هر دو عالم شاه عبد القادر است
سرور اولاد آدم شاه عبد القادر است
آفتاب و مهتاب و کرسی و لوح و قلم
نور قلب از نور اعظم شاه عبد القادر است

قال الامام العارف بالله ذو العباية فی الحضرة النبویة سیدی عبد الرحیم البرعی - ذکر ذالک فی قصیدة له ربانیة متوسلًا فیها بالحضرة النبویة و رجال الخرقة الحلیة، مطلعها -

لکل خطب مهم حسبی الله ارجو به الامن مما کنت اخشاه

الی ان قال ذکر - ابی سعید شیخ الامام الغوث الاعظم

الجيلانى .

ومنه الشيخ عبد القادر ابتهجت
طلائع الفضل نوراً فى محياه

كالشمس تسفر من اقصى مطالعها
حسنًا وكالبدر مِلْ أُ العين مرآه

وكالغمام انا استمطرته كرمًا
وكالصبا خلقا ان رق مهواه

من آل فاطمة الزهراء ذو شرف
اتى به الدهر فردًا عن مثناه

على جلالة انوار هيبته
كالسيف ان راق حسنًا رق حداه

.....

مشائخ او صوفيانى او عن تمندو بزرگانى - د حضرت شيخ قدس سره العزيز په باره كښى فرمايلى دى .

غوث اعظم درميان اولياء

چون محمد درميان انبياء

دغوث پاک قدس سره العزیز

ارشادونه

حضور غوث پاک قدس سره العزیز فرمائ چه

(۱) ما په بغداد شریف کښی رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدی چه زه دغه وخت پر تخت ناست وم اودی سپور وُ، اودده یوه طرف ته حضرت موسیٰ علیه السلام وُ، نوده (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل :- موسیٰ (ع)! ستاسی په امت کښی هم یو داسی سړی ستر؟ هغه وویل چه یا، بیا سرور کائنات علیه الصلوٰة والسلام ماته وفرمایل: عبدالقادره! پردغه (بلنه) زه دده په پاک خدمت کښی حاضر سوم، دی (ص) دغه وخت په هوا کښی وُ، زما سره د غیبی روغبړ (غاړه په غاړه کیدل) وکړه - او تردی وروسته ده (ص) ماته خلعت (واغوستی) اووئ ویل: دا ما وتاته د قطب والی خلعت درواغوستی بیاده (ص) دری (۳) حُله زما خوله د خپلی خولی په ناړه و نانوله او زه ئ وخپل حُای ته بیرته ولیږلم، تردی وروسته پس منبر کښینستم او دلاندی شعر ونې په ویلو سر سوم ۰

سَأَنْشُرُ بِهَا فِيْ كُلِّ دَيْرٍ وَّ بِيْعَةٍ
وَ اَظْهَرُ لِلْعُشَاقِ دِيْنِيْ وَمَذْهَبِيْ

په هره بت خانه او بیعه کښی به د عشق الهی جام چښم ۔ او ټولو عاشقانو لره به خپل دین او مذهب بشکاره کړم

فَاَضْرِبُ فَوْقَ السَّطْحِ بِالدَّفِ جَلْوَةً
لِكَاسَاتِهَا لَا فِي الزِّنَا وَ اٰيَاتِ مَخْبَتِيْ

زه به د الله د محبت جام یوازی په کونج کښی نه بلکی د ټولو و مخ ته چښم ۔ او د ډاله په آوان به پر لوړو ځایو ناست اعلان کوم ۔

(۲) لمر نه راخیژی مگر داسی چه ما ته سلام کوی راخیژی، او همدغه رقم کال میاشتی ما ته سلام کوی او د ټولو پیښو او واقعاتو خبر راکوی ۔ نیکبخته او بدبخته هم زما حضور ته پیش کړه کیږی، زما نظر پر لوح محفوظ دی او زه د هغه د علومو او مشاهداتو په دریابو کښی غوټې خورم ۔ زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نائب او د هغه وارث او پر تاسی دلیل او حجت یم او د ټولو انبیاؤ علیهم الصلوة و السلام پر قدم قدم باندی یم ۔ د ه صلی الله علیه وسلم خپل هیڅ قدم نه دی

پورته کړی مګر د اسی چه پر هغه ځای ماخپل قدم
ایښی دی ما سیوی د قدم نبوت څخه ، نه د ملائکو انسانانو
پیرانانو (پیریانو) د ټولو پیشوا یم .

(۳) ده و فرمایل چه کله د خدای جل جلاله څخه د عاء
کوی نو ما و سیله جوړه کړی بیا د عاو غواړی او اې
د ټولی مخلوقی او سیدونکو ! راسی ماته راسی زما څخه
د طریقت علم حاصل کړی . او اې د عراق خلګو زما په
نیز احوال دا ډول دی لکه څرنګه چه په کور کښی
جامی څړیږی کومه چه غواړی را کښته ئی کړه وائی
غوندې - نو تاسی لره بنائی چه سلامتی اختیار کړی
او که نه - نو زه پر تاسی باندی په یو داسی لښکر
سره حمله کوم چه هغه به تاسی په ډیخ ډول سره
هم نه سی دفعه کولای .

اې زویه ! ته سفر وکړه که څه هم د زړو کلو
سفر وی مګر هلته به هم زما آواز اوری - اې زویه !
د ولایت درجی د دغه ځایه څخه تر دغه ځایه نه دی
ماته څو ځله خلعتونه (خلاتونه) راکړه سویدی ، او
ټوله نبیان ، او ولیان زما په مجلس کښی رونق
افزونه سویدی یعنی تشریف ئی راوړی دی - ژوندو

په خپلو بدنو سره اومړو په خپلو روحانو سره.
اې زوی یه! ته په قبر کښی زما حال د منکر اونکیر
څخه غوا په هغه زما خبر درکوی.

④ وی فرمایل: کله چه اول وار زه د بیت الله شریف
ج ته ولاړم، نو د عنه وخت زه په عالم شباب کښی وم
کله چه زه د القرون په نامه مشهور ری منار ی ته
نژدی ور رسیدم نو پر هغه ځای د شیخ عدی بن مسافر
سره زما ملاقات وسو، د ی هم په د عنه وخت کښی
په همد عنه عالم شباب کښی وُو - د ه زما څخه پوښتنه
وکړه چه د کوم ځای ارادہ د ی کړی د ه؟ ما ورته وویل
د مکی معظمی، بیا د ه پوښتنه وکړه چه ایا زما او
ستا ملګری کیدلای سی؟ ما ورته وویل ولی نه. غرض
دا چه هوښ د وا په سره ملګری سوو.

دیوی ورځ قصه د ه چه په لاره کښی یوه کمعره
حبشی انجلی پیدا سوه دا انجلی نرۍ باریک بدنه
او چادری (بغره) ئ اغوستی وه راغله زما و مخ نه
ودریده د چادری څخه ئ زه ولیدم او وئ ویل چه
نه د کوم ځای اوسیدونکی یې؟ ما ورته وویل چه د
بغداد اوسیدونکی یم - بیا ئ وویل چه تا زه په بیړه

ستړی کړی یم ما وویل چه هغه څرنګه؟ دی وویل
چه همدا اوس زه د حبشی په ملک کښی وم ـ ما ته
دا معلومه سوه چه الله تعالیٰ ستاپس زړه باندی
داسی تجلّی کړیده اوخپل فضل اوکرم ئی کړی دی.
کوم چه ترتن ورځی پوری پر بل چانه دی سوی د
د غه جهته ما وغوښتل چه زه تاو پیژنم ـ بیادی
وویل چه زه غواړم چه تن ټوله وروځ ستاسی د
دوو(۲) صاحبانو سره واوسم، او ستاسی سره روژه مات
وکړم ـ ما ووویل: چه حُبًّا اوکرامةً ـ یعنی پس سر
او ستړګو ـ تر دی وروسته لیږی سوه او یوه طرف
ته هغه روانه سوه او یوه طرف ته موږ روان سوو
کله چه د ما بنام وخت راغی او د روژه مات وخت سو
نو د اسمان څخه زموږ خوا ته یو غاب (مجمع) راکښته
سو چه په هغه کښی شپږ ډوډی او سرکه اویوځه
د ترکاری د قسمه څخه وه ـ د غی انجلی په عربی ژبه
دالله تعالیٰ د شکر په ادا کولو کښی ووویل چه د هغه
حاصل دادی (د الله تعالیٰ زر، تر شکرونه دی چه
د ه زما او زما د میلمنو عزت وکړ، چه هره وروځ زما
لپاره دوی ډوډی راکښته کیدی او تن شپږ راکښته

سوی ، د ه ن ما د میلمنو لوی عزت وکړ) بیامونږ (۳) درو
سره دوی د وی پ و ډ ی وخوړی تړدی ورو سته د
اوبو جامو نه راکښته سوه د هغو څخه مونږ ا و ب ه
و چښلی کومی چه د مځکی د اوبو سره ور ته نه وی
بلکه د دی خو ند اوشیرینی څه بل ډول و ه ۔ تړدی
ورو سته بیاد غه انجلۍ زمونږ څخه رخصت سوه ولاړه
او مونږ مکی معظمی ته راغلو بیا یوه ورځ مونږ طواف
کاوه چه الله تعالیٰ پر شیخ عدی رحمة الله علیه باندی
مهربانی اوکړم وکړ پر د ه باندی د غه وخت ډ یره
بی هوښی راغله تړداسی د رجی چه د ه ته ئ کتلی وای
هرچا به ویلای چه هغه مړ دی ، د غه وخت هغه انجلۍ
دلته ما ولاړه ولیده چه د د ه د سر وخواته راغله هغه
ئ چپه او راسته کړه وی ویل هم هغه څوک به دی ژوندی
کوی چا چه ته و ژلی ئ ۔ پاک دی د د ه ذات ، د د ه تجلی
د جلال د نور څخه ئ پیښی نه کیږی مګر د ه د ثبوت لپاره
او د هغه د صفاتو د ظهور څخه کائنات قائم نه دی مګر د
هغه د تائید څخه ، د د ه د تقدیس او پاکی د عقل ستړگی
تړلی او د حیرانانو پوهی ئ محدود ه کړ یده ۔

بیا الله تعالیٰ پر ما باندی د الطاف او کرم نظر وکړ

نو ما په باطن کښی و لیدل چه ما ته یو څوک وایي چه عبد القادره! ظاهری تجرید پریږده ، تفریدالتوحید او تجرید التفرید مختاره اوغوره کړه تاته زه خپل عجائبات درښکاره کوم - زما دارادی څخه ستا اراده - مشتبه او شکمنه نه سی چه ته زما په وړاندی ټینګ او ثابت قدمه و اوسی.

او په وجود کښی زما و مخ ته هیڅ چا ته تصرف کول مه ورکوه چه همیشه زما په مشاهده اولیدو کښی و اوسی او خلګو ته د نفعی رسولو لپاره یو ځای کښینه ، زما بیخی د پیر بندګان دی چه دغوی موږ ستاسی د برکته خپل ځان ته نژدی او مقربین جوړوو - د غه وخت ما ته هغی انجلی وویل - ای نوی ځوانه! ما ته معلومه ده چه ترکومی اندازی ستا لوړی او بزرګی کیږی - ستا لپاره یو نورانی خیمه لګول سویده او ملائکی پر تا چار پیره دی او تا ګوری د الله تعالیٰ د ټولو و لیانو سترګی خاص ستا وطرف ته متوجه دی او ستا و مرتبو او منصبو ته ګوری - تر دی وروسته د غه کمحمره انجلی ولاړه او بیا ما هغه نه ده لیدلی.

(۵) وی فرمایل چه یو پلا ما و لیدل چه وطرف ته

انوار راروان وی راځی ، ما پوښتنه وکړه چه داځرنګه انواردی؟ ماته وویل سول چه د خدای د طرفه څخه چه کوم فتوحات او کامیابی تاته سویدی رسول الله صلی الله علیه وسلم تاته د هغود مبارکی د رکولوپاره تشریف راوړی بیا دغه انوار په سوه او ماته یوحال راپیښ سو چه په هغه کښی زه د پیری خوشحالی څخه په ځان نه پوهیدم .

بیا ما په هوا کښی د ممبر و مخ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدی او ما هم په هوا کښی د پیری خوشحالی څخه اووه (۷) قدمه مخ ته پورته کړه تر آنحضور صلی الله علیه وسلم زما په خوله کښی اووه (۷) واره د خولی ناپی راوځځولی ، تر دی وروسته حضرت علی کرم الله وجهه تشریف راوړی اوده زما په خوله کښی شپږ واره د خولی ناپی راکړی ما عرض وکړ چه تا حساب نه کړ پوره ده و فرمایل چه د آنحضور صلی الله علیه وسلم په وړاندی کستاخی او بی آدبی را نشی بیا ماته جناب سرور کائنات علیه الصلوٰة و السلام خلعت (خلات) راکړی ما عرض وکړ چه ایا داځرنګه خلعت (خلات) دی ده و فرمایل چه د اد هغه ولایت

خلاتد ی کوم چه د اولیآؤ په قطب پسی خاص دی .

تردغه فتوحاتو اوکامیابیو وروسته نما په ژبه کښی د ویلو توات پیدا سو اوزه وخلگو ته په وعظ او نصیحت لگیا سوم - تردی وروسته ماته حضرت خضرعلیه السلام تشریف راوړی د دی د پاره لکه څرنگه چه ده د اولیآؤ کرامو امتحان اخیستی زماهم امتحان واخلی - پرما باندی د ده د هغه خبروچه زمون په مابین کښی به کیدی انکشاف او د څوالی وکړ سو بیا چه کله هغه دیوچو پتیا په عالم کښی وُو ماورته وویل چه تا وحضرت موسیٰ علیه السلام ته ویلی وه چه ته زما سره مدگری نه سی او سیدلای - نوزه وایم چه ته زما سره مدگری نه سی او سیدلای - که ته اسرائیلی یې - نو یې به ، زه خو محمدی یم که ته زما سره او سیدل غواړی نو زه خو حاضر یم ته هم موجود ئ اودغه (دالله تعالی) د معرفت گین او دامیدات دی ، او دا جناب رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم دی او دغه خدای تعالیٰ جل جلاله دی ، د غه زما قبضه سوی آس او دغه زما عنتی او لیندی او دغه زما تورہ ده .

یوه ورځ د حضور غوث پاک سید نا شیخ عبدالقادر جیلانی د ظهور په زمانه کښی د ده عقیدتمند مرید د عامو خلگو په یو مجلس کښی ناست وُ یو بل سړی د خبرو په دوران کښی دا وویل چه د حضرت بایزید بسطامی رضی الله عنه مرتبه تر ټولو لیانو لوړه ده بلکه د حضور پاک غوث قدس سره العزیز د مرتبو او درجو او لوړو مقاماتو سره برابره ده. د دی په اوریدلو سره د غه صادق الیقینه او ټینگ اعتقاده ته داسی جوش راغلی پرکوم باندی چه ده جوابًا (یعنی په جواب کښی) وویل چه د حضور غوث پاک سیدنا عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز مرتبه او مقام د حضرت بایزید بسطامی رحمة الله علیه څخه ډیره لوړه بلکه تر ټولو اولیاؤ کرامو او لویو بزرگانو څخه (ماسیوای د خلفاؤ راشدینو او اهل بیتو) بهتره او بیخی لوړه ده که چیری داسی نه وه نو زما بنځه په دری طلاقه، طلاقه ده

داخبره چه د ده تر بنځی پوری ورسیده نو د غه نیک اصله او پرهیزگاری بنځی د خپل د غه پورته یاد کړه سوی خاوند نه د طلاق د واقع کیدو شبهه بنکاره کړه او د مسئلی د پوښتلو خیال ئی ورته وراندی کړ.

نو همدغسی هغه صادق الاعتقاد مرید د پوښتنی لپاره
د حضور غوث پاک قدس سره العزیز په لور خدمت
کښی حاضر سو، او ټوله تیر سوی حالات ئې په زیر او
زبر ورته عرض کړه حضور غوث قدس سره العزیز
د شفقت او مهربانۍ څخه و فرمایل چه زویه! بیله کوم
شک او شبهی څخه خپلی سنځۍ ته ولاړ سه هیڅ طلاق
نه دی واقع سوی - پرد غه خبره هغه د زړه د خوشحالی
څخه د زړه د ارام لپاره د حضور پاک قدس سره العزیز
څخه د شرعی فتوۍ د ورکولو غوښتنه وکړه ، پر د غه
باندی ده قدس سره العزیز وفرمایل چه حضرت
باین ید بسطامی رحمة الله تعالیٰ علیه نه درس او تدریس
کړی دی نه ئې علوم شرعیه خلګو ته رسولی دی ، نه ئې
فتوا وی جاری کړی دی ، نه ئې هغه پیره لوړه مرتبه
حاصله سویده چه هلته په رسیدو سره د واده کولو
حکم دالله جل جلاله له در باره څخه ورکول سی ، نه
هم هغه سپّدی .

د غه په ول ښه صفتونه ما ته راکول سوی دی ، نو
د د غه جهته په هرصورت کښی ما ته نړده بلندی او
لوړی ، افضلی او اعلی مرتبی حاصلیدی ، ستا قسم رشتیا

دی - نو له همدی وجهی طلاق نه دی لویدلی.

په البانز الاشهب سره د نومولو وجه او تشریح

د حضور عزت پاک قدس سره العزیز لقب البانز الاشهت وُو - علامه ابو الثناء شهاب الدین سیدنا محمود آفندی الوسی مفتی بغداد رضی الله تعالی عنه کوم چه په ۱۲۷۰ سنه هجری کښی وفات سویدی - په خپل کتاب (المذهب شرح قصیدة البانز الاشهب) کښی د البان الاشهب د معنی تشریح او بیان داسی کړی دی چه د البانز الاشهب معنی د صوفیا نو کرامو په اصطلاح کښی داده چه (دارشاد خاوند پر هر قسم ظاهری او باطنی حالاتو باندی قدرت ولری او د دی قدرت اثرات دومره قوی او غښتلی وی چه په هیڅ حالت کښی هم قبلونکی د اثر نه وی - نه په ظاهری غمواو پیښو کښی د مخلوق سره او نه په باطنی حال د الله تعالی سره د نړه د توجه او د روحانی طاقت په اسرارو کښی، نه د صاحب الارشاد - ارشاد عالیه - مثلاً.

وما منها شهورا و دهورا تمر و تنقضی الا أتانی

و تخبرنی بما یأتی و یجری و تعلمنی فاقصر عن جدالی
نظرت الی بلاد الله جمعًا کخردلةٍ علی حکم التصالی
انا البازی اشهب کل شیخ ومن ذا فی الرجال اعطی مثالی

که څنګه په لوړو مرتبو کښی خلل اوتاوان پیښ سی چه د مړانی د درجی څخه هغه اثرات اوخلل دی لیری ونه غورځوی، څکه چه د حالاتو په رد او بدل کښی د مستقیم کیدلو - یعنی د مستقل مزاج درلودلو څخه عارفانو او متقیانو لره کومک او معونت، برخه اوخوند تر لاسه کیږی - نو دد عنه جهته په پیښو او غمو کښی لوړ همتی بلند پروازی او د مستقل مزاج درلودل مناسب بنکاری.

د غه رنګه دا هم چه د ظاهری څرګندونو په دوران کښی او تر وصال (مرګ) ورو سته په ټولو تصرفاتو کښی ترابد الابده پورې د هیڅ یوذری کمی پیدا نه سی او په هر حالت کښی په اختیارا تو او تعلقاتو، روحانی طاقت او کشش او جذب او نورداسی کښی د هیڅ قسم تغیر او تبدیل بنکاره نه سی، څرنګه چه د غه ټوله ستایل سوی او نیک صفتونه په بیخی پوره توګه د حضور غوث پاک قدس سره العزیز په برکتمند ذات کښی موجود وه او اوس هم دی - نو دد غی وجهی څخه د باری تعالی

د ذات څخه د عنه لقب او نوم و رکړ سو او همد عنه وجه ده چه د البازالاشهب په لقب سره مشهوره سو.

غوث پاک او دهغه پاک اولاد

د یو وخت خبره ده چه د بغداد شریف بنه عالم او بې ساری فاضل، خاوند د جائیداد منقول او غیر منقول (یوسف السویدی) د مجلس د حاضرینو سره د اخبری کولی چه څه وجه ده چه مونږ د خاندان گیلانیه بغداریه سره په شان او شوکت قدر او منزله عزت او لوړوالی کښی تر دوی په هیڅ وجه هم کم نه یو.

پردی خبره یو مګری (فخر الجمیل) جواب ورکړ وی ویل چه بې شکه زمونږ هر څه سته، مګر د هغو په مقابله کښی یو شی کم دی چه د هغه پوره کیدل ناممکن دی ما هم د اخبره د پلار مرحوم څخه پوښتلی وه نو هغه په جواب کښی را ته فرمایلی وه چه زوی په دی وی سره شنه ګنبده سته په کومه کښی چه د د غه عالی خاندان بزرګ نیکه موجود دی. کوم چه د پوره تصرف خاوند او

د اولیآء باچا غوث الورٰی محبوب خدا شیخ الکل سیدنا حضرت عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز چه په ختیځ اولویدیځ ، شمال اوجنوب ، بلکه په مځکه او اسمان کښی مشهور دی او همدغه شی دی کوم چه زمون سره نسته ددی سره ئی دا هم وویل چه زما مرحوم پلار یووار سخت ناجوړه سو ما ورته وویل: چه ډاکټر به د علاج د پاره راوبولم - ده وفرمایل چه ډاکټر پریږده - ماته هیڅ فایده نه کوی. ته د سید عبدالرحمٰن صاحب وخدمت ته ولاړسه .

د هغه سره په مهمان خانه (میلمستون) کښی ډوډی وخوړه . کله چه هغه ډوډی وخوړله نو د هغه په غاب کښی چه د خوراک څخه کوم شی پاته سی نما لپاره ئی راوړه - د هغه د خولو څخه شفا کیدای سی - ځکه چه په حدیث شریف کښی راغلی دی (سؤرالمؤمن شفاء) ما عرض وکړ چه پلار جانه هغه صاحب خو ستاسی خلاف دی . نو بیا داسی د زړه د عقیدی لرلو څه مطلب ؟ ده وفرمایل زویه د سیاست او دنیا مخالفت جلا شی دی ، صداقت خوښول عقیده درلودل بل شی دی - ما وویل بنه دی پس سر اوستر گوځم .

چه همدغه شان نړه د حضرت سیدنا عبدالرحمٰن صاحب په مجلس کښې حاضر سوم، پر معلوم و خت ټولو ډوډۍ وخوړله. حضرت هم وخوړله، ما په دې فکر چه حضرت ډوډۍ ختمه کړې باقی مانده به ئې واخلم پر خپله لاړ به ځم په ډیره اړامه او سستی ډوډۍ خوړله نړدا سی چه ټوله حاضرین فارغه سول د باندې وو تل مګر حضور نه ما په خاطر خوراک کاوه یعنی چه دی خوراک بس کړې نو بس به ئې کړم نړدا سی چه د حضور په غاب کښې نړغړ ډ ما سیوی بل کوم شی پاته نه سو - اوس ما دا خیال وکړ چه غاب (فلیټ) غلا کړم چه محترم پلار ته دغه پسمانده غوړې یوسم چه وی خوړی.

نړ لَیْتَ و لَعَلَّ (کشکی او امید) وړو سته چه کله نه ما خوړک هم ختم سو - نو خادم ته ئې د لاس پر یو لل لپاره وویل - هغه او به راوا چولی او ما لاس پر یو لی چه سیدنا عبدالرحمٰن خپل د دربار کوټ ته تشریف یووړ - اوس ما وړته وویل چه د حضور د کټ خوړلو غاب سره نړ پسمانده غوړو ماته راکړه چه نه ما ضرورت دی،

هغه جواب راکړ چه دا هیڅ کله نه سی کیدای - بیا که چیری د غه غاب پر وخت را نه کړ سی نو پر ما باندی د غلا تور لګول کیږی.

ما او ویل چه په کوم صورت سره چه وی غاب ماته راکړه - پر دی خبره خادم په جواب کښی وویل چه که یوه اشرفی[عه] ماته راکړی نو غاب درکوم

د ضرورت له مخی می ده ته اشرفی ورکړه د پس خر دی غاب می راوا خیست او د قدرمند پلار په خدمت کښی حاضر سوم.

هغه غاب په ګوته پاک کړ او نوش جان ئی کړ پاک کړ سوی غاب می سمدستی وخادم ته بیرته راوړی او اشرفی می بیرته حینی و عوښته.

هغه متبادر وویل چه اشرفی څرنګه - د پسمانده غوړو قیمت (بیه) خو دی یوه اشرفی.

د خدای جل جلاله د فضل او کرم څخه قدرمند پلار پوره جوړ سو -

پر دی قصه باندی یوسف السویدی و فرمایل

عه اشرفی د هغه وخت او عصر نقد مبلغ وُو ۱۲ مترجم عبدالواحد کاکړ

ذالك فضل الله يؤتيه من يشآء والله ذو الفضل العظيم ط

دُوهم بابُ

دَ

قادریّه سلسلې

د فضیلت

په ثبوت کښې

① حضرت غوث پاک قدس سره العزیز فرمایلی دی چه مانته په باطنی ډول وویل سول چه عبد القادر ه بغداد ته ولاړ شه او خلګو ته وعظ او نصیحت وکړه بیا زه بغداد ته ولاړم خو هلته ما خلګ په داسی حال کښی ولیدل چه هلته او سیدل مانته ښه نه معلومیدل له دغ وجی زه دهغه ځایه څخه ولاړم بیا مانته دوهم وار وویل سول. چه عبد القادره بغداد ته ولاړ شه او خلګو ته وعظ او نصیحت وکړه ستا څخه به هغوی ته نفعه ورسیږی۔ ما ورته وویل چه زمائ د خلګو سره څه مانته خو د خپل دین سانتنه کول په کار دی. خو ما ته وویل سول چه یا ته ولاړ سه ستادین به صحیح سلامت وی۔ نو د غه وخت ما د خپل پروردګار څخه او یا واره د او عده واخیسته چه زما مرید به بیله توبې یو هم نه مړ کیږی.

② شیخ علی الغریښتی رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائ چه حضرت شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز و فرمایل چه ما د دوبخ دروازه وان (مالک) څخه پوښتنه وکړه چه ستا سره زما د مګرو او مریدانو څنه یو څوک ستر؟ هغه وویل چه نسته. بیا هغه وویل

چه زما دی دخدای ج په جلال او عزت قسم وی
چه زمالاس پرخپلو مریدانو باندی داسی سربیره
دی لکه څرنگه چه اسمان پر محکه باندی دی، که
چیری زما مریدد لوړی مرتبی خاوند نه وی - دا
هیڅ خبره نه ده - تر هغه وخته چه خدای پاک زما
او ستاسی سره ترجنته پوری ولاړ نه سی زه به دهغه
ترمخه قدم هم نه پورته کوم

(۳) د هغه قدس سره العزیز څخه یوچا پوښتنه وکړه
چه د داسی سړی په باره کښی ته څه وایې چه ستاسی
نوم اخلی مگر په حقیقت کښی نه هغه ستاسره بیعت
اولاس نیوی کړی وی او نه ئی ستا څخه (د مریدی) یو
حرفه او چغنه اغوستی وی نو ایا دغسی سړی ستاسی
په مریدانو کښی حساب کړه کیږی؟ هغه وویل چه کوم
سړی چه زما نوم اخلی او خپل تعین او مقرری زما
وطرف ته حواله کوی که څه هم په یو ناخوښه او بده
طریقه سره وی خو بیا هم الله تعالیٰ هغه قبلوی او زما
په مریدانو کښی شمیرل کیږی.

(۴) د غه رنگه هغه ویلی دی چه کوم سړی چه زما
د مدرسی د دروازی سره تیر سی د قیامت په ورځ به

هغه لره په عذاب او تکلیف کی آسانی او تخفیف وی.

(۵) شیخ ابونجیب عبد القاهر سهروردی وائی چه دده شیخ د شیخ حماد الدباس رحمة الله تعالیٰ څخه هره شپه یوځل بوغ او بوښهاری اوریدی نوده - د شیخ الحماد څخه ددی وجه وغوښتل داد شپږم هم واقعه ده شیخ موصوف وویل چه زما ټول مریدان دوولس زره دی نود هغو په حق کښی زه دخپل شفقت او مهربانی له مخی دهغو نومونه اخلم دخدای څخه دعا غواړم چه دی د هغوی حاجتونه پوره کړی، اوکچیری هغوی وگناه ته نژدی وی نوهغوی ته دی په دی گناه کښی کامیابی نه ورکوی ترڅو چه دوی د هغی گناه څخه توبه گار سی - پردی خبره باندی هغه قدس سره وفرمایل که چیری خدای تعالیٰ دغه منصبونه او مرتبی راته راکړی - نوزه به ترقیامت پوری دخپلو مریدانو لپاره دالله تعالیٰ څخه وعده اخلم چه دهغوی څخه دی یوهم بی توبی نه مری او بل داچه زه به دهغوی ضامن اوسم - دده پر دی خبره دده شیخ (شیخ حماد رح) وفرمایل چه الله تعالیٰ وده ته دغه مرتبه ورکوی اوده سایه به دده پر مریدانو وراوښده کړی.

رضی اللہ تعالی عنہم اجمعین۔

⑥ شیخ ابو سعیدؒ او محمد الاوانی رح او حضرت عمر البزاز رح بیان کوی چه زمون شیخ (شیخ عبدالقادر جیلانی رضی اللہ تعالی عنه) تر قیامته پوری د خپلو مریدانو د دی خبری ضامن دی چه له دوی څخه به یو هم بیله توبه کښلو نه مری۔ او دائی هم ویلی دی چه که چیری زما مرید په مغرب (لویدیځ) کښی وی او سترئ خلاص سی یعنی بی پردی سی او په دغه وخت کی زه په مشرق (ختیځ) کی یم خو بیا هم زه به دهغه ستر (عورت) و ډیټ کړم۔

⑦ د غه مبارک مشائخ بیان کوی چه مون ته شیخ عبدالقادر قدس سره العزیز و فرمایل چه مون د خپل همت او قدرت په اندازه د خپلو مریدانو ـــ نگهداشت (ساتنه) کوو۔

⑧ بیا هغه قدس سره العزیز و فرمایل چا چه زه ولیدم هغه د پیر بختور دی او چا چه زه و نه لیدم پر هغه باندی بیخی د پیر افسوس دی۔

⑨ شیخ علی قرشی رضی اللہ تعالی عنه بیان کوی چه زما شیخ عبدالقادر قدس سره العزیز فرمایلی

دی چه ماته یی لیست او وړ قه را کول شوید ه چه
په هغه کښی زما د د و ستانو او تر قیامته پوری زما
د مریدانو نومونه درج دی، او بیا ماته وویل سول۔
چه د غه خلگ تا ته در کول سویدی۔

(۱۰) حضرت شیخ قدس سره العزیز فرمایلی دی۔
چه حسین حلاج یوه لغته وخوړه چه د هغه د دعوی
اندان ډیر لوړ سو چه له د عی وجهلی ئ سره د شریعت په
غچی کاټ سو[۱]۔ په د غه زمانه کښی یو د اسی سړی نه
وُو چه د هغه لاس ئ نیولی وای او که چیری زه د
هغه په زمانه کی وای نو ضرور به می د هغه لاس پټنگ
کړی وای[۲]۔ بیا هغه قدس سره العزیز و فرمایل چه
تر قیامته پوری چه زما د د و ستانو یا مریدانو څخه یو
څوک لغته خوری یعنی خطا وزی زه به د هغه لاس نیسم
یعنی را گرځوم به ئ۔

(۱۱) شیخ علی بن هیتی رضی الله تعالیٰ عنه به فرمایله
چه د هیڅ مرید شیخ د حضرت شیخ عبدالقاد ر
جیلانی قدس سره العزیز د مریدتر شیخ ډیر بهتره
او ښه نه سی کیدلای۔

---

[۱] یعنی انا الحق ئ شروع کړ ۱۲ مترجم [۲] یعنی کو مک به می وړ سره
کړی وای [۳] یعنی په دار باندی را وځړول سو ۱۲ مترجم

الاعظم ! ما عرض وکړ چه ای د غوث ربه - الله (ج) و فرمایل ټوله هغه حالات چه د عالم اجسام او عالم ارواح په منځ کښی دی هغه شریعت دی او ټوله هغه حالات چه د عالم ارواح او د صفاتو د مرتبی په منځ کښی واقع دی هغه طریقت دی او ټوله هغه حالات چه د صفاتو د مرتبی او د فنا فی الله په منځ کښی دی هغه حقیقت دی .

---

(۵) ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ مَا ظَهَرَتْ فِیْ شَیْءٍ کَظُهُوْرِکَ فِی الْاِنْسَانِ .

ترجمه :- بیا ئی ما ته وفرمایل چه نه په هیڅ شی کښی هغه قدرت نه یم ظاهر سوی لکه ظهور مې په انسان کښی

---

(۵) ثُمَّ سَاَلْتُ یَا رَبِّ، هَلْ لَکَ مَکَانٌ، قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَنَا مُکَوِّنُ الْمَکَانِ وَ لَیْسَ لِیْ مَکَانٌ

ترجمه :- بیا ما پوښتنه وکړه چه ای ربه! ایا تاله مکان (ځای) سته ، ده جل جلاله وفرمایل چه ای غوث الاعظمه زه د ټولو مکانونو (ځایونو) پیدا کونکی یم مګر زما لپاره هیڅ مکان او ځای نسته .

(۵) ثُمَّ سَاَلْتُ یَا رَبِّ هَلْ لَّکَ اَکْلٌ وَّ شُرْبٌ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَکْلُ الْفَقِیْرِ وَ شُرْبُهٗ اَکْلِیْ وَ شُرْبِیْ .

ترجمه :- بیا ما پوښتنه وکړه چه ای ربه! ایا تاله

علاقه کښی واقع وه واورید ل چه که چیری د یو
شیخ د مریدانو څخه یو سړی زما څخه د خرقه (چپنی)
وړاغوستل وغواړی - نو زه وهغه ته چوخه (چپنه)
وړاغوندم - مګر د شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره
العزیز وموریدانو ته زه خرقه اوچوخه نه سم
وړاغوستلای دا ځکه چه دهغوی سر تر پایه پوری
ټوله په رحمت کښی ډوب سوی دی نو دهغوی ولی دریاب
پریږدی او نهر یعنی ولی ته راځی .

(۱۵) حضرت شیخ عمر کیمیا رح بیان کاوه چه یوړا هیب چه
سِنان نومیده او د یمن او سیدونکی وُو و بغداد ته
را غلی او د حضرت غوث پاک قدس سره العزیز پر مبارک
لاس ټوبه وکښل او اسلام ئی قبول کړی - او بیا ودریدی
په یوه لویه ټولنه کښی ئی بیان وکړی - چه زما په زړه
کښی چه د اسلام د قبلولو مینه پیدا سول نو ما ټینګه
اراده وکړه چه کوم سړی چه په یمن کښی تر ټولو
افضل او ښه وُو د هغه پر لاس به اسلام راوړم - زه
په همدغه فکر کښی وم چه بیده سوم او حضرت
عیسیٰ علیه السلام می په خواب کښی ولیدی - هغه راته
وویل چه سِنان ! ته و بغداد ته ولاړ سه - او د

شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز پر لاس باندی اسلام قبول کړه ، څکه چه هغه اوس د محکی پرمخ تر پټولو خلګو ښه او غوره دی.

د طریقه القادریه العالیه تشریح او بیان

د غه لویه اوعظمیٰ طریقه د پټولو د شیخ یعنی د غوث الثقلین سلطان الاولیآء مالک اذمة المتصرفین رئیس المحبوبین الجواهر الفرد سلاب الاحوال قطب الوجود والزمان الدرة البیضآء البان الاشهب محبوب سبحانی غوث صمدانی سید نا ومولانا حضرت ابو محمد محی الدین سید عبد القادر جیلانی الحسنی الحسینی قدس سره العزیز په درانه او قدرمن نامه سره نامداره او مسمیٰ ده - کومه چه د قرآن کریم او د قرآن مجید د عالی احکامو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو د مطابقت او برابری په سبب په ټولو مذکوټو کښی مشهوره او مقبوله ده.

او د آن حضرت صلی الله علیه وسلم پر نقش قدم باندی په ګام اخستلو سره حضرت غوث پاک

داسلام تعلیم په صحیح توګه سره پرځپلو مریدانو
او معتقدینو باندی بلکه پرټولـه عالم اسلام باندی
واضح اوروښانه کړی او پردغه باندی دعمل کولو
درس اوسبق ئې دهجان په رقم وروښودی . او دغه
مبارک حنیف[1] دین چه د پنځه سوه کالـه اوږدی مدی
راهسی د دین د دښمنانو د پیچلو او خپیښو چالبازیو
په خاطر مانته اوشکست خوړلی وُو یعنی مړسوی وو
یوواربیا دهغه ذات حقیقی په حکم چه مړه هډونه
راژوندی کوی ابومحمد محی الـدین عبد القادر جیلانی
قدس سره د دوهمو وار لپاره بیاراژوندی کړ- چه
نتیجه ئې داسوه چه نن ورځ دغه سلسـله مبارکـه
د دنیا په هرګوټ کښی خاص بیا په تیونس الجـزایا
مراکش، نایجریا، ترکیه، ایران، عراق، عرب، مصـر،
افغانستان، پاکستان، بهارت، چینی ترکستان، انډونشیا
اوداسی نورو مملکتو کښی د قبول وړ اورواج د ه.

دخپل ملک اوټول عالم اسلام خلک بلکه د غیراسلامی
طبقی پوهان لاهم د دغې مبارکی سلسلی اودهغې د لـوی
بانی حضرت شیخ قدس سره مداح اوصفت کوونکی دی.

---

[1] حنیف عربی لفظ دی ترجمه ئې ده (مایل د باطل څخه وحق ته) ۱۲

ځکه چه د دغې طریقې ټول اصول او فروع په مکمله توګه
پر کتاب او سنت برابرې او د فسق او فجور، د واعظو او
بدعت څخه پاک او لیرې دی او د اسلام د حق دین صحیح
خلاصه او مغز دی۔

صلاحیت او تقوىٰ، پرهیزګاری او کوشش، شریعت او
طریقت، حقیقت او معرفت او د الٰهی احکامو پابندی، —
رښتینوالی او صفائی مطلب دا چه ټولې بنیګڼې او د خلاصون
او نجات اسباب په دې کښې موجود دی۔

د دغه مدعې وجې د حق طالبانو او د رسول الله صلی الله
علیه وسلم عاشقانو یلکه د عوامو خلګو رغبت او د ټولو
خوښۍ دې وطرف ته ورځ په ورځ زیاتیږي لکه څرنګه
چه شکیب ارسلان په خپل کتاب «موجود عالم اسلامی» -
کښې لیکلی دی چه شیخ عبد القادر جیلانی رو بنابت
زړه یعنی روشن دله او په پیر لوی صوفی او موحد او ذکی
الطبع یعنی طبعی هوښیار وو طریقهٔ قادریه دده څخه وښه
په وخت کښې تر اسپانیه پورې ورسیده له او کله چه عربي
حکومت د غرناطه څخه ایسته سو نو دغې طریقه مرکز
فارس جوړه سو۔ همدغه شان دده انوار و او برکاتو
څخه بدعت ایسته او زائل سو او د اهل سنت و الجماعت عوامو

خلگو د الانمه او ضروری و نیوله او د دغی طریقه په وسیله سره د غربی افریقی خلگو عزت او ابرو پیدا کړه د طریقه قوی او غښتلی تاثیر لری او د اعتماد وړ ده - او د دی نظم برابر او معتدل دی په دی کښی رضا عنوں او فکر سته تر پتولو طریقو بهتره زوداشه «ژر تأثیره» غوره او ممتازه ده غرض دا چه هرچا د خپل فکر سره برابر او مطابق د دی طریقی تعریف کړی دی. لکه چه د قادریه سلسلی د فضیلت په ضمن او ترشخ کښی به نور اقتباسات[1] د فضیلت پاره د دغی پراخی رسالی پر کتو نکو او ناظرینو نورهم روښانه کړه سی.

د دغی عالی طریقی د عقید تمند انو او مریدانو حساب په مجموعی ډول د محکی پر مخ دا وخت کم تر کمه (۴۰) ملیونه یعنی خلور کروړه په شا وخوا کی دی چه ورځ په ورځ نورهم مخ په وړاندی ځی. غالبًا وجه ئ دا معلومیږی چه کوم قوم یا ډله یا جماعت چه نه وی اولښ او کمزوری وی هغه د دی لپاره چه مضبوط او غښتلی شی ډیر کمزوری یا بیخی ورک نه شی په یووالی

[1] د نورو بزرگانو اولیا نو د خبرو څخه را اخیستل شوو ټولټو او جملو ته اقتباسات وایی ۱۲ مترجم عفی عنه

او نظم کښی نسبت و نور و ته په پیر کوښښ کوی چه طاقت
او قوت پیدا کړی او چه د ښمن او بدخواه ئ غلبه او
کامیابی حاصله نه کړی۔ پر عکس د هغی سلسلی یا ډلی
چه په تعداد کښی ډیر والی او په طاقت کښی لوړ والی
ولری هغوی بس په همدغه نازیبی د اتحاد او محنت
کشی څخه خپل بغل خالی کوی سستی او لتهی کوی چه
ددی کار نتیجه د اسلامی تاریخ د مطالعی څخه ښه
لمس کیږی ده۔ په اکبر اقبال رح (مرحوم) فرمائی ؎

آ تجھ کو بتاؤں میں کہ تقدیر امم کیا ہے
شمشیر و سناں اول طاؤس و رباب آخر[1]

نو همدغه شان د دغی عالیه مبارکی سلسله په
په نظم او اتحاد کښی کموالی او نقصان محسوس سو چه
د دغه نقصان د لیری کولو په غرض نمونې مرشد
مولانا شیخ المشائخ حسیب النسیب الشریف سید تا
طاهر علاؤ الدین قادری الگیلانی دام ظله العالی د هدایت
رشد تبلیغ او اشاعت په غرض لکه مخکی چه ئ ذکر
ټیر سو کوښښ شروع کړ چه په دی کښی بیخی کامیابی راغلی او راځی او د دغه د رشد او هدایت سلسله

---

[1] ترجمه یعنی راسه چه زه وتانه د امتونو تقدیر وښیم چی اول کی د توری اونیزو په شان تین او تیږه دی او په آخر کی د طاؤس د رنګه بنایست او رباب

به جاری وی انشآء الله د دی سره آ نحضرت دام ظلّه العالی و مریدانو او عقید تمندانو ته دا هدایت کړی دی چه په هرځای اوکلی یا بنار کښی هرچیری چه د قادریه د خاندان معتقدین او مخلصین موجود وی لږ تر لږه دیرش - د وی باید په اتفاق سره یو معاشره یا مجلس قادریه جوړ او قائم کړی چه په هغه کښی ټول ضروری ذمه داران اوکارکوونکی عملاً مقرر سی مثلاً صدر، نائب صدر، سیکرټر، د نشر او اشاعت سیکرټر، خزانچی او د ضرورت په اندازه د نورو ذمه دارانو او ممبرانو تقرر باید په عملی توګه تر سره شی او په مسجد یا د بار کښی پر محلو موروځو سره ټول د رشد او هدایت څخه عوام خلګ فیض یافته او مستفیض کړی په کوم مرید یا معتقد کښی چه طاقت او توان وی د حضرت غوث پاک قدس سره العزیز پر منور نامه دی هره میاشت یو ولسمه[عه] ورکړی - او د دغه فنډ یا د خیری څخه دی هرچیری چه جائز او روا ضرورت وی او د تبلیغ او اشاعت لپاره دی خرڅ او مصرف وکړی - د دې ممبرانو یعنی ارکانو او مریدانو د جوړولو کوښښ دی وکړی - کوم

عه گیارویں یا یو ولسمه د دربار غونډه د مقرری شکرانی لپاره یو خاصه اصطلاح ده ۱۲ مترجم

تکلیف یا ضرورت چه دغې منظمې معاشرې او ټولنې ته
ورسیږي هغې دې د صدر په واسطه د دغه تکلیف
د لیږې کولو د پاره وحضرت ممدوح دامظله «سید طاهر
علاؤ الدین قادرې گیلانې ته د عریضې په ذریعه اطلاع
ورکړې - حضرت ممدوح سمدستې د دې لپاره یوتجویز
وفرمایي په دعا یا تعویذ سره به کومک وکړې او کچیرې
په یو نژدې ځای کښې د حضرت یو مستند او واقعنې
خلیفه وُ - نو هغه ته دې ولاړشې د مناسبو صلاح او
مشورو د عملې کولو غوښتنه دې حُینې وکړې او تفصیلې
لارښوونې او هدایات دې حُینې حاصل کړې په همدغه
ډول د هغه نقصان او کمې ازاله او لیږې والې کیږي د کوم
چه په تنظیم او اتحاد کښې واقع سویدې -

د غسې انتظامیه که چیرې د یو ضرورت لپاره په
دې شرط چه د تنظیم او اتحاد په باره کښې وې حضور
دام ظله العالی هم د بغداد شریف څخه راوبولې نوانشاء
الله ضرور به همهلته تشریف راوړې او مناسب حکم
به ورته بیان او وبخښې - والسلام علی من اتبع الهدٰی -

د د غې عظمې طریقې قادریه شریفې د بانې او مؤسس
یعنې حضرت غوث الاعظم قدس سره العزیز او لاد او

لمسیان پیړۍ پس پیړۍ د عراق په ملک بغداد کښی د
حضرت غوث مبارک د وخت څخه راهیسی آباد دی چه
د هغو څخه ډیرو صاحبانو وخت په وخت د زمانی ضرورت
په خاطر یاد تبلیغ او اشاعت په سلسله د بغداد استوګنه
پری اینښی او په نورو ملکونو کښی ئې جلا ځان ته مستقل
ځوند پیل کړی دی. خو اوس د لته د ډیرۍ اوښدی مدی
راهسی فقط د حضرت غوث الاعظم قدس سره العزیز د
رشید خلیفه یعنی حضرت سیدنا الحسیب النسیب الشریف
المشائخ عبدالعزیز رضی الله تعالیٰ عنه پاک اولاد آباد
دی او هغوی د دې بار د هری شعبی او او قافو مالکان
او منتظمین دی.

چه د هغو څخه نقیب الاشراف او د او قافو متولیان
هم مقرر او منتخب سویدی او د دغه ګیلانی بغدادی
کورنی بزرګان په ټوله د نیا کښی ټر ټولو ښه او ممتاز
وجود و نه او با اثره هستیانی دی عام خلګ خولا یوی
خواته بلکه د اسلام پاچهانو او غیر اسلامی پاچهانو
د غه خبره منلی ده او په ښه اخلاص او عقیده ئې د
دغې خبری شاهی حکمونه جاری کړی دی او د دی
بزرګانو د فضیلت او طاقت د بدبی او شوکت رعب او

بزرگی ذکر په معتبر و کتابو کښی هم موجود دی او د
عامو خلکو پرژه یه هم روان اوجاری دی لکه چه په خامر
پ ول د د ر باړ عوشیه د نقیب الاشراق اود او قافلې د
متولیانو رتبه په هیڅ حالت کښی هم د وخت د پاچهانو
تر رتبې کمه او کښته نه ده بلل سوی او د هغو عزت
او عظمت ادب او هیبت شان او شوکت جاه او جلال او
نور و داسی د بادشاهانو او نوابانو تر عظمت کم نه
ګڼل کیږی لکه چه لوی پاچهان او نوابان د خپلو
خپلو لوڼو د نکاح را بطه د د عې کورنۍ د سړو سره
مو بلکه د فخر او سر لوړی سبب بولی

که چیرې د پاچا تر نامه د مخه د اعلیحضرت لفظ
استعمالیږی خو د د وی تر مبارکو نومونو د مخه د پارسۍ[1]
د لفظ استعمال د د واړو جهانو نیک بختی ګڼی حکه چه
پوله ګیلانی بغدادی کورنۍ د د ینی او د نیوی او باطنی
مرتبو او درجوده د د عې نظریه او عقیدې په لحاظ
د د ی کورنۍ موږ بیدان او عقید تمندان د د عو حضراتو
د چوټې او خپلې خاورې مچول او د جرا هرو د ر نجو
په شان نې پخپلو ستر ګو کښی اچول او د د وی د مبارکو
لاسو د مستعمل صابون او صابون آلوده او بوچینبل د د وا

[1] یعنی متقی او پرهیزګار ۱۲

جهانو نیکبختی او کامیابي یولی۔

ومریدتهٔ د خاندانی او پیشوائی شجرو د ورکولو وجه او سبب

د قادریه شریفی پر مسئله ناست بزرگان و خپل هرمریدته نه لاس نیوی او بیعت ورو سته یوه نسبی او پیشوائی شجره ورکوی چه په هغی کښی د قادریه طریقی نسبت او سلسله درج او لیکلی وی۔ د دغه شجرة النسب د ورکولو څخه په ذاب او نسب سره فخر کول مقصود نه دی حکه چه د حضرت محبوب سبحانی قطب ربانی المزد الجامع الصمدانی شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز بابرکته ذات د دغسی قسم غوښتنو او خواهشاتو څخه بیخی پاک وو۔

د شجری د ورکولو مقصد فقط داوُ چه د دغه طریقی د شیوخو سلسله وار او پرله پسی علم حاصل سی او مریدان هره ورځ د دی د مبارکو روحانو لپاره ایصال ثواب وکړی اوس هم دغه سلسله او کار باقاعده جاری دی۔ کله چه یو سجاده نشین یعنی پر مسئله ناست پیر او مرشد ته دیو مرید په باره

کښی د خپل روحانی طاقت په سبب یا باطنی امر او ارشاد په خاطر علم او یقین حاصل سی چه فلانی مرید پر مستقیمه او برابره لاره په صحیح توګه روان دی نو هغه مرشد و دغه مرید ته هم خلافت ور کوی او خلافت نامه ورته لیکی. چه د مرشد او خلیفه په امر او ارشاد خلیفه سویدی چه دغه خلافت نامه د یو سند په ډول د خلیفه سره موجوده پر ته ده.

د خلافت نامی د مضمون ترجمه اوژباړه دا ردو[1] څخه و پښتو په لاندی ډول ده

د خلافت نامی مضمون

ټوله ستاینی او تعریفونه خاص د هغه ذات دپاره دی چا چی د محبت والا وګ د ستر گو څخه د تار یکی پر دی پورته کړ یدی او د خپل پاک او ستره نور څخه ئ د معرفت محکمه او کلکه لاره ور ښکاره کړی ده او د هغو نفسونه ئ د دنیا و خواته د میلان او کښ یدو

---

[1] دلته په اردو کتاب کښی د عربی توری لیکل سویدی یعنی (د عربی ژبی څخه وار دو ته) لیکن څرنګه چه دا کتاب موږ د اردو څخه ژباړلی دی نو موږ (د اردو څخه و پښتو ته) و لیکل ۱۲ مترجم عفی عنه

څخه پاک کړ یدی.

تن داسی اندازی چه د غه خلگ د پر هیڅ گاری پر لاره تللی دی او هغه چا چه د وی د یقین کامل وگوډ ن ته رسولی دی چه د هغود نړ ونو څخه د شک او عناد ماده او ریښه ختمه سوه. او د هغود پوهی پیاله ئ د هغه امداد او فیض څخه چه همیشه پر د وی اوری، د علمی بار یکیو څخه ور ډکه کړ یده د هغو پر مخانو دا الله د معرفت تړی او تازه گی معلومیږی. او د ډیری لوی کامیابۍ زیږی او خوشخبری ئ ور کړی ده او نعره او خبر ئ ور کړی دی چه د هغو په نړ ونو کښی بی شکه ن ما شوق دی په کوم کښی چه کمی نسته.

او همد غه الله جل جلاله د همیشه غلبی او اصلی غلبی خاوند دی. د هغه بزرگ نوم به همیشه او د تل لپاره وی. یوازی همده لره بقاء او دوام دی. په اسمان او ځمکه کښی یکتا او تنها دی. په خپل علم او لوئ کښی خپل خاص بندگان یادوی.

او کوم څوک چه د ی (ج) یادوی د هغه د امید څخه ډکی د عاگانی قبلوی او په ډیرن یات نعمتونه ور کوی او احسان ور سره کوی پر خپل مخلوق باندی د قیامت

په ورځ او په هغه ورځ په کومه کښې چه د حساب او کتاب پیښې کول کیږي ی.

نه د هغه تعریف کوم پس دی خبره چه هغه وها ته حوړ والی او سلامتی راکړ یده او پر دی خبره چه هغه نه د خپل لیږوالی څخه وسا تلم.

نه شاهدی او گواهی ورکوم چه د الله تعالی څخه ماسیوی هیڅ بل څوک د عبادت وړ او لایق نه دی. او هیڅوک د هغه شریک نه دی او د غه شاهدی د تل لپاره ده او نه د دی خبری هم شاهدی ورکوم چه زموږ سردار او زموږ پیشوا حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه والـه وسلم د الله تعالیٰ بنده او رسول دی - او د ټولو خلگو و طرف ته را لیږ ل سوی دی.

اَمَّا بَعْدُ :- نو ما اجازه ورکړ یده خپل ولی زوی ته او خلیفه او جانشین می گرځولی دی. د دی امر او ارشاد سره چه د قادریه طریقی پر طرز او رقم به کتاب او سنت پر خپل ځان لازم گڼی.

څرنگه چه ز ما پر ده اعتماد او باور دی - نو نه وده ته د ټولو هغو شیانو اجازه ورکوم د کومو اجازت چه ما ته خپل پلار او مشائخو کرام رضوان

الله علیهم اجمعین راکړی دی. او بل دا چه ما او زمونږ مشائخ کرام، او اصول او فروع، او عام مسلمانان به په خپلو دعا گانو کښی نه هیره وی.

دستخط	مهر	تاریخ

دخلافت ورکونکی نوم

دَرَیمْ بَابْ

گیلَانِیەی بَغْدَادِیەی

کُورْدِی

د گیلانیه بغداد یه کورنۍ
ابتدائی حال

د عثمانی تر اشرافو مشرفه گیلانیه کورنۍ د خلانده لمر په شان د بغداد پر لوړ افق وځلیده او په ټولو بنارو کښی د خپل فضیلت او خپلی بزرگۍ او خپلی غلبی او سلطی او سرداری په وجهه پیژند مشهوره سوه.

د عراق په ملک کښی د هلاکو خان تخریب کاریو ـ او د ایرانیانو حملو او داخلی فتنو د بغداد شرافت تباه او برباد کړ، او د هغه ځای بزرگی ئ ضائع او برهم کړه. او د هغه ځای او سیدونکی ئ پاشلی او پراگنده کړه او د هغه ځای د کار خلگ ئ سره تیت او جلا کړه.

خو د بغداد حالت نا ویلی بنه[1] سو. کوم چه سلطان مراد خان مرحوم بغداد د دوهم ځل لپاره فتح او وینیوئ او د متفرقو بنارو و څخه خلگ بیرته راوگرځیده راغله.

د غه رنگه د د غه کورنۍ پاشلی وگړی بیارا وگرځیدهٔ او هلته د پخوا په شان سره یو ځای سول ـ او د خپل لور نیکه حضرت سید نا شیخ المشائخ محبوب سبحانی

---

[1] یعنی د بغداد حالت دا سی خراب سو چه تر ویلو ئ نه ویل غوره سوه ۱۲ مترجم

عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز پر مسلک پابندی
روان سو۔ او بیا هغوی خپل همتونه داد بونډ دراتولولو
او فضائلو د حاصلولو او خپل عقلونه ئې د دین په جهت
او علمی حیثیت سره برابرولو او کمالداره کولو وخوا
ته ولګول او د عمل په لاره کښې د خپل لوړ نیکه د
طریقې مطابق په اصلاح کولو کښې متوجه سول، تر
داسې حده او اندازې چه هغوی د حضرت علی د
اولاد، بزرګی او شرافت ورلوړ کړ او خاندانی عزت
او بزرګی ئې بیرته پر ځای کړه.

د غه وخت د دوی پر شاوخوا د نورو ملکی —
او سیدونکی راټول سول او د دوی د فضل او کمال
د علم او فضیلت او سرداری ټولو اقرار وکړ.

په عراق کښې چې ری لوی لوی او مشرفه کورنۍ
څرګندې او ښکاره سویدې د دوی څخه حسینی حق
هغه دی دکومو ښکاره والی چه د کورنۍ افراد د علم
په خاطر سویدی. یا د دی کورنۍ دکارنده خلګو دیوکار
ګذاری په وجهه سویدی یادکورنۍ په وګړو کښې
دیو چا د مال او زر و په وجهه سویدی، یادیوسړی
د پر سر قدرت کید ولو وجهې څخه سویدی - د غه رنګه

یو څه نور هم داسی اسباب کیږی چه د هغوله وجهی څخه وکورنۍ ته معلومداره مقام او مرتبه حاصلیږی لیکن په دغو ټولو کورنیو کښی به یوه کورنۍ داسی وی چه په هغی کښی دی د ظهور او پرمخ تګ اسباب گرځه او ټوله یو ځای جمعه سوی وی۔ ماسوا د دغه قدیمی او پخوانی کورنۍ څخه کومه چه په ټولو ملکونو کښی د هاشمیه گیلانیه خاندان په نامه او نقابت قادریه په لقب سره مشهوره ده۔

کله چه سلطان مراد خان مرحوم پر ایرانیانو باندی حمله وکړه او ماته ئې ورکړه او بغداد ئې فتح کړ۔ نوده د خاندان قادریه د احسانانو او کمالاتو د ښادخپیدو لاری د نوی سره ښیرته اوارولو او سمولو موقع سرته ورسول د هغو پر نامه ئې جایداد ونه وقف کړه او د هغو پر نامه ئې تنخواه گانی مقرری کړی او د حضور غوث پاک قدس سره العزیز اولاد ئې پرمخ بوتی، په داډول چه د هغو څخه ئې یو څه خلگ د اوقافو نگرانی کونکی او یو څه ئې پالونکی مقرر کړه۔

د نقیب الاشراف عهده

د دوی څخه چه کوم یو په ټول عمر لوی اود شان

په لحاظ غټ او په صلاح او تقوٰی سره مشهور ه اومعروف
او په خیر او فلاح کښی د امتیاز خاوند وی هغه نقیب
مقرر کیږی، د دی د پاره چه هغه د دربار حالات
او وختونه و څاری او د وظیفو سره د هغه د بی وزلانو
او فقیرانو خبر ونیول وکړی ..... ورو سته بیا د هغه دایره
پر پراخید و سوه او د بغداد د او سیدونکی په زړه ونو کښی
د هغه عزت ډیر سو - د عراق خلګ د هیڅ پاچا په وړاندی
خپلی غاړی نه کږ وی او نه دیوامیین او نه دیولوی او
کوچنی په مخ کښی د غه قدر کښته کیږی څومره چه
دوی د هغو څخه یو معلوم سید او مشهور ه عالم
په مخ کښی - د ا ځکه چه د دین د معلومدار ه خلګو احترام
د د وی په وړاندی د وخت د با چا تر تابعداری لوی ګنل
کیږی. لکه څرنګه چه د هغو ملکونو د پاچهانو د حال
څخه معلومه ده - څرنګه چه د بنارو عالمانو او د قومو
سردارانو د هغه تعظیم او عزت کاوه نو حکومت د اکار
بنیګڼه او مصلحت و باله چه نقابت یوه شریفه عهده
او ذمه واری جوړه کړی - او پر هغه د حکومت تاثیر وی
او د حکومت په وړاندی د هغه لوی د ر ناوی او قدر
وی ، د دی لپاره چه حکومت ټول له قوم د هم د غه نقیب

د ژبې او سیدو والی په واسطه د خپلې ارادې تابعداره جوړ کړی او خپل طرف ته ئې فهم را واړی.

په همدغه ډول د سیدنا حضرت شیخ المشائخ عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز اولاد ونه سرداران جوړ سوه او په امت کښې دوی ته ډلوی شرافت لوړ مقام حاصل سو چه په دی ډول د وی په ځانونو او مالونو سره د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د امت خدمت وکړ.

په دی سلسله کښې د هغوی کارونه مشهوره او معلومداره دی

د نقابت (نقیب کیدلو) معنیٰ

د لغت په اعتبار د دی د تحقیق اوځیږی

څخه معلومیږی، چه نقیب هغه سړی کیږی کوم چه د یو قوم د حالاتو کتونکی او ساتنه کونکی او بنه طرح پوهه وی، او د قوم سردار او د هغه د بنو او بدو ذمه دار وی.

نو نقیب هغه څوک کیږی کوم چه تر سختو لاپه سختو حالاتو کښې هم د قوم پالنه په ذمه واری کوی او هغوته د سختی او نرمۍ وختونه ورښیئ، دا ځکه چه هغه د د وی سردار دی او د سردار څخه د خپل قوم په باره کښې پوښتنه کیږی ـ او څرنګه چه نقیب د حکومت او قوم

په مابین کښی د تعلقاتو د ټینګ ساتلو په ذریعه وی نو
له همدی سببه د پښتون مانی څخه حکومتونو د قوم د ساتنی
او دکار ه ځای د سیده کولو ذمه واری وده نه حواله کوی
د اجماع او شریعت له رو یه هم دده لپاره لږ لوی مقام
دی نو په دی وجه د اسلام باچهانو او د وخت خلیفه گانو
د ده لپاره لوړ مقام تا کلی دی، لکه چه د دولت بنی امیه
او دولت عباسیه او دولت عثمانیه د تاریخ دکتلو څخه
را سنکاره ده - نقیب د حکومت چلونکی د قوم د پر مختگ
او کښته کیدو د حالاتو څخه اگاه او خبروی چه حکومت د
هغه په سببونو او علاج کښی فهم لرونکی وی - د نقابت
د غه رتبه همد غه رنگه جاری وه او دی شرافت لوړ
مقام ورته حاصل وو.

د نقیب الاشراف ښایسته اولاد یعنی ذامن ئی د نومونو
سره (و پلار ته د نسبت په خاطر) د نقیب زاده د لفظ
زیاتوب کوی - مگر کوم حضرات چه د نقیب الاشراف د
اولاد څخه نه دی هغه د خپل نامه سره فقط د الگیلانی
لفظ یوځای اوگډوی.

حقه خبره داده چه د دی کورنی تیرو بزرگانو په
ځان کښی ټوله ښه اخلاق جمع کړی وه - په دوی کی

تجربه کاره سیاست پوهان، عالمان، ادیبان، دلاوران او
بهادران، اولوی سختیان، غیرتمند، وطنپال، پرهیزگاره
پارسا، تقواداره او صالح خلگ بشکاره سوی وه۔ داول
څخه تر آخره په دی خاندان کښی داسی داسی خلگ پیدا
کیږی۔ کوم چه په ترقی او پر مختگ کښی معلومداره او د
کار نامو په اعتبار سره مشهوره دی په دی خاندان
کښی د علم او ادب په میدانو کښی لوی لوی کارگر میدانیان
بشکاره سویدی او هغو په هر فن کښی څپل کامیابه تیں
(غشی) چلولی دی او د دوی داسی داسی څپل خدمتونه
دی د کوم څخه چه د دوی شهرت په ټوله عالم کښی خپور
سویدی۔ او د کوم خوشبوئي چه د دنیا په هر گوټ کښی
ولاړ پیږی او د کوم چه ذکر خیر (بنه یاد) په صحرا وکښی
هم دی او اباد یو کښی هم دی، د دی کورنۍ د تیرو بزرگانو
هم عصره او همزولو علماؤ د دوی د خدمتونو په باره
کښی په پوره وضاحت سره تذکری او یاد داشتونه لیکلی
دی او شاعرانو د دوی ذکر خیر (بنه یاد) په اشعارو کښی
بیان کړی دی او د دوی د نیکیو او کمالاتو په اړه ئې ډیر
څه لیکلی دی۔ غرض دا چه د عیٰ گیلانی کورنۍ ته یو عام
ډیر لوړ او عظیم الشانه شهرت حاصل دی چه د نورو خلگو

شهرت ودی ته نشدی هم نه سی رسیدلای، حقیقت دا
دی چه دوی هغه حضرات دی چه کله په میدان کښی
ودریږی نو دوی پاچهان دی چه کله نیول او گرفت و
غواړی نو دوی غښتلی اونبردست دی، چه کله خبری
کوی دوی علماء دی او کله چه پریږی مسئله دلیل وړاندی
کوی نو دوی ادیبان دی او کله چه په ذکر او فکر کښی
مشغول وی نو دوی عبادت کونکی دی.

دغه شی یعنی گیلانی طاقت چه پرځله باچهان هم
پریشانه کړی دی او امیران ئې په غیرت او قابت مبتلا
کړی دی - نکه د سید محمود آفندی ابن سید رجب آفندی
دریځ چه دعلی باچا په وړاندی وُو او د مرحوم سید
علی آفندی بن سید سلیمان آفندی دریځ چه د سلطان
عبدالحمید په وړاندی وُو. او د سید سلمان نقیب الاشراف
ابن سید علی نقیب الاشراف موقف او دریځ چه د سلطان
ناصرالدین ایرانی باچا وُو. نکه یاد سوی سید سلمان چه
پوره کردستان ترکرنت پوری فتح کړ او د ترکیه په پاچهی
کښی ئې ورگډ کړ - د ترکیه باچا عبدالحمید د ده مرید
وو او هغه د ده لپاره چه او قاف او خطابونه جاری
کړی وه. د غه رنگه سید عبدالرحمن نقیب الاشراف دکو

چاذکرخیر (نیک یاد) چه په مخکښی راځی ، د دې موقف او
دریځ چه د جنرل مونټ (Mount) سره وُو ، د غه جنرل
د دې سخت مخالف مقابل او دښمن وُو. د غه رنگه سید
محمود حسام الدین رضی اللّٰه عنه د (کرنل وائس) او
(پریسی کاکس) قافیه ور تنگه یعنی عاجزه ئ کړ۔ السید
رشید عالی ابن سید عبدالوهاب الگیلانی د انگریزی
واکمنۍ او انگریز پرستی ، په پرسخت مخالف او سیدلی
دی ۔ د غه رنگه پیر سید هاشم مسعود ابن السید شیخ
المشائخ حضرت عبدالرحمٰن النقیب ۔ او د غه رنگه پیر
سید احمد عاصم النقیب ابن السید حضرت عبدالرحمٰن
چه د مخه یاد سو او شیخ پیر السید ابراهیم سیف الدین
ابن السید مصطفیٰ ابن السیّد سلمان ابن السید شیخ علی
النقیب چه د مخه یاد سو، او سید پیر عبد السلام ابن
السید علی ، او پیر سید محمد جمال الدین الگیلانی
نقیب الاشراف او نقیب زاده حضرت طاهر علاؤالدین
مد ظله العالی ، کوم چه د اسلام په پیر ښه خدمت کوی .
ابن المرحوم السید الشیخ پیر محمود حسام الدین آفندی
القادری الگیلانی ۔ او داسی نور دکومو ذکرخیر (ښه
یاد ونه) چه پرمخ د السید شیخ المشائخ حضرت عبدالعزیز

صاحب رضی اللہ تعالیٰ عنہ د اولاد تر نقیبانو او سجادہ نشینانو (پرمسئلہ ناستو) تر بیان لاندی راځی .

پتولہ او پتولہ لوړ رتبہ بزرگان ، خدای پاری ، ن پہ سواندی ، سخی ، بردبارہ ، عالمان ، عابدان ، پرهیزگارہ پورہ واکمل ، سربیرہ پردی غیرتمند ، او دغیراسلامی باچهانو د واکمنی ډیر سخت دښمنان وہ اودی .

او د اسلام د آزادی ساتونکی او کومک کونکی دی . او د ملت د بدعنوښتونکو ډیر سخت دښمنان دی ، او د اسلام د باچهانو خصوصًا بیا د سپیڅلی دین د ساتونکو ښیګڼه غوښتونکی ، تائید کونکی ، کومک کونکی دی . او د ملک د پر مختګونو په لاره کښی د خنډ ډیر سخت مخالف بلکہ د دښمنان ئ دی .

د نقیب الاشراف همدغه معنی او مطلب وُو کوم چه ذکر او بیان سو .

د موجوده ګیلانی بغدادی خاندان وضاحت

د عراق په ملک بغداد کښی موجود ګیلانی خاندان (سیدنا شیخ المشائخ حضرت عبدالعزیز رضی اللہ تعالیٰ

عنه خلف الرشید) د محبوب سبحانی قطب ربانی هیکل صمدانی پیر دستگیر سیدنا عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز پاک اولاد، آباد دی دکوم چه څلور شاخه دی (۱) اولاد د حضرت سید علی القادری الگیلانی ابن سید سلمان رضی الله تعالیٰ عنهما - دوی په لقب د (بیت سید علی) سره مشهوره دی. (۲) اولاد د سید ذکریا القادری الگیلانی رضی الله تعالی عنه، دوی په لقب د (بیت سید زکریا) مشهوره دی (۳) اولاد، د سید مراد القادری - الگیلانی رضی الله تعالیٰ عنه دی، دوی په لقب د (بیت سید مراد) مشهوره دی، (۴) اولاد، د سید خمیس القادری الگیلانی رضی الله تعالیٰ عنه، دوی په لقب د (بیت سید خمیس) مشهوره دی.

د دغو څلورو کونیو دوکړو نارینه اوښځو لویانو او کوچنیانو) مجموعی حساب یو سل اتیا ته نژدی دی او همدغه اصلی گیلانی خاندان او د پورته ستایل سوی سیدنا حضرت عبد العزیز اولاد دی.

د دې وخت خبره ده چه د ترکی قوم یوځل نفره د تجارت دکار بار په سلسله وه بغداد شریف ته راغله او د وخت په تیریدو قرار قرار همدلته مشته (باشنده)

اوجایان سوه ، چه په دغه ډول د دوی اولاد ونه هم
تر نن پورې همدلته په مستقله توګه اوسیدونکی دی
اوددی خاندان (کورنۍ) نوم بیت التکرلي دی۔

د شیخ المشائخ سیدنا حضرت علی النقیب رضی
الله تعالیٰ عنه د نقابت (نقیب کیدو) په زمانه کښی
دغه خاندان د بیت التکرلی په نامه سره مشهور سو
وروسته تردی د شیخ المشائخ حضرت سید عاصم
رضی الله تعالیٰ نقیب الاشراف د نقابت (د نقیب کیدو) په
دوره کښی د دغه خاندان افراد و په خپله باره کښی
داعلی حضرت شیخ المشائخ سید عبدالرزاق رضی
الله تعالی عنه د اولاد والی ډنډوره شروع کړه اوبیا
دوی د ابراهیم سیف الدین صاحب (اوسنی نقیب) ـ د
نقابت (نقیب کیدو) په زمانه کښی خپل ځانونه د شیخ
المشائخ سیدنا حضرت عبدالعزیز رضی الله تعالی عنه
و اولاد ته منسوب بول (ځان پسی ترلل) شروع کړه ـ ددی
کورنۍ یو څو نفره په قراره قراره د عراق ترسایه
لاندی پیوظیفو اورتبو باندی کامیابه سوه چه په دی
ډول د دوی یو نفر و نږدې عدلیه و تر کل سو ـ اوس
د موقع څخه په ګټه اخیستلو هغه دیو حاکم مجان په

عدالت کښی خپل ځان په خاندان گیلانیه کښی د حضرت
شیخ المشائخ سیدنا عبدالعزیز رضی الله تعالی عنه داولاد
څخه کیدو لپاره دعوه دائره کړه ددی لپاره چه دده د
قومیت تصدیق وکړه سی. او په او قاف قادریه کښی د
برخه لرونکی خیال پیدا وکړه سی او دبرخی اخیستلو حقداره
سی نو د عشی دوی د دی مقدمی (دوسیسی) د کامیابی
لپاره ټول اندازه نړیات کوشش (هلی ځلی) وکړی او
فرضی بی اعتباره ثبوت اوستدلی پیدا کړ - او افسر
مجاز پیری نقدی ئی د رشوت په ټوکه ورکړی او د
ونږیں عدلیه دنوړو اوجیر او سپارش څخه ئی کار واخیستی
او آفسر مجاز ئی خپل هم خیاله جوړ کړی. د دروا غو
شاهدان او شهادتونه ئی وړاندی کړه او ټوله شاهدان ئی د
شیعه مذهب څخه د شاهدی لپاره پیش کړه او دده دعوه
بی اعتباره او بی معنی او پر کذب او دروا غو باندی ولاړه وه.
چه په دی ډول افسر مجاز د رشوت اخیستو نکی دده په
حق کښی د حضرت شیخ المشائخ سیدنا عبدالعزیز صاحب
رضی الله تعالی عنه د گیلانی نی د اولاد و څخه د فرد والی فیصله
و لیکل او د عدالت لیونی د قومیت د دغه تصدیق پر بنا
خاندان گیلانی (گیلانیه کوونکی) دده په حواله کړه.

حال د اچه په یقینی توګه نه د غه نومورې سړې
د ګیلانی خاندان د افراد و څخه دی او نه د مخکښې ذکر
سوی حضرت سیدنا شیخ المشائخ د اولاد سره اړه او
پیوندلری ، پس د غه کاذب او د رواغجن خاندان (بیت
التکرلی) باندی الله تبارک و تعالیٰ ، او آنحضور صلی الله
علیه وسلم ، او حضرت غوث الاعظم محبوب سبحانی قطب
ربانی الشیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز
او ټوله خلفاء راشدین ، او کامل اولیآء ، بلکه ټوله مریدان
امعتقدان لعنت لیږی (وایئ) او هر مرید او عقید تمند
ته د حضور غوث پاک قدس سره العزیز ښایي چه تر
قیامته پورې د غه کار وکړې څکه چه د الله تعالیٰ (ج)
فرمان دی ـ فلعنة الله علی الکاذبین .

د غه رنګه دی پس هغه خلګ باندی هم (کوم چه
د ګیلانی خاندان څخه نه وی او خپل ځان د د غه لوړ
عالی خاندان څخه بشکاره کوی او د مریدی پیرۍ کار کوی)
لعنت وی ـ لکه خاندان د بیت التکرلی ، او پر هغه خلګ
باندی هم کوی چه جعل ساز ه خطا یستونکی د رواغجن
او د (شکل د مومن او کار و نه د کافر) مصداق او نمونه
وی ـ په جاری توګه لعنت وی آمین .

د نقابت او تولیت (نقیب کیدلو او سرپرستۍ) درتبې لایق!

د محبوب سبحانی غوث صمدانی قطب ربانی الهیکل یزدانی شیخ الکل سیدنا حضرت عبد القادر جیلانی قدس سره العزیز تر وصال (وفات ورو سته د تبلیغ او اشاعت رشد او هدایت، د مدرسی او خانقاه قادریه او مسجد د ساتنی بلکه د نورو تولو شعبو او خانګو وخوا ته د آنحضور زامنو (سیدنا عبد الرزاق او سیدنا عبد العزیز) صاحبانو رضی الله تعالیٰ عنهما فهم او توجه ونه شندله، چه په دی هر ول د عنه سل پر سل (پیړۍ پر پیړۍ) موجوده وه، تر څو چه سیدنا حضرت ابو نصر رضی الله تعالیٰ عنه د عباسیه خلافت په دوره کښی قاضی القضات او د خلافت عباسیه ولی عهد (د خلیفه جانشین) و تاکل سو، د ده تر وصال ورو سته د دواړو وروڼو اولادو د خپل منځی خپلویو او قرابتونو په واسطه یو ځای واو سیدل - او د هر وړی اړیکی ئی سره تینګی کړی - چه د عنه شان عباسی او عثمانی خلفاء د عنه د وړو ړی اړیکی په خیال

کښی ساتلی ، گاهی به ئی د سید نا عبدالرزاق د اولاد څخه او
گاهی به ئی د سیّد نا عبد العزیز د اولاد څخه (رضی الله تعالیٰ
عنهما) حُینه پرحُینه هدایت یافته ، بالغ ، هوښیار، عقلمند
سړی ، ښاکه ، او د عهدهٔ نقابت او تولیت یعنی (نقیب،
کیدو او سر پرستۍ د تبي) د ورکولو بی پایانه سلسله
ئی جاری وساتله - کله چه د هلاکوخان او فارس حملو
د بغداد د بنرګی اولوبیه پورته او کښته کړه - او د
بغداد پتلوکورنیو تر خاندان ګیلانیه پورې د حملو
کونکو د ظلمونو تاب را نه وړې هجرت ئی وکړ ولاړه
نو تر یو وخته پورې د بغداد حالت ناویلی ښه وُ
تر څو ارواح بناد سلطان مراد خان بغداد د وهم حُل
فتح کړ ، او پتوله کورنیا نی ئی کومی چه هجرت ئی کړی
او بغداد ئی پرې ایښی وو بیرته راوبللی او د سرد
پاره ئی بنار آباد کړی او د پخوا په شان ئی پرخپلو خپلو
حُایو کښینول او پر کار و باندی ئی وروول . چه د عسی
ئی وخاندان ګیلانیه نه هم د پخوا په شان د نقابت
او تولیت وظیفه وسپارل ، او د پخوا په ډول ئی د حضرت
سید نا عبد الرزاق او سید عبد العزیز صاحبانو رضی
الله تعالیٰ عنهما اولاد و نه بیله کو مه تخصیصه وتاکل

لنډه دا چه د سید نا عبد الرزاق صاحب د اولاد څخه سید محمود د نقابت پر رتبه باندی برقراره وُو چه نا ببره د بغداد په بنار کښی د وبا ناجوړی بشکاره سوه او پټوله بنار ئ کښی ایستی چه په دی ډول سره د سید نا عبد الرزاق پټوله کورنۍ نر سید محمود نقیب الاشراف پوری ما سبوٰی دیو نیکبختی انجیلی څخه د مرګ د لاسو څخه یو هم پاته نه سو ۰ او د حضرت سید نا عبد العزیز رضی الله تعالیٰ عنه د پاک اولاد څخه صرف پنځه نفره نارینه او د وی بشځی ژوندی پاته سوله.

کله چه وبا ختمه سوه او حالات سم سوله نو د غه ورو سته پاته پنځو نفرو جلا جلا د نقابت او تولیت د بزرګۍ مرتبی د ګټلو د پاره هلی ځلی پیل کړی او جلا جلا هر یوه غوښتنۍ لیکو نه وړاندی کړه - مګر د ټولو غوښتنۍ لیکو نه بی ځایه او نامنظوره سول ، او شاهی فرمان جاری سو چه د خدای بخښلی ارواح بناد سید محمود نقیب د ورو سته پاته بختورۍ انجلی نکاح چه د خاندان ګیلانیه د کوم سړی سره وسوه هغه د دی مرتبی حقدار ه دی چه په دی ډول پوره شپږ کاله د غه ورو سته پاتې انجیلی په خپله د نقابت او تولیت

په و ظیفه باندی سرلوړی وه او د دی ناظم د بغداد والی یعنی د ترکی حکومت گورنر مقرر وُو.

تر دی وروسته دغې بختورې انجیلې نکاح د سیدنا علی رضی الله تعالیٰ عنه سره وکړه - د سیدنا علی (رض) سره تر څنګه هم یوه بنځه وه کومه چې مشهوره کورنۍ (بیت الرومی) ته منسوبه وه - مګر سیده نه وه خو د جائیداد او مال او عزت خاونده وه - د دی د نس څخه دوه هلکان سید سلمان او سید زین الدین پیدا سوی وه - او د دغې بختورې انجیلې د نس څخه پوره څلور کاله وروسته سید عبدالرحمٰن صاحب د وجود میدان ته تشریف راوړی. د شاهی فرمان سره سم سیدنا علی (رض) تر دوهمې نکاح وروسته دیرش[۳۰] کاله نقیب الاشراف او د اوقافو سرپرست وو، چې د دی قصې په اړه د حضرت غوث علی شاه قلندر پانی پتی رضی الله تعالیٰ عنه د تصنیف سوی کتاب (تذکره غوثیه) په ص۹۵ مخ کښې د سفر حج بیت الله او زیارت بغداد الحمیّة تر عنوان لاندې داسې بیان کړی دی. چې د سیدنا علی سجاده نشین څخه تر څنګه سید محمود رزاقی (یعنی د شاه عبدالرزاق صاحب د

اولاد څخه) د سجادی (مسئلی) خاوند وو او د پخوا څخه په دی خاندان کښی سجادگی رارواته وه ، کله چه په وباکښی د سید محمود صاحب رضی الله تعالیٰ عنه اولادو او پخپله ئی هم د دنیا څخه کوچ وکړی نو یوه نیکبخته انجیلی ئی ترشا پریښوله د دی خبری معلومات چه د روم باچاته وسو نو امر ئی وکړ چه د خاندان گیلانیه څخه چه د کوم چا واده د دغی انجیلی سره وسی بس هغه د سجادی یعنی مسئله نشینی لایق او حقدار ه دی .

سید علی صاحب (کوم چه د شاه عبدالعزیز صاحب د اولاد څخه وو که څه هم دده اوله بسځه هم د اولاد خاوند ه وه او د دغه رنگه د رزاقیانو څخه په بغداد کښی څوک پاته نه وُو) د دغی نیکبختی انجیلی سره واده وکړی او د سجادی خاوند سواد که داسی نه وای کړی نو گرانه وه - سید محمود صاحب کامل فقیر وو ، نکه څرنگه چه دده حالات په بغداد کښی تر لمر بنکاره دی .

د دغی انجیلی څخه یو هلک یعنی عبدالرحمن پیدا سو ، سید علی صاحب د اولی بسځی څخه وو او د عمر په لحاظ د سید عبدالرحمن څخه مخ لوی وو . له

دی جهته سید سلمان صاحب د سجادگی لایق وګنل سو۔ تر
ده وروسته سید عبد الرحمٰن حقدار ده دی۔ سید سلمان
رضی الله تعالیٰ عنه تجارت کاوه دده مور په یره مالداره
او د جایداد خاونده وه۔

مګر سید عبد الرحمٰن رضی الله تعالیٰ عنه د دینی علومو
طلبګار ه او مانص وُو۔ د غه رنګه عبادت کونکی او شپه
رو نه ونکی وو۔ د ده اود سید سلمان رضی الله عنهما
په مابین کښی د ین نړیات محبت او مینه وه۔ دیو وخت
خبره ده چه د سیدنا سلمان رضی الله عنه کوچنی وروړ
سید زین الدین صاحب د وړو کتوب په زمانه کښی
د بان یوا و ساتیری په حالت کښی سیدنا عبد الرحمٰن
صاحب یوه چکه (چپلاخه) وواهه۔ کله چه سید نا
سلمان رضی الله تعالیٰ عنه ته د دی خبری حال ورسیدی
نو سید زین الدین صاحب ئُ راوغوښتی، پوښتنه ئُ وکړه
چه دا ولی؟

کله چه هغه یو معقول جواب ورنه کړ۔ نو ده د
سیدنا عبد الرحمٰن صاحب محبت پر د مخه کړی او
په جوش کښی راغی سید زین الدین ئُ سخت وواهه
او پورته ئُ کړی د بام څخه ئُ لاندی راوغورځوی چه

د همدی و جهلی څخه هغه سخت زخمی سو چه څو ورځی
تر علاج لاندی وو جوړ سو ، د دی محبت پر بنا سید
سلمان رضی الله تعالیٰ عنه او سیدنا او عبد الرحمٰن
صاحب یو تر بله د خپلوی پیوند تینګ کړی وُو. یعنی
هر یوه د خپلو خپلوانو او لوړپو نکاه ګانی یو د بل
سره کړی وی او د محکو کښتو نه او حاصل ئ سره شریک
کړی وه - سر بیره پر دی څومره خطونه یا احکامات
چه په نظر راځی پر هغو باندی د سید سلمان نقیب
الاشراف د مهر او دستخط سره د سیدنا عبد الرحمٰن
د ستخط (لاسلیک) او مهر برابر او جوړه ثبت وی. دعامو
خلګو داخیال دی چه دوی سکنی وروړه دی خو په
اصل کښی د دوی مندی جلا جلا وی لکه چه بیان سوی
کله چه په دوی کښی پر یوه کوچنی خبره څه خفګان
او دعوه را ټله نو سید تا سلمان رضی الله تعالی عنه به
سمدستی ولاړ یدی او ویل به ئ چه خپل نقابت او
تولیت دی سنبال کړه - زه مړی نه یم چه پر دی خبره
به سید عبد الرحمٰن په دواړو لاسو بخښنه غوښته
او ویل به ئ چه ته خو د بن رګ پلار پر ځای باندی
ئ زه خو لا ترا و سه تعلیم حاصلوم زه د دی کار څخه

بې برخې یم بس ته ئې سنبال کړه او ما معاف کړه۔

د سید نا مرحوم تر وفات وروسته د گیلانې خاندان
تولو مشرانو او نورو عن تمندانو د سید نا عبد الرحمن
صاحب رضی اللہ تعالی عنه په خدمت کښې عرض وکړې
چه د نقابت عهده (ذمه واری) منظوره او قبوله کړه
خوده مبارک وفرمایل چه که زه په سمدستی ډول
د عنه وظیفه سنبال کړم نو خدگ به دا وائې چه د دی
غټی رتبې په خاطرئې د وروړ مرگ هیر کړی نو په
د عنه ډول هغه د څلویښتمی او نورو شیانو څخه تر خلاصیدو
وروسته د وی میاشتی بعد د نقابت او تولیت ذمه واری
سنبال او قبوله کړه۔

(۱) سید نا علی النقیب تر لسو کاله سجادگی وروسته په ۱۲۸۸ سنه هجری کښې وفات سو۔

(۲) سید نا سلمان رضی اللہ تعالیٰ عنه په ۱۲۵۰ سنه هجری کښې پیدا سو او په ۱۲۸۸ سنه هجری د نقابت او تولیت پر مسند برقراره سو او د کال ۱۳۱۵ سنه هجری دلوی اختر په میاشت کښې اللہ تعالیٰ ته وصل سو۔

(۳) د سید نا عبد الرحمن صاحب رضی اللہ تعالی عنه پیدایښت په کال ۱۳۱۶ سنه هجری د لومړی خور په شروع

کښی قبوله کړه او ترکال ۱۳۴۱ سنه هجری پوری پر دغه
وظیفه باندی برقراره وُو او تردی وروسته ئی دغه
وظیفه خپل زوی سیدنا محمود حسام الدین رضی
الله تعالیٰ عنه ته دژوند په وخت کښی لاوسپارل
ځکه چه د عراق او سید ونکو په اتفاقی ډول آنحضور
خپل باچا وټاکی مګر ده دغه غټ منصب اوړ تبه
قبوله نه کړه ، البته د ونزیری اعظمی رتبه ئی قبوله
کړه د دی د پاره چه په عراق کښی اسلامی حکومت
جوړ سی او د پردی کافر قوم د ولکی څخه ملک خلاص
کړی او د تل د پاره نجات او خلاصون حاصل سی.

تردی د مخه د سلطان عبد الحمید ترکی د سلطنت
په دوره کښی د سید سلمان رضی الله تعالیٰ عنه د وفات
څخه وروسته سید نا محمود حسام الدین رضی الله عنه
دازادی لپاره په عراق کښی سرکښی او بغاوت وکړی
چه په دی کښی د عربو د قومونو او شاهی لښکر ترمنځ
جګړه وسوه او د واړو خواؤ ته تاوان هم ورسیدی.

د غه یاد سوی باچا د صلحی (سولی) پیغام ولیږی
او دائی هم د سیدنا عبد الرحمٰن رضی الله تعالیٰ عنه
وخدمت ته ښکاره ولیږله چه که چیری ته یاستاسی

زوی په عراق کښی ازاد حکومت جوړول غواړی نوما
ته قبوله او منظوره ده، پردی خبره باندی سیدنا عبدالرحمٰن
رضی الله تعالیٰ عنه ډده په جواب کښی قسم وا خیستی.
چه زه د اسلامی سلطنت تابعداره یم او د اسلام وهر
خدمت ته تیار یم زه د باچهی غوښتنه نه لرم - زما په
لکو مریدان دی - او پرده غه خبره باندی د حکومت اود
حضرت په منځ کښی صلحه (سُوله) وسوه.

د ده غه قسم او وعدی لحاظ ئی په زړه کښی وکړی
خود بادشاهی رتبه ئی قبوله نه کړه او پرده غه رقم دی
دلوی اختر د میاشتی پردیم[۳] تاریخ په سنه ۱۳۴۵ هجری
کښی وفات سو - انا لله وانا الیه راجعون

د حضرت سیدنا محمود حسام الدین رضی الله عنه
پیدایښت په سنه ۱۲۸۱ هجری کښی وسو - د سنه ۱۳۴۱ هجری
څخه تر سنه ۱۳۵۵ هجری پورې دی نقیب الاشراف اود اوقاف
قادریه وُو. متولی او سرپرست او د اسمبلی (شورې)
رکن او غړی وُو - او د حزب الحرّ العراقی د مشرا و د مجلس
التمیز الشرعی السنی فی الحکوم العراقیه - د غړی پیر رتبو
باندی مقرر وُو چه په سنه ۱۳۵۵ هجری کښی ئی وفات وکړی.

د ده تر وفات ودوستئ د حقدارې سره سم دنقابه

اوتولیت ذمه واری د گیلا نیه خاندان مشرانواورشید
عالی گیلانی وزیراعظم ، او باچا غازی اول د خدای (ج)
بخښلی ومشر زوی پیر سید جمال الدین مد ظله ته
وړاندی کړه مگر هغه په دی خاطر قبوله نه کړه چه
هغه د پیره وخته په بمبئ کښی مقیم او مشته دی.
او هلته ئی په جلا جلا مستقله توگه هستوگنه غوره
کړی ده - دوهم دا چه د ده دوی بنځی (منکوحی) د موجوده
پاکستان او سیدونکی دی

یوه د بناغلی شجاع الملک د چترال د سردار بختوره
لور ، او د وهمه د قلات د لوی خان نواب خداداد خان
د ستر گو تور وه. چه په دی ډول د ده د خوښی سره
سم د غه یاد سوی پیر جمال الدین صاحب د بمبئ او به
او هوا او خوراک او خښاک ، او هستوگنه او تفریح گاه د
بغداد شریف په مقابله کښی غوره او ښه وگڼله نو بیا ئی
د نقابت او تولیت حق وخپل اصلی او سکنی وړ وکی ورور
سید علی کمال الدین ته حواله کړی ، مگر هغه د دی قبلول
په دی وجهه نامناسب و بلی چه کله چه د ده دوه سکنی
اکا گان (سید احمد عاصم ، او سید هاشم مسعود) تجربه
کاره هوښیاران او سیاست ، پوهان ، نیک خویه ، تقوی دار ه

او شپه رو نه ونکی غرض دا چه په ټولو صفتونو سره موصوف
د ژوند پر مینه وی ، نو پس دغه لوړ منصب باندی
کښینستل به په خیر کښی نه وی. چه په دی ډول ده د
نقابت او تولیت د واړی رتبی د خپلو اکاګانو (سید احمد
عاصم او سید هاشم مسعود ، په حواله کړلی - چه پردی باندی
د نقابت وظیفه سید احمد عاصم منظوره او قبوله کړه - او
سید هاشم مسعود د اوقافو متولی او سرپرست وټاکل
سو - د سید هاشم مسعود متولی ، او د رشید عالی (وزیر
اعظم حکومت عراق) تر منځ د سیاست په معامله کښی
مخالفت راوان وُو نو کله چه و د غه وزیر اعظم ته داحال
معلوم سو - نو هغه د زاړه مخالفت او جنګ له وجهی څخه
دی د تولیت د رتبی څخه برطرفه او ایسته کړی . او پخپله
ئی د او ظیفه و نیوله او د دی سره سره د عراق حکومت د
وزیر اعظمی پر منصب هم ولاړ وو .

تر دی وروسته د غه یادسوی رشید عالی د
جرمن سره د دوستی سا تلو په ټینګ حکومت د
وزارت عظمی د رتبی څخه لیری کړی او جلا وطنه
ئی کړی چه په دی سره سید هاشم مسعود رضی الله
تعالیٰ عنه په سنه ۱۹۴۲ میلادی کښی بیرته د او قاف

قادریه ؤ سرپرست و تاکل سو. او تر ۱۹۵۱ سنه میلادی پوری پرده غه دتیه باندی بر قراره وُ تردی وروسته د عراق د مخکینی حکومت وزیر اعظم نوری السعید او عبدالاله په سیاسی معامله کښی د سید هاشم مسعود خلاف سوله، کوم چه د دوهم وار بیا د تولیت د تبی څخه علیحده او ایسته کړه سو تردی وروسته د ۱۹۵۱ سنه څخه بیا تر ۱۹۵۳ سنه پوری دا وظیفه هم د سید احمد عاصم نقیب الاشراف تر تصرف لاندی وه، مگر د دغه یاد سوی سید احمد عاصم وکیل مطلق یا مختار عام هم هغه سید هاشم مسعود وُ.

سید احمد عاصم چه کله د پاکستانی حکومت په بلنه د هغه[1] ایکسیلینسی گورنر جنرال غلام محمد د حکومت په زمانه کښی پاکستان ته تشریف راوړی او دلته تر دوی میاشتی او سیدلو وروسته چه کله بیرته و بغداد شریف ته تشریف راوړی نویوه هفته وروسته وحق ته وصل یعنی وفات سو.

تردی وروسته د مرحوم سیدنا عبدالرحمن صاحب او مرحوم سیدنا محمود حسام الدین رضی الله تعالیٰ عنهما

[1] دا یو انگریزی تورې دی د گورنر (والی) لپاره د عزت او ادب په خاطر استعمالیږی ۱۲ مترجم

هدایت یافته اولاد و اود خاندان گیلانیه بغدادیه تولو
افرادو په اتفاق سره و سید هاشم مسعود دام ظله
ته د نقابت اونقولیت د وظیفی سپارلو مشوره وکړه اود
منظوری لپاره ئ کاغذات اووړاندیزونه د عراق د
حکومت په حواله کړل - مګر نوری السعید، اوعبدالاله
وزیراعظم اوحکمران په دی اندیښنه دا خبره ردکړه
چه که چیری دغه د نقابت او نقولیت رتبه و سید
هاشم مسعود مد ظله ته وسپارل سوه - نوهغه به
په لږو وروځو کښی د عراق د حکومت (تختی پرله وغورځوی
اود هغه پرځای حکومت په سلوخوشحالیو دده خوږي
پیرابراهیم سیف الدین د سید پیر محمد جمال الدین
دلومړنیو د فرمایش اوخواهش سره سم وتپاکی څکه
چه پیرابراهیم سیف الدین د لومړنیو اووو ستنیود
منقوله او غیر منقوله جائداد و وکیل عام او د خالوزوی
اود عمه زوی، اوورور او اخښی دی.

هوکی یوه خبره د نوشتی څخه پاته سوه هغه دا
چه کله د سید هاشم مسعود مد ظله د تپاکنی اومنظوری
کاغذات د نقابت اونقولیت لپاره په حکومت کښی پیش سوه
نو - نوری السعید وزیراعظم اوعبدالاله د عراق د

حکومت مختار عام دغه وړاندین ردکړ او وئ ویل چه که
چیری د خاندان گیلانیه بغداديه مشران د هندوستان
څخه یو فیل راوغواړی نقیب الاشراف ئ جوړ کړی او کاغذات
د منظوری لپاره موږ ته راولیږی موږ ئ هیڅکله نه
رده وئ ـ مگر سید هاشم مسعود ابن سید عبدالرحمٰن
او سید ناصر زوی د سید صفاء الدین زوی د سید نا
حضرت عبدالرحمٰن رضی الله تعالیٰ عنهم موږ هیڅکله
نقیب الاشراف نه جوړ وُو .

پیر سید ابراهیم سیف الدین د نقابت وظیفه خو
قبوله کړه او د تولیت (سرپرستی) د وظیفی څخه ئ انکار
وکړی چه پر دی باندی د قادریه گیلانیه بغداديه
مشرانو د او قاف قادریه لپاره ، د دوو متولیانو او دوو
ناظرانو او دوو مفتشانو ، او دوو ناظمانو ، د تاکلو —
وړاندین د عراق وحکومت ته پیش کړی ، چه په دی سره
د غه پورته یادو سو وکسانو ته حکومت بیاله کومه اعتراضه
سمدستی منظوری ورکړله چه په دی باندی دستی
عمل وکړه سو .

د سید نا عبدالرحمٰن مرحوم او سید محمود حسام
الدین ، او سید نا صفاء الدین مرحوم رضی الله عنهم

اولاد و نه ما شاء الله گرده خوانان او پر ښه ښه سرکاری
وظیفو باندی تپا کل سویدی ـ د دی وجهی هغوی د تولیت ـ
وظیفی ته کوم خاص اهمیت نه ورکوی . هوکی د سیدنا
حضرت محمود حسام الدین رضی الله تعالیٰ عنه تر تولو
وړو کی زوی د سیاست څخه جلا او یوازی د اسلام په تبلیغ
کښی بوخت وی . په هندوستان ، پاکستان ، سیلون ، افریقه
افغانستان او نورو اسلامی ملکو کښی د ده د مریدانو
شمیر و رځ په ورځ پر ډیریدو دی ، د اسلام تبلیغ
او اشاعت وعظ او رشد و هدایت د ده تر تولو محبوب
تر ینه او خوښه مشغله ده ـ د ده د خپلو بیعت کړه سوو
مریدانو حساب و نکړی تر رسیدلی دی د ده د ښو اخلاقو
کمال ، اخلاص ، او مړانی ، جود او سخا ، کرامت او تقویٰ
زهد او ریاضت ، شپه روزه ول او عبادت کول ، معرفت
الهی ، او د شریعت پابندی او د اسی نور څلور طرفیز
شهرت د عالم په هره هره گوښه کښی خپریږی ـ بلکه
خپور سویدی . واده ئی کړیدی عمر ئی څلویښت کاله ته
نژدی دی او د ده بزرگ نوم سیدنا و مولنا شیخ المشائخ
نقیب زاده پیر سید محمد طاهر علاؤالدین (دام ظله) دی
د کوهوچه د تیکن خویندو او ښو قضا ئلو بیات د خاندان گیلانیه

ترعنوان لاندی پیه لنډه توګه کول کیږی څکه چې په تفصیلی
ډول خو د بیان په ډیر اوږد ولو سره خو هم نه سی
خلاصیدای .

سن کال یعنی په سنه ۱۳۸۰ کښی خو د اوقات قادر یه
متولی اود بغداد نقیب الاشراف سید برهان الدین ابن
السید عبد الرحمٰن المحض القادری الګیلانی وتاکل سو
د عراق د جمهوری حکومت له طرفه څخه پیر ابراهیم
سیف الدین الګیلانی ډیر ناجوړه اوضعیف دی ، او پیر
سید هاشم مسعود د روژی پر (۱۱) په کال سنه ۱۳۷۶ کښی
وفات سو۔ انا لله وانا الیه راجعون .

اوس دم ترحاله نقابت او نقولیت د سید برهان الدین
ګیلانی دی کوم چه د بغداد لوړی بنار وال دی .

دسیدنا شیخ المشائخ الحسیب النسیب حضرت
عبد الرزاق رضی الله عنه

(خلف الرشید حضور غوث پاک قدس سره العزیز)

څخه چه کوم نقیب الاشراف تاکل سوی دی

(۱) السید الشیخ عبد الرحمٰن فیض الله رضی الله تعالیٰ عنه
د پوره ستایل سوی سیدنا شیخ المشائخ د اولاد څخه تیر

سویدی په کال سنه ۱۳۱۲ هـ کښی وفات سو. بلا نهایه او الله ته قریب او د شریعت بیدار او کامل بزرګ وو.

(۲) السید الشیخ علی الکبیر رضی الله تعالیٰ عنه: دی د بی بی عاتکه رضی الله تعالیٰ عنها پلار دی. نقیب الاشراف او د مسلمانانو سردار تیر سویدی دکشف او کرامانو خاوند او د باطنی فیوضاتو ګنجینه ډک او د شریعت او د طریقت خاوند ؤ. په سنه ۱۲۸۱ هـ کښی وفات سو.

(۳) السید الشیخ حضرت عبد العزیز صغیر رضی الله تعالیٰ عنه ابن السید الشیخ عبد القادر صغیر رضی الله عنه جید عالم او فاضل صاحب مکاشفه و مشاهدهٔ کشف القلوب نقیب الاشراف تیر سویدی سنه ۱۲۴۶ هجری الله جل جلاله ته وصل سو.

(۴) السید الشیخ حضرت محمود رضی الله تعالیٰ عنه ابن السید حضرت ذکریا: دی نقیب الاشراف او د مسلمانانو سردار وو، په فیضونو او برکتونو او کرامانو کښی بی مثله او بی ساری وو. لکه چه د غسی په تذکره غرثیه کتاب کښی د حج او زیارت تر عنوان لاندی مصنف غرث علی شاه قلندری پانی پتی بیان کړی دی، کله چه دی وبغداد شریف ته د زیارت لپاره حاضر سوی ؤ.

نوهمه وخت حضور ممدوح دژوند پر مینه وو۔ او
دده د کمالاتو پوره شهرت او اوازه تر لیری لیری مملکتو
پوری رسیدلی وه او دی د رزاقی کورنۍ وروستی نقیب
وُو څکه چه په سنه ۱۲۵۸ هجری کښی د وباء (نس ناستی)
د پیښیدو په سبب د نورو سره یوله د کورنۍ وګړی
وفات سوه، فقط یوه نیکبخته انجیلی ژوندی پاته سوه
د کومی تفصیلی بیان چه پر مخ ۱۴۸ باندی درج سوی
دی، تر دی وروسته د رزاقی بغدادی خاندان د نقابت
او تولیت سلسله (لړۍ) ختمه سوه۔

دسیدنا الشریف الحسیب النسیب حضرت عبدالعزیز رضی الله تعالیٰ عنه

(خلف الرشید سیدنا شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز)

د پاک اولاد څخه نقباء او سجاده نشینات۔

① السید الشیخ صاحب التکوین والتمکین حضرت زین الدین ابن الشریف سیدنا محمد شرف الدین بن سیدنا شمس العارفین حضرت شمس الدین بن سیدنا صاحب السمو والسماحة حسیب النسیب محمد الهتاک ابن الشریف

سیدنا الامام التقی المقتدیٰ الاقطار الاعلیٰ، المنار
الذهب الابریز حضرت عبدالعزیز رضی الله تعالیٰ عنهم
بن حضرت محبوب سبحانی قطب الربانی غوث صمدانی شیخ
الکل سیدنا شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز
د مسلمانانو نقیب او سرپرست سو، د وی خپل ټوله
جائیداد د درگاه گیلانیه، او بزرگ نیکه د مدرسی
لپاره د خدای تعالیٰ جل جلاله په میاشت کښی په
سنه ۹۷۸ هجری کښی وقف کړی، د ی مبارک په سنه ۸۹۱ هـ
کښی د بغداد په محله باب الشیخ کښی پیدا سو، د ه
مبارک د خپل وخت د علماؤ څخه نقلی او عقلی علوم
حاصل کړی دی، د ی د گیلانی خاندان سرپرست او
رئیس وو، او د اوقاف قادریه ؤ متولی او سرپرست هم
وو - په سنه ۹۱۴ هجری کښی چه کله ایرانیانو بغداد
محاصره (کلابند) کړی نو د ه مبارک دایرانیانو پر
خلاف د خپل حکومت او بنار د خوندی ساتلو لپاره بیخی
ډیر کوښښ وکړی، په سنه ۹۴۱ هجری کښی چه کله د
ایرانیانو د ولکی څخه عثمانی لښکر بغداد بیرته نیوی
په دی وخت کښی هم د ه مبارک د عثمانی لښکر سره
په جان و دل (ځان او زړه) سره مرسته وکړه چه په

دی سره عثمانی سلطنت ته کامیابی نصیب سوه، نو دغه فاتح باچاد ده رضی الله تعالیٰ عنه په برکت مند خدمت کښی حاضر سو، او شکر یه یی ادا کړه چه همدغسی په دی کال کښی د روژی د مبارکی میاشتی پر شلمه نیټه سلطان سلیمان عثمانی د خپل فوج او نورو افسرانو او د مملکت د مفتی سره په مسجد جامع گیلانیه کښی حاضر سوله، او د بغداد ټوله علماء یی را وغوښتله - او د هغان دیگرد لمانځه تر ادا کولو وروسته یی (نقابت الاشراف) سند ورده مبارک ته ورکړی، چه په ترڅ یی برکښی لیکلی دی چه ترجمه یی په لاندی ډول ده.

معزن السادات المکرم السید شیخ زین الدین گیلانی دام سیادت

د صحیح النسب سیادت تر تصدیق او تائید کولو وروسته، و شیخ زین الدین گیلانی دام برکاته، ته د نقابت الاشراف سند ورکوم، او وصیت کوم چه شیخ زین الدین گیلانی د بغداد د بنار نقیب الاشراف دی.

او کوم سړی چه صحیح النسبه سید نه وی او نرهم د هغه سره کوم شاهی فرمان وی نو د هغه قوم سردار او نقیب نه ګڼل کیږی - د کوم سړی سره چه د نقابت

الاشراف سند وی - هم هغه د شاهی تنخواه او انعام حقدار او مستحق د ی .

د ستخط :- السلطان غازی سلیمان خان قانونی

تر دغه عثمانی سند ورو سته د نقابت الاشراف سلسله جاری سوله ، چه په دغه دول د خاندان گیلانیه بزرگان سلسله پس سلسله پیر دغه لوی منصب باندی کامیابه روان او راغلی دی - او تقریباً د څلورنیم سوه کاله څخه راهیسی بیله نا غی تر نن ورځ پوری دا سلسله راروانه او قائمه ده او انشاء الله العزیز تر قیامته پوری یه جاری او روانه وی ، د خاندان گیلانیه د صحیح النسب سیادت لپاره تر دی بنه ثبوت کوم شی کیدای سی .

(۲) السید شیخ المشائخ حضرت ولی الدین رضی الله تعالیٰ عنه (د پورته یاد سوی سید زین الدین صاحب زوی) لوی عالم او فاضل وُ - فقیه او محدِّث د کشف اوکرامات خاوند وُ په ۱۰۳۷ لسته هجری کښی په بغداد شریف کی وفات سو ، او په دربارہ گیلانیه کښی بشح سو .

(۳) السید الشیخ المشائخ حضرت نورالدین (د پورته ذکر سوی سید الشیخ ولی الدین رضی الله تعالیٰ عنه زوی) لوی عالم متقی او پرهیزگاره او د شپی ولاړ ، د

وړځی روژه وُو ، د خپل گران نیکه قدس سره العزیز د مسجد جامع گیلانیه امام وو ، په سنه ۱۰۷۵ هجری کښی وفات سو. انا لله وانا الیه راجعون .

④ السید الشیخ المشائخ حضرت حسام الدین ابن السید الشیخ نورالدین رضی الله تعالیٰ عنهما په زهد او ورع تقوی او توکل او رضا کښی د خپلی زمانی یکتا (بی مثله) وُو ، په سنه ۱۱۶۳ هجری کښی دده وصال (وفات) وسو.

⑤ السید الشیخ المشائخ حضرت محمد درویش (د پورته ذکر سوی حضرت حسام الدین رضی الله تعالیٰ عنهما زوی) د پیر پاک خیاله ، اسم او مسمّیٰ د واړه درویش صاحب الحاله ، زاهد او عابد او شپه روښه وونکی وو په سنه ۱۱۷۵ هجری کښی وصل (وفات) وسو .

⑥ السید شیخ المشائخ زین الدین الصغیر (د پورته ذکر سوی حضرت محمد درویش رضی الله تعالیٰ عنهما زوی) محدث او فقیه ، پاک خویه ، او د کرامت خاوند وُو ، په سنه ۱۱۹۲ هجری کښی وصل (وفات) سو .

⑦ السید الشیخ المشائخ مصطفیٰ (د شیخ المشائخ زین الدین الصغیر رضی الله تعالیٰ عنهما زوی) فقیه او محدث لوړ عالم ، شپه روښه وونکی ، صاحب الحاله او د رتبی

خاوند وُ ـ خلگی ته ئ د نیکی د عوت اویلنه ورکوله نقیب
الاشراف وُ په سنه ۱۳۰۱ هجری کښی وفات سو.

(۸) السید الشیخ المشائخ حضرت سلیمان (د شیخ المشائخ
مصطفیٰ رضی اللّٰه عنهما زوی) فقیه او محدث او بی ساری عالم
وُ ـ نقیب الاشراف او د او قاف قادریه سرپرست وُ
په سنه ۱۲۳۵ هجری کښی وفات سو.

(۹) السید الشیخ المشائخ مراد (زوی د سید الشیخ
المشائخ عثمان رضی اللّٰه تعالیٰ عنهما) د مسلمانانو سردار
یعنی نقیب الاشراف او د او قاف قادریه متولی او سرپرست
وُ. محدّث او فقیه د شریعت او طریقت خاوند وُ پر
هر ډګه باندی قدرمند صوفی وُ ـ په سنه ۱۲۶۸ هجری
کښی وفات سو.

(۱۰) الشیخ المشائخ الحسیب النسیب صاحب السمو والسماحة
سید تاعلی رضی اللّٰه تعالیٰ عنه نقیب الاشراف او د او قاف
قادریه متولی، او د مسلمانانو سردار مرفع الحال خوش
خصال، شمس العارفین، سرتاج العاشقین (د حال پورته
کونکی، نیک خویه، د عارفانو لمر، د عاشقانو سرتاج)
وُ ـ دی مبارک په سنه ۱۲۸۹ هجری کښی وفات سو.
په سنه ۱۲۶۱ هجری کښی ئ د او قاف قادریه په اړه یو

شاهی فرمان تر لاسه کړی۔ پنځه زامن ئې په لاندې ډول
(اول[۱] شیخ المشائخ حضرت سلیمان نقیب الاشراف، دوهم[۲]
سیدنا شیخ المشائخ حضرت عبدالرحمٰن المحض، نقیب
الاشراف و متولی الاوقاف، دریم[۳]:- سیدنا شیخ المشائخ
حضرت زین الدین الګیلانی، څلورم[۴]:- سیدنا شیخ المشائخ
حضرت حسن ګیلانی کابل والا، پنځم:- سیدنا شیخ المشائخ
حضرت عبدالسلام ګیلانی رضی الله تعالیٰ عنهم) پیدا
سول۔ کوم چه ټولـه دا اقتدار (واک) او کاملی بـن رګی
او دا اولادو خاونـدان سوی دی، د نقابت او تولیت
حق د دوی څخه فقط د سیدنا سلیمان او تیر ستابل سوی
سیدنا عبدالرحمٰن المحض لپاره او نژدې وروسته
ارشد به ارشد یعنی په هدایت کښی درجه پر درجه
د دوی د اولادو لپاره خاص دی، د پیری او مریدی
حق هم د دوی ته حاصل دی، نور پاتـه یو هم د دغـه
بن رګ منصب حقدار نه دی۔

(۱۱) السید الشیخ المشائخ حضرت سلیمان (زوی د السید
الشیخ المشائخ علی النقیب رضی الله تعالیٰ عنهما) د دنیا
د مسلمانانو سردار او د اوقاف قادریه سر پرست وو۔
غازی سلطان عبدالحمید خان ترکی شهنشاه د ده مبارک

مریدونو او د هغه له طرفه څخه تر ټولو ډیاته رتبه و
ده ته حاصله وه او ده مبارک یو حوض او یو مسجد د
بغداد په محله السنک کښی جوړ کړی او د دوی د واړو و
د خرڅ او اخراجاتو لپاره ئی د روڼی مبارکی پر ۷ نیټه
په سنه ۱۳۱۳ هجری کښی یو څه جائداد هم وقف کړی.

(۱۳) السید شیخ المشائخ حضرت عبدالرحمن المحض بن
سید الشیخ حضرت علی النقیب رضی الله تعالیٰ عنهما
د دنیا مسلمانانو سردار او د اوقاف قادریه سرپرست او
په عالم اسلام کښی د طریقی قادریی مبلغ او د عراق
د حکومت وزیر اعظم وو.

او په سنه ۱۳۰۰ هجری کښی خلیفه اعظم حضرتنا ومولنا
السید الشیخ المشائخ غوث الاعظم دستگیر عبدالقادر
جیلانی قدس سره العزیز، د خواب بشارت په حال کښی
د خلافت خلعت (خلات) ورته ورکړی، د کوم تصدیق چه
د زمانی اولیاؤ (کوم چه په دی باطنی مجلس کښی
حاضر وه) وفرمایه.

په سنه ۱۹۱۹ میلادی کښی انګریزانو او عراموده عراق
د مملکت حکومت د ده وحضور ته وړاندی کړی خو ده
قبول نه کړی، او وئی فرمایل چه نه د بل مذهب نصرانی

ورکړه هیڅکله نه قبلوم ، مګر د غوامود خواهش اوغوښتنې
په مراعت کولو سره به د وزیر اعظمی رتبه د دې مقصد
لاس ته راوړلو په امید قبلوم چه بنایي چه زما په
باطنی کوششونو او محنتونو سره به دغیر مسلم اوپردی
قوم (نصرانیانو) بیخ اوریښه د بیخه وکښل سی بی شماره
اسلامی پاچهان او د شرق اوغرب نوابان ددې مبارک
مریدان او عقید تمندان دی .(وګوره انګریزی کتاب)

(A Clash of Loyalties Mesopotamia War 1917 to 1920, by Sir Arnold Wilson, *Page No. 336 to 340, volume 2)*

اوتاریخات انوارات عراقیه اول ټوک - لیکنه د عبد الرزاق
الحسنی .

د آنحضور د باطنی اوروحانی کشش دا اثر وو چه
دکوچنی څخه نیولی بیا دلویولویو، طبقو تر خلګو پوری
ټولو په عزت او احترام سره ورته کتل او په ځانونو
نړه سره عقید تمندان او فرمان منونکی وه، د حضور
مبارک لاسونه د اسلام د خدمت او د خیر د کار لپاره
هروخت خلاص او د سخاوت لپاره اوښده وه ، د لوی
اولوړی مرتبی عالم با عمله ، پر شرعه براین ، زاهد

او متقی ، خدای (ج) ته رسیدلی بزرگ وُ - په عالم اسلام کښی د کروړو په حساب د ده مبارک عقیدتمندان او مریدان سویدی۔

(۱۳) الشیخ المشائخ السید محمود حسام الدین (زوی د السید الشیخ المشائخ حضرت عبد الرحمٰن رضی اللہ تعالیٰ عنہما) نقیب الاشراف او متولی الاوقاف وُ - د ده په لوړ خدمت کښی هم انګریزانو او عراقیانو د عراق د حکومت وړاندی کړی مګر قبول ئ نه کړی - د دی لاندی بیت مثال او نمونه وُ .

پشت پا زن تخت کیکاؤس را
سر بده از کف بده ناموس را

د ده مبارک د مریدانو په دوره کښی د اسلام د باچهانو او د ریاست د نوابانو سر بیره د هری طبقی افراد شامل وه ، د کشف او کرامت د جذب او کشش خاوند وُ متقی ، شپه روپه ونکی ، با عمله عالم ، سخی او غریب پالونکی وُ . د کوم انګریزی کتاب حواله چه د منځ ورکول سویده د هغه د مطالعی څخه معلومیږی چه دی مبارک د خپل بزرګ پلار سره یو ځای مګر ی او سیدی په ټولو مذکی او سیاسی مشورو کښی ئ برخه اخیستله، بلکه

د هغه د بوډا والی په وخت کښی ورته د راسته لاس په شان وُ څرنگه چه د عزتمند پلار تن وفات ورروسته د نقابت او تولیت هم دَی په حقه میراث وړونکی وُ، تو له همدی وجهی د پلار دځوند په وخت کښی ټول له تکلیف ده برداشت کړی وُ، ده مبارک همیشه د عامو مسلمانانو د کامیابی او گټو وطرف ته ډیره زیاته توجه کوه له، او د غه وجهه وه چه د ده مبارک احترام د هر کوچنی او لوی په زړه کښی ځای نیولی وُ تو له د غی وجهی لکه څه ډول چه د ده مبارک روحانی منزلونه پای کړی وه - د خدای ج مقبول جوړ سوی وُ. او همدغه ډول د خلگو محبوب هم وُ.

(۱۴) السید هاشم محمود ابن السید شیخ المشائخ — عبد الرحمٰن نقیب الاشراف رضی الله تعالی عنهما، لوی موحد خدای پرسته، نرم دله، نیک خویه، عابد او زاهد په ټولو صفتونو متصفه وُ، د س۱۹۳۶ نه هر څخه تر س۱۹۴۱ نه هر پوری د نقابت په وظیفه سره سرلوړی وُ.

(۱۵) السید رشید الگیلانی ابن سید عبد الوهاب رضی الله تعالی عنهما، دی مبارک د او قافو سرپرست ډیر باعزته سنجیده، د سیاسی پوهی لرونکی دی د قوم د غلامی سخت

مخالف
دی، یو بنه پیر وخت د عراق د مملکت دوزیر اعظمی
پر رتبه باندی برقراره او سیدلی دی. حکومت همیشه
د دوی مبارکه څنه په ډیمن معاملات کښی مشوره کوله
چونکه قومی رواداری جذبه په دوی کی زیاته وه. نو
له دی وجهی څنه عوام دده مبارک ګرویده (ای میل کننده
ګان دی (ګروکړه سوی) دی. له دی څنه پرته، دی مبارک
د سیاسی پوهی خاوند پر شرع برابر، متقی، پرهیزګاره
خدای (ج) ته رسیدلی شخصیت دی.

(۱۶) السید احمد عاصم ابن السید الشیخ عبدالرحمٰن
النقیب رضی الله تعالیٰ عنهما دی مبارک د ۱۹۴۱ء میلادی
څنه تر ۱۹۵۳ء میلادی پورې نقیب الاشراف او سیدلی
دی. وده ته د نقابت د بزرګۍ رتبې سپارل دده دزهد
او تقویٰ، ریاضت او مجاهدې، او خدای (ج) ته د
رسیدلو ښکاره دلیل دی. دی مبارک تن یوځه وخته
پورې دبزرګۍ طریقې قادریه په تبلیغ بوخت وُو.

دده د مریدانو حلقه (کړۍ) ډیره پراخه ده. د
پاکستان دګورنر جنرال غلام محمد خان په دعوت
او بلنه په ۱۹۵۳ء میلادی کښی پاکستان ته تشریف
راوړی. او شاهی میلمه وو، کله چه ئې تردوی میاشتی

وروسته د بغداد شریف نه تشریف بیرته یووړی ، نو تر یوی هفتی وروسته ئې وصال (وفات) وکړی.

(۱۷) السید ابراهیم سیف الدین (ابن السید مصطفیٰ ابن السید الشیخ سلیمان النقیب رضی الله تعالیٰ عنهم) اوسنی موجود نقیب الاشراف دی ، دی د خپلو بزرګانو په ډول په تقوی او ریاضت (کوښښ) کښی مشهوره دی. او د طریقة القادریة العظمی په خپرولو او اشاعت او تبلیغ اولاد سنو وړ کښی کوښښ کونکی دی. خدای (ج) ته رسیدلی بزرګ دی ، د تبلیغ او اشاعت په سلسله بیخی ډیره هده په بمبئ کښی هم مقیم او دیره سو - له همدی وجهی په هندوستان کښی په عام ډول او بمبئ په بنار کښی په خاص ډول د پیر ابراهیم بمبئ والا پیر په نامه سره مشهوره دی ، د ده د مریدانو حلقه (کړۍ) پوره پراخه ده کوم چه د لکونو په حساب کښی ده.

قادریّه جیلانیّه بغدادیه مشران

سیدنا عبدالسلام گیلانی (ابن سید علی النقیب رضی الله عنهما) دی د خپل وخت ډیر لوړ صوفی او موحد تیر سویدی او د لوی کرامت خاوند سو او د ده وُرُود او هستوګنه اکثره

په افغانستان او هند کښې وه ، نن سیا هم په بلوچستان کښې داسې خلګ ستر کوموچه دده مبارک نومانه اوکرامتونه بشکاره کول په خپلو سترګو لیدلی دی .

دده سره یو لیوه او یوه بڼه وه کوم چه یو ځای ترڅ کیدل ، او یو ځای ئې خوراک اوچښلنګ کاوه ، مګر لیوه ته هیڅ طاقت نه وو چه وښی ته کوم تاوان ورسوی د حقو طالبانو او علماؤ کرامو ئې ډیر عزت کاوی ، د باطنی فیوضاتو په ورکولو کښې ئې د زړه د پراخوالی څخه کار اخیستی ، پرمخ مبارک باندې ئې داسې جلالی رعب اوبیره وه چه هیڅ چاته د خبرو کولو ، وس او توان نه وُو . دی مبارک د خلګو محبوب وُ په افغانستان او بلوچستان کښې ئې اوس هم بې حسابه مریدان پیدا کیږی .

السید پیر سید حسن گیلانی نقیب

د کابل

(ابن سید علی النقیب بغداد)

دی په افغانستان کښې د قادریه طریقې سرلاړه او مشر وُو ، او د خپلې زمانې مشهور او معروف کامل فقیر او د تصرف خاوند وُ ، د سقاوزوی چه کله په افغانستان

کښی خپل حکومت جوړ کړی نود حکومت دکولودپاره ئی دده مبارک څخه امید وکړی چه تخت او تاج سانبال کړه - مګر ده وفرمایل چه اصلی اوحقیقی باچهی خود اوله وخته زما سره ده - موږ لره د داسی فانی پاچهی ضرورت او حاجت نسته.

نقیبُ زادهٗ سیّدهٗ عبدُ الرّزاقُ بنُ سیّدُ سُلیمانُ النّقیبُ رضیَ اللهُ تعالیٰ عنهٗ

دی د لوړی درجی عالم، فاضل، متقی، پرهیزګاره سخی، اوخیرکونکی ؤ دی په خلګو کښی د درس اوتدریس د شوق زیاتولو، او د طریقه القادریه په تبلیغ او اشاعت کښی ښه هیر کو ښښ کونکی ؤ.

سیّدُ عبدُ القادرُ گیلانیُ بنُ سیّدُ عبدُ اللهِ دامَ ظلُّهُ العالیٰ

دی نیکخویه د عالم د مسلمانانو د بیګتهی په فکر کښی اوسیږی او د عراق د حکومت له طرفه څخه په پاکستان کښی سفیر دی.

.....★.....

نقیب زادہ سید جمال الدین گیلانی دام ظلہ العالی
ابن ارشد سید پیر محمود حسام الدین نقیب
الاشرافی رضی اللہ تعالیٰ عنہ

دده بزرگ نوم خودکوم تشهیر او وضاحت محتاجه نه
دی ، د دنیا ټوله اطراف یښه خبر دی چه دی دخپل پلار
مرحوم رضی الله تعالیٰ عنه تر وفات وروسته د نقابت
او تولیت حقیقی حقدار ه دی لیکن څرنګه چه ده په مستقله
اوځانګړی توګه خپل بود باش او هستوګنه د پیره وخته
د بمبئ په بنار (انډیا) کښی کړیده او د هغه ځای آب
وهوا او هستوګنی ته ئ د بغداد شریف په مقابله کښی
ترجیح او بهتری ورکړیده . او د دی سره سره ده مبارک
د وو(۲) کور والا وُ یعنی بی بی ګانو (یوه د چترال د سردار
جناب شجاع الملک بخته لور ، او دوهمه د قلات د لوی
خان نواب خداداد خان د ستر ګو تور) خپل د پیدایښت
وطن په خپل خیال محبوب او خوښ کړی دی - نو د دوی
د خواهش او غوښتنی په لحاظ ساتلو سره ئ و بمبئ
ته د خدای په امان ویل مناسب و نه ګڼل .

او همدغه شان ئ د پیر عمر له وجهی د ستر ګو دید

هم کمزوره سویدی.

نو له دغه پورته یاد سوو وجوهاتو له سببه ئ د نقابت او تولیت وظیفه شاته وغورځوله او د دی ذمه واری داخیستلو څخه ئ معاذرت وغوښتی او با قاعده په بمبئ کښی دیره اومیشته سو.

ده دخپل عمر څیره نیا ته برخه د افغانستان، هندوستان او پاکستان څخه پیه نورواسلامی ملکونو کښی د طریقه قادریهٔ عظمی په تبلیغ اوخپرولو کښی تیرکړی دی، نو له دٔ سببه د ده د مریدانو حساب بیخی ډیر دی او د کشف اوکرامت خاوند دی او د ډیرې لوړې درجې صوفی اوموحد دی. د ده په محفل او مجلس کښی د الله تعالیٰ د ذکر او تسبیح څخه پرته هیڅ چا ته د خبرو کولو توفیق نسته مګر دیوخاص ضرورت لپاره په یو مختصه اواد بناکه پوهل.

د ده زوی معظم الدین د خپل مورنی نیکه سره په چترال کښی تشریف لرونکی دی، خدای تعالی جل جلاله دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صدقه او د غوث پاک په طفیل او وسیله اونږ د عمرونه تر و بخښنی او په علم او عمل کښی دی الله تعالیٰ کامیابی ورته ورکړی.

نقیب زاده سید علی کمال الدین رحمة الله علیه
بن شیخ المشائخ پیر محمود حسام الدین
نقیب الاشراف رضی الله عنه

دی ماشآء الله اسم د مسمی سره برابر په هره شعبه کښی د کامل و اکمل والی سړیره د بزرګانو دا ډول اوقوا تینو لحاظ سانتونکی د سنجش او ډیری پوهی لرونکی شخصیت دی - تاسی اندازه ولګوی کله چه دده بزرګ وروړ پیر سید جمال الدین صاحب په لوړ خدمت کښی د محترم پلار تر وفات ورو سته د نقابت او تولیت عهده (رتبه) ورپاندی سوه نو هغه په دغه پورته ذکر سوو وجوهاتو قبوله نه کړه او دغه بزرګه رتبه ئی ورده ته وسپارله ، حکه چه حقیقةً خوهم دی لائق او حقداره دی - مګر دده د نیت د فراخوالی او ادب پیژندنی دا حال وُ چه وئی فرمایل : چه کله چه زما حقیقی اکاګان (سید نا احمد عاصم ، او مسعود هاشم دام ظلهما) دژوند پر مینه موجود وی او په هرصورت قابل وی ، نو ددوی په موجود والی کښی مالره د دی منصب سانبالول د ادب څخه خلاف او نامناسبه کار دی . له همدی سببه ئی داسی

غټه رتیه دکومې چه هر سړی خواهشمندوی خالص
د شرم اود بزرګانو د ادب سا تلو په غرض قبوله نه کړه.
او و سید نا هاشم مسعود رضی الله تعالی عنه ته ئې
وسپارله، الله تعالیٰ دی دده سایه تر قیامته پورې
زمونږ د ټولو پرسرو باندې قائمه ولري - آمین.

نقیب زاده سیدنا احمد ظفر القادری الګیلانی

دام ظله العالی

بن سیدنا شیخ المشایخ محمود حسام الدین نقیب الاشراف
رضی الله تعالی عنه.

دې پاک خویه، او نیک خویه او نیک اخلاقه دغریبانو
او محتاجانو مل او سانتونکی، او د هر مسلمان خیال کونکی
دی، پردې سر بیره زړه سواندی، خدای تر سره
هوښیار او حق پیژندونکی دی. خاندان ګیلانیه
او قادریهٔ مشران په مهمو کارو کښې د دغه ټولو
څخه مشوره غواړی، حنوده پر فرمان باندې د آمین
نعرې او لبیک وائی او ده قدر او عزت کوی او ده
تعظیم پرځای کوی، ځکه چه نجیب الطرفین او کریم
الابوین دی د نقابت او تولیت په باره کښې په هر صورت
ترټولو زیات حقدار ده دی. د عراق د حکومت له طرفه

څخه د مرکز سیاسی نماینده او د جمهوریه عربیه اوسنی لوی قونصل تاکل سویدی ، د لوړی درجی منقی اویرهیز ګاډه دی.

نقیب زاده سیدنا عبدالرحمٰن المحض الګیلانی

الثانی دام ظله العالی

بن سیدنا شیخ المشائخ محمود حسام الدین

نقیب الاشراف رضی الله تعالیٰ عنه

ماشاء الله نوی ځوان اوپه مذهبی او سیاسی معاملو کښی پوره پوهه لری ، د مسلمانانو غم شریکه اوپه رشتیا خیر غوښتونکی دی. الله تعالیٰ دی دده سایه تر ابده قائمه او ثابته ولری.

نقیب زاده یوسف ضیاء الګیلانی دام ظله العالی

بن سیدنا شیخ المشائخ محمود حسام الدین نقیب الاشراف

په هرډول یوعزده شخصیت او د اسلام خیر خواه اوخیر غوښتونکی دی - د اسلام عاشق او دین رګانو پیر طریقه باندی قائم دی ، خدای تعالیٰ جل جلاله دی دده سایه تر ابده پوری اوبن ده کړی (یعنی عمر دی ډیر کړی.

نقیب زاده شیخ المشائخ پیر طاهر علاؤالدین
دَامَ ظلُّهُ العَالِیْ وَفُیُوضُهُ

ابن سید شیخ المشائخ سَیِّدُنَا محمود حسام الدین
نقیب الاشراف

په لومړنی ځل چه یوی نوی راغلی، یا بیګانه سړی کله دده د خوشحاله کونکی، دیدار څخه اثار حاصلوی نو هغه په ده کښی د محمدی اخلاقو ټوله صفتونه او د یوسفی بنایست ټوله خوشنمایانی پیدا کړی، نوخپل وجود، رتبه، جاه او عزت او اعتبار، غرض - دا چه هرڅه هیر کړی په ټوله وجود ده په ژړه وړونکی بنایښت کښی ورک او غرق سی، د ده د محبت ناکه خبرو او د غم او درد د پوښتنی ګرویبن نی څخه داسی معلومیږی چه واقعی د درد او غم غلط وُنکی او د نا امیدی د تاریکی پرځای د امید رڼا او شغلو بخښونکی او نوی ملګری راته پیدا سو.

چه په دی ډول چه کوم چانز هم د ده د ملاقات شرف حاصلیږی هغه د ده سره ګرځنده او عاشق پاتیږی.

د ده په غټو اخلاقو کښی یو خاص تاثیر دی چه هر

ملاقاتی د اخیال کوی چه دده فهم لرنی (فاملرنی)
او مهر یا نبانی د هغه سره بیخی په یی دی ، ددی څخه
ماسیوا هغه په اندرونی په ول په خپل باطن کښی یو
قلبی حلاوت او شیرینی محسوس وی. په دغه وجه
دده د طبیعت رغبت پخپله په یودوو ملاقاتو کښی
تزلنه و خبرو اترو وروسته د خدای تعالی جل جلاله
او رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مائل کیږی او
الهی محبت پیدا جوش راځی - کله چه هغه د حضور پاک مرید سی
د ملا څخه او د طریقه قادریه د وظیفو وطرفته راجع کیږی
غرض داچه ددې زیارت یا سعادت د غافلو زړونو لپاره
دیو چلاخی او غمچینی کار کوی.

دی نوی پورته سوی په پیښ بنایسته ځوان دی عمر
ئ څلویښت کاله ته نژدی دی ، د واده کولو په باره کښی
دلویو لویو رئیسانو او نوابانو او باچهانو د طرفه څخه
پیغامونه ورته رسیږی او راځی ، مگر پتولو ته د غه
جواب ورکوی چه کُلُّ اَمْرٍ مَرْهُوْنٌ بِاَوْقَاتِهَا - کله چه
د الله تبارک و تعالیٰ له طرفه څخه حکم وسی هغه وخت
به پیښ دی مسئله باندی غور او فکر کیږی.

پر دی سربیره متقی ، پرهیزگاره ، عبادت کونکی

شپږ ځانګړتیاوې نکی او د محمدی شریعت بیخی پابنده دی ، د
راستی خوښونکی دی ، د رشتیا ویلو او حلالو خوړلو
په ډیر تاکید سره ښوونه او فرمایل کوی. د ده د عمل
پر طرز او طریقه باندی هیڅ چا نه د اعتراض کولو موقع
او ځای نه دی پیدا سوی. د ده د تعلیم خلاصه او مغز
د الله تعالی معرفت (پیژندنه) او د محمدی شریعت
تابعداری ده - او د الهی ذات عشق او د حضرت محمد
رسول الله صلی الله علیه وسلم او د بزرګ نیکه حضور
پاک قدس سره العزیز محبت پیدا کوی.

دی د حاجتمندانو حاجت وړکونکی دی - او په السلام
علیکم ویلو کښی همیشه د ی شروع کوی او د رو غبړ
د پاره لاس اوږد وی - مګر لاس مچول فقط د کم سنی
له وجهی څخه نه خوښوی ، د تعظیم سجده او د اسی
نور بدعات کفر ګڼی او د دغسی کارونو کونکو نه د
زندیق په لفظ آوازکوی او د وعدی د پوره کولو خاص
خیال ساتی - وعده ماتونکی ډیر بد ګڼی - د مریدانو
او سائلانو د تکلیفونو او عرضونو ته خاصه توجه
لری د هر یوه د خط جواب او تکلیفونو حل او خلاصون
د ډاک په ذریعه ورته استوی. تعویذونه او وظیفی

هم لیکی او استوی د د ه د مریدانو حلقه او کړی د او س
څخه لاد ومره پراخه ده چه د هر ملک او هری طبقی او هر
حیثیت خلک په دی کښی شامل دی. د ی مبارک د طریقه
القادریه العظمی مجدّد (نوی کونکی) دی، څکه چه د
خپل بزرگ نیکه حضرت غوث الثقلین محبوب سبحانی
قطب ربانی شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز
پر قدم قدم باندی د اسلام د تبلیغ او اشاعت وخوانه
تر اندازی زیات توجه او فهم لرنه کوی. چه په دی
سلسله کښی ئی د دی کتاب څخه ما سبوایو څو کتابونه
نور لکه شجرهای قادریه محبوب سبحانی، تحفهٔ
الطاهریهٔ فی الاوراد القادریه ، "A Life Sketch"
او داسی نور شائع کړیدی او د زړو، زړو په حساب ئی مفت
تقسیم کړیدی - غرض داچه د طریقهٔ القادریهٔ العظمی البغدادیهٔ
او د خاندان گیلانیهٔ څلاند ه کونکی او بنایست زیاتو نکی
دی. لکه څرنگه چه د حکومتونو له طرفه څخه په نورو
ملکونو کښی سفیران کار کوی، همدغه ډول د حضرت
غوث الاعظم جیلانی قدس سره العزیز له طرفه څخه د
ټولو مخلوق لپاره دی پیر غټ سفیر دی. الله تعالی دی
تر ابده پورې د حضور مبارک سایه زمونږ پر سر وباندی

قائمه ولری. او دده خیرا و برکتونه دی همیشه وړانگی
توی ونکی وی، ده مبارک دکولمبو په بنار سیون کښی
دننه خپل اسلامی خدمت کړی او یوه یتیم خانه ئی خلاصه
کړیده دکومی چه به دی د دغی پورته ذکر سوی یتیم
خانی تر دوامه پوری صدر وی.

باید یاد هووی چه د غه پورته ذکر سوی شپین
سره صاحبان حقیقی ورور نه د مرحوم سید ناشیخ المشائخ
حضرت پیر محمود حسام الدین نقیب الاشراف والسادات
او متولی الاوقاف عن تمندزامن اود سید ناشیخ المشائخ
علی رضی الله تعالیٰ عنهما لمسیان نه وله پوره دیر پاک سیرته
او پاک صورته، نور و علی نور، و خلگو ته منظور او الله
تعالیٰ ته مقبول، د غوره او ښی هستی خاوندان دی. د
نقیب زاده مبارک لفظ د دوی د بزرگو نومانو سره گډ
اخیستل کیږی.

د دوی محترمه خور صاحبه د سید ناشیخ المشائخ
پیر ابراهیم سیف الدین القادری الگیلانی او سنی موجود
نقیب الاشراف دام ظله العالی بن سید ناحضرت مصطفیٰ
رضی الله تعالیٰ عنه پاکه زوجه ده د دی دلس څخه
سید ناصاحبزاده شمس الدین مد ظله العالی ماشآء الله

نوی حوان او لوړه هستی ده عاجزانه دعا ده چه:

الهی بخت شان بیدار بادا　　همیشه دین و دولت یار بادا

گل اقبال شان دائم شگفته　　بچشم حاسدان بس خار بادا

السید نقیب زاده محمد مجدالدین گیلانی دام ظله العالی

بن سیدنا شیخ المشائخ حضرت عبدالرحمن نقیب الاشراف رضی الله عنه

دیر زیات پاک خویه، نیک اصله، عبادت گذاره دمسلمانانو

خدمت گاره، غریب پالونکی دی.

سیدنا عبدالقادر بن سیدنا منصور گیلانی

ابن سید صفاء الدین دام ظله العالی

بیخی پاک خصلته، نیک سیرته، او صالح دی دمرشدنا

سید طاهر علاؤ الدین گیلانی دام ظله العالی خلیفه دی

همیشه په ذکر او فکر کښی او سیږی۔ د ده مبارک

مریدان په بغداد او ایران کښی ډیر دی.

سیدنا ناصر الدین بن سیدنا صفاء الدین ابن

سیدنا شیخ المشائخ عبدالرحمن نقیب الاشراف

دام ظله العالی

د ښه اثر خاوند لویه هستی ده د خیر او نیکی او اصلاح

وخوانته متوجه وی اودطریقه القادریه په تبلیغ اواشاعت کښی همیشه اماده او شوقمند وی .

سیدنا احمد گیلانی دام ظله العالی

ابن سید رشید بن عثمان

دی نیک خویه او نیک اخلاقه دی ، تقوی اوپرهیزگاری اوسخاوت دده داخلاقو بنکاره خصوصیت او واضح حقیقت دی.

آل ذکریا

سید محمد گیلانی بن سید عبدالله بن سید احمد

(آل ذکریا) رضی الله تعالی عنهم :-

دی پاک خصلته ، زاهد ، شب بیداره ، دخپل وخت صوفی ، دطریقه القادریه مبلغ (رسونکی) اودزهد اوورع ، دزهد او تقوی خاوند سویدی - اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ .

سید محی الدین بن سید عبدالرزاق بن سید خضر

الگیلانی (آل سید زکریا) دام ظله العالی

په خته پاک ، خدای پیسته ، سخی اوغریب پاله ، په ذکر

او فکر کښی بوخت، د خدای ج ته د سیدلی، د کشف او کرامات خاوند وو، د مسلمان پر ښی گټه کښی کوښښ کونکی وو.

آل مراد

سید مبدر بن سید کامل بن سید عبدالوهاب (آل مراد) دام ظله العالی

دی خضر صفته، تعلیم یافته د عراق د حکومت له طرفه څخه په لوړه رتبه باندی مقرر، په خدای پرسته، عبادت گذاره، غریب پاله، باندی مشهوره دی.

آل نمیس

سید محمد صالح الگیلانی دام ظله بن سید حامد بن سید محمد صالح بن خمیس بن سید مصطفیٰ

دی د نیکی ن هدا ی تقوی پر جذبه لرلو سره بیره سخی او غریب پاله هم دی.

سید عامر گیلانی دام ظله بن سید توفیق بن سید حامد بن سید محمد صالح بن آل خمیس رضی الله عنهم

نیک سیرته، د مسلمان قوم خدمتگاره، د شریعت پابنده، د اسلام سانتونکی د اسلام او مسلمانانو خیر غوښتونکی دی.

خبرتیا

د حضرت سید نا شیخ المشائخ غوث الاعظم دستگیر
د دربار عالیه کلید بردار (کلی وړونکی) او نوکر همدغه
ډول نور افراد (اشخاص) حُینی وختونه دهغه (قدس
سره العزیز) په خدمت کښی حاضرین ی او خپل خانونه
د خاندان گیلانیه بغداد یه د اولاد پاک افراد یلکه د حضور
شیخ المشائخ سید نا عبد الرزاق او عبد الوهاب صاحبانو
رضی الله تعالیٰ عنهما د اولاد څخه په ذریعه د تقریب او
تحریر بشکاره کړی بلکه د کسبونو چاپ سوی شجری پیش
او وړاندی کړی خدمتونه عنوانی او نذرانی اخلی
دغه رنگه د دغی خاندانی ثبوت لپاره خود ساخته
(د خانه جوړی کړی) د نسبونو شجری پیشوی۔ د دوی دغه
فعل (کار) پر دروغو باندی بناء دی او په حقیقت کښی لغو
(عبث) او بی فایدی دی۔ دغه خلک یوازی او فقط د دربار
پاک خادمان دی۔ او د خاندان گیلانیه سره د دوی هیڅ
واسطه (مطلب او تعلق) نسته۔

د دربار عالیه غوثیه ټول حقوق او ذمه داری د
حضور غوث الاعظم دستگیر رضی الله تعالیٰ عنه یوازی

د نیک زوی سید نا شیخ المشائخ مرحوم حضرت عبدالعزیز صاحب رضی الله تعالیٰ عنه د اولاد پاک په حق کښی محفوظی او ساتلی دی. او د دوی څخه نقیبان او متولیان پیښ ه پر پیښ ه او هدایت پر هدایت پس د غه معزز ه او بزرگه وظیفه باندی د قدمی زمانی څخه کامیابه او بر قرار ه راغلی دی.

په خاص ډول بیا څه وخت چه د حضرت سید نا عبدالرزاق صاحب رضی الله تعالیٰ عنه نارینه اولاد نه چه په بغداد کښی اوسیده په خدایی اراده سره ملک بقا (آخرت) ته رخصت سوه او یوازی د یوی پاک لمنی بی بی څخه ماسیونی بل هیڅوک ژوندی پاته نه سو. نو د پریښوول سوی جائیداد او شتمنی په اړوند دوخت د بادشاه فرمان (حکم) جاری سو چه د کوم چا سره د غه بی بی پخپله رضاء او خوښه او شوق سره نکاح وکړی. خاص هغه نقیب الاشراف او د دربار عزتیه د لویو او بزرگو مرتبو متولی (سرپرست) او د پریښوول سوی جائیداد حقدار ه کیږی او د د غه بی بی د نسل څخه چه کوم کوم فرزند اکبر پیدا سی د دی تر وفات ورو سته همد غه فرزند او ترده ورو سته هم په د غه شکل

سره پیړۍ پس پیړۍ او هدایت پس هدایت تر قیامته پورې پر دغه بزرګه وظیفه او جائیداد راځي او دوی ته ور نقل کیږي.

څرنګه چه دغې بې بې صاحبې د حضرت شیخ المشائخ سید نا السمود السماحة پیر علی القادري الګیلاني صاحب رضی الله تعالیٰ عنه سره نکاح وکړه او د دغې بې بې د نسل څخه شیخ المشائخ حضرت سید نا پیر عبد الرحمٰن صاحب رضی الله تعالیٰ عنه پیدا اسو.

ورو سته تر وفات د بزرګ پلار سید نا حضرت علی القادري رضی الله تعالیٰ عنه د پریښوول سوې جائیداد مالک اود نقیب والی او تولیت (سرپرستی) حقدار سو. کوم چه د خپلې خدای ښخښلې مور د نکاح په وجه په شاهي حکم سره حاصل سوې وو.

د غه رنګه د حضرت سید نا عبد الوهاب اولاد بالکل نسته او د عبد الرزاق رضی الله تعالیٰ عنه د پاک اولاد څخه هیڅ فرد اوس په بغداد شریف کښې او سید ونکی نسته.

د غسې خلګ خالص د نفسي طمعې او مال غوښتنې لپاره د دروغ ویلو څخه کار اخستو نکی ساده اوصاف دله معتقیدانو (عقیدتمندانو) ته د حضرت غوث الاعظم

دستگیر قدس سره راځی او ګرځی او چې وختونه خپلو
ځانونه د سجاده نشین او متولی او قاف او نقیب الاشراف
د دربار غونډیه بغدادیه برکتمند الفاظ د ځان لپاره
داستعمالولو څخه نه شرمیږی او پر اسانو سپارې په
لوی کلی او کوچنی کلی ښار په ښار بازار په بازار ګرځی
او نذرانې اخلی ۔

حال دا دی چه د نقیب الاشراف او سجاده نشینانو
او د دربار غونډیه د متولیانو مرتبه او شان او شوکت
او ظاهری حالات هم (باطنی خو هلته جلا کښیني ده)
د زمانې د باچهانو او د وخت د نورو باچهانو څخه کم نه دی. بلکه
عام خلګ د وخت د باچهانو څخه د ومره قدر نه بیریږی
لکه څومره چه د دغه خاندان ګیلانیه بغدادیه د
باعمله عالم او مشهور سید ګیلانی څخه بیریږی اودده
پرحکم باندی ځان او مال قربانول د دواړو جهانو
خلاصون ګڼی ۔

څرنګه چه د دغه کلید بردار (کیلی وړونکی) او
نوکر او داسی نور د دربار غونډیه په حالاتو او د عربي
مکالمو په رسم او رواج خبرین ی ۔ د دی سببه څخه
شکلونه او څیری د غریبانو په ډول جوړی کړی

اوهم خاص د غسی د ډول خبرې استعمالوی د محبانو او عقیدتمندانو څخه د غوث پاک په نامه په ناجائزه او ناروا توګه په رزق ګټلو پسې ګرځئ ـ د داسې خلګو سره هوښیار اوسیدل په کار دی.

همدارنګه یو انګریز لارنس نومی جاسوس په عربي جاموکښې پټ (د عربي جامو اغوستونکی) د پیرۍ د دعوه کوونکی جوړ سو د خپل مطلب حاصلولو اوجاسوسۍ لپاره ټ د پیرۍ او مریدۍ سلسله چلوله.

څرنګه چه اوس هم د هغه شاګردان د هغه پر نقش قدم باندې په منظم ډول کار کوونکی دی. نو د هغوی د حالاتو څخه باید خبر واوسی. ماسیوی د دې څخه د اسې خلګ هم د بغداد شریف په رنګه پر برکتمند و ځایونو پیدا کیږی.

کله چه د حضور پُرنور مرشدنا ومولانا وسیدنا شیخ المشائخ نقیب زاده پیرطاهر علاؤ الدین القادری الګیلانی ـ مدظله العالی روزانه (هرورځنی) ترقی او انکشاف اوپر مختګ وویني او وایئ وری د حسد او بغض په اورکښې پیچ او تاب سی (وسوځل سی) د غه طریقه اختیار او غوره کوی چه د حضور ممدوح په بغداد کښې

د نه موجودیت په وخت کښی په یو نا جائزه او ناروا طریقو
سره - د محبانو ، مریدانو او مستفسرانو (یو بشتو نو
کو ونکو) د حضور ممدوح ته راليږل سوی خطونه اخلی
او بیائی گوری او وایی ئی په غائبانه ډول سره د هغوی
جوابونه او خپل خانونه د حضور ممدوح جانشین یا فرزند
اکبر (نیک زوی) ښکاره کړی په مخلصانه ډول سره
تر دعا د رجاتو د ترقی ورو سته دعویضه لیکونکو
(خط لیکونکی) په نامه جوابونه ورلیږی - بلکه حضور
ممدوح دام ظله تعالیٰ د خولی په حکم نعوذ بالله وفات
کیدل ښکاره کړی خپل خان ته د حضور ممدوح د فرزند
اکبر وبیلو څخه پرهیز نه کوی (بلکه داسی وایی چه زه
د حضور ممدوح زوی یم) د پاره د دی چه ناخبره —
معتقدان (عقیدتمندان) د فریب او دوکی په دام کښی
راولی او اعتقاد او یقین ئی ورخراب کړی او ناروا نفع
او فایده خپلی واخلی - حضور ممدوح د هغه ځانښس
(اعلی حضرت، حضور) خان اعظم د قلات او سیدونکی
سردار احمد یار خان صاحب د نورنظر (لور) فرخنده
اختر سره واده کړی دی د ری زامن ئی په لاندی ډول
دی.

سید نا محمود محی الدین الگیلانی - د پیدایښت نیټه ئې ۱۴-۷-۱۹۶۸

سید نا عبدالقادر جمال الدین الگیلانی د پیدایښت نیټه ئې - ۴-۶-۱۹۶۹

سید نا محمد ضیاؤالدین الگیلانی د پیدایښت نیټه ئې - ۲۸-۵-۱۹۷۶

په همدغه مخکنۍ ترتیب سره په دوی کښې اول مشر اودوهم میانځوی او دریم کشر دی.

فلعنة الله علی الکٰذبین

دداسی هوصوله اورسیدلو خطوجواب هیڅکله ورکول په کار نه دی بلکه که چیرې ممکنه وی نو د حضور ممدوح په لوړه خدمت کښې دی د هغه داوسیدو پرځای هغه خطونه پټ په لفافه کښې بندکړی - ورته ودی لیږی.

:-وما علینا الا البلاغ :-

خلورم باب

دمدرسی او مسجدِ جامع

گیلانیه مختصر حال

حضور غوث پاک قدس سره العزیز او د هغه مدرسه

ابن تغری هروی په نجوم الزاهره کښی او ابن جوزی په منتظم کښی، حافظ ذهبی په تاریخ کبیر کښی او ابن رجب حنبلی په طبقات کښی، ابن کثیر په خپل تاریخ کښی او د ابن جوزی لمسی په مرآة الزمان کښی او محب الدین ابن نجار په تاریخ بغداد کښی او عبدالوهاب شعرانی په طبقات الکبری کښی او سمعانی په انساب کښی او شنطوفی په بهجة الاسرار کښی او تادفی په قلائد الجواهر کښی او شیخ یاسین خطیب العمری په غایة المرام تاریخ بغداد دارالسلام کښی او شمس الدین سامی په قاموس کښی - او بستانی په دائرة المعارف او موسوعة الاسلامیه کښی چه په فرانسیسی ژبه دی چه د هغه ترجمه استاد سید ناصر گیلانی رضی الله تعالی عنه کړیده، ما سیری ددی څخه نورو محققینو او د تاریخ پوهانو په اتفاق سره بیله شک او شبهی څخه بیان فرمائیلی دی چه سیدنا محبوب سبحانی، غوث صمدانی، شیخ الکل حضرت جناب عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز په سنه ۴۷۰ هجری

کښی پیدا سو۔ او د اتلسو (۱۸) کلونو په عمر کښی د
علم د حاصلولو د پاره بغداد شریف ته تشریف راوړی
دغه وخت د عباسیه د خاندان څخه المستنصر بالله خلیفه
وُ۔ د هغه قدس سره العزیز نسب د حضرت سیدنا
علی کرم الله تعالی وجهه ابن ابی طالب سره ګډ یږی۔
دا ئ هم ذکر کړ یدی چه هغه د شیخ العراق په لقب
سره مشهور وُ۔ با عمله عالم وُ۔ د علم او عمل دواړو
جامع وُ۔ فتوٰی ورکول، درس او تدریس وعظ او
نصیحت د هغه مشغله او کار وُ۔ په مشرق او مغرب
کښی د هغه شهرت وُ۔ په ۵۱۳ سنه هجری کښی هغه
(قدس سره العزیز) د باب الازج په مدرسه کښی
مدرس مقرر سو۔ چه د هغه استاد حضرت سید
مخزمی د تدریس د غه مرکز هغه (قدس سره العزیز)
ته و سپاری۔ هغه وعظ کاوی او ټولو خلګ ته ئ د
رشد او هدایت بلنه ورکوله۔ د اوریدونکو حاضرینو
د پاره والی څخه د مدرسی عمارت او آبادی تنګ او ناکافی
سوه نو هغه د بغداد د بنار د پناه سره په هغه مسافر
خانه کښی وعظ کول شروع کړی چه د هغی تعمیر (جوړیدل)
په ۵۲۸ سنه هجری کښی و سوه۔ د هغه په برکتمند ذات

د پیر مخلوق مرجع (د رانتلو او سیدو ځای) وُ. تر هغه وخته پورې چه په ۵۶۱ هجري کښې ئې دپاني دنیا څخه رحلت (کوچ) وکړ او د باب الازج (چه اوس د باب الشیخ په نامه سره مشهوره ده) په مدرسه کښې مدفون او وسپارل سو.

جامع مسجد گیلانیه

د ۵۱۱ هجرت واقعه ده چه کوم وخت عجمي پر بغداد باندې قبضه کړې وه او د حکومت د نه توجه او بې پروایي څخه د حضور قدس سره العزیز د مزار، قبې (گنبدې) مدرسې او د تکې (د آرام ځای) حالت ئې د پام خراب او د جوړیدو قابل گرځیدلی وو. څرنگه چه د ترکو والي شاه سلیمان پر عجمو باندې حمله وکړه. ملک ئې فتحه کړې او د بغداد پر ښار باندې قبضه کونکې سو. کله چه ئې د مسجد او خانقاه دغه حالت ولید نو یو لک (۱۰۰۰۰۰) دیناره ئې د دوی د سمیدو او جوړیدو لپاره ورکړه او حکم ئې وکړ چه د مسجد لوړه قُبّهٔ دې د عمارت په شکل کښې تعمیر او جوړه کړل سي او یو ځای دې د فقیرانو او مسکینانو د اوسیدو

لپاره هم جوړ سی لکه چه دده په حکم عمل وسو.

بیا دی څخه وروسته سلطان مراد ثالث په سنه ۹۸۴ هجری کښی د حضور غوث الاعظم گیلانی قدس سره العزیز د مسجد ترمیم او نوی والی وکړی او د انجنیر سنان باشا لاسونو د غه کار د تکمیل حد ته ورساوی. لوی مینار چه د مسجد د مشرقی دروازی سره نژدی دی - دده تعمیر په سنه ۹۰۴ هجری کښی وسو لیکلی دی - څښ نگه چه دده د تعمیر تاریخ پر یوه ډبره نقش سویدی چه هغه هم د مینار په دیوال کښی نصب او لگیدلی ده عبارت ئی په لاندی ډول دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لله اشکر غفرذ نوبه سعیٰ بهما فی عشرة محرم الحرام سنه ۹۰۴ ه

علاوه د دی څخه د محمد رضا خوشنویس د لاس لیکل سوی ډبره په دیوال کی نصب ده چه د هغی عبارت دادی.

«امر خاص الله تعالیٰ لره دی د د غه پاکیزه او مقدس عمارت د تعمیر د پاره سلطان غازی سلیمان خان په سنه ۹۴۱ هجری کښی حکم جاری

کړی او دده په حکم عمل وسو بیا په ۱۱۳۳ سنه ع
کښی سلطان غازی احمد خان بن سلطان
غازی محمد خان ددی تجدید (نوی والی)
وکړی ۔

په ۱۲۸۱ سنه هجری کښی د سلطان عبد العزیز په
زمانه کښی د طریقهٔ سجاده نشین (جانشین) سید
علی ابن سید سلیمان رضی الله تعالیٰ عنهم بیا د نوی
سره څخه دد غه مسجد تعمیر وکړی۔ چه په یولوړ
انداز په وجود کښی راغلی په ۱۳۱۸ سنه هجری کښی موجوده
تعمیر ترمیم اوجوړ والی حضرت سید عبدالرحمٰن نقیب الاشراف
رضی الله تعالیٰ عنه وکړی ۔ د غه مسجد په باب الشیخ کښی
واقع دی او شیخ المشائخ حضرت سیدنا عبد القادر جیلانی
قدس سره العزیز ته منسوب دی چه په تواریخو کښی
د باب الازج په نوم سره مرقوم او لیکلی دی۔

د غه علاقه د بغداد په مشرق کښی واقع ده د غه
مسجد د بغداد تر ټولو مسجدونو لوی دی پرین کافی او
پراخه دی ۔ په ۱۲۹۷ سنه هجری کښی سید سلیمان د مسجد
پر مغربی دروازه یو مینار جوړ کړی او سید عبدالرحمٰن
چه په ۱۳۴۵ سنه هجری کښی وفات سو د لمانځه د وختو نو

د پاره ئې د گهړۍ (ساعت) انتظام وکړی۔

د دغه مسجد یوه برخه د اسی ده چه هلته دیخ په وخت کښی لمونځ ادا کیږی په دیر تعداد لمونځ کوونکی په دغه مسجد کښی لمونځ ادا کولای سی ۔ په دغه مسجد کښی یوه قُبّه (گنبده ۔ گومبته) ستنه چه د هغی لویوالی او لوړوالی او کارگری چه وگوری لوی لوی انجینیران هم د حیرت (حیران تیا) په فکر کښی ډوبیږی ۔ په بغداد کښی هیڅ د غسی مسجد نسته چه په هغه کښی دی د غسی قسم قُبّه وی ۔ په سنه ۹۴۱ هجری کښی د سلطان سلیمان القانونی په حکم سره انجنیر سنان باشا دغه قُبّه جوړه کړی وه ۔ د دغه جامع مسجد په جنوبی طرف کښی قبرونه دی او د حضور غوث پاک قدس سره العزیز روضه مبارکه ده ۔ د مشرق په طرف کښی دوی غټی برنډی دی ۔ د مغرب او شمال طرف ته ئې دوی ډیری غټی د سنگ مرمر ستنی دی ۔ د مابین په صحن او میدان کښی د گرمی د موسم لپاره د لمانځه د ادا کولو ځای دی چه د مسجد د سطحی (د څمکی د لوړی حصی) څخه تقریبًا ½ ۱ قدم لوړ دی ۔ تردی منزله لاندی حصه د فقیرانو

او غربیانو داو سید وځای دی چه وقف دی. چه په
دغه ځای کښی فقیرانو او غربیانو ته د درگاه گیلانیه
د او قافو څخه پوهې هم ورکول کیږی - او په پورتنی
حصه کښی ئې د طالبانو او مدرسینو داو سید وځایونه
دی . د دغه مسجد دوۍ (۲) پیړی لوی دروازی - یوه
ئې د شمال په طرف او دوهمه ئې د دغې پر برابر مخامخ
د جنوب په طرف کښی او پر هره دروازه مناری دی.
او د میدان په منځ کښی لوړه گهړۍ (ساعت) نصب دئ
او په همدغه مسجد کښی دوی مدرسی دی - یوه
د حضرت شیخ سیدنا عبد القادر جیلانی قدس سره
العزیز او دوهمه د سید علی النقیب د لور بی بی عائشه
ده - د دغه دواړو مدرسی د اوقاف قادریه د متولیانو
او د نقیب الاشراف په کوښښونو سره آبادی او په طالبانو
سره ډکی او آبادی راروانی او راغلی دی .

سلطان مراد ثالث په ۹۸۳ نه هجری کښی د دغه
جامع مسجد ترمیم او درستی وکړه - د دی څخه علاوه
حنبلیه، شافعیه او مالکیه مسجدونه هم د دربار
پاک په احاطه (چاردیوالی) کښی د مسجد کبیر حنفیه
(د مسجد گیلانیه) ملحق (شامل او داخل) دی

دربار غوثیه او مزار مقدس

دربار غوثیه (شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز مزار مبارک) د بغداد العراق د بنار د مشرقی طرف د باب الطلسم (چه د عثمانی سلطنت ترختم کیدو وروسته ویران (خراب) سوی دی) په قرب او نژدیکی د غه عالیشان دربار واقع دی - دا هغه ځای دی چه هلته حضور غوث پاک قدس سره العزیز درس او تدریس کاوی او وعظ او نصیحت ئ کاوی، رشد او هدایت ئ فرمایی - او د مدرسی په نوم موسوم (نامداره) وئ - د حضور غوث پاک قدس سره العزیز د وصال (وفات) څخه وروسته هم دلته هدفون سو. نو د د غه سبب څخه د غه ځای د دربار غوثیه په نوم موسوم او نامداره را نقل سوی او راعلی دی - د غه عالی دربار تقریبًا په څلور ایکړه محکه کښی واقع دی - بلکه په د غه ځای کښی په دین د نورو عالیشانه شخصیتونو مزارونه، عمارتونه، مسجدونه لنگر خانی، کتابخانی، د استاذانو او طالبانو چه دینی علمونه په خپله او بل ته وایی حجری دی د غیرملکی

سیاحانو د نژدی او لیری ملکونو څخه د را تلونکو او زیارت کوونکو او مسافرینو لپاره علیحده او جلا د بلاکونو په شکل کښی درجی، حجری او بالاخانی او داو بود چښلو ځایونه مهمانخانی بلکه شاهی منزل گاوی او داسی نوری آبادی سته.

څرنگه چه د ضرورت موافق او مطابق په دغه نوو شعبو کښی هرکال په پیره ترقی کیږی او د دغه لحاظ او سببه څخه په مکانانو (داو سیدو په ځایونو) کښی هم زیادت او ترقی کیږی - د دربار غوښیه څلور طرفونه په لاندی ډول دی.

د شمال طرف ته ئی شارع عام (عام سړک یا لاره) د جنوب طرف ته ئی شارع گیلانی - د مشرق طرف ته ئی شارع - د مغرب خوا ته ئی شارع الکفاح - په دغه دربار کښی د حضور پاک قدس سره د پاک اولاد رضی، مزارونه او قبرونه دی. چه د دوی څخه د یوځای بزرگواشحاصو یادونه انشآء الله په دغه ضمن او ذیل کښی کوو. د دی څخه ما سیوی د عراق د سلطنت د پیرو باچهانو او وزیرانو قبرونه هم سته چه د هغوی تشریح او تفسیر ته چندانی ضرورت نشته.

په ۶۱۵ سنه هجری کښی خلیفه عباسی ناصرالدین
بالله د نوی سره څخه د قبر و تو او ژاویو (گوښو په پاخه
پول سره تعمیر و کړی ـ د دغه نوی تعمیر څخه
ورو سته په ۶۵۶ سنه هجری کښی د تاتاریانو لاسونو
(سبب او باعث) چه څه وخت د بغداد حکومت شکست
او مانی ورکړه ـ نو بر کتمنده روضه، بلکه مدرسه،
کتب خانه، مسجد بلکه ټول د بغداد ښار هم تباه
او خراب سو ـ د دی څخه ورو سته چه کله امن قائم سو.
نو بیا د دغه عالی دربار د ټولو شعبو تکمیل وسو
او سلسله په مخکنی دستور او قانون سره قائمه سوه
په ۹۱۴ سنه هجری کښی د شاه اسماعیل صفوی د افغانو
د سبیه څخه بیا هغه حالت جوړ سو او روضه مبارکه
کتابخانه، مدرسه مسجد و نه او داسی نور تباه او
خراب سول ـ پرد غه باندی د رحمت الهی دریاب بیا په
جوش او مستی کښی راغلی ـ نو په ۹۴۱ سنه هجری کښی
سلطان سلیمان عثمانی د عجمو د ظلم او تیری د منگولو
څخه بغداد آزاد کړی او ټول پاشل سوی، پراگنده ـ او
ویرول سوی خلگ ټ بیې ته راویلل د نوی سره څخه
ټ ښار آباد کړی ـ او اولاد پاک ټ هم بیې ته راوغوښتل

د دربار گیلانیه هری شعبی ته ئې د لومړی حل په شان د بر سرکار کیدو سر لوړی وروبخښنی او په مکمل ډول ئې جاری کړی. څرنګه چه په شلمه (۲۰) د رمضان المبارک ۹۴۱ سنه هجری کښی سلطان سلیمان عثمانی ممدوح په خپل خاص ذات سره سره د خپل فوجه او مفتی په دربار عالیه کښی په جامع مسجد کښی د دنه حاضر سو او د بغداد ټول علماء ئې راوغوښتل او د ما څیګرد لمانځه تر ادا کیدو وروسته سلطان الممدوح د نقابت الاشراف والسادات سند حضرت شیخ زین الدین کبیر رضی الله تعالیٰ عنه ته ورکړی چه په ترکی ژبه کښی وليکل سو چه د هغه ترجمه په لاندی ډول ده۔

د فخر السادات والکرام السید الشیخ زین الدین الګیلانی شرف السیادت صحیح النسب سادات۔

تر تائید او تصدیق ورسته۔

شیخ زین الدین ګیلانی رضی الله تعالیٰ عنه نه د نقابت الاشراف سند ورکوم او وصیت کوم چه شیخ زین الدین ګیلانی د بغداد د بنار نقیب الاشراف دی۔ او کوم شخص چه صحیح النسب سادات نه وی۔ او نه د هغه سره هیڅ

شاهی فرمان (حکم نامه) وی، هغه د قوم سردار
او نقیب نه ګڼل کیږی او نه به بلل کیږی دکوم
شخص سره چه د نقابت الاشراف سند وی ـ
خاص هغه به د شاهی وظیفی مستحق (حقدار
او لایُق) وی۔

د ستخط السلطان غازی سلیمان خان القانونی
د د غه عثمانی سند څخه وروسته د نقیب الاشراف
سلسله جاری سوه او دګیلانی خاندان شریفان سلسله
پرسلسله پرد غه منصب او عهده باندی بامراده او
کامیابه سوی راغلی دی۔ د هغه زمانی څخه تر نن
پوری بیله قطعه کیدو د غه د نقیب الاشرافی سلسله
جاری او قائمه ده او انشاء الله تر ابده پوری به
جاری وی ۔ په ۹۷۸ هجری کښی یادګړه سوی حضرت
زین الدین نقیب الاشراف خپله پتوله شتمنی اوجائیداد
د د ربار عالیه د مخکی ذکر سوو شعبو پر نامه وقف
کړی ۔ لکه څرنګه چه حضور غوث پاک قدس سره
العزیز او د ده اولاد پاک خاندان پرخاندان او قبیله
پر قبیله په وقف کولو کښی راغلی وه ۔ لکه چه په
پنځلسمه (۱۵) د رجب المرجب (د خدای تعالی) دمیاشتی

سنه ۹۷۸ هجری کښی د شیخ المشائخ زین الدین صاحب نقیب الاشراف والسادات رضی الله تعالیٰ عنه و قف[1] نامه د بغداد د قاضی شیخ عبدالله بن محمد امین د حکم څخه صحیح او محکمه سوه۔

لنډه داچه په سنه ۹۴۴ هجری کښی شیخ المشائخ زین الدین د گیلانی مکانات د عجمی حادثې (واقعی اوقصی) څخه متأثره سوی تباه اوخراب سوی وه ۔ د روضی مبارکی پر شاوخوا د سپینو زرو جالی راگرځیدلی او نصب ده چه د هغی د تار پنډه والی تقریبًا ۳/۴ انچ دی او د دغه جالی اوږدوالی ۔ ۸ × ۵ × ۵ ۔ فټه دی ۔ پر دغه باندی په عربي ژبه د تعمیر تاریخ دیوه شعره په شکل کښی لیکلی سوی دی ۔ چه د دغه څخه معلومیږی چه په سنه ۱۲۳۶ هجری کښی جالی تعمیر کړل سوه ۔ د دغه قبی په منځ کښی ایة الکرسی شریفه لیکل سویده او پر دغه قبه سربیره سنه ۱۱۶۹ هجری لیکلی ده یعنی چه په سنه ۱۱۶۹ هـ کښی ذکر سوی قبه ترمیم کړه سوه۔

په سنه ۱۲۱۸ هجری کښی د سلطان عبدالعزیزخان په وخت کښی حضرت شیخ المشائخ علی النقیب بن سیدنا

---

[1] هغه قبالی یا سند تر وقف نامه وایي چه د وقف د مال په بابت کښی لیکل شوی وی ۱۲ مترجم عفی عنه

سلیمان النقیب رضی اللہ تعالیٰ عنہما دنوی سرہ څخه دد غه قبی تعمیر وکړی - چه په ډیره غوره او ښه طریقه سره ئې تعمیں سویدی۔

په قبه کښی دننه پر ډبره باندی د غه عبارت لیکل سویدی۔

"و فی ظل امیر المؤمنین وخلیفه سید المرسلین سلطان البرین و فاقان البحرین خادم الحرمین شریفین سلطان عبد الحمید خان ثانی ابن سلطان عبد المجید خان"

د دی څخه ورو سته د قبی ترمیم په س۱۳۱۸نه هجری کښی وسو چه په د غه وخت کښی د دربار عالیه قادریه سجاده نشین صاحب السمو والسماحه سیدنا شیخ المشائخ حضرت عبد الرحمٰن قادری الگیلانی نقیب الاشراف والسادات رضی اللہ تعالیٰ عنه وُو۔

لکه چه د مزار پر دروازه باندی د منشی (لیکونکی) محمد رضاء خوشنویس په قلم سره د غه عبارت لیکلی دی:

چه د غه قبر د محمد محی الدین السید الشیخ
حضرت عبد القادر جیلانی رضی اللہ تعالی
عنه ابن ابی صالح (رض) بن عبد اللہ الجیلی (رض)

بن یحییٰ زاهد (رض) بن محمد (رض) بن داؤد (رض)
بن موسیٰ (رض) بن عبد الله (رض) بن موسیٰ الجون رض
بن عبد الله المحض (رض) بن حسن مثنیٰ (رض) بن
سیدنا امام حسن (رض) بن امام الامام حضرت
علی کرم الله وجهه بن ابی طالب - دی ÷

د دی څخه ما سیوړی بی شماره مزارونه او قبرونه
سته چه د هغوی څخه د بیوځو بن ګواشحا صو یادونه
چه د خاندان ګیلانیه د نقیبانو او نترخدای (ج) پوری
درسیدلو، نیکو او پرهیزګارانو او دا اولاد څخه د حضرت
غوث الاعظم قدس سره العزیز سره مدفون (پټ) دی
ضروری می وګڼل چه د تحریر (لیکلو) په میدان او
ډګر کښی ورپاندی کوم بنایی چه الله تعالیٰ دی د هغوی
د برکتونو او دعاؤ څخه د غه ګنهګاره بنده ته هم د
رحمت په همسایه توب کښی ځای ورکړی.

(۱) روضه د سیدنا شیخ المشائخ حضرت عبد الجبار
رضی الله تعالیٰ عنه بن السید الشیخ عبد القادر جیلانی
قدس سره العزیز د جنوبی دروازی څخه چه وړاخلینی
په راسته خوا کښی واقع ده - پر د غه قبر باندی یو
غټه شین رنګه قبه تعمیر سویده عمارت ټ ژوړدی

مناره د قدیم او پخوانی دیوال سره پیوسته ده - او
پر مرقد (قبر) باندی یو چوبی صندوق (د لرګو
صندوق موجود دی.

(۲) د مسجد حنفیه هغه برخه چه په هغی کښی دیخ
په وخت کښی لمونځ کول کیږی ی - د دغی حصی - او د
راه رو (دهلیز) په مابین کښی یو دیوال حد فاصل
جلا کوونکی دی - په دغه دیوال کښی یوه حجره ده.
په دغه حجره کښی د ننه د خدای بخښلی حضرت
سیدنا شیخ المشائخ علی النقیب رضی الله تعالیٰ عنه
قبر دی. چه پر دغه سر بیړه ئ د لرګو صندوق اینبی
د ی او شین پوښ پر اوارد ی - پر دروازه باندی عربی
عبارت لیکلی دی چه د هغه ترجمه د اد ه.

چه د غه قبر د هغه خدای بخښلی دی چه
د قیامت د ویری او خطری څخه د سیدنا محمد
مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم لمن نیوونکی دئ
د غه قبر د هغه خدای بخښلی دی کوم چه تول
عمر ئ د خپل نیکه حضرت غوث الاعظم قدس
سره العزیز د روزی او مزار په تعمیر او آبادی
کښی ئ کوښښ کاوی او خدمت ئ کاوی. یعنی

د سجاده اعلی سید علی القادری نقیب الاشراف
بغداد ابن سید سلیمان القادری سجادهٔ قادریه
نقیب الاشراف غفرله قبر دی چه دشنبی په
ورځ په څلورویشتمه (۲۴) د رجب د میاشتی
سنه ۱۲۸۹ هجری کښی وفات سو.

(۳) مرقد (قبر) د سید سلیمان آفندی نقیب
ابن سید علی آفندی نقیب الاشراف دی - د مسجد گیلانیه
د مشرقی دروازی سره متصل پیوسته یوه غرفه ده.
چه د دربار عالیه د مشرقی دروازی ورننوتونکو په
راسته طرف کښی واقع ده.

پرد غه قبر باندی هم یوصندوق سته پر د غه
باندی هم شین رنگه څادر هوار سویدی چه په یوولسمه
(۱۱) د ذالحجه د دوشنبی په ورځ په سنه ۱۳۱۵ هجری
کښی وفات سو.

(۴) په همد غه غرفه کښی د هغه (سید سلیمان آفندی
نقیب) د نوی سید مصطفیٰ گیلانی چه په سنه ۱۳۱۴ هجری
کښی وفات سو قبر دی.

(۵) مرقد (قبر) د سید عبدالرحمٰن آفندی القادری
نقیب الاشراف ابن سید علی آفندی نقیب الاشراف دی.

هغه کوچنی د هلیز په وله برنده چه فاصله او جلاکونکی
ده - د حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره
العزیز د قبر د قبلی اولوی د هلیز په مابین کښی د
هغه کوچنی د هلیز په چپه طرف کښی چه عرفه ده
په دی کښی قبر واقع دی د حنابله ؤ د مسجد سره
متصل او پیوسته پر قبر سر بیره د لرگو صندوق
دی او پر د غه قبر سر بیره د شنو وریښمو پوښ
غوړول سوی او هوار سویدی - د ذالحجه په
میاشت کښی د دوشنبی په ورځ سنه ۱۳۴۵ هجری
کښی هغه (سید عبدالرحمن آفندی القادری
نقیب الاشراف) وفات سو -

(۶) قبر د سید محمود حسام الدین گیلانی نقیب
الاشراف ابن سید عبدالرحمن نقیب الاشراف په
یو حجره کښی د سید سلیمان رضی الله تعالیٰ عنه د
قبر سره نژدی راسته طرف ته دده (سید محمود
حسام الدین) قبر دی -

پر قبر باندی د سنگ مرمر یوه تکړه نصب اوولاړه
ده چه پر هغی باندی په عربی لیکل سویدی چه د
هغه ترجمه په لاندی ډول ده -

د عنه قبر د خدای بخښلی سید حسام الدین
نقیب الاشراف ابن مرحوم سید عبد الرحمٰن
نقیب الاشراف دی - چه په سنه ۱۳۰۱ هجری کښی
وفات سو.

⑦ قبر د خدای بخښلی سید احمد عاصم گیلانی نقیب الاشراف ابن سید عبد الرحمن نقیب الاشراف مرحوم د حجری پر دروازه ټ په عربی لیکلی دی چه د هغه ترجمه داده.

د عنه د خدای بخښلی سید عاصم گیلانی
نقیب الاشراف قبر دی چه په سنه ۱۳۷۲ هجری
کښی وفات سو.

⑧ د سید محمد حامد گیلانی قبر دی چه په سنه ۱۳۳۹ هجری کښی وفات سو -

د دی څخه ما سیوی نوری ډیری گوښی هدیری او قبرونه سته چه د نه څاښد ولو په وجه د تحریر (لیکلو) په چوکاټ کښی نه دی راوړل سوی.

د سَیِّدِنَا عَبْدُ الرَّحْمٰن مَکْتَبَهٔ قَادِرِیَّه

دغه مکتبه (کتابخانه) په حقیقت کښی د مرحوم

او مغفور (خدای بخښلی) السید نا شیخ المشائخ صاحب السمو
والسماجة حضرت پیر عبد الرحمٰن صاحب رضی الله تعالیٰ
عنه نقیب الاشراف والسادات کتابخانه ده، د آنحضرت رضی
الله تعالیٰ عنه د وفات څخه وروسته د ده اولاد پاک و
عن بنته چه د عنه کتابخانه و پلورې (خرڅه ئې کړې)
مګر خدای بخښلی سید نا شیخ المشائخ قدوة السالکین
زبدة العارفین نقیب الاشراف والسادات حضرت محمود
حسام الدین رضی الله تعالیٰ عنه دد عنه تجویز او فیصلی
سخت مخالفت وکړې او حقدار انو ته ئې د حصو او برخو
رسید و برابر قیمت ورکړې - کتابخانه ئې په خپل
اختیار او تصرف کښې واخیسته د خپل ځان او د خپل
اولاد پاک په او قافو کښې ئې شامله او ګډه کړه انحضرت
رضی الله تعالیٰ عنه په سنه ۱۳۰۰ هجرې کښې وفات وکړې
څرنګه چه قانوناً او روا جاً تر قیامته پورې یوازې
د خدای بخښلی حضرت محمود حسام الدین رضی الله تعم
عنه هدایت یافته اولاد ته پیړۍ پر پیړۍ د نقیب
الاشراف او متولی الاوقاف کیدو حق حاصل دی - د دی
سببه څخه د هغه مشر زوی - سید نا شیخ المشائخ
حضرت جمال الدین صاحب ته د عنه وظیفې پیښاور وړاندې

سوی۔ مګر په دی وجه چه دی (جمال الدین) د ډیره وخته څخه په بمبئ کښی اوسیدی او د سپین ږیرو والی په وجه ئ د ستر ګو دید هم کمزوری سوی وو د دغه سببه څخه ئ دد غه وظیفی او ذمه داری اجرا کول او سرته رسول او د دی ځای هسته ګنه پریښول او بیرته بغداد شریف ته نقل کیدل ئ برابر او مناسب ونه ګڼل.

لکه څرنګه چه څو واړه د اخبره مخکی ذکر سویده د دی سببه څخه ده (جمال الدین صاحب) د خپل ټولې منقوله او غیر منقوله جائیداد چه په بغداد شریف کښی ئ درلودی د ساتنی او ذمه داری لپاره خپل وکیل مطلق یعنی مختار عام وټاکی.

چه د هغه نوم مبارک پیر ابراهیم سیف الدین صاحب دی چه په توګه او حیثیت د مختار عام نه د جمال الدین صاحب د هر ډول جائیداد په اړه د هر ډول اختیار مالک دی.

مخکی د دی څخه په د غه قادریه عوثیه دربار کښی یوه قادریه کتابخانه قائمه وه چه په د غه کښی ټول چاپ سوی کتابونه موجود دی۔ کوم چه د فقه، تفسیر او نحو سره اړه او تعلق لری د هغوی تعداد یو سل اوپنځوس (۱۵۰)

ته قریب دی. پیر ابراهیم سیف الدین صاحب د متولیانو قریب او چمو او غوږو خبرو دی کار ته تیار کړی چه ذکر سوی مکتبه په کتابخانه قادریه کښی د دی لپاره چه دیولوی لائبریری (کتابتون - دار المطالعی) په صورت کښی جوړه سی او عامه فایده رسوونکی ثابته سی.

لکه چه همد غسی وسوه چه د مدرسی یخوانی کتب خانه قادریه، او د خدای بخښلی سیدنا عبد الرحمٰن صاحب مکتبه چه په ملکیت کښی د خدای بخښلی سیدنا شیخ المشائخ حضرت پیر محمود حسام الدین صاحب نقیب الاشراف وه سره گډ او یوځای ئی کړی لائبریری (کتابتون) ئی قائمه کړه - د سید عبد الرحمٰن صاحب په مکتبه کښی د پنځه زره (۵۰۰۰) څخه زیات کتابونه موجود وه چه د هغوی څخه تقریبًا دری زره (۳۰۰۰) یخوانی او قلمی وه - شپږ سوه (۶۵۰) او پنځوس د قرآن مجید قلمی نسخی د هیر ونبو خطاطانو د لاس لیکل سوی ساده نقشی او بنه بنایسته په مکتبه کښی موجودی وی په هغوی کښی یو قرآن مجید سته چه د نن څخه شپږ نیم سوه (۶۵۰) کاله مخکی لیکلی سوی دی.

د دغه لائبریری (کتابتون) څخه هیر قیمتی او نایابه

کتابونه پیر ابراهیم صاحب چه پوره اختیار ئی درلودی
بیله ضرورته او بی ځایه د مطالعه کولو (کتلو) په بهانه
او شکل کښی متولیانو او نورو خواهشمندانو ته ورتقسیم
کړه کوم چه په بیړته اخستلو سره تش ننه پوری هغه
کتابونه لا ټبریری (کتابتون)ته نه دی داخل سوی - او په
اُردوش به کښی مشهور متل دی چه "پیشی ولاړه - او
موږک ناچ او رقص کوی"

خدای بخښلی سیدنا حضرت شیخ المشائخ پیر
محمود حسام الدین نقیب الاشراف رضی الله تعالی عنه
چه په پوره محنت او تکلیف سره دکوټی مکتبی تکمیل کړی
وو هغه خرابه او بی ځایه تصرف پکښی سویدی.

اوس بیا دنوی سره څخه دده د اولاد پاک خصوصًا
د مرشدنا سیدنا پیر طاهر علاؤ الدین گیلانی دام
ظله العالی مبارک خیال دادی چه د غه مکتبی ته
انشآءالله العزیز په مخکنی ډول سره تکمیل آبادی
اورو بښنائ ورکړی.

پنجم باب

قلبی الہامونہ

او

معنوی کشفونہ

قلبی الهاموند او معنوی کشفونه ناسوتی او ملکوتی او جبروتی حقیقتونه غوثیه او معراجیه تذکره (یادونه)

بسم الله الرحمن الرحیم ط

◉ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ کَاشِفِ الْغُمَّةِ وَالصَّلٰوةُ عَلٰی خَیْرِ الْبَرِیَّةِ

هر حمد د هغه الله تعالیٰ لپاره دی چه د تار یکیولیری کونکی او بی شماره درود او سلام دی وی پر هغه چا چه تر ټولو مخلوق بهتره او غوره دی .

◉ قَالَ الْغَوْثُ الْاَعْظَمُ الْمُسْتَوْحَشُ عَنْ غَیْرِ اللّٰهِ وَالْمُسْتَاْنِسُ بِاللّٰهِ

هغه غوث الاعظم چه د غیر الله څخه بیگانه او د الله ج سره الفتی او مینه لرونکی دی فرمایلی دی :

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ قُلْتُ یَا رَبِّ الْغَوْثِ قَالَ کُلِّ طُوْرٍ بَیْنَ النَّاسُوْتِ الْمَلَکُوْتِ فَهُوَ شَرِیْعَةٌ وَکُلِّ طُوْرٍ بَیْنَ الْمَلَکُوْتِ وَالْجَبَرُوْتِ فَهُوَ طَرِیْقَةٌ وَّ کُلِّ طُوْرٍ بَیْنَ الْجَبَرُوْتِ وَاللَّاهُوْتِ فَهُوَ حَقِیْقَةٌ

ترجمه :- چه الله تبارک و تعالیٰ و فرمایل چه ای غوثه

الاعظم ! ما عرض وکړی چه ای د غوث ربه - الله (ج) و فرمایل ټوله هغه حالات چه د عالم اجسام او عالم ارواح په منځ کښی دی هغه شریعت دی او ټوله هغه حالات چه د عالم ارواح او د صفاتو د مرتبی په منځ کښی واقع دی هغه طریقت دی او ټوله هغه حالات چه د صفاتو د مرتبی او د فنا فی الله په منځ کښی دی هغه حقیقت دی .

---

(۵) ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ مَا ظَهَرَتْ فِیْ شَیْءٍ کَظُهُوْرِیْ فِی الْاِنْسَانِ .

ترجمه :- بیا ئی ما ته وفرمایل چه نه په هیڅ شی کښی هغه قدر نه یم ظاهر سوی لکه ظهور زما په انسان کښی

---

(۵) ثُمَّ سَاَلْتُ یَا رَبِّ، هَلْ لَکَ مَکَانٌ، قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَنَا مُکَوِّنُ الْمَکَانِ وَ لَیْسَ لِیْ مَکَانٌ

ترجمه :- بیا ما پوښتنه وکړه چه ای ربه! ایا تاله مکان (ځای سته ، ده جل جلاله و فرمایل چه ای غوث الاعظمه زه د ټولو مکانونو (ځایونو) پیدا کونکی یم مګر زما لپاره هیڅ مکان او ځای نسته .

---

(۵) ثُمَّ سَاَلْتُ یَا رَبِّ هَلْ لَّکَ اَکْلٌ وَّ شُرْبٌ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَکْلُ الْفَقِیْرِ وَ شُرْبُهٗ اَکْلِیْ وَ شُرْبِیْ .

ترجمه :- بیا ما پوښتنه وکړه چه ای ربه! ایا تاله

خورک او چښنګ سته ؟ ده جل جلاله ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه ! د فقیر خورک اوچښنګ زما خورک او چښنګ دی .

○ ثُمَّ سَأَلْتُ يَارَبِّ مِنْ اَيِّ شَيْءٍ خَلَقْتَ الْمَلَائِكَةَ قَالَ لِيْ يَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ خَلَقْتُ الْمَلَائِكَةَ مِنْ نُّوْرِ الْاِنْسَانِ وَخَلَقْتُ الْاِنْسَانَ مِنْ نُّوْرِيْ .

ترجمه :- بیا ما پوښتنه وکړه چه ای ربه ! تاملائکی دکوم شی څخه جوړ ی کړی (پیدا کړی) دی ؟ ده جل شانه ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه ما ملائکه د انسان د نور څخه پیدا کړی دی او انسان می د خپل نور څخه پیدا کړی دی .

○ ثُمَّ قَالَ لِيْ يَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ جَعَلْتُ الْاِنْسَانَ مَطِيَّتِيْ وَجَعَلْتُ سَائِرَ الْاَكْوَانَ مُطِيَّةً لَّهُ .

ترجمه :- بیا ئی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه ! ما انسان د خپلی خوښی د پاره ګرځولی دی او ټوله مخلوق می د ده د خوښی د پاره ګرځولی دی .

○ ثُمَّ قَالَ لِيْ يَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ نِعْمَ الطَّالِبُ اَنَا وَنِعْمَ الْمَطْلُوْبُ الْاِنْسَانُ وَنِعْمَ التَّرْكِيْبُ الْاِنْسَانُ وَنِعْمَ الْمَرْكُوْبُ لَهُ الْاَكْوَانُ .

ترجمه :- بیائ ماته و فرمایل چه ای غوث الاعظمه! تن
ټولو ښه طالب زه یم او تن ټولو ښه مطلوب انسان دی. او
ډیر ښه سپیړ انسان دی او ډیره ښه سورلی دده لپاره
ټول مخلوقات دی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَلْاِنْسَانُ سِرِّیْ وَ اَنَا
سِرُّهٗ لَوْ عَرَفَ الْاِنْسَانُ مِنْ لَدُنْهُ عِنْدِیْ لَقَالَ فِیْ کُلِّ
نَفْسٍ مِنَ الْاَنْفَاسِ لِمَنِ الْمُلْکُ الْیَوْمَ ۔

ترجمه :- بیائ ماته و فرمایل چه ای غوث الاعظمه!
انسان زما راز دی که چیرې انسان په خپله هغه درجه
پوه سې کومه چه زما په وړاندې ده نو پخپله هره
ساه کښې دساوو به ئ دا ویلای چه نن پاچهی دچا ده.

○ ثُمَّ قَالِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ مَا اَکَلَ الْاِنْسَانُ شَیْئًا
وَ مَا شَرِبَ وَ مَا قَامَ وَ مَا قَعَدَ وَ مَا نَطَقَ وَ مَا صَمَتَ
وَ مَا فَعَلَ فَعَلَ فِعْلًا وَ مَا تَوَجَّهَ لِشَیْءٍ وَ مَا غَابَ
عَنْ شَیْءٍ اِلَّا وَ اَنَا فِیْهِ سَاکِنُهٗ وَ مُتَحَرِّکُهٗ ۔

ترجمه :- بیائ ماته و فرمایل چه ای غوث الاعظمه!
انسان نه کوم شی خوړلی دی، او نه ئ چښلی دی، او نه
دریدلی دی او نه چوپ سویدی او نه ئ کوم کار دکارو
کړی دی، او نه وکوم شی ته متوجه سویدی او نه د

کوم شی څخه غائب سویدی، مګر داسی چه نه په هغه کښی دده ساکن یم اود ده متحرک یم.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ جِسْمُ الْاِنْسَانِ وَ نَفْسُهُ وَ قَلْبُهُ وَ رُوْحُهُ سَمْعُهُ وَ بَصَرُهُ وَ یَدُهُ وَ رِجْلُهُ وَ لِسَانُهُ وَ کُلُّ ذَالِكَ طَهَرَتْ لَهُ نَفْسٌ بِنَفْسٍ لَا هُوَ اِلَّا اَنَا وَ لَا اَنَا غَیْرُهُ.

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! بدن د انسان او نفس د انسان اونه په دده اوروح دده او غوږونه دده او سترګی دده او لاس دده او پښه دده او ژبه دده او ټوله هغه چه بنکاره سوی دی ده لره پښت پر پښت، هغه نه دی له ما څخه غیر او نه زه د هغه څخه غیر یم.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اِذَا رَاَیْتَ الْمُحْتَرِقَ بِنَارِ الْفَقْرِ وَ الْمُنْکَسِرَ بِکَثْرَةِ الْفَاقَةِ فَتَقَرَّبْ اِلَیْهِ لِاَنَّهُ لَا حِجَابَ بَیْنِیْ وَ بَیْنَهُ.

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! کله چه ته یو څوک د مسکنی په اور سوځلی او د پیری لونډی څخه مات او شکسته وویني نو نژدی سه وده ته ځکه چه هیڅ پرده زما او دده ترمنځ نسته.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ لَا تَاْکُلْ طَعَامًا وَ لَا تَشْرَبْ شَرَابًا وَلَا تَنَمْ نَوْمَةً اِلَّا عِنْدَ قَلْبٍ حَاضِرٍ وَ عَیْنٍ نَاظِرٍ.

ترجمه:- بیا ئ ماته و فرمایل چه ای غوث الاعظمه! مه خوراک کوه او مه او به چینه او مه بیدیږه مگر په داسی وخت کښی چه زړه دی حاضر وی او سترګی دی کتو نکی وی یعنی کله چه دغه مرتبه حاصله سی نو بس ده او که نه وی نو نه ده.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ مَنْ حُرِمَ عَنْ سَفَرِیْ فِی الْبَاطِنِ اُبْتُلِیَ بِسَفَرِ الظَّاهِرِ وَ لَمْ یَنْدِدْ مِنِّیْ اِلَّا بُعْدًا فِیْ سَفَرِ الظَّاهِرِ

ترجمه:- بیا ئ ماته و فرمایل چه ای غوث الاعظمه! کوم څوک چه محروم او بی نصیبه سی زما د سفر څخه په باطن کښی مبتلی او اخته به کړه سی په ظاهری سره او دی به زیات نه کړی زما څخه مگر لیری والی په سفر ظاهری کښی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَلْاِتِّحَادُ حَالٌ لَا یُعَبَّرُ بِلِسَانِ الْمَقَالِ فَمَنْ اٰمَنَ بِهٖ قَبْلَ وُجُوْدِ الْحَالِ فَقَدْ کَفَرَ وَمَنْ اَرَادَ الْعِبَادَةَ بَعْدَ الْوُصُوْلِ فَقَدْ اَشْرَکَ بِاللّٰهِ الْعَظِیْمِ

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! اتحاد (یوشی والی) داسی یوحال دی چه دخبر وپه ژبه ئی تعبیر او بیان کیدای نه سی، نوکوم چا چه دغه حال تر پیدا کیدلو د مخه ومنی بس هغه کافر سو او کوم چا چه تر وصول (یعنی حال ته ورسیدلو) وروسته دعبادت اراده وکړه نوهغه په الله تعالی سره شرک وکړ.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ مَنْ سَعِدَ بِالسَّعَادَةِ الْاَزَلِیَّةِ طُوْبٰی لَهٗ لَمْ یَکُنْ مَخْذُوْلًا اَبَدًا وَمَنْ شَقِیَ بِالشَّقَاوَةِ الْاَزَلِیَّةِ فَوَیْلٌ لَّهٗ لَمْ یَکُنْ مَقْبُوْلًا بَعْدَ ذَالِكَ قَطُّ.

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! کوم څوک چه په ازلی نیکبختی سره نیکبخته وی هغه لره خوشحالی ده او هغه هیڅکله نه ګمراه کیږی او کوم څوک چه په ازلی بدبختی سره بدبخت وی نو افسوس دی ده لره تردی وروسته بیا هیڅکله دی نه قبلیږی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ جَعَلْتُ الْفَقْرَ وَ الْفَاقَةَ مَطِیَّةَ الْاِنْسَانِ فَمَنْ رَکِبَهَا فَقَدْ بَلَغَ الْمَنْزِلَ قَبْلَ اَنْ یَقْطَعَ الْمَفَاوِزَ وَالْبَوَادِیْ.

ترجمه:- بیائی وماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه!
ما مسکینی اولونه د انسان لپاره سوړلی (سپارلی)
ګرځولی ده پس کوم څوک چه پدی سوړلی (سپارلی)
سپود سو نوهغه د بیا بانې او د ښتو تر پر یکولو مخکی
لاو خپل منزل او مقصود ته ور سیدی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ لَوْ عَلِمَ الْاِنْسَانُ مَا
کَانَ بَعْدَ الْمَوْتِ مَا تَمَنّٰی الْحَیَاتَ فِی الدُّنْیَا وَیَقُوْلُ بَیْنَ
یَدَیْ کُلِّ لَحْظَةٍ وَّ لَمْحَةٍ یَا رَبِّ اَمِتْنِیْ۔

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه!
که چیری انسان پوهیدای چه هغه څه چه تر مرګ
وروسته دی- نوهغه به په دنیا کښی دژوند
خواهش نه وای کړی او په هره لحظه او په هره
لمحه کښی به ئې زما په حضور کښی داسی ویلای
چه ای ربه ما مړ کړی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ حُجَّةُ الْخَلَائِقِ عِنْدِیْ
یَوْمَ الْقِیَامَةِ الصُّمُّ الْبُکْمُ الْعُمْیُ ثُمَّ التَّحَسُّرُ
وَالْبُکَاءُ وَفِیْ قَبْرٍ کَذَالِکَ۔

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه!
د قیامت په ورځ د مخلوق دلیل به زما په وړاندی، کوڼ

کونګ، ږ و ند، و ی او بیا به افسوس او ژړا وی او په قبر کښی به هم د غسی وی۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَلْمُحَبَّةُ بَیْنِیْ وَبَیْنَ الْمُحِبِّ وَالْمَحْبُوْبِ فَاِذَا فُنِیَ الْمُحِبُّ عَنْ مَحَبَّتِهٖ وَصَلَ بِالْمَحْبُوْبِ۔

ترجمه:۔ بیا ئ ما ته و فرمایل چه ای غوث الاعظمه! محبت زما او د محب او د محبوب په ما بین کښی (ذریعه) ده کله چه محب د محبت څخه فانی سی نو محبوب ته وصل کیږی۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ رَاَیْتُ الْاَرْوَاحَ یَتَرَبَّصُوْنَ فِیْ قَوَالِبِهِمْ بَعْدَ قَوْلِهٖ اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ

ترجمه:۔ بیا ئ ما ته و فرمایل چه ای غوث الاعظمه! ما اروحان و لیدل چه انتظار کوی تر قیامته پوری په خپلو قالبو او خایو کښی ورو سته تر دی قول دده چه اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ۔

○ ثُمَّ قَالَ الْغَوْثُ الْاَعْظَمُ رَاَیْتُ الرَّبَّ تَعَالٰی وَقَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ مَنْ سَاَلَنِیْ عَنِ الرُّؤْیَةِ بَعْدَ الْعِلْمِ فَهُوَ مَحْجُوْبٌ بِعِلْمِ الرُّؤْیَةِ فَمَنْ ظَنَّ اَنَّ الرُّؤْیَةَ غَیْرَ الْعِلْمِ فَهُوَ مَغْرُوْرٌ بِرُؤْیَةِ

الله تعالیٰ

ترجمه:- بیا حضرت غوث وفرمایل چه ما الله تعالیٰ ولیدی او الله تعالیٰ ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! کوم چا چه زما څخه د دیدار غوښتنه وکړه ترهالم کیدلو وروسته نوهغه محجوب دی د دیدار په علم او کوم چا چه گومان وکړی ددی چه دیدار د علم څخه غیر دی نوهغه دالله په دیدار تیر وتی اوخطا وتلی دی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ مَنْ رَاٰنِیْ اِسْتَغْنٰی عَنِ السُّوَالِ فِیْ کُلِّ حَالٍ وَمَنْ لَّمْ یَرَنِیْ فَلَا یَنْفَعُهُ السُّوَالُ وَهُوَ مَحْجُوْبٌ بِالْمَقَالِ

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! کوم چا چه زه ولیدم هغه په هرحال کښی د سوال څخه مستغنی او بی پروا سو۔ او کوم چا چه زه نه یم لیدلی هغه ته سوال هیڅ گټه نه رسوی او هغه په خبرو سره محجوب او بندی دی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ لَیْسَ الْفَقِیْرُ عِنْدِیْ مَنْ لَیْسَ لَهُ شَیْءٌ بَلِ الْفَقِیْرُ الَّذِیْ لَهُ اَمْرٌ فِیْ کُلِّ شَیْءٍ اِذَا قَالَ لِشَیْءٍ کُنْ فَیَکُوْنُ.

ترجمه:- بیائی ما ته و فرمائیل چه ای غوث الاعظمه! زما په ورانۍ فقیر هغه نه دی چه هیڅ شی نه لری بلکه فقیر هغه څوک دی چه ده لره امر او حکم جاری وی په هر شی کښی کله چه یو شی ته ووائی چه (پیدا) سه نو هغه وسی۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ لَا اُلْفَةَ وَلَا نِعْمَةَ فِی الْجِنَانِ بَعْدَ ظُهُوْرِیْ فِیْهَا وَلَا وَحْشَةَ وَلَا حُرْقَةَ فِی النَّارِ بَعْدَ خِطَابِیْ لِاَهْلِهَا۔

ترجمه:- بیائی و فرمایل: چه هیڅ الفت او نعمت نسته چه جنتو کښی وروسته تر بسکاره کیدو (دیدلو) زما او هیڅ وحشت او سوځل نسته په اور کښی وروسته تر خطاب زما و خاوندانو ته د اور۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَنَا اَکْرَمُ مِنْ کُلِّ کَرِیْمٍ وَاَنَا اَرْحَمُ مِنْ کُلِّ رَحِیْمٍ۔

ترجمه:- بیائی ما ته و فرمایل چه ای غوث الاعظمه! زه د ټولو بخښونکی یم تر هر بخښونکی او زه د ټولو رحم کونکی یم تر هر رحم کونکی۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ نُمْ عِنْدِیْ لَا کَنَوْمِ الْعَوَامِ تَرَاهُمْ

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه!
بیده سه زما په وړاندی داسی نه لکه د عوامو خوب.
چه ته ئی وینی -

○ فَقُلْتُ يَا رَبِّ كَيْفَ أَنَامُ عِنْدَكَ قَالَ بِخُمُوْدِ الْجِسْمِ
عَنِ اللَّذَّاتِ وَخُمُوْدِ النَّفْسِ عَنِ الشَّهَوَاتِ وَخُمُوْدِ الْقَلْبِ
عَنِ الْخَطَرَاتِ وَخُمُوْدِ الرُّوْحِ عَنِ اللَّحَظَاتِ فِيْ فَنَاءِ ذَاتِكَ
فِي الذَّاتِ -

ترجمه:- نو بیا ما عرض وکړی چه زه ستا په وړاندی
څرنګه بیده سم. وی فرمایل چه په اړامولو سره
د جسم د خوبند و نو څخه، او په اړامولو سره د نفس د
شهوتونو څخه، او په اړامولو سره د زړه د اندیښنو
څخه، او په اړامولو سره د روح د ماسوی الله د لحاظ څخه
په فانی کیدو کښی ستاد ذات په ذات کښی.

○ ثُمَّ قَالَ لِيْ يَا غَوْثُ الْأَعْظَمُ قُلْ لِأَصْحَابِكَ وَأَحْبَابِكَ
مَنْ أَرَادَ مِنْكُمْ جَنَابِيْ فَعَلَيْهِ بِاخْتِيَارِ الْفَقْرِ ثُمَّ فَقْرُ
الْفَقْرِ فَإِذَا تَمَّ الْفَقْرُ ثُمَّ إِلَّا أَنَا -

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه!
خپلو ملګرو (مجلسیانو) ته اووایه چه
کوم څوک چه زما د حضور اراده وکړی نو په هغه باندی

د فقر خرښول لازم دی ـ تردی وروسته بیا د فقرالفقر بیا نوکله چه فقر پوره اوکامل سی هلته هیڅ څوک نسته مګر نه ـ

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ طُوْبٰی لَکَ اِنْ کُنْتَ رَؤُفًا عَلٰی بَرِیَّتِیْ وَ طُوْبٰی لَکَ اِنْ کُنْتَ غَفُوْرًا لِبَرِیَّتِیْ.

ترجمه:ـ بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! تالره دی مبارکی اوخوشحالی وی که چیری ته زما پرمخلوق باندی مهربانه ئی او تالره دی خوشحالی اوزیری وی که چیری ته زما مخلوق لره بخښنه کونکی ئی ـ

○ ثم قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ قُلْ لِاَحْبَابِكَ وَاَصْحَابِكَ اِغْتَنِمُوْا دَعْوَةَ الْفُقَرَاءِ فَاِنَّهُمْ عِنْدِیْ وَاَنَا عِنْدَهُمْ ـ

ترجمه:ـ بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! خپلودوستانواو یارانوته ووایه چه د فقیرانو دعا غنیمت وګڼه حکه چه دوی زما سره دی اوزه د دوی سره یم.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَنَا مَاْوٰی کُلِّ شَیْءٍ وَ مَسْکَنُهُ وَ مَنْظَرُهُ وَاِلَیَّ الْمَصِیْرُ ـ

ترجمه:ـ بیائی وماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه!

زه د هرشی د پناه ځای یم او د ده د سکون ځای یم او د ده
د کتلو ځای یم او زما وطرف ته بیں نه را گرځی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ لَا تَنْظُرُ اِلَی الْجَنَّةِ وَمَا
فِیْهَا تَرَانِیْ بِلَا وَاسِطَةٍ وَ لَا تَنْظُرُ اِلَی النَّارِ وَ مَا فِیْهَا
تَرَانِیْ بِلَا وَاسِطَةٍ۔

تَرْجمه:۔ بیا ئی ما ته وفرمایل چه ای غوثُ الاعظمه!
ته و جنت او هغه څه ته چه په جنت کښی دی مه گوره
نو ته به ما بیله واسطه وو یئی او ته مه گوره (د دوزخ)
او او ر ته او و هغه څه ته چه په دی او د کښی دی ته به
ما بیله واسطه وو یئی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَهْلُ الْجَنَّةِ مَشْغُوْلُوْنَ
بِالْجَنَّةِ وَ اَهْلُ النَّارِ مَشْغُوْلُوْنَ لِیْ۔

ترجمه:۔ بیا ئی ما ته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه!
د جنت خاوندان په جنت بوخت دی او د دوزخ خاوندان
ما لره بوخت دی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ بَعْضُ اَهْلُ الْجَنَّةِ
یَتَعَوَّذُوْنَ مِنَ النَّعِیْمِ کَاَهْلِ النَّارِ یَتَعَوَّذُوْنَ مِنَ الْجَحِیْمِ.

ترجمه:۔ بیا ئی ما ته وفرمایل چه ای غوثُ الاعظمه!
یو څه جنتیان د جنت د نعمتو څخه د اسی پناه غواړی

لکه دوښ خیان چه ئې د دوښ خ داوره څخه پناه غواړی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ مَنْ شُغِلَ بِسِوَائِیْ کَانَ لِصَاحِبِہٖ نَارًا یَوْمَ الْقِیَامَۃِ۔

ترجمه:- بیا ئې ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! کوم څوک چه زما څخه ماسیوی د بل چا سره مشغول سی نو وی به ده لره نار په ورځ د قیامت (یعنی دوښ خی به وی).

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَھْلُ الْقُرْبَۃِ یَسْتَغِیْثُوْنَ مِنَ الْقُرْبِ بِہٖ کَمَا اَنَّ اَھْلَ الْبُعْدِ یَسْتَغِیْثُوْنَ مِنَ الْبُعْدِ۔

ترجمه:- بیا ئې ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! د قرب (نزدیکی) خاوندان د قربت څخه پناه غواړی. لکه د بعد (لیرې والی) خاوندان چه د بعد څخه پناه غواړی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اِنَّ لِیْ عِبَادًا سِوَی الْاَنْبِیَآءِ وَالْمُرْسَلِیْنَ لَا یُطَّلِعُ عَلٰی اَحْوَالِھِمْ اَحَدٌ مِّنْ اَھْلِ الدُّنْیَا وَلَا اَحَدٌ مِّنْ اَھْلِ الْاٰخِرَۃِ وَلَا اَحَدٌ مِّنْ اَھْلِ الْجَنَّۃِ وَلَا اَحَدٌ مِّنْ اَھْلِ النَّارِ وَلَا مَلَکٌ وَّلَا رِضْوَانٌ وَّلَا جَعَلْتُھُمْ لِلْجَنَّۃِ وَلَا لِلنَّارِ وَلَا لِلثَّوَابِ وَلَا لِلْعِقَابِ وَلَا لِلْحُوْرِ وَلَا لِلْقُصُوْرِ وَلَا لِلْغِلْمَانِ فَطُوْبٰی لِمَنْ اٰمَنَ

بِهِمْ وَاِن لَّمْ يَعْرِفْهُمْ -

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه!
بیله شکه زما لپاره یوځه بندګان داسی سته چه نه
انبیاء دی او نه رسولان دی چه اطلاع او خبر نه لری
پر حالاتو د دوی هیڅ یو د اهل د نیا ځنه او نه هیڅ یو
د اهل د اخرت ځنه او نه هیڅ یو د اهل د جنت ځنه او نه هیڅ
یو اهل د دوزخ ځنه او نه مالک او نه رضوان او ماته
دی ګرځولی دوی لپاره د جنت او نه د پاره د اور او
نه د پاره د ثواب او نه د پاره د عذاب او نه د پاره
د خوړو او نه د پاره د مانیو او نه د پاره د غلمانو
نو خوشحالی دی وی هغه چا لره چه ایمان راوړی .
پر دوی که څه هم دوی نه پیژنی .

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ وَاَنْتَ مِنْهُمْ وَمِنْ
عَلَامَاتِهِمْ فِی الدُّنْیَا اَجْسَامُهُمْ مُحْتَرِقَةٌ مِنْ قِلَّةِ
الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ وَنُفُوْسُهُمْ مُحْتَرِقَةٌ عَنِ الشَّهَوَاتِ
وَقُلُوْبُهُمْ مُحْتَرِقَةٌ عَنِ الْخَطَرَاتِ وَاَرْوَاحُهُمْ مُحْتَرِقَةٌ
عَنِ اللَّحْظَاتِ وَهُمْ اَصْحَابُ الْبَقَآءِ الْمُحْتَرِقِیْنَ بِنُوْرِ
اللِّقَآءِ -

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه!

ته د هغوی څخه ئې او د هغوی د علاموا او نخښو څخه په
د نیاکښې دا ده چې بدنونه د د وی به د لبن خوراک اولبن
چښنګ څخه سوځلی وی، او د د وی نفسونه به د شهواتو
څخه سوځلی وی، او د د وی زړ ونه به د اندیښنو څخه
سوځلی وی، او د د وی روحان به د لحاظو څخه سوځلی
وی، او د وی د ابدی ژوند خاوندان دی کوم چې د
د ملاقات په نور سوځلی دی ۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اِذَا جَآئَکَ عَطْشَانٌ فِیْ
یَوْمٍ شَدِیْدِ الْحَرِّ وَاَنْتَ صَاحِبُ الْمَآءِ الْبَارِدِ وَلَیْسَ
لَکَ حَاجَۃٌ بِالْمَآءِ فَلَوْ کُنْتَ تَمْنَعُہٗ فَاَنْتَ اَبْخَلُ الْبَاخِلِیْنَ
فَکَیْفَ اَمْنَعُھُمْ مِنْ رَحْمَتِیْ وَ اَنَا سَجَّلْتُ عَلٰی نَفْسِیْ بِاَنِّیْ
اَرْحَمُ الرَّاحِمِیْنَ ۔

ترجمه:۔ بیا ئې ما ته وفرما یل چې ای غوث الاعظمه!
که چیرې تا ته په یوه سخته ګرمه ورځ کښې یو تږی
راسی او ته د یخو اوبو خاوند هم ئې او ته دغه اوبو
ته ضرورت هم نه لرې نو که چیرې ته او به ورڅخه
منعه کړې نو ته تر بخیلانو څیر بخیل یې، نو زه به
څرنګه د وی د خپله رحمته څخه منعه کړم او حال
دا چه ما د خپل ځان په باره کښې لیکلی دی چه زه

ت ټولو رحمت کونکو څخه ډیر رحم کونکی یې.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ مَا بَعُدَ عَنِّیْ اَحَدٌ مِّنْ اَهْلِ الْمَعَاصِیْ وَ مَا قَرُبَ اَحَدٌ مِّنِّیْ مِنْ اَهْلِ الطَّاعَاتِ -

بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! چه دگنهګارانو څخه یوهم زما څخه نه دی لیرې سوی اود نیکانو او پرهیزګارانو څخه یوهم ماته نه دی نژدې سوی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ لَوْ قَرُبَ مِنِّیْ اَحَدٌ لَکَانَ مِنْ اَهْلِ الْمَعَاصِیْ لِاَنَّهُمْ اَصْحَابُ الْعَجْزِ وَ النَّدْمِ -

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! که چیرې ماته یوځوک نژدې سو نو هغه به د ګنهګارانو څخه وی، ځکه چه دوی عاجزۍ کونکی او پښیمانی کونکی دی -

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَلْعُجْبُ مَنْبَعُ الْاَنْوَارِ وَالْعُجْبُ مَنْبَعُ الظُّلْمَةِ -

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! عاجزۍ د انوارو خزانه او سرچشمه ده اوکبر او خود بینی د تاریکیو سرچینه اوخزانه ده.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَهْلُ الْمَعَاصِیْ مَحْجُوْبُوْنَ بِالْمَعَاصِیْ وَاَهْلُ الطَّاعَاتِ مَحْجُوْبُوْنَ بِالطَّاعَاتِ وَلِیْ وَرَائَهُمْ قَوْمٌ آخَرُوْنَ لَیْسَ لَهُمْ غَمُّ الْمَعَاصِیْ وَلَا هَمُّ الطَّاعَاتِ۔

ترجمه:- بیا ئی ما ته و فرما یل چه ای غوث الاعظمه! گنهگاران د گناهو نو په وجه لیری دی او عابدان د عبادت او طاعت په وجه لیری دی او مالره د دوی څخه ماسیوای نور قومونه (خلگ) ستر چه هغولره نه د گناه غم سته او نه د طاعت فکر۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ بَشِّرِ الْمُذْنِبِیْنَ بِالْفَضْلِ وَالْکَرَمِ وَبَشِّرِ الْمُعْجَبِیْنَ بِالْعَدْلِ وَالنَّقَمِ۔

ترجمه:- بیا ئی ما ته و فرما یل چه ای غوث الاعظمه! زیری ورکړه گنهگارانو لره د فضل او کرم، او زیری ورکړه خوښ بینه او کبر جنانو لره په عدل او انتقام (کسات اخستلو) سره۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَهْلُ الطَّاعَاتِ یَذْکُرُوْنَ النَّعِیْمَ وَاَهْلُ الْعِصْیَانِ یَذْکُرُوْنَ الرَّحِیْمَ۔

ترجمه:- بیا ئی ما ته و فرما یل چه ای غوث الاعظمه! نیکوکاره او فرمانبردار ه د نعمتونو ذکر (یادونه) کوی او گنهگاران د رحیم (رحمت کونکی) ذکر کوی۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَنَا قَرِیْبٌ اِلَی الْمَعَاصِیْ بَعْدَ مَا یَفْرُغُ مِنَ الْعِصْیَانِ وَ اَنَا بَعِیْدٌ مِنَ الْمُطِیْعِ اِذَا فَرَغَ مِنَ الطَّاعَاتِ۔

ترجمہ:۔ بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! زه وگنهگار ته نژدی یم وروسته تر هغه چه دی دگناه څخه فارغه سی، اوزه لیری یم د هغه تابعدار څخه کله چه دی د طاعت څخه فارغ سی پری اینږدی۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ خَلَقْتُ الْعَوَامَ فَلَمْ یُطِیْقُوْا نُوْرَ بَهَائِیْ فَجَعَلْتُ بَیْنِیْ وَ بَیْنَهُمْ حِجَابَ الظُّلْمَةِ وَ خَلَقْتُ الْخَوَاصَ فَلَمْ یُطِیْقُوْا مُجَاوَرَتِیْ فَجَعَلْتُ الْاَنْوَارَ بَیْنِیْ وَ بَیْنَهُمْ حِجَابًا۔

بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! ما عام خلګ پیدا کړه خو دوی نه ماد نور دروښنایي نه توان نه درلودی پس ما وګرځول نه ما او دده وی په ما بین کښی د تاریکی پرده ۔ او ما خواص خلګ پیدا کړه ۔ خو دوی نه ماد مجاورت او نژدی والی طاقت نه درلودی نو ما وګرځوله نه ما او دده وی په ما بین کښی د نور پرده۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ قُلْ لِاَصْحَابِكَ مَنْ

اَرَادَ مِنْهُمْ اَنْ يَصِلَ اِلَیَّ فَعَلَيْهِ بِالْخُرُوجِ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ سِوَائِیْ ۔

ترجمه :- بیا ئ ما ته و فرما یل چه ای غوث الاعظمه! خپلو ملگرو ته ووایه چه کوم څوک چه د دوی څخه اراده وکړی د دی چه ما ته ورسیږی نو پرده باندی لازمه ده چه د ما څخه ماسیوای د هرشی خیال د زړه څخه وباسی.

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ يَا غَوْثُ الْاَعْظَمِ اُخْرُجْ عَنْ عُقْبَةِ الدُّنْيَا تَصِلْ بِالْاٰخِرَةِ وَ اخْرُجْ عَنْ عُقْبَةِ الْاٰخِرَةِ تَصِلْ اِلَیَّ ۔

ترجمه :- بیا ئ ما ته و فرما یل چه ای غوث الاعظمه! د دنیا د کوه تله (دری) څخه ووزه په اخرت پسی به پیوندسی او د اخرت د کوه تله (دری) څخه ووزه ما ته به واصل سی ۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ يَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اُخْرُجْ عَنِ الْاَجْسَامِ وَالنُّفُوْسِ ثُمَّ اخْرُجْ عَنِ الْقُلُوْبِ وَالْاَرْوَاحِ ثُمَّ اخْرُجْ مِنَ الحكم وَالْاَمْرِ تَصِلْ اِلَیَّ فَقُلْتُ يَا رَبِّ اَیُّ صَلٰوةٍ اَقْرَبُ اِلَيْكَ ۔ قَالَ الصَّلٰوة الَّتِیْ لَيْسَ فِيْهِ سِوَائِیْ وَالْمُصَلِّیْ عَنْهَا غَائِبٌ ۔

ترجمه :- بیا ئ ما ته و فرما یل چه ای غوث الاعظمه! د بدن نو او نفسونو څخه ووزه او بیا د زړونو او روحونو

څخه وو نه او بیا د حکم او امر څخه وو زه ، ما لره به وصل سی ، نو ما وویل چه ای ربّه کوم لمونځ دپین نژدی وی تاته ؟ ده (جل جلاله) وفرمایل هغه لمونځ چه په هغه کښی زما څخه سیوا بل هیڅ نه وی او لمونځ کونکی هم وں څخه غائب وی .

○ ثُمَّ قُلْتُ اَیُّ صَوْمٍ اَفْضَلُ عِنْدَكَ قَالَ الصَّوْمُ الَّذِیْ لَیْسَ سِوَائِیْ وَالصَّائِمُ عَنْهُ غَائِبٌ ۔

ترجمه :- بیا ما وویل چه کوم روژه بهتره ده ستا په وړاندی ؟ ده (جل شانه) وفرمایل هغه روژه چه په هغی کښی زما څخه سوی بل هیڅ نه وی او روژه نیونکی هم ځینی غائب وی .

○ ثُمَّ قُلْتُ اَیُّ عَمَلٍ اَفْضَلُ عِنْدَكَ قَالَ الْعَمَلُ الَّذِیْ لَیْسَ فِیْهِ سِوَائِیْ مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ وَصَاحِبُهُ عَنْهُ غَائِبٌ

ترجمه :- بیا ما وویل چه کوم عمل بهتره دی په وړاندی ستا ؟ ده (جل جلاله) وویل هغه عمل چه په هغه کښی زما څخه سوی بل هیڅ نه وی نه جنت او نه دوزخ او خاوند ئی هم ځنی غائب وی .

○ ثُمَّ قُلْتُ اَیُّ بُكَاءٍ اَفْضَلُ عِنْدَكَ قَالَ بُكَاءُ الضَّاحِكِیْنَ ۔

ترجمه :- بیا ما وویل چه کومه ژړا غوره ده ستا په وړاندی ؟ ده (جل شانه) وفرمایل چه د خندا کونکو ژړا.

○ ثُمَّ قُلْتُ اَیُّ ضِحْكٍ اَفْضَلُ قَالَ ضِحْكُ الْبَاكِيْنَ ثُمَّ قُلْتُ اَیُّ تَوْبَةٍ اَفْضَلُ عِنْدَكَ قَالَ تَوْبَةُ الْمَعْصُوْمِيْنَ

ترجمه :- بیا ما وویل چه کومه خندا ستا په وړاندی خوښه او بهتره ده ؟ ده (جل جلاله) وفرمایل چه د ژړا کونکو خندا ـ

بیا ما وویل چه کومه توبه خوښه ده ستا په وړاندی ؟ ده (جل شانه) وفرمایل چه توبه د پاکانو.

○ ثُمَّ قُلْتُ اَیُّ عِصْمَةٍ اَفْضَلُ عِنْدَكَ قَالَ عِصْمَةُ التَّآئِبِيْنَ ـ

ترجمه :- بیا ما وویل چه کومه پاکی خوښه ده ستا په وړاندی ؟ ده (جل جلاله) وفرمایل چه پاکی د تائبینو (توبه کښونکو)

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ لَیْسَ لِصَاحِبِ الْعِلْمِ عِنْدِیْ سَبِیْلٌ اِلَّا بَعْدَ اِنْكَارِهٖ لِاَنَّهٗ لَوْ تَرَكَ الْعِلْمُ عِنْدَهٗ صَارَ شَیْطَانًا ـ

ترجمه :- بیائی ما ته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! نسته د علم خاوندلره زما په وړاندی هیڅ لاره ،

مگر خوسته ورو سته تر انکار د ده (د علم څخه) څکه که
دی علم د څان سره پریښ دی نو دی به شیطان سی -

○ قَالَ الْغَوْثُ رَأَيْتُ عَزَّ سُلْطَانُهُ فَسَئَلْتُهُ يَارَبِّ مَا مَعْنَى الْعِشْقِ فَقَالَ الْعِشْقُ حِجَابٌ بَيْنَ الْعَاشِقِ وَالْمَعْشُوقِ

ترجمه :- غوث الاعظم و فرمایل چه ما الله تعالیٰ جل شانه و لیدی ، نو ما پوښتنه وکړه د ده (جل شانه) څخه چه ای ربه ! د عشق معنیٰ څه ده ؟ ده (جل جلاله) و فرمایل چه عشق هم یو پرده ده د عاشق او معشوق ترمنځ -

○ ثُمَّ قَالَ لِيْ يَاغَوْثُ الْاَعْظَمُ اِذَا اَرَدْتَّ التَّوْبَةَ فَعَلَيْكَ بِاِخْرَاجِ هَمِّ الذَّنْبِ عَنِ النَّفْسِ ثُمَّ بِاِخْرَاجِ الْخَطَرَاتِ عَنِ الْقَلْبِ تَصِلُ اِلَيَّ وَ اِلَّا فَاَنْتَ مِنَ الْمُسْتَهْزِئِيْنَ -

ترجمه :- بیائی ما ته و فرمایل چه ای غوث الاعظمه! کله چه د تو به کښلو اراده وکړی - نو پس تا لاز مه ده. چه د گناهو نو غم د څان څخه لیرې کړی او بیا د زړه څخه وسوسې او اندیښنې وباسی ، نو ما ته به وصل سی او که نه وی نو ته به د رخشندیانو څخه ئ.

○ ثُمَّ قَالَ لِيْ يَاغَوْثُ الْاَعْظَمُ اِذَا اَرَدْتَّ اَنْ تَدْخُلَ حَرَمِيْ فَلَا تَلْتَفِتْ بِالْمُلْكِ وَ الْمَلَكُوْتِ وَلَا بِالْجَبَرُوْتِ

لِاَنَّ الْمُلْكَ شَيْطَانُ الْعَالِمِ وَ الْمَلَكُوْتِ شَيْطَانُ الْعَارِفِ وَ الْجَبَرُوْتِ شَيْطَانُ الْوَاقِفِ فَمَنْ رَضِيَ بِوَاحِدٍ مِنْهَا فَهُوَ عِنْدِيْ مِنَ الْمَطْرُوْدِيْنَ۔

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! کله چه ته اراده وکړې د دی چه زما وحرم (کورته) داخل سی، نو ته به و مُلك او ملکوت، او جبروت ته متوجه کیږی، حُکه چه مُلك (عالَم ظاهری) د عالِم شیطان دی او عالَم ملکوت د عارفانو شیطان دی، او عالَم احدیت د واقفانو شیطان دی، نو کوم څوک چه په یوه سره د د غو راضی سی نو هغه زما په وړاندی د ترټل سوی او شړل سوی څخه دی.

○ ثُمَّ قَالَ لِيْ يَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَلْمُجَاهَدَةُ بَحْرٌ مِّنْ مشاهَدَةٍ وَحِيْتَانُهُ الْوَاقِفُوْنَ فَمَنْ اَرَادَ الدُّخُوْلَ فِيْ بَحْرِ الْمُشَاهَدَةِ فَعَلَيْهِ بِاِخْتِيَارِ الْمُجَاهَدَةِ لِاَنَّ الْمُجَاهَدَةَ بَدْرُ الْمُشَاهَدَةِ۔

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! مجاهده (د نفس سره جنګ) د مشاهدی یو دریاب دی او واقفان خلګ د هغه ماهیان دی۔ نو کوم څوک چه د مشاهدی په دریاب کښی د ورګډیدو اراده وکړی

نو پس ده باندی لازمه ده چه مجاهده اختیار کړی
حُکه چه مجاهده د مشاهدی تخم دی -

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ لَا بُدَّ لِلطَّالِبِیْنَ مِنَ الْمُجَاهَدَةِ کَمَا لَا بُدَّ لَهُمْ مِنَّیْ -

ترجمه :- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه!
د حق وطالبانو ته د مجاهدی کولو څخه هیڅ چاره
نسته لکه چه دوی لره چاره نسته له ما څخه -

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَنَّ اَحَبَّ الْعِبَادِ اِلَیَّ عَبْدِیَ الَّذِیْ کَانَ لَهُ وَالِدٌ وَ وَلَدٌ وَ قَلْبُهُ فَارِغٌ مِنْهُمَا بِحَیْثُ لَوْ مَاتَ لَهُ الْوَالِدُ فَلَا یَکُوْنُ لَهُ حُزْنٌ بِمَوْتِ الْوَالِدِ وَلَوْ مَاتَ لَهُ الْوَلَدُ فَلَا یَکُوْنُ لَهُ هَمُّ الْوَلَدِ فَاِذَا بَلَغَ الْعَبْدُ هٰذِهِ الْمَنْزِلَةَ فَهُوَ عِنْدِیْ بِلَا وَالِدٍ وَلَا وَلَدٍ وَلَمْ یَکُنْ لَّهُ کُفُوًا اَحَدٌ -

ترجمه :- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه!
بیشکه د پیرخوښ او محبوب ترټولو د بندګانو څخه ماته
نماهغه بنده دی چه ده لره پلار او زوی وی او
زړه ئی له دوی څخه فارغه وی په داسی چول چه که
مړ سی پلار د ده نو ده لره د پلار غم نه وی او که
مړ سی زوی د ده نو ده لره د زوی غم نه وی نو کله

چه بنده ودغی مرتبی ته ورسیږی پس بیانی دی
زما په وړاندی بی پلاره او بی زویه دی اوده لره
هیڅوک سیال او ساری نه دی۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ مَنْ یَّذُقْ فَنَآءَ الْوَالِدِ
بِمُحَبَّتِیْ وَ فَنَآءَ الْوَلَدِ بِمُوَدَّتِیْ لَمْ یَجِدْ لَذَّةَ الْوَحْدَانِیَّةِ
وَالْفَرْدَانِیَّةِ۔

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه!
(الله پاک وفرمایله د چا سره چه زما محبت ورسره وی)
اوخوک چه وخکی د پلار مرګ زما په محبت کښی او د
زوی مرګ زما په دوستی کښی دی به پیدا نه کړی
د وحدانیت او فردانیت خوند۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اِذَا اَرَدْتَّ اَنْ تَنْظُرَ اِلَیَّ
فِیْ مَحَلٍّ فَاخْتَرْ قَلْبًا فَارِغًا عَنْ سِوَائِیْ۔

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث
الاعظمه! کله چه ته اراده وکړی د دی چه ما
ته په یو محل کښی وګورې نو زما د سوی څخه
زړه فارغه کړه۔

○ فَقُلْتُ یَا رَبِّ مَا عِلْمُ الْعِلْمِ قَالَ عِلْمُ الْعِلْمِ
هُوَ الْجَهْلُ عَنِ الْعِلْمِ۔

ترجمه:- بیا ما وویل چه یاربه! علم العلم (د علم علم) کوم شی دی؟ ده (جل جلاله) وفرمایل هغه د علم څخه جهل (ناخبر تیا) ده۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ طُوْبٰی لِعَبْدٍ مَالَ قَلْبُهٗ اِلَی الْمُجَاهَدَةِ وَوَیْلٌ لِعَبْدٍ مَالَ قَلْبُهٗ اِلَی الشَّهْوَاتِ۔

ترجمه:- بیائی ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه! خوشحالی هغه بنده لره ده چه زړه ئی مجاهدی ته مائل وی او افسوس دی وی هغه بنده لره چه زړه ئی و نفسانیه شهواتو ته مائل وی۔

○ قَالَ الْغَوْثُ سَاَلْتُ الرَّبَّ تَعَالٰی عَنِ الْمِعْرَاجِ قَالَ هُوَ الْعُرُوْجُ عَنْ کُلِّ شَیْءٍ سِوَائِیْ وَکَمَالُ الْمِعْرَاجِ مَازَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰی۔

ترجمه:- غوث الاعظم وفرمایل ما دالله تعالیٰ څخه د معراج په اړه پوښتنه وکړه - وی فرمایل چه هغه ز ما څخه ماسیوا نور د هرشی څخه لوړیدل۔ دی او د معراج کمال دغه (نه ئی ستر گی وگرځولی او نه له حده تیری سوی) مصداق دی۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ لَا صَلٰوةَ لِمَنْ لَا مِعْرَاجَ

لَهُ عِنْدِیْ۔

ترجمه بیانئ ماته وفرمایل چه ای غوث الاعظمه !
لمونځ نسته هغه چالره چه معراج نه وی هغه لره۔

○ ثُمَّ قَالَ لِیْ یَا غَوْثُ الْاَعْظَمُ اَلْمَحْرُوْمُ عَنِ الصَّلٰوةِ هُوَ الْمَحْرُوْمُ عَنِ الْمِعْرَاجِ عِنْدِیْ۔

ترجمه:۔ بیانئ ماته وفرمایل چه ای غَوْث الاعظمه!
د لمانځه څخه محروم او بی برخی سړی ، همدغه محروم دی د معراج څخه، نمایه وپاندی.

تردی ځایه پوری تذکره غوثیه
پوره سوه ۔ چه معراجیه ئ هم
بولی د الله جل جلا له په توفیق

شپیزم باب

د غوث پاک قدس سره العزیز

تصنیفونه خطبې

او

نصیحتونه

تصانیف

دسیدنا محبوب سبحانی قطب ربانی شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سرہ العزیز

شمیر	د کتاب نوم	حالات او کیفیات
۱	غُنْیَةُ الطَّالِبِین	په ۱۲۸۰ سنه هـ کښی په مصر کښی چاپ سو
۲	الفتح الربانی	په ۱۲۸۱ سنه هـ کی په مصر کښی چاپ سو
۳	فتوح الغیب	په ۱۲۸۱ سنه هـ کی په مصر کښی چاپ سو
۴	حزب نشاء الخیرات	په ۱۲۸۱ سنه هـ کی په اسکندریه مصر کښی چاپ سو۔
۵	الوهاب الرحمانیه والفتوحات الرحمانیه	په کشف الظنون کښی جامی صاحب ذکر کړیدی کوم چه خلیفه وُو۔
۶	جلاء الخاطر	په کشف الظنون کښی جامی صاحب ذکر کړی دی کوم چه خلیفه وُو۔
۷	سرّ الاسرار	د تصوف د علم په باره کښی دی چه په مدرسه قادریه کښی ئی قلمی نسخه موجوده ده۔
۸	ردّ الرافضه	په مدرسه قادریه کښی ئی قلمی نسخه موجوده ده۔

شمیر	د کتاب نوم	حالات او کیفیات
۹	تفسیر قرآن مجید دوه جلده	په کتب خانه رشید کرام طرا بلس کښی موجود دی.
۱۰	د علم ریاضی په	اړه ئ کتابونه په ۶۲۲ سنه هـ کښی لیکلی دی مگر نا تمامه موجود دی.

دا هغه تصنیفونه دی چه په اوسنی وخت کښی د دنیا په لیری لیری خایونو کښی موجود او پیدا کیږی.
مگر د معتبرو روایاتو څخه معلومه ده چه آن حضور (۶۹) قدس سره العزیز په مختلفو علومو کښی نه شپیته کتابونه تصنیف کړیدی او په خاص ډول ئ فقه حنبلی فقه شافعی او تفسیر قرآن او احادیث او نور اسلامی علوم تصنیف کړی دی۔

د وعظ خطبه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د آن حضور قدس سره العزیز زامن سیدنا شیخ المشائخ حضرت عبد الوهاب او شیخ عبد الرحمٰن رضی الله تعالیٰ عنهما فرمائی چه زمونږ قابل احترام اوبزرګ پلار به په مجلس د وعظ کښی فرمایله

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ - د دی څخه ورو سته هغه (قدس سره العزیز) خاموش او پته خوله کیدی بیا به ئی فرمایله: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ بیا به ساکت او پته خوله کښینستی بیا به ئی فرمایله اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ بیا به خاموش او پته خوله کښینستی.

ترجمه:- ټول تعریفونه خاص الله تعالیٰ لره دی.

بیا به ئی فرمایله:-

عَدَدَ خَلْقِهٖ وَ زِنَةَ عَرْشِهٖ وَ رِضَآءَ نَفْسِهٖ وَ مِدَادَ كَلِمٰتِهٖ وَ مُنْتَهٰى عِلْمِهٖ وَ جَمِيْعَ مَا شَآءَ وَ خَلَقَ وَ زَادَ وَ بَرَآءَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَ الشَّهَادَةِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَلْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ط

ترجمه:- دده د مخلوق په حساب او دده د عرش

په تله، او د ده د نفس د رضا، په اندازه او د د ه د کلمات تو
په اندازه او د د ه د علم برابر او د ټولو هغو شیانو
په اندازه چه د ه ئ اراده کړ یده او پیدا کړی ئ دی
او ن یات کړی ئ دی او په پټوا و ښکاره غرض د اچه
په هرڅه عالم او خبر دی، د ین بخښونکی او ن یات
رحم کونکی د ی د هرشی مالک د هرعیب څخه پاک
پر هرچا غالب او د پوره حکمت خاوند دی۔

وَ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ
الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَ يُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ
وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝

ترجمه :۔ او زه شاهدی ورکوم چه هیڅوک
لایق د عبادت نه دی مګر یوازی الله تعالیٰ۔ خاص
د ه لره پاچهی د ه او خاص د ه لره ستاینی او صفتونه
دی۔ د ی ژوند ورکونکی دی او مرګ ورکونکی دی
او د ی پخپله همیشه ژوندی دی چه نه مری، او
هرخیر د د ه په اختیار کښی دی او هم دی پر هر
شی قادر دی۔

وَ لَا نِدَّ لَهٗ وَ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ وَلَا عَوْنَ
وَ لَا ظَهِيْرَ ۔ اَلْوَاحِدُ الْاَحَدُ الْفَرْدُ الصَّمَدُ الَّذِيْ

لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۔

ترجمه :۔ او نه هیڅ سیال ورلره سته ۔ او نه شریک ورلره سته ۔ او نه وزیږ ورلره سته ۔ او نه کومکی ورلره سته او نه مددګار ورلره سته او تاک (بې جوړې) دی او هغسی بې نیازه دی چه نه ئې څوک زیږن ولی دی او نه د چا څخه زیږن پیدا دی او نه دی ده لره سیال او برابر هیڅوک ۔

لَيْسَ بِجِسْمٍ فَيَسْمَنُ وَلَا جَوْهَرٌ فَيُحْسِنُ وَلَا عَرَضٍ فَيَكُوْنَ مُنْقَضِيًا هُنَالِكَ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشَارِكَ جَلَّ اَنْ يَّتَشَبَّهَ بِمَا صَنَعَهٗ اَوْ يُضَافُ لِمَا اخْتَرَعَهٗ لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ط

ترجمه :۔ نه جسم دی چه کوچنی، غټ او چاغ سی او نه جوهر دی چه و بریښی او نه عرض دی چه هلته کم سی او نسته وزیږ ده لره او نه شریک، او په دې لوړ دی له دی خبرې څخه چه د خپل مخلوق څخه دی دکوم شی سره مشابه کړه سی او یا دی ده نسبت و یو شی ته ده د مخلوق وکړه سی، او نسته په مثال ده هیڅ شی او همدی دهرې خبرې اوریدونکی دی او لیدونکی دی (ستاسی افعالو او کارونو لره)

وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ وَحَبِيْبُهٗ وَخَلِيْلُهٗ وَصَفِيُّهٗ وَنَجِيُّهٗ وَخِيَرَتُهٗ مِنْ خَلْقِهٖ اَرْسَلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَلَوْكَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ط

ترجمه:- اوزه شاهدی ورکوم چه محمّد صلی الله علیه و اله وسلم دده بنده او دده - رسول دی او دوست دده دی، او برگزیده او غوره او مختاره دده دی په ټوله مخلوق کښی. او را لیږلی ئی دی، دی په حق دین او هدایت سره چه غالب او سنگاره ئی کړی د غه دین پر ټولو ادیانو باندی که څه هم مشرکان ئی بدګنی.

اَللّٰهُمَّ ارْضَ عَنِ الرَّفِيْعِ الْعِمَادِ الطَّوِيْلِ النَّجَادِ الْمُؤَيَّدِ بِالتَّحْقِيْقِ الْمُكَنّٰى بِعَتِيْقِ الْخَلِيْفَةِ الشَّفِيْقِ الْمُسْتَخْرَجِ مِنْ اَطْهَرِ اَصْلٍ عَرِيْقٍ اَلَّذِىْ اِسْمُهٗ مَقْرُوْنٌ وَجِسْمُهٗ مَعَ جِسْمِهٖ مَدْفُوْنٌ اَلْاِمَام اَبِىْ بَكْرٍ الصِّدِّيْقِ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ -

ترجمه:- ای خدایه! راضی سی د هغه چا څخه او رحمتونه نازل کړی پر هغه چا چه کورنی ئی لوړه ده او دتوری تسمی ئی اوبن دی دی، چه تائید کړه سویدی

په حق سره ـ چه کنایه ناکه په عتیق ورد ـ اومهربانه خلیفه وو چه دیو ډیر پاک اصل او نژاد څخه راوتلی دی ، هغه چه نوم ئې د سرور کائنات صلی الله علیه وسلم د نامه سره چسپ او ملگری دی ، او بدن ئې د سرور کائنات صلی الله علیه وسلم د بدن مبارک پرارخ باندی بښخ دی ، چه د عدل امام ابو بکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه دی ـ

وَعَنِ الْقَصِيْرِ الْاَمَلِ الْكَثِيْرِ الْعَمَلِ الَّذِيْ لَا خَامَرَهُ وَجِلٌ وَلَا عَارَضَهُ ذَلَلٌ وَلَا دَخَلَهُ مَلَلٌ الْمُؤَيَّدُ بِالصَّوَابِ اَلْمُلْهَمُ بِفَضْلِ الْخِطَبِ حَنِيْفِيُّ الْمِحْرَابِ الَّذِيْ وَافَقَ حُكْمُهُ نَصَّ الْكِتَابِ اَلْاِمَامُ اَبِيْ حَفْصٍ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ

ترجمه :ـ او د هغه چا څخه چه خرمن ئې لنډ او امید ئې ډیر وُ چه هغه چه نه پتوی بیری ، او نه لغزش او سنوید ل ورته پیښیدل او نه په حق کښی خوا پټه او ستړی کیدی ـ کوم چه تائید کړه سوی وو په حق سره هغه چه د لویو کارونو د فیصله کولو لپاره الهام ورته کیدی او پر سیده لاره باندی وُو ـ هغه چه د ده حکم او فیصله د قرآن د آیت سره برابره سوه یعنی امام عادل

ابوحفص عمر بن الخطاب رضی اللہ تعالیٰ عنہ۔

وَعَنْ مُجَهِّزِ جَيْشِ الْعُسْرَةِ وَعَاشِرِ الْعَشَرَةِ مَنْ شَدَّ الْإِيْمَانَ وَرَتَّلَ الْقُرْاٰنَ وَشَتَّتَ الْفُرْسَانَ وَضَعْضَعَ الطُّغْيَانَ وَزَيَّنَ الْمِحْرَابَ بِإِمَامَتِهٖ وَالْقُرْاٰنِ بِتِلَاوَتِهٖ اَفْضَلَ الشُّهَدَآءِ وَاَكْرَمَ السُّعَدَاءِ الْمُسْتَحِيْ مِنْهُ مَلٰٓئِكَةُ الرَّحْمٰنِ ذِی النُّوْرَيْنِ اَبِی عَمْرٍو عُثْمَانَ عَفَّانَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ

ترجمہ:۔ او د هغه چا څخه چه تیار ونکی د لښکر وو په سختیوا وکړل وو نو کښی۔ او لسم د عشره مبشره وو دی، هغه چه ایمان ئ مضبوط کړی وو او قرآن کریم ئ خلاص او بشکاره تلاوت کاوه، او چه تیت او خپور ئ کړی لښکر د اسلام او د کفر سرکښی ئ د بیخه وکښله او د مسجد محراب ئ په خپل امامت سره بنایسته کړی او قرآن کریم ئ په خپل تلاوت سره بنایسته کړی چه بهتر ین د شهدا ؤ دی او اکرم د سعدا ؤ دی، چه ملائکو د رحمٰن ور څخه شرم اوحیا کوله یعنی امیر المؤمنین ذی النورین ابی عمرو عثمان بن عفان رضی اللہ عنہ.

وَعَنِ الْبَطَلِ الْبَهْلُوْلِ وَزَوْجِ الْبَتُوْلِ وَابْنِ عَمِّ رَسُوْلِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ وَسَيْفِ اللّٰهِ الْمَسْلُوْلِ قَالِعِ

الْبَابِ وَهَازِمِ الْاَحْزَابِ اِمَامِ الدِّيْنِ وَعَالِمِهٖ وَقَاضِیَ الشَّرْعِ وَحَاكِمِهٖ وَالْمُتَصَدِّقِ فِی الصَّلٰوةِ بِخَاتِمِهٖ مُفْدِیْ اللّٰهِ بِنَفْسِهٖ وَمَظْهَرِ الْعَجَائِبِ اَلْاِمَامِ اَبِی الْحَسَنِ عَلِیِّ بْنِ اَبِیْ طَالِبٍ كَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ۔

ترجمہ:۔ او راضی سی د شیر څخہ د خدای جل جلالہ چہ بهلول دی او خاوند (مبیږه) د البتول[عه] رض او د رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم د اکا زوی وُ۔ او د اللہ تعالیٰ کښل سوی تورہ او د بدعت د درواز ی کښونکی وُ۔ او د دښمن د درواز ی ماتونکی وُ چہ د دین امام او عالم، د شرعی قاضی او حاکم وُ چہ د لمانځہ د پورہ حق ادا کولو والا وو۔ او پر رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم باندی د خپل ځان قربانی کونکی وُ۔ او مظهر (ځای د ښکاره کیدو) د عجائبو وُ، یعنی امیر المؤمنین الامام ابی الحسین علی ابن ابی طالب کرم اللہ وجهہ۔

وَعَنِ السِّبْطَيْنِ الشَّهِيْدَيْنِ اَلْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ وَعَنِ الْعَمَيْنِ الشَّرِيْفَيْنِ اَلْحَمْزَةِ وَالْعَبَّاسِ وَعَنِ الْاَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرِيْنَ وَعَنِ التَّابِعِيْنَ لَهُمْ بِاِحْسَانٍ اِلٰى يَوْمِ

عه بتول:۔ د نبی صلی اللہ علیہ وسلم د مبارکی لور بی بی فاطمۃ الزهراء رضی اللہ تعالیٰ عنها لقب دی ۱۲ مترجم عفی عنہ

الدِّيْنِ يَارَبَّ الْعٰلَمِيْنَ۔

ترجمه :- او راضی سی د لمسیانو څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم چه شهیدان دی یعنی حسن اوحسین رضی الله تعالیٰ عنهما ، او راضی سی د نبی صلی الله علیه و سلم د مشرفه اکا گانو څخه یعنی حضرت حمزه او حضرت عباس رضی الله عنهما اود نټولو انصارو (رض) او مهاجرینو (رض) څخه او د دهغه چا څخه چه تر قیامته پوری په بنه طریقه د دوی تابعدار ان وی ای یالونکی د نټولو مخلوقاتو۔

اَللّٰهُمَّ اَصْلِحِ الْاِمَامَ وَالْاُمَّةَ ط وَالرَّاعِیَّ وَالرَّعِیَّةَ وَاَلِّفْ بَیْنَ قُلُوْبِهِمْ فِی الْخَیْرَاتِ وَارْفَعْ شَرَّ بَعْضِهِمْ عَنْ بَعْضٍ۔

ترجمه :- ای الله (ج) ! امام او امت ، حاکم او رعیت (رایت) را اصلاح کړه او د خیر په کارو کښی د دوی په زړونو کښی یو تر بله مینه او محبت ور واچوه او یو تر بله ئی د شر او ضرر څخه وساته۔

اَللّٰهُمَّ وَاَنْتَ الْعَالِمُ بِسَرَائِرِنَا فَاَصْلِحْهَا وَاَنْتَ الْعَالِمُ بِذُنُوْبِنَا فَاسْتُرْهَا وَاَنْتَ الْعَالِمُ بِحَوَائِجِنَا فَاقْضِهَا۔

ترجمه:- ای الله(ج)! ته خبرئ زمون د زړه
په پټو خبرو، ته ئ را اصلاح کړې، او ته خپل
ئ زمون په ګناهونو یا الله را معاف ئ کړه، او ته
خبرئ زمون په ګناهونو را پټې ئ کړه یا الله۔ او
ته خبرئ زمون په حاجتونو را پوره ئ کړه یا الله۔

لَا تَرَانَا حَيْثُ نَهَيْتَنَا وَلَا تَفْقِدْنَا حَيْثُ اَمَرْتَنَا
وَاَعِزَّنَا بِالطَّاعَةِ وَلَا تُذَلِّلْنَا بِالْمَعْصِيَةِ۔

ترجمه:- او ته مون مه وینه په هغه ځای
کښې چه تا منعه کړې یو (یعنی د ګناه کولو طاقت مه را
کوه) او ته مون مه ورکه وه د هغه ځایه چه تا
امر کړې یو مون (یعنی د اوامرو عملی توفیق راکړه۔
او مون عزتمند کړه ستا په طاعت او عبادت۔ او مون
خوار مه ګرځوه ستا څخه په سرکښی۔

وَاَشْغِلْنَا بِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ وَاقْطَعْ عَنَّا كُلَّ قَاطِعٍ
يَقْطَعُنَا عَنْكَ وَاَلْهِمْنَا ذِكْرَكَ وَشُكْرَكَ وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مَا شَآءَ اللّٰهُ كَانَ وَمَا لَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ
مَا شَآءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ۵

ترجمه:- او مون بوخت (اخته) کړه ستا سره د
هغه چا څخه چه ستا څخه ماسیوی وی او پرې کړه

زمونږ څخه هرهغه پرې کونکی چه مونږ ستا څخه ښیله وی۔
او الهام او ښوونه وکړه ومونږ ته ستاد ذکر، او ستا
د شکر او د ښه اخلاصی عبادت ستا، نسته لایق د عبادت
مګر خاص الله تعالیٰ، هغه څه چه الله تعالیٰ ئې غواړی
هغه کینږ ی او هغه څه چه دی ئې نه غواړی هغه ته
کینږ ی، نسته قوت پس عبادت مګر په کومک د الله (ج)
چه لوړ او بزرګ دی۔

اَللّٰهُمَّ لَا تُؤَاخِذْنَا فِیْ غَفْلَةٍ وَلَا تُؤَاخِذْنَا اِنْ نَّسِیْنَا اَوْ
اَخْطَاْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَیْنَا اِصْرًا کَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَی
الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ وَاعْفُ
عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا اَنْتَ مَوْلٰنَا فَانْصُرْنَا عَلَی الْقَوْمِ
الْکَافِرِیْنَ ۔ آمین یا اله العالمین ط

ترجمه:۔ ای الله تعالیٰ ته مونږ ته په غفلت کښی
مه راځه (مرګ ناڅاپه مه راولـه) او ته زمونږ نیوکه
مه کوه که مونږ هیره یا خطا وکړو۔ ای ربه زمونږ!
مه ښ ده پر مونږ باندی داسی درونده بار لکه چه
تا ایښی دی پر هغو خلګو باندی چه ترمونږ مخکښی
وو۔ او مه ښ ده پر مونږ هغه څه چه په مونږ پوری
ئې طاقت نه وی او عفوه وکړه مونږ ته او بخښنه

وکړه موږ ته هم ته ئې مدد ګار زموږ نو مدد وکړه
زموږ پر قوم باندې د کافرانو ـ
آمین ای معبوده د مخلوقاتو ـ

د بنو او نیکو اعمالو په اړه

کوم څوک چې د خپل مالک حقیقي سره رشتینی
تعلق او پیوند جوړ کړي بنه کارونه او پرهیزګاری
اختیار کړي هغه شپه او ورځ ما سیوی د الله تعالیٰ څخه
د نورو شیانو څخه بیزاره اوسي، زما دوستانو!
تاسي د داسي خبرې دعوه هیڅکله مه کوی چې
هغه په تاسي کښې نه وي، خدای جل جلاله یو بولی،
هیڅوک د هغه شریک مه جوړوی او مه دده سره
یوڅوک همشکله او مشابه جوړوی، د حلول[عه] او اتحاد
څخه یې پاک وګڼي د کوم چا څخه چې د الله تبارک و
تعالیٰ په لاره کښې څه لږ شی هم خرڅیږي، خدای
تعالیٰ هرومرو هغه چا ته بنه بدل او عوض ورکوی.
دا خبره یاد لری چې د زړه کدورت (خیره) نه

عه حلول: یوشی په بل شی کښې داسي چې دواړه گډ یو بدل چې دد واړه و تر منځ جلا والی نه سی کیدای ۱۲ مترجم

سی لیږی کیدلای ـ ترڅو پورې چه د نفس دکدورت
اوخیره لیږی نه سی، تر هغه وخته پورې چه خپل
نفس د اصحاب کهف د سپی په څول د رضاء پر دروازه
نه کښینوول سی په زړه کښی صفائ نه سی پیدا کیدلای
د غه وخت نو د غه خطاب ورته کیږی:
يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً
مَّرْضِيَّةً ۝ یعنی ای مُطْمَئِنْ اَوْ اَرام نیونکی نفسه ته د
ډیرې خوښی اوخوشحالی په حال کښی د خپل پروردګار
وطرف ته ولاړه سه په د غه وخت کښی هغه د خدای
پاک (ج) په مقدس حضور کښی برخه مندی تر لاسه
کولای سی ـ او د توجهاتو او د رحمت د نظر نښانګاه جوړیږی
د خدای پاک جل شانه عظمت او د هغه جلال پر
ده باندې کشف او ښکاره کیږی او دلوړ او اعلیٰ مقام
څخه نفس ته د غه ور اورول کیږی ـ یَا عَبْدِي وَكُلُّ
عَبْدِي اَنْتَ لِي وَاَنَا لَكَ ـ یعنی ای زما بنده او ټولو
زما بندګانو! ته زما لپاره یې او زه ستا لپاره ـ
کله چه په د غه حال کښی د غه نفس ته تر ډیره
وخته پورې الهی تقرب (نزدیکت) حاصلیږی ـ نو اوس
هغه د خدای جل جلاله د خدای (ج) د خاصو بندګانو

څخه کښې ی اود خلیفة الله علی الارض ، ورته ویلو
حقدار ه اود خدای پاک جل شانه په پټو اسرارو (پټو
خبرو) باندې د خبرید و اهل او لایق ګرځې او اوس
هغه د خدای پاک امین (امانت دار) سو - او اوس
د دې لپاره خدای تعالیٰ (ج) دې په دنیا کښې راولیږلی
دی چه د غم په درياب کښې ډوب سوی خلګ د غرقیدو
څخه خلاص کړی او د ګمراهۍ په بیا بانو کښې د حق د
لارې څخه ورک سوی خلګ د حق ولارې ته راوکاږی
او پر سمه لاره ئې برابر کړی - بیا که چیرې پر یو مړ ده
دل (بې شوقه) باندې دده تیر یدل کښې نو هغه
ژوندی کوی - او که ئې چیرې پر ګنهګار باندې نظر
ولیږی نو هغه ته نصیحت کوی د بد بخت څخه نیکبخته
جوړ وی -

دا هم یاد لرې چه اولیاؤ الله د ابدالو غلامان
(محتاجان) دی او ابدال د انبیاؤ - او انبیآء د حضرت
محمد رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم صلوات
الله وسلامه علیهم اجمعین - د اولیاؤ الله مثال دباچا

عه : ابدال د تصوف په اصطلاح کښې د اولیاؤ الله دلسو طبقو څخه
دپنځمې طبقې نوم دی د کوهو په وَلکه او اختیار کښې چه د دنیا انتظام
هم دی ۱۲ مترجم عفی الله تعالیٰ عنه

د د استان او قصه و یونکی په رنگه دی چه هغه همیشه
د باچاسره ملگری وی،

د او لیاؤ الله د پاره خوشپه دد وی په حق کښی
د باچهی د تخت حیثیت لری او و رځ دد وی لپاره د الله
تعالیٰ د تقرب (نژدیوالی) سبب وی مگر د راز ویلو او
بنکاره کولو اجازه نه لری۔ یَا بُنَیَّ لَا تَقْصُصْ رُؤْیَاكَ
عَلیٰ اِخْوَتِكَ۔ یعنی ای زویه ته خپل خوب خپلو
ورو ښو ته مه وایه۔

د عِلمْ په بارهٔ کښیٔ

اول علم و لولـه، او بیا گوښه نشین جوړ سـه۔
یعنی یوازی په خلوت کښی کښینه هرسړی چه بیـله
علمه په الهی عبادت کښی اختر کیږی د هغـه ټول
کار و نه نسبت و سموالی ته په پیر خرا بیږی۔ نو اول
د خپل ځان سره د الهی شریعت څراغ واخله۔ بیا په
الهی عبادت کښی بوخت (مشغول) سه۔ هرڅوک چه
په خپل علم عمل کوی، خدای تعالیٰ د هغه علم ور
ـــ پراخه کوی، او علم لَـدُنّی کوم چه ده ته حاصل
نه وُو ورزده کوی۔



ته د اسبابو او ټول مخلوق څخه پرې سه ، الله تبارک
و تعالیٰ ستاینه ټینګ او محکمه کړې او د هغه میلان او
توجه د عبادت او پرهیزګارۍ و طرف ته راګرځوې.
د الله تعالیٰ څخه ماسیوې د نورو شیانو څخه جلا اوسه
او د خپل شریعت د څراغ د مړکید و څخه په بیره کښې
سه ، د الله تعالیٰ سره بنه نیت او اخلاص وساته - که
چیرې څلویښت ورځې ته د هغه په یاد او ذکر کښې
ناست و او سې (چله خانه وکړې) نو ستادنه په څخه به
د غه وخت د حضرت موسیٰ علیه السلام په رنګ
د الهی محبت او رو و ویني او د محبت او رچه و وینې ستا
نفس ، ستا خواهش ، ستا شیطان ، ستا طبیعت ، ستا
اسباب او وجود ته به وایي : چه و دریږه - ما او ولیدې
او د پټه ځایه څخه به داسې آواز و رته کیږي چه زه
ستا رب یم - ته زما څخه ماسیوې د بل چاسره تعلق
مه ساته ، ما و پیژنه او زما څخه ماسیوې نور ټوله
هیرکړه زما سره علاقه او تعلق و ساته او د نورو
ټولو سره رابطه و شکوه ، زما غوښتونکی جوړ سه
او د نورو ټولو څخه مخ واړوه ، زما د علم څخه ماته
نه دی والی -

تاته چه هرڅه حاصل سی، الهام به وی، او حجاب (پرده) به لیری او ایسته سی د زړه کدورت او خیره به لیری سی او نفس به هم آرام او بې حرکته سی او کریمانه مهربانۍ به پیل سی، خطاب به کیږي چه ای ولی کبر جن نفس او خواهش او شیطان ما ته راوله زه هغوی ته لار ښوونه کوم - او هغوی ته ووایه چه تاسی زما پیروی وکړی زه تاسی ته نیکه او ښه لاره درښیم -

دَفنا پهٔ متعلق!

هغه قدس سره العزیز وفرمایل چه تاسی حکم الهی په نظر کښی و نیسی د مخلوقاتو څخه د خپل نفس او خواهشاتو او د ده اراده په نظر کښی مه نیسی او د خپل کار څخه تیرسی په دغه وخت کښی تاسی د علم الهی لایُوق جوړیږی -

① د مخلوق څخه د فنا ه کیدو علامه داده چه د دوی څخه ستا تعلق قطع او پرې سی د دوی د نفعې څخه نا امیده او د دوی د ضرر څخه بیله بیری اوسی -

② او پخپله د خپل وجود، نفس او خواهش څخه د فنا کیدو علامه داده چه په ګټه تر لاسه کولو کښی د

ظاهری اسباب وی څخه نظر پورته کړی او په خپله ذریعه
او سبب سره خپله هیڅ نه کوی او نه د خپل ځان لپاره
پرخپل یوشی باندی تکیه وکړی بلکه خپل ټول کار و نه
هغه حقیقی خالق ته و سپاری چا چه اول په د غه
کار و نو کښی تصرف کړیدی هم هغه اوس هم تصرف
پکښی کوی ۔

(۳) او د خپلی ارادی څخه د فنا کیدو علامه داده
چه د الٰهی ارادی په مقابله کښی ستا اراده پاته نه وی
بلکه خاص د هغه مالک حقیقی کړنه په تاکښی دننه
جاری وی او ستا اندا مونه د هغه د کړنی څخه چوپ
وی او زړه دی مطمئن او آرام وی او خوشحاله وی، او
لږ قدر هم قبض (نا خوښه) نه وی او باطن به آباد
وی او د ټولو حاجتونو څخه به بې پروا وی او ته په قدرت
الٰهی کښی سه چه هر ډول تصرف هغه په تاکښی کوی
ازلی ژبه به په د غه وخت کښی تا ته آوازکوی ۔ علم
لَدُنی به تاته حاصل سی ۔ د الٰهی جمال د نور جامی
به واغوندی بیا چه څه وخت د الٰهی ارادی څخه ما
سیوای په تاکښی بل هیڅ شی پاته نه سی نو د غه
وخت به تصرفات او خارق العادات (د عادت څخه لیری

کارونه) ستاوطرف ته منسوب کیږی ـ مگر په ظاهره خو په حقیقت کښی به هغه فعل الٰهی وی او هغه بل پیدا یښت دی ـ بیا چه کله ته په خپل زړه کښی یوه اراده پیدا کړی نو د خدای تعالی (ج) د عظمت او بزرګی خیال کوه او خپل ځان حقیر ګڼه ـ تر هغه وخته پورې چه ستا پر وجود باندی قضاء الٰهی (مرګ) راسی په دغه وخت کښی به تا ته بقاء حاصله سی ځکه چه فنا حد (آخر) دی هغه دا چه یوازی خدای تعالیٰ باقی او پاته کیږی لکه څرنګه چه د مخلوق د پیدا کیدو څخه مخکښی هم تنها او یوازی دی ؤ ، همدغه حالت فناره کله چه ته د مخلوق څخه جلا سی نو ویل کیږی (..... .....) یعنی خدای تعالیٰ دی پر تا باندی خپل رحمت نازل کړی او حقیقی ژوند دی درته نصیب کړی بیا نو حقیقی ژوند حاصلیږی او هغه غنا چه تر هغې وروسته فقر نسته او هغه عطا (ورکړه) چه تر هغه وروسته منع نسته او هغه امن چه تر هغه وروسته بیره نسته ، او هغه نیکبختی چه تر هغې وروسته بدبختی نسته او هغه عزت چه تر هغه وروسته ذلت (شرمندګی) نسته او هغه نژدیوالی چه تر هغه وروسته لیرې والی نسته

او هغه عظمت او بزرگی چه تر هغه وړو سته حقارت او خواری نسته او هغه پاکی چه تر هغی وړوسته د نجاست (ناپاکی) خیال نه سی کیدای، درته حاصلیږی۔

دپرهیزګاری اووړع په باره کی

هغه قدس سره العزیز وفرمایل: دوړع څخه ددی خبری وخوانه اشاره ده چه بنده د نپولو شیانو څخه راببندسی (پری ئی بندی) شریعت چه دکوم شی اجازه ورکړی هغه عفوه کړی او باقی نپوله پریږدی، وړع دری درجی لری۔

۱ اول د عوامو وړع داده چه د حرامو او شبهه ناکه شیانو څخه راببندسی۔

۲ دوهم د خواصو وړع داده چه د نفس او خواهش د نپولو شیانو څخه راببندسی او پری ئی بندی

۳ دریم د خاص الخاصو وړع داده چه بنده د هر هغه شی څخه چه د هغه اراده دی کولای سی راوګرځی.

وړع او پرهیزګاری پردوه قسمه ده

اول :- ظاهری پرهیزګاری - هغه دا چه ماسیوای د امره څخه دالله جل جلاله هیڅ حرکت نه کوی۔

دوهم :- باطنی پیرهین گاری - هغه دا چه په زړه کښی د الله جل جلاله څخه پرته د بل هیڅ چا اندیښنه ورسره نه وی ورو سته نو هر څوک چه د ورځ باریکی په نظر کښی نه نسی هغه د تقوی تر لوړو مرتبو پوری نه سی رسیدلای - او ورځ السان یعنی په خبرو کښی پیرهین کول په دې مشکل دی او د امارت او ریاست په حالت کښی خو بیخی په دې مشکل دی زهد د ورځ اوله ځینه ده لکه څرنګه چه قناعت (صبر) د رضا اوله ځینه ده -

د ورځ قوانین په خوراک چښاک او ناسته کښی هم سته، د متقی خوراک د نور مخلوق د خوراک څخه بیل وی چه نه شریعت پرې هغه اعتراض کولای سی او نه هیڅوک په دغه کښی څه نزاع او جګړه کوی - او د ولی خوراک هغه دی چه په هغه کښی د ده هیڅ اراده نه وی بلکه په خالص الهی فضل سره هغه خوراک ده ته رسیږی -

ورو سته نو د کوم چا لپاره چه نوموړی صفت نه سی پیدا کیدلای، هغه تر دوهمی درجی پورې هم نه سی رسیدلای - د دغه رنګه حلال مطلق خوراک

دادی چه په هغه کښی په هیڅ ډول سره هم د الٰهی معصیت او گناه تصور نه سی کیدلای او نه د دغه وجهی څخه یو وخت خدای جل جلاله هیرکړی .

او جامه پر دری ډوله ده ـ

① د انبیاؤ علیهم الصلوٰة و السلام جامه.

② د اولیاؤ رحمة الله تعالیٰ علیهم جامه.

③ د ابدالو رضی الله تعالیٰ عنهم جامه.

• اول د انبیاؤ علیهم الصلوٰة والسلام جامه حلال مطلقه ده که څه هم د پنبوڼو یا سُعه یا وریښو یا بل داسی شی څخه وی ـ

• دوهم :ـ د اولیاؤ رضی الله تعالیٰ عنهم جامه دا ده چه شریعت د څومره ی قدر حکم ورکړی دی هغه یوازی داده چه په هغه سره عورت پټ کړه سی او ضرورت په پوره سی ـ دا له دی وجهی څخه د دغه لباس په سبب سره د د وی خواهشات ساړه او ختم سی او د د وی نفس مړ سی ـ

• دریم :ـ د ابدالو رضی الله تعالیٰ عنهم جامه داده چه هر څه الله تعالیٰ د وی ته په فضل او کرم سره ورکړی

عه سن داد یو درختی نوم دی چه دهغی د یوستکو څخه رسی جوړیږی ۱۲ مترجم

هغه اغوندی کـه قیمتی وی، یا کم قیمته وی، پخپله ـ
دوی (ابدال رضی الله عنهم) نه د اعلیٰ جامی خواهش کوی
نه د ادنیٰ جامی څخه نفرت کوی۔

ورځ نه سی پوره کیدلای ترهغه وخته پوری چه
لس صفتونه پر څان او نفس باندی لاندم نه کړی۔

⊙ اول :۔ څ به په اختیار کښی ساتل۔

⊙ دوهم :۔ د غیبت کولو څخه څان ساتل ـ نکه څرنگه
چه خدای تعالیٰ (ج) فرمایلی دی :۔ وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ
بَعْضًا ـ او نه دی غیبت حُینی ستاسی د حُینو نورو کوی۔

⊙ دریم :۔ هیڅوک به خوار نه گڼی او نه به مسخری
او خندا پر کوی ـ نکه څرنگه چه الله تبارک و تعالیٰ فرمایی
لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ ـ
یعنی ښځی او سپکاوی دی نه کوی هیڅ یو قوم له تاسی
څخه پر بل قوم باندی ښائی چه وی به دغه مسخره کړه
سوی غوره (په نزد د خدای ج) له دی مسخره کوونکو څخه۔

⊙ څلورم :۔ د محارمو ته نه کتل الله تبارک و تعالیٰ
فرمایی :۔ قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ ـ دوایه
ای محمده مومنانو ته چه کښته دی کړی دُوی خپلی
سترگی د نا محرمو څخه۔

⊙ پنځم :- انصاف او رشتین والی - الله تبارک و تعالیٰ فرمائی :- وَاِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا ؛ او کله چه تاسی خبری کوی (په کوم شی کښی) نو برابر رشتیا وواياست.

⊙ شپږم :- د الٰهی انعاماتو او احساناتو اقرار به کوی د دی لپاره چه نفس په خود بینی او مغروری کښی اخته نه سی - الله تبارک و تعالیٰ فرمائی :- بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ - بلکه خاص الله تعالیٰ احسان کوی پر تاسی باندی د دی چه لاره و ښوولله تاسی ته د ایمان راوړلو -

⊙ اووم :- چه خپل مال او سامان په حقه لاره کښی خرڅ کړی نه دا چه په خپل نفس او خواهش کښی - الله تبارک و تعالیٰ فرمائی - وَالَّذِيْنَ اِذَا اَنْفَقُوْا لَمْ يُسْرِفُوْا وَلَمْ يَقْتُرُوْا - یعنی بندگان د رحمٰن هغه کسان دی چه کله خرڅ کوی نو نه اسراف کوی او نه تنګی او بخل کوی یعنی هغوی خپل مال په ګناه او معصیت کښی نه خرڅوی او نه ئې په ښه لاره کښی د خرڅولو څخه راګرځوی -

⊙ اتم :- د خپل نفس د پاره به د بن رګی او ښه والی غوښتونکی ته وی او د کبر مغروری څخه به په

پوره توګه ځان ساتی ـ الله تبارک و تعالی فرمائی:ـ
تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا :ـ یعنی جنت اصلی کور دی ، په دغه جنت کښی هغوخلګو ته ځای ورکوو کوم چه په دنیا کښی لوړوالی نه غواړی او نه هیڅ د فساد کار کوی .

⊙ نهم :ـ د پنځه وخته لمنځونو ساتنه کول ـ الله (ج) تبارک و تعالیٰ فرمائی :ـ حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ :ـ یعنی د پنځه وخته لمنځونو او خصوصًا د مانځه ساتنه وکړی او په ډیره عاجزی او ادب سره د الله تعالیٰ په حضور کښی ودریږی ـ

⊙ لسم :ـ دا چه پر سنت نبوی صلی الله علیه وآله وسلم او پر اجماع د مسلمانانو ولاړ اوسی ـ الله تبارک و تعالیٰ فرمائی :ـ وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ ـ یعنی د اسلام دین زما براړه لاره ده وجنت نو پیروی وکړی تاسی د دغه لاری ـ

د محبت په باره کښی

حضرت قدس سره العزیز فرمایلی دی چه محبت

د زړه د تشویق (بې قراری) نوم دی کوم چې د محبوب د فراق او جدایې څخه زړه ته پیدا کیږی د غه وخت د نیا د غه عاشق ته دگوتمی د حلقې یا د غم د مجلس په ډول معلومیږی ـ محبت هغه شراب دی چې د هغه نشه هیڅکله نه لیږی کیږی، محبت د محبوب سره که ظاهری وی که باطنی وی په هرحال کښې د خلوص نیت (نیک نیتی) نوم دی، محبت د محبوب څخه ما سیوای د محبوب د مشاهدی اولید و څخه هیڅکله په هوښ کښې نه راځی ـ هغه د اسی مریض دی چې بیله د یدارہ د محبوب جوړوالی نه پیدا کوی ـ هغه د اغیارو څخه په انتهائی درجه وحشت او نفرت کوی بیله مولا د هغه د هیڅ چا سره محبت نه وی ـ

د همت په باره کښې

هغه قدس سره العزیز وفرمایل چې نفس د د نیا د محبت څخه او روح د عقبیٰ (آخرت) د تعلق څخه لیږی ساتل او ارادهٔ عُقبیٰ په اراده مولی سره بدلول او مقام سرّ دکون په اشاره سره که څه هم د یوه کړی د پاره وی ـ صحیح خالی کول دی.

د شوق په باره کښې

هغه قدس سره العزیز وفرمایل چه بهترین شوق هغه دی چه د مشاهدی څخه پیدا سی او د بقا څخه وروسته هیر نه سی بلکه همیشه ئ الفت (رغبت او میل) باقی وی بیله دیدار او ملاقات څخه ئ په هیڅ ډول تسلی (د زړه پاڼ) ممکن نه وی - په څومره اندازه چه ملاقات حاصلیږی د دغه څخه ئ شوق نور زیاتیږی - د شوق لپاره دا هم ضروری ده چه هغه شوق پخپله دا سبابو څخه د روح د موافقت یا د همت د متابعت یا د نفس د خوشحالی څخه خالی وی، د غه وخت مشاهده دائمی کیږی - او د مشاهدی څخه د مشاهدی شوق پیدا کیږی.

په مسلمان کښی دکومو شیانو وجوبد لازمی دی د حضرت غوث الاعظم قدس سره العزیز وینادہ

چه د هر مسلمان لپاره د دغو شیانو په ځان کښی پیدا کول ضروری دی .

⊙ اول :- د احکامو پابندی او عمل په کول.

⊙ دوهم :- د هغو شیانو څخه د کومو لپاره چه الله تعالیٰ منع فرمائی، د هغو د کولو څخه ځان ساتل.

⊙ دریم :- په قضا او قدر سره راضی کیدل، او هیڅکله د تقدیر څخه شکایت نه کول د دغو درو خاصیتونو څخه هیڅکله خالی نه اوسیدل، د اسلام اولنی درجه ده. د دی سببه پس هر مسلمان لاندې ده چه هغه د دغو شیانو پابنده سی، او همیشه په خپل زړه کښی د دغه خبرو فکر وکړی او پس د دغو خبرو باندی عمل کوُنکی و اوسی.

دښوا عما لو تلقین او ښوونه

دسنت تابعداری کول اودبدعت څخه ځان ساتل او
درسول الله صلی الله علیه وسلم حکم منل خدای پاک
واحد مطلق ګڼل دده سره شریک نه نیول اودده ذات چه
په ښو صفاتو ستایل سویدی منزه او پاک ګڼل - پس ده
باندی هیڅ تهمت نه لګول او عیب نه لګول بیله یوکوم شک
او شبهی څخه د اسلام دین حق اور شتیا منل - د غم په
وخت کښی صبر کول او په هرحال کښی ثابت قدم اوسیدل
دالله تعالیٰ څخه دده فضل اوکرم غوښتل - په ناکامی سره
نه ناامیده کیدل - اودده د پاک ذات څخه هروخت
امید درلودل یودبله د وروړو په ډول ګډون اواخلاص
سره ساتل - دد بښمتی او حسد څخه پرهیزکول یوځای
په جماعت سره الهی عبادت پرځای کول اودخدای پاک
لپاره په خپل منځ کښی محبت سره ساتل دګناوو څخه
ځان ساتل او په الهی بندګی سره بنایست حاصلول - هر
وخت خاص د خدای پاک وطرف ته فهم ساتنه کول - او
دده څخه هیڅکله مخ نه اړول په توبه کښلوکښی تلوار
کول - په شپه او ورځ کښی دده د یاد څخه غافله نه

او سیدل او دعذر څخه سستی نه کول د هرمسلمان د
پاره ضروری ده او د هرسړی لپاره همدغسی په کار دی
په دغه امید چه ممکنه ده چه الله تعالی به کوم
چه ارحم الراحمین دی پرهمو ښ باندی رحم وکړی او نیک
بختی به را په برخه کړی هغه خدای پاک جل جلاله به
د دغه دوښ څخه امان او سانتنه راکړی او د جنت
نعمتونه به راکړی چه هلته به مود پیغلو ښځو مجلس،
پر ښو ښو اسانو سپر یدل او د خوشحالی راوړونکو
خوشبوئ لرونکو، ښائستو او رنګینو حورو ن ړه
وړونکی آوازونه خوشحاله کوی، او د پیغمبرانو
صادقانو، شهیدانو، او نیکو خلګو سره اعلی مرتبه
را ښخښی -

د دنیادارانو په باره کښی

کله چه تاسی د نیادارانو ته وګورئ چه د دوی په
لاس کښی د رواغجن سامانونه او د فکر، فریبو
او چمو اوړ ونکی زهرو سره مال او د نیا جمع دی چه
د هغه ظاهر پوست او نرم او باطن ئ وچ کلک دی، او هغه
خلګ د کومو په لاس کښی چه سمدستی مال ستړه - او
کوم چه مغروره او بی فکره دی، د غه د نیا پرې ژړ

هغوی وژنی او د خپلی بی وفایئ او وعده خلافی له جهته
څخه هغوی په غمونه اخته کوی

نو د غه د نیا داسی وگنهی لکه چه یو سړی د قضائی
حاجت پرځای باندی لخ ناست دی او لکه څرنگه چه
د هغه د لخ لیدو څخه وروسته ستړگی پټوی ـ او د
مرداری د بدبوئي څخه ئی د ځان ساتلو لپاره پزه
بنده کړی وی نو همدارنگه د لته هم چه د نیا د دنیا
دارانو په لاسو کښی وویني پزه او ستړگی بندی کړی
د دی د پاره چه د د غه د نیا فریب او ز ینت نه وویني
او د دی د شهوتونو او خوندونو مغز خرابوونکی بد
بوئي بوی نه کړی. په د غه د لیل د دی د آفتونو څخه ـ
خلاصون نز لاسه کیږی، او هغه بنه او خوشگواره
برخه هم ستاسی نصیب د ه او تاسی ته رسیږی.

الله تبارک و تعالیٰ پیغمبر صلی الله علیه و آله و
سلم ته فرمائی ـ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ
أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ وَ
رِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ـ ترجمه:ـ او مه گوره ته هغه
شی ته چه موږ وړکړی دی کفارو ته ـ د یوځو
کفارو د فایدی د پاره موږ ورکړی دی (یعنی د ژوند

بنایست) لپاره دد ی چه موږ په دغه سره د دوی انمویښه وکړو ، او الله تعالیٰ چه کوم رزق تاته درکړی دی یعنی هدایت او نبوت هغه پیر بنسه او تل ترتله دی.

دَنفسْ دپَرَیښنُودُلُوا وَتوُبی کَولُوپَه بارَه کښیْ

ای خلګو د خپل نفس څخه جلا سی او د خپل ځان باچهی پریږدی - هرکار خدای پاک جل جلاله ته وسپاری او دده د طرفه څخه د خپل ژوند چوکیدارانجوړ سی یعنی کوم شی ته چه هغه د ننه تللو حکم ورکړی ته هغه د ننه پریږده او کوم شی چه د دا خلید و څخه منعه کړی هغه مه پریږده ، د غه رنګه هغه هوا اوهوس هم چیوار ی و تلی دی بیا نه راځی ځکه چه لکه څرنګه چه هغه د مخالفت کولو څخه وزی همدارنګه د مخالفت پریښودلو اوموافقت په صورت کښی بیرته راځی .

نو د دی سبب څخه ماسیوای د الهی ارادی څخه بله هیڅ اراده کول نه بنایئ ځکه چه په هرحال کښی کیدل خو هغه دی چه الهی اراده او د خدای پاک حکم دی. بیا نو ماسیوای د دغه بل خواهش کول که بی عقلی نه

ده نو بل څه شی دی؟ چه د دغه وجهی څخه په زیانو
بلاؤ اخته سی او د الله تعالی د رحمت د نظر څخه ولویږی
بیا نو ښه دغه ده چه الهی حکم پرځای کړه - او د امر
او نهی پابندی وکړه او ټول کارونه هغه خدای پاک
ته وسپاره - فانی مخلوق ته دیوه شی په نسبت کولو
سره د خدای پاک شریک مه جوړوه - یعنی د انسان
اراده او خواهش ټول فانی دی - بیا نو د دغه پریښودل
په کار دی د دی دپاره چه مشرک جوړ نه سی -
الله تبارک و تعالیٰ فرمایلی دی -

فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا
وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا - یعنی الله تبارک
و تعالیٰ فرمائی کوم څوک چه د پروردګار د دیدار
امید واره وی هغه ته په کار ده چه نیک عمل
وکړی او بل هیڅوک په الهی عبادت کښی شریک نه
کړی، خاص د دغه خبره نه ده چه یوازی د نیت
کولو څخه شرک منځ ته راځی - بلکه د نفسانی خواهشاتو
پیروی کول، او د الله تعالی جل جلاله سره د دنیا، یا
آخرت یوشی عوره کول هم شرک دی - ځکه چه دده
د خاص ذات څخه ماسیوا ی هر یوشی دده څخه غیر دی

او کله چې د ده جل جلاله څخه د غیر وطرف ته مائل او متوجه سی نو دغه شرک دی - د دی سبب څخه پرهیز کول او د ما سیوا ی د الله تبارک وتعالیٰ څخه ځان ژغورل په کار دی - همدارنګه تل د ده څخه بیریدل او د ده تلاښ او طلب کول په کار دی - د پاره د دی چې د بل شی سره مو مینه او محبت پیدا نه سی او د خپل ځان او نفس د حال یا قال په اړه کله چیرې تا خلګ ته ذکر کړی وی نو مه ئ بد لوه کله چیرې یو حال هم د رکړه سوی وی یا یو بله وجه هم وی - نو هغه هم د خلګ څخه پټ کړه ځکه چې د الله تعالیٰ په کارونو کښې هم تغیر او تبدیل ستر چې د دغه د رجې څخه به کومه چه تا خلګ ته ویلی ده ناحقه شرمنده سی. چې د دغې د رجې څخه به کومه چه تا خلګ ته ویلی ده ناحقه شرمندګی راسی، نو له دی وجهې بهتره داده چه پخپل ځان کښې ئ پټه وساتی او بل چا ته ئ ګرسره هیڅ خبر ورنه کړی - او که چیرې د دغه د رجې څخه حالات بدل نه سی او هغو حالاتو ته دوام او بقاء ـ حاصله سی نو هغه دی د الله تعالیٰ بخښنې وګڼل سی. او شکر دی پرځای سی او د رجاتو د ن یا تو الی سوال او

غوښتنه دی وکړل سی، او که هغه مقام او درجه بدله
همسی خو بیا هم د هغه څخه د علم او معرفت او هوښیاری
په نور کښی ډیر څه اضافه کیږی، لکه الله تعالیٰ چه
فرمائی ـ مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا
اَوْ مِثْلِهَا اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝

یعنی کوم آیت چه موږ منسوخ کوو او یائی درڅخه
هیروو نو ترهغه په ښه آیت یاد هغه په مثل بیرته
راتګ کوو ایا تاسی الله تعالیٰ پر هرشی باندی قادر
نه پوهیږی؟ـ

الله تعالیٰ عاجز مه ګڼی هغه پرهرشی باندی قادر
ښایی چه هغه ترا ایسته کړه سوو شیانو ښه شی در کړه سی
د طریقت پرخاونداتو نا امیدی کول کفر ده ـ زړګیه که
یوه درواڼه وتړل سی، بله درواڼه را خلاصوی ـ هغه
عاجزه او بی وسه مه بوله، او مه پرهغه د غلطی ګمان
کوی، د هغه په وعده کښی شک مه راوړی او د رسول
الله صلی الله علیه والـه وسلم پیروی کـوی تاسی
وګورئ آیا تو نه نازل سوه او په قرآنو کښی ولیکل
سوه په مسجد وتوکښی وویل سوه ـ ډیر وخت په هغو
سره عمل وکړه سو، مګر بیا هغه منسوخه سوه. او د

هغو پرځای نور نازل سوه دا خوهغه څه دی چه په
ظاهری شرعه شریفه کښی وسوه او په باطل اوعلم
باطن او په هغه حال کښی کوم چه د خدای ﷻ او رسول
الله صلی الله علیه وسلم ترهغځ وُ د هغه په اړه محمد
رسول الله علیه وسلم فرمائی چه زمایرزه باندی
دنری اوریځی په شان پرده راسی - بیازه په یوه
ورځ کښی اویا ځل واړه توبه اود الله تعالی څخه استغفار
طلب د بختنی کوم (دلته د سلوواړو روایت هم سویدی)
نو هغه دیوه طرف څخه بل طرف ته بدلیدی اود غیبو
په میدانو کښی ټُ گرځلاو کوی او همیشه ټُ دنورو جامی
بدلولی چه د دغی وجهی څخه ټُ د موجوده حالت په
مقابله کښی تیر حالت ، یعنی د د وهم کیفیت په مخ کښی
هغه تیر کیفیت تیاره او تاریک معلومیدی چه د
هغه لپاره ټُ د توبی کښلو ښوونه کوله حُکه چه د
بنده لپاره توبه او استغفار د پیر و ښو شیانو څخه
دی . که ټُ گناه کړوی ، او که ټُ نه وی کړی ، حُکه چه
په توبه کښی خو فقط د گناه اقرار کیږی.

او بنده ته د غه د وه صفته د حضرت آدم علیه السلام
څخه د روایت په توگه ورکړه سویدی یعنی کله چه د د ه

پر صفا حال باندی د قول او وعدی د هیرولو نیاړه ولویده
او د جنت د عمری هستوګنی او د الله جل جلاله د همسایګی
(کوم چه رحمان او رحیم او د تعظیم لایق دی) په موجودګی
کښی ئ د ملائکو د خویونو خواهش او غوښتنه وسوه
(د دی څخه ئ د نفس د هوا بنکاره والی وسو) څرنګه چه
په دغه حالت کښی د خپلی ارادی شریکول ؤ، نو له دی
وجهی الله تعالی د دغه اراده مانته کړه د کومی له وجهی
څخه چه هغه ولایت تللی او هغه مرتبه کمه او کښته سوه په
انوار و کښی خپ والی پیدا سو آخر کار هغه د الله دوست
اګاه کړه سو په دی وخت کښی هغه د خپلی غلطی او ګناه
اقرار وکړی او وئ ویل چه ای خدایه موږ پر خپلو ځانونو
باندی ظلم کړی دی که چیرې ته موږ و نه بخښی نو
موږ به په سخت تاوان کښی پاته یو، په آخر کښی پس
هغه باندی د هدایت انوار نازل سول، او بنی ګټی
او عاموته او معرفتونه کوم چه پټ وه د توبی او استغفار
له وجهی څخه بنکاره سوه، د دغه وخت هغه اوله اراده
د دوهمی ارادی څخه او هغه اول حالت د دوهم حالت
څخه بدل سو، او هغه ته ولایت ورکړه سو او د اخرت
ارام ئ نصیب سو۔

دیوځو د ځو هوسایي لپاره دده او دده د اولاد دنیا
او سید لوځای و تاکل سو ،
او آخرت د بیرته راګرزیدو او بنه سوکاله ژوند هیشنی
سرای و تاکل سو، د خبرو خلاصه داسوه چه پس سرې
باندی د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم او د حضرت
آدم علیه السلام چه د ټولو انبیاؤ بزرګ نیکه دی پیروی
کول لازمه ده یعنی په هرحال کښی د خپل قصور — او
کوتاهی او استغفار او خواری او محتاجی اقرار کول په کار دی.

د تقدیر او اندازی په باره کښی

د نعمت د حاصلولو او د مصیبت د لیرې کولو کوشش
محضی (مازی) عبث کار دی ځکه که چیرې په قسمت
کښی نعمت وُ نو هغه خامخا ترتا پورې رسیږي او که چیرې
مصیبت لیکلی وُ نو هغه په هیڅ ډول نه دفعه کیږي
که څه هم ته د هغه څخه هیڅ ډول نفرت نه کوی او
هیڅ قسم د عا او زاری نه کوی (راضی په رضاء بیُ) نو
له دی وجهی بهتره د غه ده چه په داسی حالت کښی
صبر او تسلیم اختیار کړی چه ستا هرکار الله تعالیٰ
وکړی، بیا که چیرې نعمت حاصل سو نو شکر ئ یې وکړه.

اوکه سختی راسی نوصبر او رضا له لاسه مه ورکوه۔
بلکه دغه نعمت وگنړه یا ئې گن سره نیستی او نابود وبولـه
او د اوگنړه چه دغه حالت نه اوس را بدل سوی۔

او همدغه ډول د الله تعالیٰ دلاری په منزلونو
کښی راگرځول کیږی، ددی دپاره چه په کراره کراره
تر لوړی درجی پورې چیرې چه نبیان او ملائکی دی
ورسیږی بیا نو دغه وخت نه د شهیدانو اوصادقانو
سره برابر درینږی پرهغه بیخی لوړ مقام باندی چیرې
چه الله تعالیٰ ډیر نژدی دی، ددی لپاره چه دهغو
کسانو کوم چه له تاځخه د مخه تللی دی (او هغه د
الله تعالیٰ د مقربینو او مخلصینو څخه دی، او کومـو چـه
لوی لوی مرتبی او نعمتونه اوخوشحالیانی پیدا کړیدی)
مرتبه په نظر درسی اود بلا او افت په را تگ کښی مقابله
ونه کړی او د هغی څخه و نه بیږی حکه چه د هغی
تیږی او سختی دد وښ خ تراوړ په یره لمبه وهونکی نه
ده او په حدیث شریف کښی را غلی دی چه د وښ خ ومؤمن
سړی نه وائی چه ای سړیه نه له دی ځایه څخه مخ نه
ولاړ سه ستا نور زما تیږی کمه کړه کوم نور چه د وښ خ
لمبه کښته کوی۔ همدغه نوردی چه په دنیا کښی د

انسان سره دی او د کوم سره چه د فرمانبردار ه او گنهگار ه
په منځ کښی فرق کول کیږی نو بیا د غه نوم هر څوک ـ
سختی لیږی کوی او د صبر او د الٰهی حکم سره برابری
یعنی تر هغه تیزه گرمی کښته کوی کومه چه نازله سوی
وی یا نازلیږی ـ نو له دی وجهی ښایئ چه پوهه سوچه
بلاد هلاک او وژلو لپاره نه راځی بلکه د دغه مقصد فقط
امتحان وی، او دا چه د ایمان دښمنان له خوا یو
نیږی دی، حکمه چه الله تعالیٰ فرمائی :ـ وَ لَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى
نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِيْنَ مِنْكُمْ وَ الصَّابِرِيْنَ وَ نَبْلُوَ كُمْ اَخْبَارَكُمْ
یعنی هوین تاسو په ازمویښه کښی اچوُ د د ی لپاره
چه جهاد کوونکی او صبر کوونکی معلوم کړو او هوین ـ
ستاسود خبرو ازمویښه کوو او ستاسی ایمان پرحق
باندی تینګیږی ، نو له دی وجهی ته د الله تعالیٰ په
پوره توفیق سره د خدای پاک په کړنه کښی د هغه
سره موافقت وکړه او پر قضاء او قدر باندی صبر
وکړه د الله تعالیٰ د حکم څخه مه اوړه ، وخپلی ارادی
ته په خپلو یا د بل چا په کار وکښی هیڅ د خل او
گډون مه کوه ـ او یو نوی خبره دا مس اونهی د قسم
څخه مه کوه د الله تعالیٰ حکمونه په غور سره واو ره،

اوژړ تر ژړه هغه پرځای کړه ، هغه فقط د تقدیر ته
مه ورځواله کوه بلکه په زړه کې د اوقوت خپلې پښې او
لاسونه وښوروه او خپل زیار او کوښښ د الله تعالیٰ
دامر په اداکولو کښې مصرف کړه او د ده پناه وغواړه
او عذر بیان کړه د خپلې د غه عاجزۍ سبب اوخنډ معلوم
کړه او د هغه پناه وغواړه .

چې د الله تعالیٰ څخه وماسیوړی ته درجوع کولو
څخه پیښه سوه یا ستادیو غلطی د وجهې څخه یا پې
خپل ځان باندې د باور کولو څخه یا په خپل عمل سره
د فخر او مغروری له وجهې یا د کښ کولو له وجهې یا الله
تعالیٰ هم لکه خپل ځان یا لکه مخلوق داسې ګڼلو څخه
پیښه سوه ـ او هغه خپله د روان ه بنده کړه او ته ئ د
خپلې بندګۍ د نعمت څخه بې نصیبه کړلې ، او کومک ـ او
توفیق ئ د ر څخه بند کړې ستا لخوا څخه ئ مخ واړوې
او ته ئ د بنمن وګڼلې پر تا ئ غصه وکړه له له دغې
وجهې ئ ته د انسانانو بلا یعنې د دنیا دارادې او غوښتنې
سره بوخت کړلې ـ ځکه چې د غه ټوله شیان د الله
تعالیٰ څخه سړې غافله کوې او د هغه د نظر څخه ئ ګرسره
را اچوې نو بیا خو د بیرې ځای دې چې یو غیر شې دې

د هغه چا د یاد څخه (چا چه پیدا کړی یئ ، او او س د ی
پالنه کوی او مال او دولت او عیش او عشرت د ر له
د رکوی) غافله کړی - د الله تعالی څخه ما سیوی نور
ټوله شیان غیر د ی - نوله د ی وجهی بنا یئ چه د
الله تعالیٰ څخه غافله کونکی بل شی گرسره خوښ نه کړی
له د ی وجهی الله تعالیٰ انسان فقط یوازی د خپل ځان
لپاره پیدا کړی د ی . نو او س چه د هغه (ج) څخه گرځی،
او د یو بل چا وخوانته میلان کوی ، نو پر خپل ځان باندی
ظلم کوی ځکه چه هغه د د ی په سزا کښی د اسی او ر
ته وړ اچول کیږی د کوم پیلوونکی چه انسانان او پ بری
د ی - د د غه وخت پښیمانی بیا هیڅ فایده نه سی د رکولای
نه هلته عذر او بهانه او ر یدل کیږی او نه وژړا
او زاریو ته فاملر نه کیږی - ته به ر ضامندی غواړی
خو هغه به نه ټل لاسه کیږی ته به د تیر ما فات د جبیره
کولو لپاره بیر ته و د نیا ته تلل غواړی خو هغه نه سی
کیدای .

پس نو ای سړیه په تاکنی خو یو څه عقل هم
سته نو ته پر خپل ځان باندی رحم وکړه - او هغه
اسبابو نه کوم چه تا ته د الله (ج) له خوا د رکول سویدی

د هغه په بندګی کښې استعمال کړه یعنی د عقل علم ایمان او معرفت او د اسې نور و د رنا څخه د تقدیس و نو په تاریکی کښې کار وا خله او د امر او نهی لاره اختیار کړه او ماسیوای د امر او نهی څخه بل هر کار د هغه پیژندګار جل جلاله وخوا ته ور و سپاره چا چه ته د عدم (نیستی) د عالم څخه په وجود راوړلی - او د هغه څخه په هیڅ حال کښې کفر مه کوه چا چه ته جوړ کړی او پاللئ یې -

ستا اصل خاوره ده او تر هغه ور و سته د منیو یو څا څکی مګر وګوره چه د د غه څخه ئې څرنګه صحیح اندامه انسان جوړ کړی ئې، د غه احسان و منه او د د ه په حکمو کښې خپلی ارادی ته هیڅ د خل مه ور کوه - ماسیوای د امر او نهی ، او یو امر لاهم بد مه بولـه او کړکه مه ځینی کوه او په د نیا او آخرت کښې د حق امر (شی یا کار) سره صبر و کړه او د منهی عنه امر (شی یا کار) څخه د واړه ځایه پر هیڅ کوونکی او سه ځکه چه هرڅه د د ه ج تابعداره د ی - نو کله چه ته د اړول کوی او د د ه د حکم په تابعداری کښې امر او نهی پرځای کوی نو تولـه جهان به ستا حکم پرځای کوی او تولی سختی به ستا څخه لیرې کیږی لکه الله تعالی چه فرمایلی دی -

چه ترجمه ئ داده :- ای د آدم اولاده ن ما څخه پرته بل هیڅوک معبود په حقه نسته که چیری ن ه یود (کُنْ) لفظ ووایم نو هر یوشی پیدا کیږی پس نو ته ن ما خبر و منه تاهم داعنی کوم چه ته کوم شی ته ووایئ چه سه هغه به کیږی.

او یوځای ئ فرمایلی دی چه ای دنیا ن ما خدمت کونکی ته خدمتگاره جوړه سه مگر د خپل خدمتگاره بیاسره داره اوهغه په درود ونو اخته لره - پس نو خپل ځان داسی وگڼه چه الله تعالیٰ دی د چا څخه منعه کړی منعه سه اود ده په رضا کښی وړک سه چه ته د داسی کور په تیاره غولی کښی ناست ئ د کوم چا چه تا دا بو نه نږدی دی او بام ئ را لویدلی دی او دیو بی حسه او بی شهرته ، او کانړه ، او راوتلی سړی په شان جوړ سه ، چه ستا شونډان زخمی او چاودلی سی او ژبه دی بیخی گونگه سی او غابنونه دی داسی معلوم سی چه گوا کی په دوی کښی زخمونه سته سته او پ یر څه باندی درد دی غرض دا چه گرسره دنه سړی غوندی جوړ سه او په هرحال کښی گیډه مړه غوندی لیونی غوندی معلوم سه او ستا بدن دی

دی د مړه په شان وی چه ګرا کی د قبر وخوا ته وړل کیږی.

بیا نو د اوږیدلو سره سمدستی قبلول په امر کښی کیږی، او آسانی کول په نهی کښی او ګرسره فانی کیدل په تقدیر کښی - ای عزتمنده د عنه شربت و چیبنه او په د عنه د واړسره علاج وکړه او د عنه غذا وخوړه - د د دی د پاره چه تاته هضم هم سی او د ګناه د مرض نو او د نفسی خواهشونو د ناجوړ والی او د اسی نورو څخه صحت او جوړ والی هم حاصل سی.

د ظاهری اسبابو د پریښودلو په اړه

و تاته د الله تعالی فضل او نعمت بی واسطی در کول کیږی د دی وجه دا ده چه ته پس سبب او لاړو، او او کسب او کار یګړو باندی تکیه کوی او دا بنکاره ده - چه حرص او سرا بنی یوه پرده ده مګر په کسب کولو

عه له همدی ځایه څخه بیا د ع۱۴ لیکی د (هوکی) تر توری پوری ما ته بنه واضح نه بنکاری نو کیدای سی چه په (اردو) کښی به څه کمبوت او غلطی وی که نه نو ما خو د خپل توان مطابق کټ مټ هغه الفاظ ترجمه کړیدی د هرکتونکی څخه ن ما د اهیله ده چه د غه ځای دی د شفقت او مهربانی له مخی تصحیح کړی ۱۲ مترجم عبدالواحد عفی الله عنه

سره خورک هم سنت دی بیا نو کله چه ته د خلگو د ورکړې او احسان امید واره کیږي ی بس هغه وخت د الله تعالیٰ سره شرک کوونکی کیږي ی، او تا ته د سنت سره برا بره سزا در کوی. بلکه ته د خلگو څخه د ورکړې او بخښنې امید واره هم اوسی، او د الله سره څوک هم نه شریکوی او کسب کوی خوری ئ، مگر ستا تکیه فقط پر کسب باندی وی او فضل او کرم دی گر سره هیر کړی وی نو هم به مشرک ئ مگر د اشرک خفی (پټ شرک) دی. د دی په سزا کښی الله تعالیٰ تا د بی واسطی نعمت رسولو څخه محروم او بی نصیبه کوی.

هوکی که چیری ته توبه وکړی او د غه شرک پریږدی او پر کسب او سبب او ذریعه باندی تکیه او باور پریږدی او ته فقط یوازی الله تعالیٰ رازق مطلق او مسبب الاسباب او د ټولو مشکلاتو اسانه کونکی او پر کسب باندی د وس او طاقت او پر نیکیو باندی د توفیق ورکونکی وبولی او دا او وایئ چه د همده په لاس کښی د انسان رزق دی او هغه ئ وهریوه ته رسوی بالا نو عام که ئ د ریاضت په حال کښی د امتحان لپاره په تاد خلگو څخه وغواړی در ئ کړی او یا ئ د کسب د سببه

څخه ، یا ئ فقط د خپل فضل او کرم څخه چه نه یه دی
کښی کسب وی نه کومه اله او وسیله.

حاصل ئ داچه کله ته د ده یه حضور کښی د تسلیمی
سر کوښ کړی نو هغه ستا او د خپل فضل د مابینه څخه
پرده پورته کوی او تاته همیشه بیله وسیلی او سببه
د ضرورت پر قدر نعمتونه درکوی لکه یو پوهه او
مهربانه حکیم چه ئ د مریض لپاره کوی او هغه تا په
هر ډول راضی او خوشحاله ساتی ددی د پاره چه د بل
چا څخه ستا رغبت او میلان پورته سی د غه ډول ستا
د زړه څخه ټوله خواهشات او خوندونه لیری کیږی
او پرته د ده دارادی څخه هیڅ نه پاته کیږی، کله چه
هغه ستاد قسمت رزق در رسوی د کوم چه په دنیا
کښی یل څوک حقدار ه نه وی، نو ستا په زړه کښی د هغه
غوښتنه پیدا کوی او هغه ستا وخوانه د ر استوی
کوم چه د خاص ضرورت په وخت کښی تاته رسیږی.
تر دی وروسته هغه تاته توفیق درعطا کوی چه ته
د هغه شکر ادا کړی، او پوهه درله درکوی چه ته
د غه شی د ده له خوا و بولی او دی ئ ورکونکی و بولی
بیا نو ته د غه وخت د ده شکر اداء کوی او په پوره ډول

د علم او معرفت د خاوند انو څخه کیږی، او د دغه صفت څخه د علم او معرفت و تاته د ټولو مخلوق څخه یو خاص د ول امتیاز او جلا والی تر لاسه کیږی او ستاز ه د بل چا څخه بالکل خالی کیږی.

کله چه دا خبره کیږی، او ستا علم او یقین ټینګ ستا خوله خلاصه او ستاز ه نورانی کیږی - ستا لیاقت د هغه دا سرار و د ساتنی لپاره، او ستا امانت د هغه سره کیږی - د غه وخت تاته د مخه تر وخت معلومیږی چه ستا رزق تاته کله راځی - د استاد بزرګی او عزت د پیر ولو لپاره د الهی فضل او کرم له مخی کیږی - لکه چه د الله تعالی ارشاد دی:- وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ (السجده ۲۴) یعنی و گرځول مونږ له دوی (بنی اسرائیلو) څخه پیشوایان چه لار ښوونه ئی کوله په امر سره زمونږ کله چه دوی صبر و کړی او دوی وه زمونږ پر ایا تو تو باندی پاخه باور کونکی.

او ارشاد دی چه: وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا. او کوم کسان چه زمونږ په لاره کښی جهاد و کړی نو حتماً مونږ هغوی ته خپلی لاری ښیو -

او ارشاد دی چه:- وَ اتَّقُوا اللّٰهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ:
یعنی د الله تعالیٰ څخه وبیریږی او هغه تاسی ته علم
درکوی- غرض دا چه تردی وړاندی ستاسی د تکوین
(جوړولو) درجه درکول کیږی او ته به د خپل حکم
او صریحی اجازی څخه پیدا کولای سی پرکوم چه هیڅ
اعتبار نشته او درو بنانه دلاټلو سره او د پیر بنه
کلام سره کوم چه د پیرو خوبزو شیانو څخه دی او د
رشتنی او بیله شک او شبهی دالهام سره - الله تعالیٰ
په خپلو حُبینو کتابونو کښی ارشاد فرمایلی دی چه ای د
آدم اولاده زه الله (ج) یم او نشته زما څخه پرته
(ماسیوا) بل څوک معبود کوم شی ته چه ووایم
چه: سه: هغه کیږی ته زما فرمانبرداری وکړه
تاهم همدغسی کوم چه ته هم کوم شی ته ووایې
چه: سه: هغه به کیږی او الله تعالیٰ دانسانانو
د څو نبیانو او ولیانو سره د غه معامله کړیده.

درضاء په اړه

که چیرې یو تکلیف پر تاباندی راسی نو د خلګو
څخه د هغه شکایت کول نه بنایي که دوست وی او که

دښمن وی ۔ او پر الله تعالیٰ باندی دهغه دکو لـو تهمت مـه لگوه ۔ بلکه هرگړی ئ شکر ادا کړه څکه چـه بیله سر شکر ئ او نعرود نعمت شکر ادا کول تردی بـه دی چه ته ر شتیا گوتا جړ پـی او دهغه شکایت وکړی ۔ آیا په دنیا کښی یو داسی سړی او انسان سـته چه دده د نعمتو څخه دی بی برخی وی ؟.

الله تعالیٰ (ج) فرمایی :- وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا؛ یعنی که چیری تاسی د الله د نعمتونـو ـ شمیرل وغواړی نو هغه هیڅکله نسی شمیر لای ـ بیا نو د اټول نعمتونه کوم چه ته ئ پیژنی هم ستا سـره بیخی ډیر دی بلـه داده چه ته د چا سره کوم چه مخلوق وی الفت مـه کوه او مـه چاته د خپل حال خبر ورکوه بیا نود الله تعالیٰ سره محبت وکړه او هغه خپل آرام جوړ کړه او که شکایت کوی وهغه ته ئ وکړه ۔

عـه پیش کہ برآورم ز دستت فریاد
ہم پیش از دست تو می خواہم فریاد

او بل چاتـه مـه گورہ څکه چه د هیڅ چا پـه واک

عـه یعنی د چا پـه مخ کښی ستاد لاسـه فریاد وکړم ۔
هدغسی نود څخه لاستاد لاس څخه فضل غواړم ۱۲ مترجم

کښی نه فائیده ده نه تاوان نه نیکی ده نه بدی ، نه
عزت دی نه خواری ، نه لوړوالی دی نه مالداری
نه محتاجی نه آرام دی نه بی ارامی - ټوله شیان الله
جل جلاله پیدا کړی دی او ده په اختیار کښی دی .
هر شی به تر ټاکلی وخت پوری جاری وی او دهر
شی اندازه معلومه ده ، کوم شی چه ده ورو سته
کړی وی هغه هیڅوک تر مخه کولای نه سی او کوم شی
چه ده مخ کښی کړی وی هغه هیڅوک وروسته کولای
نه سی - که الله تعالیٰ تاته تاوان ورسوی نو پرته
له ده هغه څوک ایسته کولای نه سی - که چیری دی
ستا سره نیکی کول وغواړی نو هغه څوک منعه کولای
نه سی - که ته د نعمت د وجود سره سره د عاقبت - د
موجود بیدلو د ډیری غوښتنی د خواهش څخه د ده
شکایت کوی نو هغه تا په خپل غضب کښی اخته کوی
او نعمت او عافیت ستا څخه لیری کوی د غه وخت ستا
شکایت رشتیا کیږی او تاته د وچنده سزا در
رسیږی - او الله تعالیٰ ستا څخه ناراضه او دښمن
ګڼل کیږی او تاد خپلو نظرو څخه غورځوی ، پس نو
تاته ویره کول په کار دی که په چاقو یا غچی سره ستا

غوښی پریکښی نو دهغه څخه ځان ساتل لازم دی که نه
دی نو د شکایت څخه هم خپل نیت وساته، د الله تعالیٰ
څخه و بیریږه - چا بک چا بک و تښته پرهیز وکړه ،
ځکه چه د الله تعالیٰ د شکایت کولو څخه پس انسان
باندی رقم رقم بلاوی نازلیږی -

په مناسب دعه ارحم الراحمین او احکم
الحاکمین بنایسته شکایت دی کوم چه پرخپلو بندګانو
باندی همیشه رحمت کوی او د ظلم څخه ئې ساتی - نکه
څرنګه چه ئې یو حکیم او طبیب یا ګران دوست بلکه
مهربانه مور او پلار کوی .

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد
دی چه الله تعالیٰ پرخپلو بندګانو نه دی په رحم
کوی - نکه څرنګه چه مور د خپل زوی سره محبت
کوی ، پس نو هر وخت دده ادب په زړه کښی ساتل په
کار دی - دیو غم په وخت کښی صبر کوه د عاجزی په
وخت کښی څربه د شکایت څخه بند وه یا که د رضا سره
موافق هغه عاجزی وه نو صبر کوه که اوس لاهم
وجود باقی وو نو رضا اختیار کړه او که نیستی سوی
وو نو فانی کیدل په کار دی - آه اې د فنا درجی نه چیږی

ئې۔ او تاپه کوم ځای اوچیږی ولټوو۔

آیا تا دالله تعالیٰ دغه قول نه دی اوریدلی چه فرمایي: دکوم چه ترجمه په دی لاندی عبارت کښی درج کیږی:- یعنی پرتاسی باندی دکافرانو سره جنګ فرض کړ سویدی حال داچه هغه تاسو ته ناخوښه دی او ښایئ چه تاسی یوشی ناخوښه ګڼې مګر هغه ستاسی لپاره غوره وی اوګاه یوشی غوره ګڼی مګر هغه ستاسی لپاره بد وی او الله تعالیٰ پوهیږی او تاسی نه پوهیږی۔ (البقرة آیت نمبر ۲۱۶) ځکه چه دشیانو د حقیقتونو علم دآدم علیه السلام د اولاد څخه پټ ساتل سویدی نوله دی وجهی دخپلی خوښی او ناخوښی له وجهی بی ادبی نه کول ښائی۔ بلکه په هر شی کښی دشریعت تابعداری لازمه ده کله چه دتقویٰ په حال کښی ئې کوم چه لومړی قدم دی، او کله چه دانتقالی ولایت د هوا داور په حالت کښی سی۔ کوم چه دوهم قدم دی نو دامر تابعداری وکړه او د دغه څخه مخ ته قدم مه پورته کوه۔ او د ابدالیت او غوثیت او صدیقیت په حالت کښی کوم چه ستا آخری درجه ده پر الهی کړه باندی راضی سه۔ د

هغه سره موافقت وکړه او بالکل سم سره او د قدر د
لارې څخه جلا سه خپل نفس او هوا را منعه کړه او خپله
ژبه د شکایت څخه بنده کړه بیا نو کله چه ته د غه کار
کوې او نیکی در څخه پیدا سی نو الله تعالی تا ته بنه
ژوند در کوی او که بد در څخه وسی نو تا په د غه
طاعت کښی خوندی سائق او ستا څخه ملامتی لیرې کوی
او تا په دې کښی داسی ورک او نادرکه کوی چه هغه
مصیبت او ملامتیا تا ته داسی راځی تیرین بی لکه څرنگه
چه د شپی تاریکی تیرین بی او ورځ راڼوی کین بی یا دیو
موسم څخه وروسته بل موسم څان را بنکاره کوی - دا
نمونې دی نو په دی خاطر د د غو څخه عبرت کول په کار
دی - انسان د بدکارۍ، جرم، او ډول ډول نافرمانیو
او خطاؤ څخه پک دی، د الله تعالی حضور هغه خلگ
تر لاسه کولای سی، کوم چه د دعوی د خیرې څخه صاف
ستره وی لکه د باچها نو په مجلس کښی چه هغه
څوک شریک کیدلای سی کوم چه د مردارۍ او بد
بویانو څخه پاک صاف وی - وروسته وروسته نود
گناهونو بدله او زړه پاکو نکی بلاوی دی لکه چه د
آنحضور صلی الله تعالی علیه وآله وسلم ارشاد دی

چه د یوی وړځی تبه د یوه کال د ګناهونو وړ ګڼلی ده .

د دنیا جسمانی تکلیفونه

د نفس لپاره فقط دوه حالتونه دی - یو د حالت د بلا - او د وهم حالت د عافیت (جوړ والی) دی که چیرې دی د بلا په حالت کښې وی نو د هغه پیښ ندنه داده چه دی همیشه په ناړو او فریاد کښې وی - او شکایت کوی او د قضاء څخه ناراضه وی پر الله تعالیٰ باندی اعتراض کوی او تهمت لګوی د صبر او رضا پر ځای بی ادبی کوی - او مخلوق وسیله او د الله تعالیٰ سره ئ شریک جوړوی کفر کوی .

او که چیرې د عافیت په حالت کښې وی مطلب دا چه د دنیا په لحاظ خوشحاله او تازه وی نو هغه منکر ، د شهوت او لذت بنده ګر ځی - د هغه د خواهشونو بی پایانه سلسله هیڅکله نه ختم کیږی غرض دا چه د خورک او اغوستلو ، د نکاح کولو او داسی نورو لپاره که څه هم دده سره هر څه وی مګر دی د نورو د قسمت (برخی) هم غوښتونکی وی او پر خپلی برخی باندی د خواړی خیال کوی او په هغی کښی عیب

او کمی را باسی او د خپل قسمته (برخی) څخه ډک وی تر
موجوده شی لوړ هم غواړی او کوم څه چه د ده
په لاس کښی وی یا د ده په قسمت کښی وی د ی دهغه
څخه راضی نه وی آخر د سختیو کونکی گرځی او په
داسی ځای کښی چیری چه هلاکت وی لویږی - او
چیری چه د تکلیف هیڅ پای نه وی نه په دنیا کښی
نه په اخرت کښی - چا ښه ویلی دی - اِنَّ مِنْ اَشَدِّ
الْعُقُوْبَاتِ طَلَبُ لَا یُقْسَمُ) یعنی په ټولو عذابونو کښی سخت
عذاب د هغه شی طلب کول دی کوم چه په قسمت کښی نه
وی بیا نو کله چه په بلا اخته کیږی نو ټولی ارزوګانی
او غوښتنی ئی هیریږی او بس د غه غواړی چه څرنګه
غمونه لیری سی - حتیٰ چه :- که غمونه حُبینی لیری
کیږی هم مګر دی د غمونو د د فعه کید لو سره د ستی
بیا د خوشحالی، تکبر او غفلت په دریاب کښی ډوبیږی
او خپل د مخنی غم ګر سره هیره وی، خو د رب د
نافرمانی سزا هم د ه ته د غسی ورکول کیږی او بیا
دی د همیشه لپاره د الله تعالیٰ د نعمتونو څخه بی
نصیبه کیږی په غمونو او بلا کښی اخته کړه کیږی
له دی سببه د ده سانته په دی صورت کښی د ه.

چه ورو سته کچیری دی په هغه وخت کښی کله چه دده
بلاوی او غمونه لیری کړه کیده په تابعداری او شکر
گذاری سره او سیدلای نو دده لپاره په دنیا او آخرت
کښی بهتره وه اوده به د نعمت او عافیت زیاتوالی
او د الله پاک رضامندی او توفیق او دکښی یا ذات
لطف (مهربانی) تن لاسه کړی وای - ورو سته نو چا
ته چه د دنیا او آخرت سلامتیا مطلوب وی هغه ته
صبر ناک او رضامند او سیدل په کار دی هیڅ وخت
دی وخلگو ته د یو کار شکایت نه کوی او د الله تعالیٰ
څخه دی د خپل حاجت د ترسره کولو لپاره دعا او التجا
وکړی د هغه له طرفه دی د پراخی منتظر وی او توله
علاقی دی مانی کړی خود هغه دادی وی، حکمه چه
هغه تر ټولو بهتره دی هغه د خپلی عطا (بخشش)
څخه څوک بی نصیبه کوی او د خپل عنایت (مهربانی) څخه
ئی په عذابوی - د هغه په سختی کښی گوا کی د وا ده
د هغه وعده نقده ده د هغه پوره نقد دی د هغه
قول فعل دی د هغه حکم دادی چه هغه د یوشی اراده
وکړی - وایی چه: سه: پس نو هغه کیږی - د ده ټوله
کارونه پر نیکی، حکمت او ښی گټه باندی ولاړ دی

مګر ده د خپلو بنیکنو علم تر خپل ځان پورې محدود
کړ یدی و روسته نو بنده ته مناسبه ، او دده د حال
سره برابره داده چه دی د رضا او تسلیم او بندګی
سره بوخت وی او اُمر او نهی په پابندی سره پر ځای
کړی او تقدیر دی و منی او د ربوبیت سره کوم چه
د تقدیر و نو د جاری کولو ځای دی اخته نسی او د اسی
او هاسی څخه او الله تعالیٰ ته د تهمت ویلو څخه ژ به
را بنده کړی د غه ذکر سوی ټوله د حضرت عباس
رضی الله تعالیٰ عنه و طرف ته راجع کیږی او هغه
حدیث د ادی کوم چه عطاء روایت کړیدی چه ترجمه
ئی ټوله او پوره په لاندی عبارت کښی درج کړه
کیږی هغوی و فرمایل :- د اکارو ! د الله تعالیٰ (ج)
سانته و کړه هغه ستا سانته کوی ته به هغه خپل
مخ ته پیدا کړی - که چیری سوال کوی نو د الله تعالیٰ
کومک وکړه او که کومک غواړی نو د هغه څخه ئی وغواړه
او که ټوله دنیا و غواړی چه هغه شی کوم چه الله
تعالیٰ ستا په قسمت کښی نه وی لیکلی و تا نه درکړی
نو دا نا ممکنه ده دوی هیڅکله پردی قدرت نسی
پیدا کولای - یا که دوی په یو داسی شی سره تا نه تاوان

رسول وغواړی کوم چه ستا په قسمت کښی نه وی - نو دا
هم دده وی د قدرت څخه وزی - بیا نو که په یقین
او راستی سره د الله تعالیٰ لپاره عمل کولای سی
نو وئی کړه او که نه نو صبر اختیار کړه ځکه چه - د
طبیعت په نا خوښه شی کښی صبر کول ډیر ښه دی
معلومه دی وی چه د صبر سره کومک او د سختی سره
پراخی او اسانی ترلی دی - بیا نو هر مومن لره د غه حدیث
د خپل زړه اینداره او جامه جوړ ول په کار ده او په
هر ډول پرد غه باندی په خپل ټول حرکت او سکون
کښی عمل کول په کار دی - د دی د پاره چه د الله عز
وجل د رحمت او مهربانی له وجهی په دنیا او آخرت کښی
سلامت وی او په دواړو جهانو کښی عزت پیدا کړی.

د توکل په اړه

یوه مرحوم سپین ږیری ما څخه په خوب کښی
پوښتنه وکړه چه الله تعالیٰ ته نژدی کوونکی کوم شی
دی - ما وویل چه هغه شروع او پای دی یعنی په
شروع کښی پرهین گاری او په پای کښی رضا او تسلیم
او توکل.

د احکامو او فرائضو د عملی کولو په اړه

مؤمن ته لازمه ده چه اول فرضونه پر ځای کړی. او ورو سته د فرضو تر پر ځای کولو د نبی علیه السلام د سنتو وخوا ته مائل سی تر هغه وخته پوری چه د فرضو څخه فارغه سوی نه وی د سنتو وخوا ته رغبت کول بی عقلی ده ، او د غه ډول په سنتو یا نفلو کښی د مخه د فرضو تر ادا کولو بوخت کیدل نه قبلیږی ـ بلکه هغه خواریږی ـ د دی داسی مثال دی چه یو سړی باچا وخپل حضور ته وغواړی خو دی هلته نه سی ولاړ او وامیر ته داسی وډږیږی کوم چه د هغه باچا غلام دی او د هغه تر حکومت لاندی دی .

د حضرت علی کرم الله وجهه څخه روایت دی چه ده و فرمایل چه رسول د خدای صلی الله علیه واله وسلم وفرمایل چه : د هغه لمونځ کونکی مثال کوم چه د فرائضو د پر ذمه کیدو سره (فرضونه وربانده وی) نفل ادا کړی د هغی امید واری ښځی غوندی دی کومه چه حمل دار ه وی مګر ولنګوالی ته نژدی هغه حمل نقصان کړی ـ اوس ته هغه امید وار ه ده او نه لنګه ، د غه ډول بی لمانځه هم دی چه الله تعالیٰ د

ده نفلونه نه قبلوی ترهغه وخته پوری چه فرضونه ادا نه کړی.

اویومثال ئې د سود اگرهم دی چه وهغه ته تر هغه وخته پوری چه دی خپله سرمایه وانه خلی - هیڅ گټه نه معلومیږی نو دغه چې ول ددغه نفل کونکی حالت دی چه ترهغه وخته چه دی فرضونه ادا نه کړی نفل ئې نه قبلیږی - اودغه چې ول هغه سړی هم دی کوم چه سنت پریږدی او نفلو ته وځغلی کوم چه په کلکه د لمانځه سره مقرر کړه سوی نه وی.

د خبرو حاصل دا چه فرائض دادی (۱) دحرامو پریښودل (۲) شرک نه کول، (۳) پرده باندی دا اعتراض کول، دده په قضا او قدر کښی دیوچا شریکول، اود مخلوق تابعداری او قبلول نه پریښودل - لکه څرنگه چه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی. لَا طَاعَةَ لِلْمَخْلُوْقِ فِیْ مَعْصِیَةِ الْخَالِقِ - ترجمه:- نسته د مخلوق تابعداری د خالق په سرکښی او نافرمانی کښی.

مقاله نمبر ۴۹ :- چاچه پر بیداری باندی کومه چه د هوښیاری دلیل ده خوب ته ترجیح

ورکړه نو پوهه سه چه ده پر پیرو نیکیو باندی
بدی ته او پر پیرو بنی ګټو باندی ناخبر تیا غالبه کړله
ځکه چه خوب او مرګ سره برابر نه دی - له همدی وجی
الله تعالی لره نه خوب ستاه او نه د خوب پریشانی تر
داسی درجی چه ملا ټکی هم چه وده ته نژدی دی د
خوب څخه پاکی دی -

د غه رنګه د جنتیانو څخه چه دوی لوړ رتبه دی
خوب لیری کړه سویدی ځکه چه خوب د نقصان او
کمی سبب دی بیا نو په ویښوالی کښی نیکی او په
ویده کیدلو کښی بدی ده - مګر کوم خلګ چه ټ په
نفسانی خواهش سره خوری هغه خوب و نکی او څیښونکی
هم پیر او بیده کیدونکی هم پیروی خو د وی د غسی
پښیمانه کیږی هم، چه په خپل لاس سره څه پیره نیکی
برباد وی - او یوه ذره حرام خوړل د پیر حلال خوړلو
سره برابر دی ځکه چه حرام خوری ایمان پټوی - او
تاریکه کوی ټ لکه چه شراب عقل تاریکه کوی،

پس نو کله چه ایمان بی نوره سی بیا نه لمونځ کیږی
نه عبادت نه اخلاص - مګر کوم خلګ چه د الله تعالی
په حکم سره د حلال مال څخه لږ خوری په عبادت کښی

د خوشحالی او قوت پیدا کولو لپاره - پس حلال خوډنو څخه
لږ خوړی - په تاریکی کښی تاریکه ده .

د کلام حاصل :- حلال مال خوړل فقط په خپل
خواهش سره بیله حکمه د خوړلو ، د حرام خوړلو په
شان دی کوم چه نوم ئی بل او په کوم کښی چه بهتری
نسته الله تعالیٰ د مؤ منانو څخه کوم چه دده دوستان
اود ولایت او معروفت خاوندان دی د دده دی څخه یوه
پله فقط په دی غرض په بلا اختنه کوی چه هغه یو
څه سوال وکړی او د دی سوال خوښوی چه د
جود او کرم څخه د دی حق ادا کړی - مومن دا الله
تعالیٰ څخه د سوال په وخت کښی قبولیت هم غواړی .
حُینی وختونه خو دستی قبلوونه کیږی - مگر حُینی
وختونه دستی مطلب نه حاصلیږی دا په سبب د
عزت ساتلو د تقدیر - دده مطلب نامقبولیت نه
دی ، یا بی نصیبه کیدل نه دی پس نو پس بنده باندی
لازمه ده چه د بلا د ټاز لید ولو په وخت کښی صبر
وکړی او په ادب او اوسی او د خپلو گناهونو پلټنه
وکړی چه څه څه شی حُینی سوید ی ایا کوم کوم
حکم ئی پری ایښی دی په ظاهر او باطن کښی ئی څه کړی

دی - په تقدیر کښی ئې مخالفت کړیدی یا داسی نور
مونږ د داسی شیانو په سبب په حُینو حالتونو کښی
په بلا وُ کښی اخته کیدل د مصلحت (بښیګنې) سره
ملګری ده - وروسته که بلا د فعه سوه خو بیخی
ښه او که نه سوه نو د عا او زاری او عذر دی بیان
کړی بیا دی د دی خبری د جائز کیدلو لپاره همیشه
د عا کوی چه په بلا اخته وی د دی لپاره چه سوال
و کړای سی او که چیری په قبول کښی څه حُنډ راسی
نو الله تعالیٰ جل شانه دی نه متهم کوی لکه څرنګه
چه ئې مونږ بیان وکړی -

د قضا او قدر په اړه

د الله تعالیٰ څخه د ده پر قضا او قدر باندی راضی
کیدل او د ده په کړو کښی فانی کیدل وغواړه حُکمه چه
د الله تعالیٰ رضا پیره لویه خوشحالی بلکه د دنیا -
جنت ده او الله تعالیٰ ته د نښ دی والی یوه لویه دروازه
ده - او د مومن بنده څخه د الله ج د د و ستی ذریعه
ده (الله تعالیٰ خپل پرد و ست باندی هیڅکله عذاب
نه نازلوی نه په دنیا کښی نه په آخرت کښی) او په رضا

او فنا کښی د الله تعالیٰ سره ملاقات او تړده پوری
وړ سیدل او دده سره الفت او آرام حاصلول دی. د
نصیب او قسمت په طلب کښی نه اخته کیدل په کار دی
ښایي که هغه خپل قسمت وی او که نه وی.

که هغه په قسمت کښی گرسره نه وی نو د هغه
طلب سراسر پر بې عقلی باندی ولاړ دی چه تر دی
پورته هیڅ عذاب نسته لکه چه ویل سویدی چه
د هغه شی عنې ښتنه کول کوم چه په قسمت کښی نه
وی پرې سخت عذاب دی.

او که هغه شی په قسمت کښی وی نو د هغه طلب
سراسر طمعه او حرص او شرک دی حکه چه د الله ج
د ماسیوا سره بوخت کیدل شرک دی او کوم څوک
چه د برخې غوښتونکی وی هغه د الله تعالیٰ په دوستی
کښی صادق نه وی - پس نو کوم خلگ چه د الله تعالیٰ
څخه ماسیوا د نورو شیانو وخواته مائل کیږی -
هغوی د الله تعالیٰ سره په محبت کښی درواغ وایي
او د اعمالو د عوض غوښتونکی هیڅکله مخلص نه وی
حکه د اخلاص شان دادی چه صرف په دی نیت دده
عبادت وکړی چه ربوبیّت ته د هغه حق ورکړی او

د حقیقی ملکیت کیدلو د وجهی د هغه عبادت وکړی حُکه
چه د الله تعالیٰ د طاعت پرده باندی حق دی له همدی
وجهی د بنده هریوشی ، بنائی که هغه متحرک وی یا
ساکن ، یانوشته ، د الله تعالیٰ ملکیت دی ، د غه رنگه
هغه هم د ده دی دکوم چه دی خپله مالک دی - موږ
د مخه تردی لا لیکلی وه چه عبادتونه د الله تعالیٰ
له طرفه او د الله تعالیٰ انعام دی ، او د هغه فضل
دی له دی وجهی چه ده و بنده ته د غه قدرتوفیق
ورکړی او ده ته ئ قدرت وبخښی چه دی عبادت
وکولای سی له دی وجهی د الله تعالیٰ شکر پرځای
کول لازم دی ، داسی نه چه نور سرچپه د عوض
غوښتونکی سی - ای د حق طالبه ایا ته بی معنیٰ خوندونه
غواړی په داسی حال کښی چه د اخبره په عام ډول
لیدل کیږی چه څومره چه خوندونو پیروالی کیږی
او پیوسته نعمتونه او خوندونه د ده وخواته راځی
نودی د خپل پروردگار څخه نور هم زیات ناراضه
کیږی او دی بی قراره کیږی ، او د نعمت کفران
(بی قدری) او ناشکری کوی - د ده د وک او غم نور
هم زیاتیږی او دی د هغه لپاره کوم چه د ده په قسمت

کښی نه وی په یر احتیا جمند کیږی د هغه څخه ماسیوی کوم چه له ده سره دی - او دی خپل قسمتونه کم او خوار گڼی او دنورو پر قسمتونو د غټ او ښایسته خیال کوی او د هغه په طلب کښی لگیا کیږی حال دا چه هغه دده په قسمت کښی نه وی.

حاصل دا چه دی په وهمی امید ونو او پریشانه خیالونو کښی دده په ټوله عمر کښی را غلی او راځی ، د هغه قوا وی خرابی دده بدن بی کاره کیږی او دده تندی په خوله لوټه او دده عملنامه توریږی د غه هر څه دده د گڼهو د وجهی څخه کیږی کوم چه دی ئ د قسمت څخه د ماسیوی شیانو په تحصیل کښی کوی او د الله تعالیٰ حکم پریږی.

د خوند خبره دا کیږی چه ده خو د اشیان نه کړه پیدا او په مفلسه حالت کښی د دنیا څخه وزی او څی. (لکه دا خبره) چه نه ئ خدای ج پیدا کړ نه د معشوق وصال نه د دی ځای دی ، نه د هغه ځای دی افسوس چه نه ئ امر الٰهی پرځای کړ چه په آخرت کښی د هغه ثواب ورکړ سوی وای او نه ئ د بل قسمت پیدا کړ. پس د دا پوول غلطی څخه ئ دنیا و آخرت ضائع کړه داسی

خلگ ډیر نا پوهه او بی خبره دی د کومو چه هیڅ ساری نشته

که چیری د وی راضی په قضاء او قانع په رضاء وای نو خامخاد نیاهم ودوی ته بی زحمته او بیتکلیفه رسیدله احزکار دوی د الٰهی همسایگی و خواته بدلیدله او په دغه وخت کښی ئی چه کوم څه غوښتلای پیدا کوله ئی .

زمون د عاده چه الله تعالیٰ مون او تاسی دهغو خلگو څخه کوم چه په قضا راضی کیږی ، او کومو چه د خپلو سوالو رضا او فنا او ساتنه او حال پرهغه شی باندی کوم چه د الله تعالیٰ محبوب وی منحصر کړیدی ، وگرځوی .

بنکاره دی وی چه کله بنده د خلق څخه دارادی او آرزو فانی سی او په دنیا او آخرت کښی د الله تعالیٰ څخه ماسیوا هیڅ و نه غواړی نوهغه خدای جل جلاله ته رسیږی ، الله تعالیٰ هغه معلومداره غوره او د خپل ځان او د خپل مخلوق محبوب گرځوی اوده ته توفیق ورکوی چه د الله پاک د نژدیکت غوښتونکی او د الله تعالیٰ د فضل څخه فیض یابه سی.

او الله تعالیٰ پرده باندی دخپل رحمت دروازی راخلاصوی
اودده سره وعده کوی چه هغه د رحمت دروازی به
پرده باندی هیڅکله نه تړل کیږی.

پس نو دغه وخت بنده فقط پوازی الله تعالیٰ
مختاره کوی د هغه دارادی څخه ارادې د هغه دتدبیر
څخه تدبیر د هغه دخواهش څخه خواهش کوی او د هغه
د رضا څخه راضی کیږی او دی دالهی امر څخه پرته دبل
چا دامر ګرسره فرمانبرداری نه کوی بلکه دخدای
تعالیٰ جل جلاله څخه پرته بل نه کوم وجود وینی
نه فعل - پس نو دغه وخت کیدای سی چه الله تعالیٰ
د بنده سره یوه وعده وکړی - او دهغی وفا نه وی
یعنی د بنده په ژړه کښی چه کوم خیال تیر سوی وی
هغه پوره نه سو - له دی وجهی چه دوه والی خو
لیږی سو او دالله تعالیٰ او د بنده په اراده کښی
مغایرت او جلا والی پاته نه دی پس نو بنده د
الله تعالیٰ فعل او اراده جوړ سو - پس نو دده و
خواته د وعدی نسبت نه کول کیږی او نه دده -
مخالفت خوښ دی ځکه چه دا خو د هغه چا صفت
دی په چا کښی چه هوا او اراده وی.

پس پہ دی وخت کښی د اللہ تعالیٰ سرہ د دہ پہ حق کی
داسی ارادہ کیږی نکہ څرنگہ چہ یو سړی د یو چا
ارادہ وکړی مگر د هغی نسبت وکړی بیا دیوی وجهی
څخہ هغہ نیت بدل کړی ۔ پہ مثال د ناسخ او منسوخ، اللہ
تعالیٰ د رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم وخواتہ وحی وفرمایلی
او وحی ئی د ادی:۔ مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ
مِّنْهَا اَوْ مِثْلِهَا اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝
ترجمہ:۔ کلہ چہ مونږ منسوخ کوو یو اٰیت او یا ئی د رخځہ
هیر کړو ۔ نو مونږ را تگ کوو پہ خیر سرہ ترهغہ یا د
هغہ پہ مثل آیا ته نہ پوهیږی چہ اللہ تعالیٰ پرهر
شی باندی قادر او واکمن دی ۔

کلہ چہ د رسول اللہ صلی اللہ علیہ والہ وسلم
څخہ ارادہ کش کړہ سوہ ۔ د هغہ ځایو څخہ ما سیوٰی د کومو
ذکر چہ پہ قرآن مجید کښی ستہ د بدر پہ قیدا ونږو
سرہ حال دا چہ آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم د اللہ
تعالیٰ محبوب وو کلہ چہ ئی هغہ پریږوہ حال باندی نہ
پریښوی او د تقدیر اړخ ئی بدل کړی او د تقدیر
منډہ ئی د دہ وخواتہ پریښود لہ او دی ئی پہ تقدیر
سرہ وگرځوی او بدل ئی کړی او وئی فرمایل چہ آیا

ته نه پوهیږی چه الله تعالی پر هرڅه قادر دی.

تنبیه ئې وفرمایله چه د قدر څپی کله دلته او کله هلته پرله اوږی - پس نو دولی دکار پای د نبی د امر (کار) شروع ده یعنی د نبوت شروع ده او د ولایت او ابدالیت پای دی.

د ماسیوی الله د پریښو ولو پاره

د هره طرفه څخه پرو ند سه او د چا وخوا ته مه گوره ترهغه وخته پورې چه ته د دوی څخه دیوه وخوا ته وگورې ستا لپاره د الله تعالی د فضل او نش دیکت لارې نه خلاصیږی - حاصل دا چه اول ته خپل ځان او نفس هیر کړه بیا خپل علم فانی کړه بتولی خوا ی بندی کړه بیا نو دغه وخت ستاد باطن سترگی د الله ج د عظیم فضل وخوا ته کیږی د دی له پاره چه ته فنا سی وروسته به د خپل سر په دواړو سترگو او د ایمان اوزړه او یقین د نورو په شغلو سره کتل کوی او دیوی شمعی په مثال چه په یو تاریکه کور کښی بله کړه سی او بتوله کور نورانی کړ سی د غه د ول ستاد باطن څخه ستاپر ظاهر باندی رڼا کیږی

او پیرو عده او الٰهی ورکړه باندی نفس او انډا مونه
آرام نیسی - پس نو ای سړیه ته پر خپل ځان باندی
رحم وکړه او پر ده باندی ظلم مه کوه او مه دی د
ناپوهۍ او جهالت په تاریکی کښی بند وه یعنی جهالت
او د خلګو ماحول او زړه او اسبابو او داسی نورو
ته مه ګوره - او مه پر دوی باور کوه که چیرې
داسی کوی نو ستا څخه دواړه طرفه هم بند کړه کیږی.
او د شرک او مقابلی د وجهی څخه ستا لپاره د الٰهی فضل
او کرم لاری هم نه خلاصیږی او که ته فقط د الله ج
وخواته د امید سترګی سائی او ده د ماسیوی څخه
ګرسره پرې ونه کیږی نو الله تعالیٰ تاته نژدیکت او
رحمت فرمایئ او پر تا باندی رحم کوی او پالنه دی کوی
خوراک او چښاک درکوی په ناجوړې کښی د واړو او
جوړوالی درکوی مګر بیادی د مخلوق او نفس څخه
محوه کوی او تا فنا کوی نو تردی وروسته نه ته
خپل فقر لیدای سی او نه غنیٰ -

مقاله نمبر ۶۰ د سلوک (طریقت) شروع داده

چه د معتاد (عادت) څخه د شرعی وخواته وونی تر
دی وروسته د مقدر (نصیب) وخواته او بیاد

حدودود سا تنی پر شرائطو د معتاد وخوا ته رجوع
وکړی ـ

نوډ معتاد څخه څوک، چبنګ، اعوستل، نکاح
کول، او سیدل او نور ضروریات د عادت او طبیعت
سره د شرعی د امر او نهی وخوا ته وزی پس نو بیاد
کتاب الله او سنت د رسول (صلی الله علیه وسلم) پیروی
کوی لکه چه ارشاد الهی دی.

مَا اٰتٰکُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَ مَا نَهٰکُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا
قُلْ اِنْ کُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ یُحْبِبْکُمُ اللّٰهُ ـ

یعنی کوم شی چه راوړی وتاسی ته رسول الله صلی الله
علیه وسلم هغه ونیسی او د کوم شی څخه چه تاسی منعه
کړی د هغه څخه منعه سی او فرمایلی ئی دی چه ای محمده
صلی الله علیه وسلم ووایه چه که چیری تاسی ته د
الله تعالیٰ سره محبت وی نو زما تابعداری وکړی.
الله پاک ستاسی سره محبت کوی. ای سړیه د غه
وخت ته په خپل ظاهر او باطن کښی د نفس د هوا او د
هغه د غرور څخه فانی کیږی او ماسیوی د توحید الهی
څخه ستا په باطن کښی هیڅ نه پاته کیږی او په ظاهر
کښی هم یا خو عبادت پاتیږی یا طاعت او بس.

وروسته نو ستا لباس او ستا عادت او حرکت
او سکون پر منزله باندی د طاعت کړه کیږی خواه
که سفر وی او که کور ورځ وی او که شپه وی،
جوړ والی وی او که ناجوړی - سلامتی وی او که غم
غرض دا چه په هر حال کښی ته د هغه فرمانبردار
اوسی تردی وروسته د قدر د میدان وخوانه ورپل
کیږی او کله چه په تا کښی قضا او قدر تصرف کوی
نو ته د خپل کوښښ طاقت او قوت څخه هم فانی کیږی
د غه وخت پر تا باندی د هغو نعمتونو هم بشکاره
والی کیږی کوم چه ستا په قسمت سوی وی پس نو تاته
په هغو کښی سانتنه او سلامتی در کول کیږی د شریعت
حدود په هغه کښی خوندی سا نتل کیږی او د الهی
کړه په هغه کښی موا فقت تر لاسه کیږی - د شریعت
قانون هم د کفر یا حرامو د روا کولو وخوانه یاد مامور
د خوار او ذلیل کولو وخوانه نه را گرځی د باری تعالی
ارشاد دی چه په تحقیق موږ ذکر را نازل کړیدی
او موږ د هغه سانتونکی یو او د حضرت یوسف علیه
السلام په حق کښی ئی فرمایلی دی :- چه موږ د غه
پر ول وکړه د دی د پاره چه د دده څخه بدی او بی شرمی

لیږی کړو - بیله شکه چه هغه زموږ د مخلصو بندګانو څخه دی. پس نو ای سړیه د خدای تعالی د رحمت څخه ته د تلاوت تر وخته پورې د حفظ او پرهیزګاری صحبت کوی او هغه هرڅه خوراک وی که جامه ستاچه څه په قسمت کښی کیږی د رته رسیږی او ستاد تګ کولو په حال کښی ستا په لاره کښی او ستاد تلو په حال کښی د طبیعت په څنګل کښی او د هوا په شیله کښی نفسانی خواهشات بند کړه سویدی.

څکه چه دا یو بار دی او د غه بار ستا څخه لیږی کړه سویدی د دی لپاره چه تا د روند او ضعیف نه کړی او چه ته د خپل مقصود څخه منع نه شی - هغه وخت چه ته تر دار الفنا پورې رسیږی - بس هم د غه فنا د الهی نژدیکت واجبونکی ده او د دې پیژندنه د لدنیه علومو څخه دیانتی ده او د انوارو په دریاب کښی د داخلید و اسرار همداسی دی چه د طبیعت تاریکی وانوارده ته تاوان نه رسوی - تر کومه وخته چه په بدن کښی روح وی تر هغه وخته پورې طبیعت هم باقی دی. د دی لپاره چه قسمتونه پوره کړی د دی جهته که چیری د انسان طبیعت ایسته نسی نو بیا

په ده او فړ شتو کښې فرق څه دی ؟ پس د ستی په
د ستی نظام درهم او بر هم کیږي او حکمت باطلیږي
پس نو په تاکښې دد غه وجهې پاته سویدی چه ته
له ده څخه قسمتونه او برخې ترلاسه کړې - پس د
طبیعتونو بقاء فرعه کیږي نه اصل -

لکه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی
دی زما لپاره ستاسی د دنیا څخه دری شیان خوښ
کړه سوی دی - یعنی خوشبویي ، ښځې او لمونځ یعنی
زما د سترګو یخنی - پس نو کله چه رسول الله صلی
الله علیه وسلم د دنیا او د دنیا د شیانو څخه فانی سو
نو دده وخوا ته د ده قسمتونه ورو ګرځیده کوم چه
د ده د سیږ کولو په حال کښې د الله تعالیٰ له طرفه
د ده څخه ګرځول سوی وه پس ده صلی الله علیه وسلم
هغه پوره کړله د الهی حکم د موافقت او د هغه پرکړنه
باندې د راضی کیدلو څخه او د هغه د فرمانبرداری
په ډول هم د هغه رحمتونه عام دی د هغه فضل پر
نبیانو او ولیانو باندې عام دی په دې معامله کښې
ولی هم د غه ډول دی تر فانی کیدلو ورو سته د دغو
برخو هم د ده وخوا ته ورګرځیدل ویل کیږي -

دهوا او نفسانی هوس څخه د پرهیز په اړه

ته په دې وایې چې هغه څوک چې سویدی او زه لیرې یم، یا وهغه ته ورکړه سویده او زه بې نصیبه یم، یا هغه غنی دی زه مفلس یم، یا هغه جوړ دی، زه ناجوړه یم، یا هغه عزتمند دی او زه خوار یم، یا هغه په رشتین والی سره مشهوره دی، زه د رواغجن ګڼل کیږم - ای سړیه تاته معلومه نه ده چې الله تعالیٰ واحد ذات دی او وحدانیت خوښوی او هغه څوک خوښوی کوم څوک چې فقط دده سره محبت ساتی.

کله چې الله تعالیٰ تا دیوبل سړی په ذریعه را نژدی کړی یعنی یوڅه درته درکړی نو ستا محبت دالله تعالیٰ لپاره کمیږی او یو دبله هو محبت پیدا کیږی یعنی اکثره وختونه ستا په زړه کښی د دغه سړی رغبت او محبت پیدا کیږی دکوم چا په ذریعه سره چې هغه نعمت الله تعالیٰ وتاته درکړیدی او په دی ډول الٰهی محبت کمیږی دا بنکاره ده چې الله لوی غیرتمند دی هغه شراکت نه غواړی - له همدی وجهی دنورو لاسونه ستا دکومک څخه، دهغوڅه به ستا دشنا

او صفت څخه، او پیران ستاوخواته د راتګ څخه، منعه
کوی ددی لپاره چه د الله تعالیٰ څخه غافل اودهغه
په محبت کښی اخته نسی - آیا تاد رسول کریم صلی
الله علیه وسلم ارشاد نه دی. اودیدلی چه زړه
دهغه چا د محبت لپاره څوک چه دده سره نیکی
وکړی او د هغه چا دد بسمنی لپاره څوک چه دده
سره بدی وکړی پیدا کړه سویدی -

حاصل دا چه الله تعالیٰ مخلوق پرتاباندی د
هرډول احسان کولو څخه منعه کوی ددی د پاره چه
ته هغه یوازی و پیژنی او د هغه سره زړه پیوند کړی
او په ظاهر او باطن کښی د هغه سی - نود هغه څخه
ماسیوی نه وویښی نه واوری او ته د خلګو د نفس
او هوا او ارادی او د اسی نورو څخه فانی سی او د
الله تعالیٰ څخه ماسیوی ټوله پریږدی - د غه وخت
د خلګو لاسونه ستاوخواته اوږدیږی - د یخښنې لپاره
او ژبی ستاد ثنا لپاره ژبغړاندی کیږی پس په نوته
ګرده عمر په ناز او نعمتو کښی اوسی او په دنیا او
آخرت کښی به د هر قسمه ژوند پیدا کړی -

وروسته نوای سړ په مه بی ادبه کیږه او د

هغه چا وخوانته وگوره کوم چه ستا وخوانته گوره ی- د
هغه چا وخوانته متوجه سه د چا چه پس تا باندی توجّه
وی، د هغه چا سره محبت وکړه کوم چه ستاسره محبت
کوی، د هغه چا په لاس کښی لاس ورکړه کوم چه
تاد غوږ اریدلو څخه وساتی، د هغه چا کومک واخله
کوم چه تاوپالی، هغه تاد جهالت د تاریکی څخه
راباسی، و تاته خلاصون درکوی او تاد هلاکت
څخه ساتی، هغه ستا څخه ستا ناپاکیانی لیری کوی
او تاد گندگیو څخه پاکوی، هغه ستا پست همتی
(د غیرت کمزوری) لیری کوی هغه د بد حکم درکولو
والا نفس، او د بدی لاری بنوونکی دوستانو څخه
کوم چه اخوان الشیاطین دی، او د هوا او هوس څخه
کوم چه ستاد نیکبختیو په منځ کښی پرده دی، تا
ساتی- چیری عادت چیری خلقت سود دنیا او آخرت
د غرور او د الله تعالیٰ د ماسیوا نه د خالق
الاشیاء (الله تعالی) څخه څومره لیری پروت یې.
کوم چه د شیانو پیدا کوونکی او د هرشی ابتداء او
پای دی- او د ده وخوانته د ټولو ورګرځیدل دی
او د ده په ولکه کښی ټوله زړه ونه دی او ټولو

روحانی ته دده څخه اطمنان او آرام دی اوددده دمهربانی
اوکرم پس درګاه ددرنی بارګانی اړول دی او بی حسابه
احسانونه دی.

د دعا د قبول والی په اړه

که چیری الله تعالیٰ د بنده دعا قبلوی اودهغه
غوښتل سوی شی ورته ورکوی نو ددی څخه داخیال
کول نه دی په کار - چه ددی څخه دهغه اراده ماتیږی
اوکوم شی چه په تقدیر کښی راغلی وُ دهغه بدلیږی
خبره داکیږی چه ددده سوال اوغوښتنه (دعا) دالله
تعالیٰ دارادی او تقدیر سره برابریږی په دغه وخت
کښی حاجت ترسره کیږی - مګر په دغه وخت کښی
کوم چه ددی لپاره تاکل سوی وُ وچه فلانی وخت
دغه تقدیر رسیږی لکه چه اهل علم د الله تعالیٰ
دا قول ویلی دی - ترجمه ئی په لاندی ډول ده -

هر وخت هغه په یو شان کښی دی چه رسوی
مقدرات ترخپلو وختونو پوری - پس نو الله تعالیٰ
په دنیا کښی وچاته هیڅ شی صرف په دعا سره نه
ورکوی، اودغه ټول صرف په دعا سره هیڅ بدی

نه د فعه کـوی - او په حدیث شریف کښی چه کوم
راغلی دی چه نه ردکوی قضا مگر دعا، د دی څخه
دا مطلب دی چه قضا نه ردوی مگر هغه دعا دکومی
چه تقدیر سوی وی د دغی څخه قضا رده کړه کـیږی .
او په هیڅ ډول صرف د خپلو عملونو څخه د قیامت په
ورځ څوک په جنت کښی نه سی ننوتلای بلکه د الله
تعالی په رحمت سره -

مگر الله تعالیٰ د اعمالو سره برابر په جنت
کښی بندگانو ته درجی ورکوی لکه په حدیث شریف
کښی چه راغلی دی چه حضرت عائشه صدیقی رضی
الله تعالیٰ عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه
پوښتنه وکړه چه ایا یوسړی هم د خپلو عملونو په
سبب وجنت ته ننوتلای سی؟ رسول الله صلی الله علیه
وسلم وفرمایل چه یا صرف د الله تعالی په رحمت سره.

حضرت صدیقی رضی الله تعالیٰ عنها وفرمایل
چه یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته هم، ده صلی
الله علیه وسلم وفرمایل چه زه هم نه - مگر تر
هغه وخته پورې چه الله ما پټ کړی د خپل رحمت
په لمن کښی او پر خپل سر باندې رسول الله صلی

الله علیه وسلم لاس مبارک کښیښود پردی باندی چه
پس الله تعالیٰ د چا هیڅ حق نسته او نه ده لره پس وعده
باندی وفالازمی ده چه څه غواړی کوی ئ۔ چاته چه
وغواړی بخښنه کوی او چاته چه وغواړی عذاب ورکوی
چاته چه وغواړی نعمت ورکوی او پس چاچه وغواړی
رحم کوی۔ دی چه هرڅه کوی د ده څخه هیڅوک پښتونکی
نسته دی چه چاته وغواړی د خپل فضل او کرم څخه بی
حسابه رزق ورکوی۔ او چاته چه وغواړی گرسره
ئ نه ورکوی د خپل عدالت له مخی۔

داسی به ولی نه وی حال دا چه دعرش څخه ونیسه
بیاد مځکی تر لاندی پوری ټوله مخلوقات دده ملکیت
او صفت دی نه د ده څخه ماسیوا بل مالک سته او نه
بل خالق (پیدا کونکی) سته۔ لکه چه د الله تعالیٰ ارشاد
دی۔ (د آیت شریف ترجمه)

آیا د الله تعالیٰ څخه پرته بل معبود په حقه هم سته؟
آیا ته د ده سره بل څوک همنامه (د ده په نامه)
پیژنی؟

یا الله تعالیٰ ای د ما لکانو مالکه ته چه چاته
وغواړی ملک ورکوی او ته چه چاته وغواړی عزت

ورکوی، او چاته چه ته وغواړی ذلت ورکوی ستاپه
نیکی ده په تحقیق ته پر هرشی باندی قادر ئ لکه
څرنگه چه ته په خپل پاک کلام کښی فرمائ (د آیت شریف
ترجمه) او ته رزق ورکوی کوم چا ته چه ته وغواړی
بیله حسابه او ته پردی باندی قادر ئ.

د اللّٰه تعالیٰ څخه د سوال کولو په اړه

پس ته د دغو شیانو د اللّٰه تعالیٰ څخه نو ړ څه مه
غواړه ۱ د تیرو گناهونو بخښنه ۲ او د راتلونکو
گناهونو څخه ساتنه ۳ په بنو کارو کښی طاقت ۴ او
امر فرمانبرداری ۵ او د نواهی څخه ځان ساتل ۶
او پر ټرخه قضا باندی رضامندی ۷ پر بلاؤ باندی
صبر ۸ او د نعمتونو پر ورکړه باندی د شکر توفیق. ټ
دی وروسته ۹ بنه خاتمه او د ایمان سره مرګ
۱۰ او د صادقانو شهیدانو، صالحانو او د هغو خلګو
سره اوسیدل کوم چه نیکان دی، د اللّٰه تعالیٰ څخه دنیا
مه غواړه او مه د فقرا و مسکینی لیرې کولو او بلا په
مړ تیاسره بدلول او مه د عاقبت (خیر د اخرت) خواهش
کوه بلکه رضا و غواړه د هغه شی لپاره کوم چه اللّٰه ج

ستا په قسمت کښی کړی وی او پرتا باندی نازل کړی وی
حتیٰ چه نه ئ د دغه خیر وخوانه بدل کړی ځکه چه ته
خو په دی نه پوهیږی چه ستا گټه په کوم حالت کښی
ده آیا ستا لپاره فقیری بنه ده یا بډایی او بلا بنه ده
یا عافیت او سلامتی ـ ځکه چه الله تعالیٰ ستا څخه ډیر
شی علم پټ ساتلی دی ـ فقط یوه ذات صفت دی.
کوم چه د دغو شیانو گټی او بنیگنی پیژنی.

د عمر بن خطاب رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت
دی چه ده وفرمایل چه بنایی چه زه په هرحال
کښی چه یم ماته د دی هیڅ پروا نسته، هغه حالت
خوښ وی که ناخوښه ځکه چه ماته خو معلومه
نه ده چه د هغو څخه خیر په کوم یوه کښی دی لږدی
وجهی ئ و فرمایله چه هغه د الله تعالیٰ په تقدیر
خوشحاله او د هغه پر اختیار او قضا باندی مطمئن
او آرام وُ ـ لکه چه د الله تعالیٰ ارشاد دی.

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ وَعَسٰٓى اَنْ
تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَعَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْـًٔا
وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ○

ترجمه :ـ لیکل کړه سوی (فرض کړه سوی) دی پرتاسی

باندی جهاد کول حال دا چه هغه ناخوښه دی تاسی
ته، او نژدی ده چه تاسی به یوشی ناخوښه ګڼي حال
دا چه هغه به غوره وی ستاسی لپاره او نژدی ده
چه تاسی به دیوشی سره مینه کوی حال دا چه هغه
به ستاسی لپاره بدوی - او الله تعالی پوهیږی او
تاسی نه پوهیږی،

پس نو عبادت او طاعت صبر او شکر رضا او تسلیمی
او سنجش پری بشودل او دا اختیار ترک و هل خپل
عبادت او طریقه جوړه کړه دکوم څخه چه ستا خواهشونه
لیری سی او ستا نفس مات سی او خوار او ذلیل او مغلوب
سی او پټوله ارزوګانی او قصدونه حیني وو زی غرض
دا چه د محبت الهی څخه پر ته ستا په زړه کښی هیڅ پاته
نه سی ستا زړه له ده څخه آباد سی، د ده په طلب کښی
ستا اراده رشتینی سی تړدی و روسته د الله تعالی
څخه ستا اراده د دنیا یا د آخرت د برخو څخه دیوی برخی
وخوانه د هغی د طلب لپاره مائل نه سی، پس نو دغه
وخت ته د ده د حکم د تابعداری او د موافقت سره
د د عی سوال وکړه،

که چیری الله تعالی دغه ستا په نیت درکړی.

نوشکر گذاری ئې وکړه او د دغه برخې څخه لطف (خوند)
واخله ـ او که ئې در نه کړې نو پر دغه باندې ناراضه
کیږه مه ـ او پر دغه باندې تهمت مه لګوه له دې
وجهې چه ته خو د دې غوښتونکی د نفسانی هوا له مخې
نه ئې څکه چه هوا او هوس خو ستا په زړه کښې
ګرسره سته نه ـ بلکه تا خو د حکم په تابعداری
کښې سوال کړې وو ـ پس نو سلامتی دې وی پر
تابعداره بندګانو باندې.

د ولی د اوصافو په اړه

مقاله نمبر ۷۳ څینې وختونه الله تعالیٰ خپل
ولی ته د نورو پر عیبونو او د هغو پر دروغجنو دعوو
او په اقوالو او افعالو کښې پر شرک کولو او د دې
نیټې باندې خبر ورکوی ـ ورو سته نو د الله تعالیٰ
ولی د الله تعالیٰ او د هغه د رسول او د هغه د دین له
پاره غیرت کوی چه د دې څخه ده په باطن کښې جوش
پیدا کیږی او بیا په ظاهر کښې هم شکاره کیږی ـ
بیا د نبی سلامتی د عوٰی کولای سی ـ سره د دغه
قدر ظاهری او باطنی ناجوړیو او مریضیو اوخه

ډول د توحید د عوه کولای سی سره د د غه قدر شرکه
څکه چه شرک خو کفر دی کوم چه د الهی نژدیکت څخه
سړی لیری کوی ـ او هغه د شیطان لعین او د منافقانو
صفت دی د کومو لپاره چه قطعی حکم درک الاسفل
(د د وزخ لاندی طبقه) سویدی چه هغوی به همیشه
په دی کښی اوسی.

فروسته بیاد ولی پیژ به باندی د هغه د عیبونو
او د هغه د ناپاکه کارونو یادونه جاری کیږی،
او د ده د اوږ د واو پراخو او د صد یقانو د حالاتو
د د عوه کولو او د الله تعالیٰ په قدر او فعل کښی د
فنا گانو او د مرادو او محبوبانو د منو د مزاحم کیدلو، د الله
تعالیٰ لپاره د غیرت کولو په وجه، او گاهی د د غه
سړی لپاره د منکر کیدلو د د ه د نصیحت په وجه
او د الله تعالی د فعل د غلبی په وجه او د هغه د
شدید غضب فریادونه او د دینی احکامو د زیاد
وخواته پیر نسبت کولو باندی.

بیا نو د الله تعالیٰ د د غه ولی وخوانه غیبت منسوب
کیږی چه ایا ولی هم غیبت کوی په داسی حال کښی
چه دی نورو خلگو نه د غیبت څخه منعه کوی چه د

الله تعالی ولی وحاضر او غائب نه د هغه د عیبونو کوم
چه بنکاره وه یاد و نه کوی - دا گوا کی پرده غه ولی
باندی انکار کول کیږی .

د منکرانو په حق کښی د دغه په شان لکه چه
الله تعالی د شرابو او قمار بازی په حق کښی فرمایلی
دی چه د دی دوارو گناه تر فایدی ډیره ده . په
بنکاره خو د منکر انکار دی او په باطن کښی الله تعالیٰ
ناراضه کول دی او پرده باندی اعتراض کول دی .
پس نو د دغه منکر حال په حیرانی او پښیمانی سره
بدلیږی - ورو سته بیا د غه د الله تعالیٰ د ولی
څخه د منکر فریضه گرځی خاموشی اختیار کول او تسلیمی
کول او د یو توجیه او تأویل پلټنه کول د کوم څخه چه
په شریعت کښی د دی خبری دروا والی یو صورت
پیدا سی - نه پر الله تعالیٰ باندی او تړه (مدعی)
پورته (چه ولی الله دی) کوم چه د دغه مدعی پر
دروا غجنو افترا و باندی طعن (نیوکی) کوی او څینی وختونه
د دغه مدعی د منافقت د بیخ کښلو لپاره او د ده د تادیب
لپاره د دغه په ډول دروا غجنو دعوی او عیبونو یاد ونه
کیږی ، ورو سته نو د غه قسم یاد ولی د الله تعالیٰ

د ولی په باره کښی جهاد گرځی ، او د دغه مغرور ه مدعی په باره کښی کوم چه هلاک کیدونکی دی نفعه (فایده) گرځی او الله تعالیٰ چه چاته وغواړی د سمی لاری هدایت کوی.

وصیتونه :- مقاله نمبر (۷۵)

زه و تاته وصیت کوم چه تقوی او طاعت لره د ظاهری شرعی پابندی لازمه وگڼه ، سینه د منافقت څخه سالمه ولره او تازه مخی اختیار کړه ، او د دوی کړی قابل شی مصرف کړه ، د خلگو څخه تکلیف لیری کړه. پخپله ئی د برداشت فکر اختیار کړه ، د بوډا گانو د عزت او لوبی (مشرتوب) خیال وساته ، د وړوکو سره بنه راشه درشه ولره ، ترخپل ځان و کشرانو ته نصیحت وکړه ، د دنیایئ فاید و لپاره جنگ جگړه مه کوه ، بلکه ترخپل ځان د نورو حقونه د مخه کړه - د مال په ټولولو گناه مه گټه ، کوم خلگ چه د حق غوښتونکی نه وی د هغو مجلس او ملگرتیا پریږده او په دنیوی او دینی کار وکښی د خلگو سره مرسته وکړه حقیقی فقر دا دی چه ته د انسان کوم چه کټ مټ ستا په

شان دی محتاج نه سی۔ او حقیقی فناه داده چه لکه چه خپل ځان د داسی انسان څخه گرسره بی باکه سه او تصوّف (صوفی گرت) د خبره اترو څخه نه کیږی بلکه دلوبی او د نیاد پریښودلو څخه یاد هغوشیانو د پریښودلو څخه کوم چه وخپل زړه ته بنه معلومیږی فقرد ظلم سره مه اختیار وه بلکه د نرمی سره ییٔ کړه له دی وجهی چه ظلم هغه په وحشیت کښی اچوی، مگر نرمی کول هغه په الفت کښی راولی۔ د تصوّف (صوفی گرت) لپاره اته صفتونه ضروری دی۔

① سخاوت د ابراهیم علیه السلام ② رضا د اسحٰق علیه السلام ③ صبر د ایوب علیه السلام ④ اشارات د ذکریا علیه السلام ⑤ خلوت د یحییٰ علیه السلام ⑥ د وړیو جامه د موسیٰ علیه السلام ⑦ سیر د عیسیٰ علیه السلام ⑧ فقر د محمد علیه السلام صلوات تعالیٰ علیه واله واصحابه واهته اجمعین۔

اُووم بَاب

په بيَان د پيتورازونو

او

وظِيفُو او وِرد ُونو

کښې دی

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د حقیقی طالب لومړنی فرض

دا دی چه علم حاصل کړی او ترکومه ځایه چه ممکنه وی په دغه (علم) کښی د کمالیت او پوره والی تر درجی پوری ورسیږی حکمه چه علم شریعت (شرعی علم) د علم حقیقت (هغه علم چه د شیانو د حقایقو څخه بحث کوی) او علم لدُنی (هغه علمونه دی چه چا ته د خدای له طرفه څخه بیله استاده ورکړه سوی وی) او دا سی نورو علمونو اصل دی - د دی سببه څخه د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی:

اطلبوا العلم وَ لو کان بالصین - حکمه چه د دی حدیث پاک اطلاق (جاری کول) پرد غه علم شریعت او طریقت دی نه پر نورو کسبی علومو او فنونو حضرت مولانا روم رحمة الله تعالیٰ علیه د دغو علومو په اړه په مثنوی شریف کښی فرمائی -

علم باطن ہمچو مسکہ علم ظاہر ہمچو شیر
کے شود بے شیر مسکہ کے بود بے پیر پیر

مطلب ښکاره دی چه د شریعت او طریقت د علومو
بیله حاصلولو انسان جاهل مطلق دی او د علم باطنی
نالائقه بلکه د شرعی مسئلو څخه د بی علمی په خاطر
هغه د خود غرضه، حارص، مکرجن، چل بازه، د شرعی
مخالف، شیطان صفته او مصنوعی پیرانو په جعلی
داموکښی راګیر سوی خپل دین او د نیا تباه او خرابوی
د دی سببه څخه د ر بستونی طالب د پاره واجب ده چه
تر کومه حده چه کولای سی علم شریعت د شریعت
د هغو عالمانو تن تربیت لاندی حاصل کړی - چه
هغوی په عمل بنایسته وی او د دی سره سره نور
ضروری علمونه چه د شریعت سره اړه لری - لکه
علم نجوم علم طب، علم حساب، او داسی نور د علمونو
کښی ملکه (مهارت، قابلیت او استعداد) پیدا کړی.

علم نجوم د دومره قدر چه د شپی د ستورو وخواته
وګوری د لمانځه وختونه او د قبلی شریفی طرف پیژندلای
سی - علم فقه د دی د پاره چه د حیض او نفاس مده
د طلاق او نکاح عده د نجاست او مرداری تشخیص
وکړی - او د میراثو د مسئلو او داسی نورو د پوهیدلو
لپاره - او د دی څخه ماسیوای نور علمونه هم باید

د شرعی علم د پوهه کولو د پاره ووایی - نکه چه رسول
الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایئ: اَلْمُتَعَبِّدُ بِلَا
فِقْهٍ کَالْحِمَارِ فِی الطَّاحُوْنَةِ - یعنی بیله علمه او بیله
شعوره عبادت کونکی شخص د څرندی د خره په مثل
دی یعنی لکه څرنگه چه د څرندی خر چلیدو
او تللو سره سره خاص هلته اوسیږی د کوم ځای
څخه چه تللی وُو - همدارنگه بی علمه عبادت کوونکی
شخص د غیر عابد (نه عبادت کونکی) په حکم کښی دی
حُکه چه عمل بیله علمه پخپله عمل نه دی -

مثلاً کله چیری لمونځ کونکی ته د فرائضو، ارکانو
سنّتو، د اوداسه پیژندنه اوزده کړه، د قبلی
شریفی د طرف شناخت د لمانځه د نیت کیفیت (حالت
او حقیقت) اوداسی نورو شیانو علم او خبر نه وی.
نو دهغه لمونځ کونکی لمونځ هیڅکله نه صحیح کیږی.
همدارنگه بیله عمله علم - علم نه بلل کیږی - نکه
څرنگه چه الله تعالیٰ ارشاد فرمایلی دی چه:
نَبَذَ فَرِیْقٌ مِّنَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ اللّٰهِ وَرَآءَ
ظُهُوْرِهِمْ کَاَنَّهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ ۝ یعنی ولی غورځاوی
د اهل کتابو یوی ټولی د الله ج لیږی ترشا گانو څیلو

گویاکی نکه هغوی چه نه پوهیږی په دی آیت شریف کښی الله تعالیٰ بی عمله عالم د عالمانو د ټولی څخه استلی دی اود علم څخه د جاهل کار یوازی د اوریدل سوی خبری روایت کول دی د دی سببه څخه جاهل د علماؤ د درجی او طبقی څخه خارج ګڼل سویدی.

همدا رنګه هر شخص چه د خپل علم څخه خالص د دنیایی مرتبو او شان و شوکت غوښتونکی وی. هغه عالم نه دی - حکه چه علم د دی خواهشاتو څخه بالاتر او لوړ دی بی علمه انسان دالله تعالیٰ مقبوله او خوښه خبره نه سی پیژندلای پر مخالف او عکس د دغه (بی علمه) یو صاحب علم شخص د حقیقت حال د ټولو مقاماتو او دلائلو، مثالونو او امتیازاتو پیژندونکی او لائق کید لای سی. د دی سببه څخه شرعی علم حاصلول ضروری او لازمی دی - د دی څخه د ورو سته بیا علم طریقت د مرشد کامل څخه چه د پیژندل او تعریف په لاندی ډول دی حاصل کړی د دی د پاره چه په دین او دنیا کښی کامیابه وی او د دواړو جهانو نیکبختی حاصله کړی.

★

د مُرشد کامِل پیژندنه او د هغه صِفتونه

باید پوه سی چه د مرشد (پیر) کامل صفتونه، علامی او نښانی چه د هغه پر کمالیت او پوره والی د لالت کوی ـــ پنځلس دی۔

⊙ اول :۔ دا چه د حرامو، مکروه او هغو شیانو د استعمال څخه چه په هغوی کښی د شبهی (شک) احتمال وی په پوره ډول پرهین کوونکی وی. باید پوه سی چه ورع (پرهین گاری) داده چه انسان د هر ډول بیهوده (بی معنی) او شکمنو شیانو څخه قولاً فعلاً ظاهراً باطِناً پرهین کوونکی او پریښونکی وی ـ لکه څرنگه چه حضرت شبلی رحمة الله علیه فرمائی ـ د پرهین گاری دری قسمونه دی: (۱) اول ورع باللسان یعنی د ژبی په اړه پرهین گاری هغه د بی معنیٰ او بی فایدی خبرو څخه خاموشی ده. (۲) دوهم ورع بالارکان یعنی لویه پرهین گاری داده چه د خیالاتو او شبهاتو پریښول وکړی۔ (۳) دریم ورع بالجنان یعنی د زړه پرهین گاری ـ هغه خیالات فاسده او غم او غصه او د بدو اندیښنو پریښول دی

او هغه هغه شیان دی چه په هغوی کښی شک او یقین پیدا کیږی ـ بس د دغو څخه منع کوونکی او خلاصولو والا وی ـ او همدا رنګه د هغو خوړاکونو او څښاکونو د استعمال څخه چه د ظالمانو او فاسقانو په چاپلوسی سره حاصل سوی وی په پوره پوهول سره پرهیز کوولو والا وی که چیرې روژه نیوونکی وی نو نو تر ټولو بهتر او غوره دی.

⊙ دوهم :- دا چه هغه خبرې او کارونه چه بې فایدې او بې معنیٰ وی په نظر کښی نه لری ـ یعنی چه د اسلام ښې ګټې او نیکی پرې ډیر دی د هغو کارونو او مشاغلو (تفریحاتو او بازیو) وخوا نه متوجه کیدل چه د هغوی څخه هیڅ باطنی فائده نه حاصلیږی.

⊙ دریم :- دا چه پرهیزګاره، هوښیاره او خوشطبیعته به وی او د کبیره (لویو ګناهونو څخه مثلاً زنا، لواطت هلکانو کول او شهوت راوستونکو خیالاتو او فکرونو څخه د شرابو څښلو، غلا کولو او داسی نورو شیانو څخه به په پوره پوهول پرهیز کولو والا وی ـ حکه چه د کبیره (لویو) ګناهونو وخوا ته به هیڅکله نه وی تلونکی او نه به د صغیره (کوچنیو) ګناهونو وخوا ته میل

او خواهش کو نکی وی څکه الله تبارک و تعالیٰ فرمایلی دی.
اِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ
وَ نُدْخِلْكُمْ مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ۝ چه هرڅوک ستاسی
څخه د کبیره (لویو) گناهونو څخه پرهیز وکړی کوم چه
تاسی څینی منعه کړه سوی یاست ـ نو هوښ د هغه صغیره
(کوچنی) گناهونه رفع (لیرې) کوو او ستاسو یې او هغه
ته په ډیر عز تمند او بزرگ ځای کښی چه جنت څنی
مراد دی ځای ورکوو او دا خلو وئ ۔

⊙ څلورم :ـ حسن خلق ـ د دی څخه مراد نیکخویی او
ښه خصلت دی ـ یکه څرنگه چه د بزرگانو ویناده
چه سالک (مرید او هغه څوک چه د خدای ج قرب
او نژدیکت غواړی) هیڅکله د پیرۍ ترمرتبې پورې
نه سی رسیدلای تر څو پورې چه حقیقت دده په
وجود کښی ځای نیونکی نه وی او د حسن خلق د صفتونو
لو یه علامه او نښانه داده چه څه وخت ئې یو مرید
ته غصه او درد راسی او غواړی چه سزا او جزا ورکړی
نو نفس (وجود) ته دی هدایت او ښوونه وکړی چه
د الله تعالیٰ فرمان دادی. وَالْكَاظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ
عَنِ النَّاسِ ۝ یعنی د درد او غصی داور وڅو نکی

اودخطا او قصور کونکی خطا او قصور بخښلو والا وی
وروسته په کار ده چه دده طبیعت او خوی او برد بار
(صابر) وی نه داچه بد طبیعته او غیر متحمل وی
که څه هم هغه تر صغیره ګنا هونو پورې هم پرهیز
کونکی وی باید پوه سی چه مرشد برد باره او متحمل
وی دمریدپر هر کار او حرکت غصه کونکی نه وی او دخلګو
سره په نرۍ او حلم سره ژوند کونکی وی او د هر چا
دمن تبی خیال ساتلو والا وی او د جا هلانو د خبرو
څخه د زړه مشغولولو او مصروفولو په حال کښی آرام
پیدا کولو والا وی - حلم دادی چه د غصی په حال
کښی ئې خپل ځان د اختیاره نه وی وتلی - او پر غصه
ور تلو نکی (کوم چا ته چه ئې غصه راغلی وی) هغه
د غصی سزاوار او لائق نه وګرځوی - بلکه بخښلو والا
د عقل خاوند خوشحاله او سیدونکی خوشحاله خندې
رویه او خوشمزاجه وی باید پوه سی چه خوش رفتاره
سالک ته چه څه وخت د دائمی بصیرت په سبب
جمال ازلی او لایزاله کمال او د مقدس فیض د امداد
په خاطر دده زړه او روح ته رسیږی - نو په هر
حال کښی اش او تاشیر دده پر تندی او مخ باندی

بشکاره کیږی چه د د غه وجه څخه هغه ډیر خوشحاله
او تازه مخی گرځی او کیږی ـ او په خپل تعریف او صفت
نه خوشحاله کیږی ـ نه د بد و په او ریدو سره
غمجن کیږی او په څه رنگه طریقه چه د کوچنی سره
مخامخ کیږی همدغه رنگه سلوک او چلن د لوی
سره کوی حکمه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم
فرمایلی دی :ـ حُسْنُ الْخُلُقِ مِنْ خِصَالِ اَهْلِ الْجَنَّةِ
یعنی خوش خلقی (ښه اخلاق) د جنتیانو د خویونو
څخه دی .

⊙ پنځم :ـ پرده پوشی ـ دا چه د خلگو د عیبونو
پوهیدل والا او د هغوی د گناهونو معافولو والا وی .
حکمه چه مرشد ته په کار ده چه د مرید څخه که چیری
بی ادبی هم پیښه سی نو ترهغه دی وړ تیر سی او که
چیری یو سړی دده (مرشد) سره بی ادبی وکړی یا او
ده ته په تکلیف رسولو کی کوښښ وکړی د هغه سره
د هغه نیکی کوی نه چه د بدی بدلی اخیستلو ته
تیار سی حکمه چه الله تبارک و تعالیٰ فرمایلی دی :ـ
وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۝ یعنی الله تعالیٰ احسان
کوونکی د وستان او خوښ گڼی ، بلکه هغه سړی دی

هر وخت په نیکی سره یاد وی او که چیری د هغه سړی څخه بیاهم بدی وویني نو د هغه څخه دی پته ساتی باید پوه سی ـ څو وخت چه د یو مرید په متعلق او اړه د بد و کار و نو خبر پیدا کړی چه پس د هغه باندی وهغه (مرید) ته زجر او ملا متیا ورکول ضروری دی نو په عام مجلس کښی دی د نصیحت په معلومه طریقه هدایت وکړی ـ مثلاً په داسی ډول چه د رمز، کنایې او اشاری په طریقه دی د خبر ی مخ د مجلس د حاضرینو و طرف ته وګرځوی د هغه بد و کار و نو تشریح او وضاحت دی په داسی ډول وکړی چه د هغه څخه د خبری معنیٰ او مفهوم پرده (مرید) دلالت وکړی . او که چیری د هغه څخه یو نیکی وویني نو هغه دی بی شک او شبهی څخه بنکاره کړی لکه څرنګه چه د الله تبارک و تعالیٰ فرمان دی :ـ اِنَّ الَّذِیْنَ یُحِبُّوْنَ اَنْ تَشِیْعَ الْفَاحِشَةُ فِی الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ فِی الدُّنْیَا وَ الْاٰخِرَةِ ـ

ترجمه :ـ یعنی هغه خلګ چه دیو ایمانداران (ایمان لرونکی) بدی یا بد فعلی بنکاره کول ښه او خوښ ګڼی د هغوی د پاره په دنیا کښی دردناک عذاب بدنامی

او په اخرت کښی روح ویلونکی عذاب اوردی.

لکه چه په دی باره کښی آنحضرت صلی الله علیه واله وسلم ارشاد فرمایی:- مَنْ هَتَكَ سِتْرَ اَخِيْهِ فِي الدُّنْيَا هَتَكَ اللّٰهُ تَعَالٰى سِتْرَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلٰى رُؤُسِ الْخَلَائِقِ وَ مَنْ سَتَرَ اَخَاهُ فِي الدُّنْيَا سَتَرَ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ - یعنی هرڅوک چه د خپل ورور پرده (عیب او پټ راز) په دنیا کی بنکاره کوی خدای تعالیٰ د هغه پرده د قیامت په ورځ د ټولو انسانانو په مخ کښی بنکاره کوی او هرڅوک چه د چا پرده په دنیا کښی پوښتوی الله تعالیٰ د هغه پرده پوښتی په دنیا او آخرت کښی کوی ځکه چه ده (الله) ته د بخښلو قوت حاصل دی.

⊙ شپږم معرفت :- یعنی د شریعت د احوالو پیژندونکی به وی - د دی سببه څخه چه د شریعت دالله تبارک وتعالیٰ د طرفه څخه د انسانانو د پاره په دین محمدی (ص) کښی د عبادتونو او نیکو عملونو څخه پس صراط مستقیم (سیده او سمه لاره) باندی د تللو او اوسیدلو نوم دی - د دی سببه څخه د مرشد د پاره په کار ده چه هغه په شرعی علم کښی

عالم (مولوی) وی. او په علم طریقت کښی په پوره
توګه حصه جمع کوونکی وی - که چیرې یو مرید
ته د شرعی علم په اړوند یو ضرورت مخ ته راسی
نو د هغه حاجت ورپوره کولای سی او صحیح جواب
ورکولای سی او که چیرې د طریقت په لاره کښی د یو
مشکل سره مخامخ سی نو هغه (مرید) د د غه مشکله
څخه د باندی را ایستلای سی - څومره قدر چه د
عبادت د احکامو څخه دیوشی په متعلق مرشد ته
ضرورت وی - بس د غه د اسلام، ایمان او احسان
لوی رکن دی.

په اصل کښی د اسلام پنځه رکنونه دی ① اول
دا چه شاهدی ورکول سره دا اقراره د ژبې او په تصدیق
سره د زړه چه د الله تعالیٰ څخه ماسیوی هیڅوک د
عبادت لایق نه دی - او محمد صلی الله علیه وسلم
د ده رسول دی ② پنځه وخته لمونځ ته اداکول ③
د زکوٰة اداکول. ④ د رمضانی د میاشتی روژې نیول
⑤ د کعبی شریفی حج په عمر کښی یو واری کول په
شرط د طاقت د رلودلو - د غه رنګه په دی سره هم
پوهیدل په کار دی چه اسلام د الله تبارک و تعالیٰ

اود رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د احکامو (حکمونو) منل اود دوی په فرمانبرداری کښی اختته اوسیدل.
اود مسلمانی په رنګ کښی د خپل ځان رنګولو نوم دی.
(۷)
⊙ اود ایمان رکنونه اوه دی ① یعنی پر الله تعالیٰ ② د ده پر ملائکو ③ پر کتابونو د ده ④ اود ده پر رسولانو ⑤ اود قیامت پر ورځ ⑥ د نیکی او بدی اندازه د طرفه څخه د الله تعالیٰ ⑦ اود مرګ څخه وروسته د قبرونو څخه پر راپورته کیدو ایمان راوړل دی.

فائده:- اسلام او ایمان سره یوشی دی هر څوک چه مسلم (مسلمان) وی هغه مؤمن دی او هر څوک چه مؤمن وی هغه مسلم دی. البته احسان دا دی چه خاص د الله تعالیٰ عبادات په داسی طریقه سره وکړه سی چه لکه ته چه هغه وینی او که ئی چیری ته نه سی لیدلای بیا پوه سه چه هغه تا وینی. د غه رنګه د احسان څخه مراد او مقصد دا هم دی چه د بدی په مقابله کښی نیکی وکړی. په مصداق د دی فرمان د خدای جل جلاله:-

هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ ط

⊙ اووم دیانت :- یعنی د وختونو معلومول
داسی چه په دینی کارونو کښی هر وخت په څه نا
څه کار کښی مشغول او اخته او سیدل او پر معلومو
او ټاکل سوو وختونو باندی پنځه وخته لمنځونه
په جماعت سره بیله کاهلی او سُستی ادا کول او هر
وخت طاعت (عبادت) او فرمانبرداری مثلاً نفل
لمونځ، تهجد، مستحب، نور نفلونه اوداسی
قسم نور عبادتونه ادا کول او نفلی او ادایی روژی
نیول او پرد غو باندی همیشه توب کول.

⊙ اتم د بصیرت خاوند به وی:- هغه داچه
د دین په احکامو مثلاً د مذهب په عقائدو، لمانځه
زکوة، روژه، حج، په اوداسه او پاکی سره به په
ښه طریقه سره خبر وی څکه چه د اسلام او ایمان
بنا او بنیاد پر عقائدو و لاړدی - تر څوپورې چه
عقیده صحیح او درسته نه وی د اسلام رکنونه
متزلزل (حرکت کوونکی) وی او د ایمان په کور کښی
تیاره او سیږی (تاریک وی) بس عقیده صحیح او
مضبوطه کول د ایمان د کور د روښنائی باعث او
سبب دی او کوم د دین احکام چه د مرشد سره

تعلق او اړه لری هغه دادی چه څوخت مرشد یوطالب مرید جوړ کړی نو پخپله دی د غه مرشد د هغه طالب لار ښوونه او رهنما جوړیږی. او هغه ته دی د دین او د نیا کامونو ازده کړی حکمه چه مرید د خپل پیر استاد په لاس کښی داسی وی لکه څرنګه چه مړی د غسال (غسل ورکوونکی) په لاس کښی وی.

حکمه چه مرید په صحیح توګه پر الله تعالیٰ اعتماد او باور کوی په یقین سره خپل ځان د هغه الله تبارک و تعالیٰ وطرف ته دلاری پیدا کولو د پاره مرشد ته سپاری لکه څرنګه چه یو روند خپله لکړه د یو بینا (لیدونکی) په لاس کښی دلاری د معلومولو د پاره ورکوی چه دده رهبری وکړی او د هلاکت د ځای څخه ئی په ساتنه کښی ولری د دی د پاره چه د هلاکت په ځای کښی ونه لویږی.

⊙ نهمه :- هغه دادی چه پیر او استاد ته پرمرید باندی داسی شفقت او مهربانی کول په کار ده لکه څرنګه چه مور او پلار پر خپل زوی باندی کوی - باید پوه سی چه شفقت دادی چه پر ټول مخلوق باندی مهربانه وی - خصوصًا پر خپلو مورییدانو

باندی هغه دا ر نگه چه د هغوی هیڅ وخت په یوازی
والی او ګنهه ګو نه کښی شیه او وړځ عبث او بیکاره ورتیره
نه کړی او هغوی همیشه دیوه عبادت څخه پر فارغه
کیدو باندی په بل عبادت کښی او دیوی نیکی څخه په
دو همه نیکی کښی اخته او مشغول ولړی او د هغوی د
پاره هم د هغه شی غوښتو نکی وی کوم څه چه د خپل
ځان د پاره غواړی دا خبره دی یاد وی چه ابتدائی
(نوکیانو) مریدانو ته دی د هغوی د قوت قدرت
او طاقت د پانګی څخه زیات کار نه ور فرمائی۔ د دی
د پاره چه د لبر داشته (غمګین او خپه) نه سی۔ او د
راسته او سمی لاری څخه و نه ګرځی (چه ګمراهان سی)

بس مرشد ته په کار ده چه مرید کړاو کړاو په
کار کښی اخته او و لګوی د دی د پاره چه د ده شوق
درجه پر درجه زیات او کمال ته ورسیږی ځکه چه
تر څو پورې چه طلب په چا کښی نه وی د قیامت
په ورځ هم د الله تعالیٰ په حضور هغه ته د بی شوقه
عبادتو نو عوض او بدله نه ورکول کیږی ځکه چه
رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی:
اَلَا کُلُّکُمْ رَاعٍ وَ کُلُّکُمْ مَسْؤُلٌ عَنْ رَعِیَّتِهٖ۔

یعنی تاسی تولہ حاکمان (حکم کوونکی) یاست او دتولو
څخہ د خپلو رعیتو په اړه وند پوښتنه کیږی. همدغه
رنګه د مرید په متعلق او اړه چه هغه په حقیقت کی
د خپل روح آرام د امامت په طور خپل مرشد استاد ئ
امین (ایماندار ره او امانت ساتونکی) وماتی سپارلی دی
نو څه وخت چه مرشد د امانت د طریقی خلاف عمل کوی
نو هغه (مرشد) خیانت کوونکی ثابت سو او خاص خائن
ضامن او ذمه دار سو - وروسته نو مرشد او استاد
ته لازمه ده چه د مرید د پاره د هدایت ذریعه او
سبب جوړ سی او په دواړو جهانو کښی د هغه کار او
حال د نیکی وخوانه د راوستلو کوښښ وکړی همدغه
وجه ده چه د مرشد حقوق د پلار د حقوقو څخه اعلیٰ
معلن او لوړ بیان ی -

⊙ لسم صدق :- چه د دی څخه مراد رښتیا ویل دی
یعنی په کار ده چه مرشد په خپل گفتار او خبرو
کښی رښتیا و یونکی وی او افعالو او کارونو کښی -
ایماندار ه او سیده تلونکی وی او په هر کار کښی
محقق یعنی تحقیق کولو والا وی او باریک بین (تیز
فهمه او په باریکو خبرو پوهیدونکی) و نکته دان

(د باریکی خبری پیژندونکی) وی - چه دلیل د دلیل څخه
ثابت کړی نه چه دروغ وایي - الله تبارک و تعالیٰ فرمائی
فَنَجْعَلْ لَعْنَةَ اللّٰهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ - یعنی موږ پس
دروغ ویونکو باندی لعنت وایو او لیږو وئی - او
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی - مَنْ اَرَادَ اَنْ
يَّلْعَنَ نَفْسَهٗ فَلْيَكْذِبْ - یعنی هرڅوک چه پرځان باندی
د لعنت کولو اراده وکړی هغه دی دروغ ووایي په دی
هم پوه سی چه دروغجن هرځای شرمنده کیږی
او د دروغجن خاص علامه داده چه هغه حافظه
نه لری (هیره ئی ډیره وی) د دی سبیه څخه هرځای
خوار او ذلیله کیږی

⊙ یوولسم انصاف دادی چه دخپل نفس د پاره هم انصاف
کوونکی وی او د هغه د احکامو په تعمیل کښی برابری کوی
والا وی او د مریدانو د حالاتو او مقاماتو پوهیدلو
والا وی - باید پوه سی چه په اصطلاح او رواج کښی
د سالکانو د مقام معنی په ابتدائی د سلوک درجه
دی څومره چه د ده ته ارشاد کړه سویدی او د سالک
شرط دادی چه د یوه مقام څخه وده هم مقام ترپی
مخ تګ وکړی چه نه نوی (۹۹) واړه د تکوین څخه او سل (۱۰۰)

واړه د تمکین څخه تیرسی بس نو هرحقدار ته د هغه جائز روا حق د هغه د حال او احوال سره برابر او د ده د قابلیت او روحانیت د مرتبې د اندازې سره سم ورکړی.

اوکوم حد و نه چه د شریعت، طریقت، حقیقت او معرفت د رڼو یه مقرر او معلوم دی د هغوی څخه دی دیوه حد څخه تجاوز او تیری نه کوی - بیا نو که دلورو ذکر سو و حدود و څخه د یوه حد څخه هم تجاوز او تیری کوی نو دی حقدار ه دی چه ظالم و رته وویل سی ځکه چه د شرعی حد څخه تجاوز او تیری کوونکی ستمګاره او ظالم دی (ځکه چه د طریقت، حقیقت او معرفت انحصار او موقوف والی پر همدغه شریعت دی) د غه رنګه دی هیڅ شی په بې ځایه او بې محله استعمال کښی نه راوړی (نه دی مستعملوی)

مثلاً مسجد و نه د ذکر او اذکارو کولو ځایونه دی په کار ده چه د د وی څخه هیڅوک د ذکر کولو څخه منع نه کړی که چیری څوک منع وکړی نو هغه ظالم دی - لکه څرنګه چه الله تعالیٰ فرمایلی دی:

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ وَسَعٰى فِيْ خَرَابِهَا، یعنی څوک دی د ې ین زیات

ظالم د هغه چا څخه چې بند وی او منع کوی مسجدونه
د خدای ج د دی څخه چې یاد کړه سی په هغوی کی نوم د
الله تعالیٰ (لمونځ یا تسبیح) او کوښښ کوی په ټول او
شاړول د دی مساجدو کښی (نو هغه په یر ظالم نسته
چې په مسجدونو کښی د الٰهی ذکر کولو څخه منع کوی)

نوټ:- (د لته د ذکر څخه مراد جهری ذکر دی)
بیا الله تعالیٰ فرمائی:- اِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِیْنَ نَارًا
اَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا - یعنی په هر حال کښی موږ د
ظالمانو د پاره اور تیار کړیدی چې پس د غه ظالمانو
د خیمو په رنګه چاپیره کیږی - بیا ئی وفرمایل: مَنْ
یَّظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِیْرًا - یعنی هر څوک چې
ستاسی څخه ظلم او ستم روا او جائز کوی هغه په دردناکه
عذاب وڅکی - بیا ارشاد وسو:- وَمَنْ یَّتَعَدَّ حُدُوْدَ
اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ - یعنی هر څوک چې د
الله تعالیٰ د مقرر و او معلومو حدود څخه تجاوز
او تیری کوی هغه د ظالمانو څخه کیږی (ظالم دی)

ددوستانو هر څه چې بیان سوه په حقیقت کښی د
د غه څخه ظالم مراد دی - نو هیڅکله ظلم مه کوه ځکه
چې ظلم او ستم عیب او شرم دی او ظلم دی او د ظلم

بدله د خدای تعالیٰ په نیز د دوښ خ دی او زمونږ اراده
او مقصود ظلم څخه په دی ځای کښی خاص هغه دی
چه بیان سوه یعنی یوشی بی موقع او بی ځایه استعمالول
یا ایښوول یا ورکول دی - ورو سته دی پیر مرشد
کامل او هادی اکمل باندی د اخبره بنکاره او واضح
وی چه هغه مرید ته چه اهل او لایق ئ نه وی هیڅ
شی دی نه ورکوی لکه څرنګه چه د حضور صلی
الله علیه وآله وسلم فرمان دی :- لَا تُعْطُوا الْحِكْمَةَ
غَيْرَ اَهْلِهٖ - ما سیوی د اهل څخه دی د حکمت رموزات
او اشارات نا اهل ته نه ورزده کیږی .

د حکمت څخه مراد د لته علم حقیقت دی کچیری دغه
(علم حقیقت) نا اهل ته ورکړه سو نو پیر د غه علم
باندی ظلم وسو په بل صورت څوک چه د دی علم
اهل وی د هغه څخه نه خوښ دی منعه کوی او نه د ور
کولو څخه تیښته کوی که ئ چیرې منعه کړی نو ده پیر
هغه ظلم او ستم وکړی . د اخو په هیڅ صورت کښی
روا نه ده چه نا اهل ته علم باطنی ورکړی - او
همدغه رنګه د اهم روا نه ده چه د کوم شی چه
هغه اهل او لایق دی هغه ته ئ نه ورکوی بس د

مرشد ـ پاره د غه نگهداشت او ساتنه لازمی ده چې په
توجه باطنی سره د مرید پر لیاقت نظر وکړی ـ که
چیری د هغه قابلیت د مقرر بینو پر طور او طریقه
قابل د سلوک پیدا کړی نو هغه ته دی د حکمت په طور
او طریقه سره د اهل قرب د احرالو اشاره وکړی فیض
دی ورکړی که چیری په هغه کښی قابلیت پیدا نه
نه کړی نو فقط په نیکو نصیحتونو سره دی هدایت
ورته وکړی.

⊙ دوولسم: د خدای ج د مخلوق نصیحت ـ دا دی چه
مسلمانانو ته پند او نصیحت لازم دی گڼی او د هغوی
د پاره هغه شیان خوښ او بولی کوم چې د خپل ځان
د پاره ئې خوښوی او هغه شیان چې خپله ئې خوښ
نه وی د هغوی لپاره ئې هم ناخوښه وگڼی لکه
چې د حضرت ابی رقیه تمیم ابن اوس الداری رضی
الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه آنحضرت صلی
الله علیه وسلم و فرمایل:

اَلدِّیْنُ النَّصِیْحَةُ قُلْنَا لِمَنْ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ
لِلّٰهِ تَعَالٰی وَ لِکِتَابِهٖ وَ لِرَسُوْلِهٖ وَ اَهْلِ بَیْتِهٖ وَلِاَئِمَّةِ
الْمُسْلِمِیْنَ وَعَامَّتِهِمْ ـ یعنی د دین څخه مراد خیرخواهی

ده - موږ عرض وکړ چې خیرخواهي د چا پاره (یعنی خیرخواهي د چا سره وکړو) رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل د خدای جل شانه سره د ده د کتاب (قرآن مجید) سره د هغه د رسول (س) سره او د ده د کور والاوُ سره او د ټولو مسلمانانو سره بلکه د ټول مخلوق سره - د غه رنګه الله تبارک و تعالیٰ فرمایلی دی:
اُدْعُ اِلیٰ سَبِیْلِ رَبِّکَ بِالْحِکْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَ جَادِلْهُمْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ ، یعنی چې خلګ د خپل پروردګار د لارې و طرف ته په عقلمندۍ او پند او نصیحتونو سره را و بولې او د هغوی سره په ښه طریقه سره مناظره (بحث او مباحثه) وکړه -

ځکه چې هوښیارانو ویلی دی چې خوش اخلاقي د ظاهري حالاتو او واقعاتو د صحیح والي او درستي د پاره او دانایي یا حکمت (هوښیارۍ او عقلمندۍ) د خاصانو خلګو د را بللو د پاره او پند او نصیحت د عوامو (خلګو) د پاره او جنګ د دښمنانو د دفع کولو د پاره دی - دا هم د زړه په خیال او توجه کښې وساتئ چې جاهلانو او ناپوهانو ته دې د نصیحت کولو په وخت کې سخت او سست الفاظ نه وایي.

⊙ دیارلسم د نفس مخالفت:- یعنی د نفس د خواهشاتو غلبه، قهر، ظلم او دده دګناهونو د ورځې قدرې مخالفت چې خپل نفس مغلوب کړې په داسې طریقه چې نفس هره اراده وکړې - دې د هغه متابعت ونه کړې - بلکه په ټولو وجوه د ده (نفس) مخالفت وکړې - لکه څرنګه چې الله تبارک و تعالیٰ فرمایلي:
وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰى ط - چې هر څوک د الله تبارک و تعالیٰ په حضور کښې د ځان د دریدو څخه بیرې ښې او خپل نفس د حرامو او نالائقه حرکاتو څخه منعه کړې بیا نو جنت دده د پاره د آرام ځای دی وروسته د دې الٰهي فرمان معنیٰ داده چې د هغه ایت شریف د هغو خلګو په شان کښې نازل سویدی چې هغوی په خپل کور کښې چې هلته هیڅ ډول بیره او خطره نه وی او په یوازې والی کې یې د هغه بد فعل او کار قادر هم وی خاص د خدای تعالیٰ څخه وبیرې ښې د خپل نفس د خواهش خلاف دد غه بد او شنیع فعل څخه منعه او سیږی.

نکته: هر شی چې څوندی وی پاک دی مګر

څه وخت چه مړ سی مردار ویلی ی۔ مگر نفس چه
تر څو پوری ژوندی وی پلید او مردار دی کله چه
مړ سی پاکیږی ی۔

⊙ څورلسم: تواضع :۔ دا ده چه د بنډگانو، عالمانو
پیرانو، د پیرد مریدانو سره او د خدای ج د هغه
مخلوق سره چه د اهل طریقت څخه هم نه وی۔ په
عاجزی، مسکینی او خاکساری سره پیښیږی او وړاندی
کیږی ی تر د اسی اندازی چه د خدای ج د مخلوق څخه
دیوه چا سره هم غرور او تکبر نه کوی څکه چه الله
تبارک و تعالیٰ فرمائی :۔ سَاَصْرِفُ عَنْ اٰیَاتِیَ الَّذِیْنَ
یَتَکَبَّرُوْنَ فِی الْاَرْضِ بِغَیْرِ الْحَقِّ ط چه موږ به دیر څه
هغه خلګ د قرآنی ایاتو نو د قبولیت څخه منحرف او ګرځوو
چه په دنیا کښی په ناراسنی تکبر کوی۔ یعنی د
دغو متکبرانو پر زړونو باندی مهر ولګوو ددی
د پاره چه هغوی زمونږ په خبرو نه سی پوهیدلای.

د حضرت ذوالنون مصری قدس سره څخه نقل
سویدی چه خدای تعالیٰ هیڅکله او هیڅکله ــ د
دروغجنو مدعیانو زړونه د قرآنی حکمتونو په ملغلرو
او غمیږو سره بنایسته کول نه غواړی ددی سبب څخه

ددی د زړونو څخه ددی د قبلولو د قابلیت سلب
او خرابوی لکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم
ارشاد فرمائی :- مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ وَمَنْ تَكَبَّرَ
عَلَى اللّٰهِ وَضَعَهُ اللّٰهُ - هرڅوک چه د الله تعالیٰ د
پاره عاجزی اختیار وی الله تعالیٰ د هغه رتبه او
عزت لوړ وی او هرڅوک چه د الله تعالیٰ څخه کبر
او لوئی کوی الله تعالیٰ هغه کښته کوی بیائی وفرمایل
يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِثْلَ الذَّرِّ فِي
النَّمْلَةِ الصَّغِيْرَةِ يَعْلُوْهُمْ كُلُّ صَغِيْرٍ ۵ د قیامت په
ورځ د خلګ د کوچنیو کوچنیو او لویو لویو مینځ یانې
د بچیانو په رنګه راپورته کیږی د دی د پاره
چه ټول کوچنیو کوچنی مخلوق هم پرهغوی بلندی او لوړ
والی پیدا کړی - ځکه چه په دنیا کښی چه کوم چا تواضع
او خاکساری کړی وی د قیامت په ورځ د دومړی قدر
قد او قامت (جسامت) پیدا کوی چه پرهر متکبر او
سرکښ به لوړ او عزتمند وی - د دی سببه څخه
که چیرې ته هم تواضع اختیار کړی نو بلندی او
بزرګی به پیدا کړی - باید پوه سی چه د تواضع
څخه مراد د خدای تعالیٰ د عبودیت (بندګی او غلامی)

په مقام کښی مشغول او سیدل دی چه دهغه حاصل
اومطلب دا دی چه فرمانبرداری - عاجزی او پرامر
او نهی استحکام (لحکم او سیدل) یاد ذات د تجلیاتو د فنا
کیدو په حالت کښی فرمانبرداری او عاجزی او پر امر
بالمعروف او نهی عن المنکر باندی قائم او ثابت اوسیدل
دی خاص دغه د سالکانو د نفس تواضع ده - دغه رنګه
د تجلیاتو او صفاتو په زړه کښی د ننه قبلول اوځای
درکول خپله رضا او مرضی د خدای تعالیٰ په مرضی او
رضا کښی فنا کول د حق میانه درجه ده او د ذات تجلی
په روح کښی قبلول یا خپل نفس په وجود مطلق کښی
فنا کول انتهائی تواضع ده - مګر تواضع د مخلوق سره
د انصاف په مقام کښی د نفس د برقرارۀ اویوه حال
ساتلو یا خود حق د قبلیدو څخه یاد حقوقو د رعایت
د لحاظ ساتلو څخه یاد ترفع او توقع د پریښودلو
څخه مرتب کیږی .

او د حق د قبلیدو څخه مراد دا دی چه څه وخت
په مناظرو او مجادلو کښی د مخالف طرف څخه صداقت
راستی، دینداری او ایمانداری وویني نو انکار
دی نه کوی بلکه ورته دی منی او د تسلیمیدو غاړه دی

کښته کړی - د غه رنګه د حقوقو د رعایت مقصد دا
دی چه د نورو حقوق د خپلو حقوقو سره برابر بلکه
د د ی څخه ئ هم مقدم او مخکی و پیژنی - او د ترفع
او توقع د ترک څخه مراد دا دی چه د مخلوق په مخامخ
کښی دی د هغه کیفیت سره کوم چه ده ته حاصل
دی تذکره او بیان نه کوی - بلکه د خپلی رتبی
او مرتبی د اظهار توقع او امید دی د نورو څخه
نه لری او نه دی کوی .

⊙ پنځلسم حسن صحبت والسیرت والعشرت :—
یعنی د خدای ج د مخلوق سره که هغه لوی وی او یا
کوچنی، آزاد وی یا مریی، نروی یا ښځه په ښه
اخلاق، خنده روئ، ورین تندی، په پاک نفسی
ښو خبرو، ښو عادتونو، په ښو او پاکیزه صفاتو
او خویونو سره پیښید ونکی او وړاندی کیدو والا
وی - خوښ وی خبری کونکی او نیک عمله وی کچیری
په دغه خلق عظیم سره متخلق وی نو په دنیا او
اخرت کښی نیکی، خلاصون او سلامتی، کامیابی او عزت
پیدا کوی او حقیقی راحت حاصلوی او هر څوک چه
په دغو ښو صفتونو سره متصف کیږی - د هر شد

او رهنما جوړیدو او په یوه ډول دارشاد او
هدایت کولو قابل گرځی ۔ که چیرې د غه خبې بیانی
او ښې گڼې په ده کښې نه وی نو نه هغه کامل دی
نه دارشاد قابل دی ۔ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ
يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝ پرکوم چا چه دالله
تعالیٰ فضل او رحمت وی او دکوم چا څخه چه الله ج
راضی او خوښ وی او دده د پاک حبیب (حضرت
محمد صلی الله علیه وسلم د عنایت او مهربانی
نظر وی هغه ته د غه مرتبه ورکړی خاص خدای
تعالیٰ جل جلاله دلو فضل مالک دی ۔

دَقادِرِیّه سلسلې دبیعت مُجمله طَرِیقه

مرشد ته په کارده چه تر هغو لو اول دری واره
دالحمد لله شریفی سورت ۔ بیا ۔ اِنَّ الَّذِيْنَ
يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ
اَيْدِيْهِمْ ۚ فَمَنْ نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ ۚ وَ
مَنْ اَوْفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيْهُ اللّٰهَ فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا
عَظِيْمًا ۝ (۱۰) واړی ووایی ۔ بیا دی ۔ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ

الْعَظِيمُ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ - (۳) دری واړه پخپله ووایي او په
مریدی ووایي - بیا دی دخپل راسته لاس پنجه
د مریدی راسته لاس په پنجه کی کښیږدی په داسی
ډول چه د مرشد وږغوی د مریدی پر وږغوی سربیره
وی اودوی د واړو بټۍ گوتی مخامخ سره ولاړی
اوپیوسته وی - وروسته دی مرشد مریدته تلقین
اوښوونه وکړی چه ووایه الله تعالی اوده ملائکه
اوده پیغمبر اوده رسول اود مجلس حاضرین -
شاهدان دی چه په تحقیق سره زه رجوع کولو والا یم
ده (الله ج) پرفرمانبرداری : نکه څرنگه چه د الله
تعالیٰ اوده د رسول صلی الله علیه وسلم فرمان دی
د خدای جل شانه د محرماتو (هغه شیان چه منعه
سوی دی) څخه پرهیز کولو والا اوده پر عبادت او
فرمانبرداری (طاعت) باندی کوښښ کولو والا اود
خدای تعالیٰ طرف ته رجوع کولو والا یم او د بشری
توان او طاقت سره برابر د فقیرانو او مسکینانو خدمت
ته حاضر یم او چه د الله تعالیٰ مقرر سوی زمون
سردار او بادار او بهتر او بر تر رهنما - پیر او
مرشد او پیشوا السید الشیخ محی الدین عبد القادر

جیلانی قدس سره العزیز په دنیا او آخرت کښی دی.

د دی څخه ورو وستده دی وایي - الله تبارک و تعالیٰ دی زمونږ نبي په اوښ به یې ذکر سوی لوړ و اقرار ونو او وعدو باندی د دنیا په ژوند ون او آخرت کښی قائم او ثابت ولری - ورو وسته دی مرشد و فرمائی چه دغه لاس زمونږ د سردار سید الشیخ محی الدین عبدالقادر جیلانی زمونږ د سردار اور هښ حقیقی د خدای تعالیٰ د طرفه څخه دی -

او قسم او وعده خاص په خدای تعالیٰ سره او دغه وعده د ده د حق پیغمبر سره ده ورو سته دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر برکتمنده ذات باندی د درود شریف وایي او په کار ده چه اول مرشد ته خاص مخامخ دار نګه په دوو(۲) ځنګنو کښینی لکه څرنګه چه په لمانځه کښی د قعده (التحیاتی ویلو) په حالت کی کښینی او خپلی ستړګی دی بندی (پوښ) کړی - او که چیری حجام (حجامت کونکی) موجود وی نو سردی وخریږی - د مخ (د ښیری څخه ماسیوی) او شونډو نو ورینښتان دی کاټ کړی (بلکه هر انسان ته په کار ده چه د شونډو نو ورینښتان کاټ کړی - ځکه

چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی.
چه هر څوک د شونډانو وربښتان نه کانټوی (پریکوی)
هغه زمونږ څخه نه دی - وروسته دی دری واړه —
لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وایي ختم دی کړی - د دی څخه
وروسته دی د بیعت د مجلس د حاضرینو سره یو
ځای او په ګډه فاتحه (د الحمد لله شریفی سورت)
وایي - د بیعت خاص د غه طریقه په نورو معتبرو
کتابونو کښی لیکل سوید ه.

دَسَلسَلَهٔ قَادِرِیّهٔ طَاهِرِیّهٔ بَغدَادِیّهٔ

دَبَیعَتِ طَرِیقَهٔ

① مریدی کونکی (چه څوک مرید کیږی) ته لازمه
ده چه اول اودس تازه کړی - بیا پیر دواړه و ځنګنوڼ
پر قبله شریفه کښینی - مرید ونکی (مرشد یا پیر)
هغه ته مخامخ دار نګه کښینی چه د ده مخ دمرید
طرف ته او شا ئی د قبلی شریفی طرف ته وی.

② په کار ده چه اول د مریدی کونکی څنګ پوښتنه
وکړی چه د حضور پاک غوث الاعظم (قدس سره)
په طریقه کښی دی مریدی کول په ډیره خوشحالی او

اخلاص سره عوارې ؟ که چیرې هغه اقرار وکړې نو بیادې هغه ته هدایت وکړې چه د هرڅه تلقین او بشوونه چه زما څخه درته کول کیږي هغه قبلوه دهغه په جواب کښې وایه چه زما قبول دی ددې دپاره چه اقرار (بیان) په ژبه او تصدیق (منل) په زړه سره راسی .

③ بیادې هغه مرشد درته ووایي - اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ فِي الْمُلْكِ يُحْيِ وَ يُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ وَّاَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدِنَا وَ نَبِيَّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَ رَسُوْلُهٗ خَاتِمُ الْاَنْبِيَآءِ وَسَيِّدُ الْمُرْسَلِيْنَ ۝

④ بیادې په هغه (مریدکیدونکی) توبه وکاږي او درته وایي : اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الْعَظِيْمَ الَّذِيْ لَآ اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ وَ اَتُوْبُ اِلَيْهِ ۝

⑤ په هغه دې اقرار وکړې هغه دې ووایي چه ما توبه وکښه د خدای تعالیٰ په حضور (مخ) کښې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخ کښې او د غوث پاک (قدس سره) په مخ کښې او د پیر صاحب په مخ کښې او د خلیفه صاحب په مخ کښې ما

توبه وکړه چه آینده گناه او بدکار نه کوم او انشآء
الله تعالیٰ آینده درواغ نه وایم او د مسلمانانو سره
خیانت نه کوم او ظلم نه کوم.

(۶) بیادی په هغه (مریدی کونکی) د غه ټول قبول
کړی کوم چه لاندی لیکل سویدی چه د هغوی په جواب
کښی هغه (مرید کیدونکی جلا جلا ووایي چه زما
قبول دی.

(۱) پنځه وخته لمنځونه کوه — مریدکیدونکی دی ووائی
چه زما قبول دی.

(۲) د رمضانی شریفی د میاشتی روژی نیسه — ایضاً — ایضاً

(۳) که چیری خدای پاک مال
او دولت درکړی نو زکوة
ورکوه او حج کوه — ایضاً — ایضاً

(۴) خدای پاک یودی هیڅکله
مه وایه چه خدایان دوه دی — ایضاً — ایضاً

(۵) خدای یودی او وحده
لاشریک دی — ایضاً — ایضاً

(۶) جامی او بدن هر وخت
پاک ساتل په کار دی — ایضاً — ایضاً

(۷) په ژبه سره بدی خبس ی
بشکنځل او بد الفاظو ویل
په کار نه دی: ایضًا ایضًا

(۸) پرهیخ یو مسلمان ظلم
کول په کار نه دی: ایضًا ایضًا

(۹) د شریعت پابندی کول په
کار دی: ایضًا ایضًا

(۱۰) د مسلمان محبت او خدمت
په خاص ډول او د خدایٔ
د مخلوق محبت په عام
ډول کول په کار دی: ایضًا ایضًا

(۱۱) د نیک کار کو ښښی او د بد و
کارو نو څخه پرهین کول او
د بدو خلگو سره نه دوستی
او نه د ښمنی کول: ایضًا ایضًا

(۱۲) څومره قدر چه د تهجد
لمونځ او نفل ډیر کوی نو
انشاءالله تعالیٰ په هغه
اندازه د نیائ مشکلات

اودینی تکلیفونه حُینی
لیږی کیږی او درجه
ئ لوړیږی؛ ایضًا ایضًا

⑦ **وظائف** (وظیفی):- تر هر لمانځه وروسته کله چه وخت پیدا سی یو سل او پنځه[۱۷۵] اویا واره دی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ په اول او آخر کښی دی یوولس[۱۱] یوولس[۱۱] واره درود شریف وایی۔ دا دی تخنه ما سیوی په شجره شریفه کښی سلسله قادریه لیکل سوی وظیفی او قصیده غوثیه (هغه نظم چه په هغه کښی د غوث پاک قدس سره تعریف سویدی) لیکل سویده د هغوی ټولو د ویلو اجازه سته۔

⑧ د ما خستن د لمانځه تخنه وروسته دی یوولس[۱۱] واره الحمد لله شریفه یوولس[۱۱] واره قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ شریفه په اول او اخر کښی دی یوولس[۱۱] یوولس[۱۱] واره درود شریف ویلو سره دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او حضور سیدنا غوث پاک رضی الله تعالیٰ عنه او د سلسله قادریه ټولو بزرګانو او د دین د نورو بزرګانو وپاکو روحانو ته دی ثواب ورو بخښی۔

⑨ د بیدیدو تخنه مخکښی په دی شرط چه بدن ئ

پاک وی څه وخت چه سر پر ښا لښت کښیښودی - او وه (۷)
واړه دی اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الْعَظِیْمَ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ
الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ وَاَتُوْبُ اِلَیْهِ ؕ - او وه (۷) واړه کلمه شهادت
او او وه (۷) واړه دی درود شریف وواېئ او بیا دی بیده
سی - د دی عمل څخه مخکښی لږ تر لږه دوه (۲) منټه (دقیقې)
دغه فکر کول په کار دی چه په ټیره سوی ورځ کښی
ما کوم د نیکی کار کړ یدی او کوم می د بدی کار کړ یدی
بیا پر بدی باندی توبه کول او کښل لازمی او ضروری ده.

(۱۰) په هره میاشت کښی د حضرت غوث پاک رضی الله عنه
د لنګر او د ربار شریف د پاره که ئ طاقت او قدرت درلودی
نو څه نذرانه ورکول په کار ده.

(۱۱) که چیرې هر ید ته یو حاجت او تکلیف یا پریشانی
په مخ کښی پیښه سوه او حضرت پیر صاحب بغداد
شریف - تشریف فرما وُ نو د خط په ذریعه دی هغه
ته خبر ورکړی - او که چیرې په پاکستان کښی داسی
ځای موجود وی او او سیدی چه هلته هر ید نه
سوای رسید لای نو دی هم د ډاک په ذریعه
اطلاع او خبر ورکړی.

(۱۲) هر ید ته تر دی وروسته په کار ده چه د هر ید

① اول لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ - اووده فروع - لَا مَعْبُوْدَ اِلَّا اللّٰهُ - لَا مَقْصُوْدَ اِلَّا اللّٰهُ - لَا مَوْجُوْدَ اِلَّا اللّٰهُ - لَا مَطْلُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ لَا مُرَادَ اِلَّا اللّٰهُ - اوددوی د هر ((۵۰۰۰۰۰)) یوه دورد تعداد پنځه پنځه لکه واړه دی - د نه (۹) اسمونو څخه اول اسم دی.

② دوهم اسم اصول اَللّٰهُ دی اووده فروع یَانُوْرُ یَابَاسِطُ یَا اللّٰه یَانُوْرُ یَاهَادِیُ یَا اَللّٰهُ یَانُوْرُ یَااَللّٰهُ یَاهَادِیُ یَا اللّٰهُ اوددوی څخه د هر یوه دورد تعداد پنځه لکه (۵۰۰۰۰۰) دی.

③ دریم اسم اصول هُوَ دی اووده فروع یَا هُوُ اَنْتَ یَاهُوُ اَنْتَ یَاهُوُ اَنْتَ یَاهُوُ اَنْتَ هُوَ یَا اللّٰهُ - پس د دوی څخه د هر یوه ذکر او د ورد تعداد پنځه پنځه لکه (۵۰۰۰۰۰) واړه دی - د غه اصول د اسمآء حسنه وو څخه دی چه د هر یوه ذکر پر خپل خپل ځای کیږی - د غه د نه (۹) اسمآئ څخه دوهم اسم دی.

د مثال په ډول د نفس اماره د اثره که چیری خښن پر په خوب کښی وویني نو د غه صفت حرام دی که چیری سپی وویني نو د غه صفت د غضب او غصی دی - که چیری پیل وویني نو د غه د غرور

وواپي او که ئ ویلای سی نو په هر یدی هم وواپي
یو[۱] واری سورت فاتحه (الحمد لله شریفه) او دری[۳]
واره قُلْ هُوَ اللهُ شریفه ثواب دی د رسول الله
صلی الله علیه وسلم او حضرت غوث پاک رضی
الله تعالیٰ عنه او د طریقه قادریه د پټولو مشائخو
مقدسو او پاکو روحانو ته ورو بخښنی - د دی څخه
ورو سته دی د مرید پته (ادرس) داوسیدو ځای
ولدیت (د پلار نوم) په رجسټر کښی ولیکی پس شجره
شریفه دی لاسلیک وکړی او دده په حواله دی کړی
کومه نذرانه چه مرید پیش کړی هغه دی هم دده
په مخ کښی ولیکی -

د عهد او بیعت د تشریح او وضاحت

په بیان کښې

د حضرت غوث صمدانی، محبوب سبحانی، قطب ربانی السید الشیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز د پاک فرمان د طریقې سره برابر

ای حقیقی طالب او مرید په دی پوه سه چه اول دی

پیں مریدته حکم ورکړی چه که چیری حجام
(حجامت کونکی) موجود وُ سر وخریيي او دد ی څخه
ورسته دی حکمی او حقیقی (ظاهری او باطنیي)
پلیدی او مرداری لیری کړی ـ حُکه چه په رساله
حصول الاصول مصنفه خواجه حمّاد رضی الله تعالیٰ
عنه کښی فرمایی چه د ذاکر (ذکر کونکی) د پاره په
کار ده چه په اودس او غسل کښی پیں احتیاط وکړی
که چیری بیله ظاهری او باطنی پاکی څخه ذکر کوی نو
تکلیف به وویني یا به یو مکروه حادثه او واقعه په
مخکښی ورته راسی یا په کوم کار چه لاس پوری کړی
هغه به ضائع او عبث سی ـ که چیری یو شی پخوی
بی مزی او بی خونده به وی او دده نږه توریږی.

تر اوداسه ورو سته دی پاکی جامی چه د حلالی
گټی څخه جوړی سوی وی واغوندی ـ که چیری د
ده سره موجودی وی که ورسره نه وی نو د غه ته
هیڅ ضرورت نسته. چه دی محتاج او درویش دی
لکه څرنگه ممدوح الصدر فرمایلی دی چه مرشد
دی خپلی جامی هغه مفلس مرید ته ورکړی. د دی
د پاره چه د د غه جامی د نورو څخه پر هغه مرید باندی

د ذکر نعمت خلاص سی ۔

نکه څرنګه چه رسالت مآب صلی الله علیه وسلم وحضرت علی کرم الله وجهه ته وفرمایل چه د جنازی لمونځ ادا کړه او خپل څادر مبارک پرهغه جنازه هوار کړه کله چه ئې بیر ته تشریف راوړی نو عرض ئې وکړی چه یارسول الله صلی الله علیه وسلم د جنازی دلمانځه دادا کولو په وخت کښی باران اوریدی نه نه سوم لوند آنحضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایل دغه اوریځ رحمت دی چه همیشه باران اوروی ۔ دد غه څادر برکت تاولیدی؟

وروستدی مرشد هغه مرید ته د او دس او غسل کولو حکم ورکړی او دو (۲) رکعته نفل لمونځ دی د خدای تعالیٰ د پاره د تو بې په نیت سره وکړی څکه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد گرامی دی:۔ اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ کَمَنْ لَاذَنْبَ لَهُ ۔ یعنی کوم شخص چه په صدق او اخلاص سره د بدو خبرو او مکروه کارونو څخه منعه سی (او تو به څنی وکړی) خدای تعالی هغه بخښی اود هغه مخکنی ګناهونه ورمعافوی هغه داسی کیږی لکه څرنګه

چه ئې بالکل گناه نه وی کړی ـ څه وخت چه مرید
د دغه کار څخه فارغ سی بیا دی دهغه بوج پورته کولو
ته اود هغو شرطونو قبلولو ته کوم چه مرشد ئې د
طریقت د رویې څخه پرده اچوی تیار سی ـ بیادی مرشد
د خدای تعالیٰ طرف ته متوجه سی د مرید حالات دی
عرض کړی او د مرید د پاره دی د خدای تعالیٰ څخه
ظاهری او باطنی فراخی طلب کړی او د ژړه په حضور
دی د خیر دعا وکړی او د خپل مرید د پاره دی د
فرمانبرداری د توفیق د ورکړی او د قبولیت د
بخښنې د پاره دی په خدایې حضور کې په توسل او
واسطه د جناب رسول کریم صلی الله علیه وسلم
کوم چه د خدای تعالیٰ او مخلوق په مابین کښی زمونږ
د پاره بهترینه او بلند ترینه وسیله ده سوال
وکړی بیادی مرید ته خپل ځان ته مخامخ د لمانځه
د قعدی او ناستی په صورت کښی د ناستی حکم ور
کړی دا رنګه چه د مرید مخ د قبلی شریفی طرف ته
وی او د مرشد شا د کعبی شریفی و خوا ته وی بیادی
تعلیم او سبق شروع کړی ـ اول دی مرشد کلمهٔ
توحید شروع کړی بیادی د مجلس ټول حاضرین

ورسره شروع اووایي بیا باید یوه سی چه د دغه لَآ
اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ د کلمی تلقین او
تعلیم دن په څنګ ورته وکړی څکه چه د ذکر د
خدای تعالیٰ د ران ونو څخه یو ران دی مرید انو ته ورښیی
مرشد دی دغه کلمه (لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰه مُحَمَّدٌ
رَّسُوْلُ اللّٰهِ) یوسل او شپین (۱۶۶) شپیته واره ووایي کله
چه د دغه د ویلو څخه فارغه سی نو د بیعت اخیستلو
څخه مخکی دی مرشد د خپلو بزرګانو پیشوایانو څخه
امداد او کومک طلب کړی څکه چه آنحضرت صلی
اللّٰه علیه وآله وسلم فرمایلی دی اِذَا تَحَيَّرْتُمْ فِي
الْاُمُوْرِ فَاسْتَعِيْنُوْا مِنْ اَهْلِ الْقُبُوْرِ (یعنی څه وخت
چه تاسی په کار ونو کښی د مقصد نه حاصلیدو په
سبب متحیر او حیران سی نو د اهل قبور (د قبرونو د
خاوندانو) څخه مرسته وغواړی) او مرشد دی ووایي
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۞ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدًا
وَ صَحْبِهٖ وَ بَارِكْ وَ سَلِّمْ يَا اَكْرَمَ الْاَكْرَمِيْنَ وَ يَا
اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ يَا ذُوْ الْجَلَالِ وَ الْاِكْرَامِ، اَللّٰهُمَّ بِحُرْمَةِ
اَنْبِيَاءِكَ وَ اَوْلِيَآءِكَ وَ كُلُّ مَا كَانَ عِنْدَكَ حَقٌّ صُبَّ
عَلٰى قُلُوْبِنَا كَاْسَ شَرَابِ مُحَبَّتِكَ كَمَا صَبَبْتَهٗ عَلٰى

سَائِرِ قُلُوْبِ مَشَائِخِ الطَّرِيقَةِ اَجْمَعِيْنَ فَاطْمِسِ اللّٰهُمَّ
مِنْ قُلُوْبِنَا حُبَّ غَيْرِكَ وَ اَسْقِيْنَا بِكَأْسِ مُحَبَّتِكَ وَ
اجْعَلْنَا سُكَارٰى مِنْهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ ۝ اَللّٰهُمَّ اِنَّا
نَسْئَلُكَ مِنْ وَّرَآءِ ذَالِكَ مَا سَئَلَكَ اَنْبِيَآءُكَ وَاَوْلِيَآءُكَ
وَ سُكَّانِ سَمٰوٰتِكَ وَ اَهْلِ اَرْضِكَ اَجْمَعُوْنَ يَا اَرْحَمَ
الرَّاحِمِيْنَ ۝ اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لَنَا اَبْوَابَ حِكْمَتِكَ وَانْشُرْ
عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ وَ اَدِمْ عَلَيْنَا سَوَابِغَ نِعْمَتِكَ وَادْفَعْ عَنَّا
شَرَّ نِقْمَتِكَ وَ جَنِّبْنَا سَخَطَكَ وَوَفِّقْنَا لِمَرْضَاتِكَ
يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ۝ اَللّٰهُمَّ حَبِّبْ اِلَيْنَا الْاِيْمَانَ
وَالْبِرَّ وَالْاِحْسَانَ وَ زَيِّنْ فِيْ قُلُوْبِنَا وَكَرِّهْ اِلَيْنَا
الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلِوَالِدَيْنَا
وَلِمَشَائِخِنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ
فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَا اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝

څه وخت چه مرشد دی دعا ختمه فراغت پیدا
کړی نو د عهد او بیعت خطبه دی شروع کړی چه هغه
خطبه داده:

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ ۝ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ
الرَّحِيْمِ ـ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَ الْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ
وَلَا عُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى

سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ خَاتَمِ النَّبِیِّیْنَ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہٖ اَجْمَعِیْنَ
وَسَلَامٌ عَلَی الْمُرْسَلِیْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ ۵

وروسته چه څه وخت د مرید څخه د بیعت د
اخیستلو اراده وکړی ، نوده ته پکار ده چه ذکر د
تلقین او بسودلو څخه مخکښی د دغه مستقیمی لاری
د منزلونو د مشکلاتو، تکلیفونو او سختیو تذکره
او بیان د مرید سره وکړی لکه څرنګه چه خواجه
حضرت خضر علیه السلام په حیثیت او درجه کښی د
مرشد او حضرت موسیٰ علیه السلام ته ئې وفرمایل :-
اِنَّکَ لَنْ تَسْتَطِیْعَ مَعِیَ صَبْرًا ط یعنی چه ته زما سره
نه سی او سیدلای چه د هغه په جواب کښی حضرت
موسیٰ علیه السلام وئیل چه په دغه لار کښی په
صدق او یقین سره قدم ایښی ؤ - وویل: سَتَجِدُنِیْ
اِنْشَآءَ اللّٰہُ صَابِرًا وَّلَا اَعْصِیْ لَکَ اَمْرًا - انشآءَ اللّٰہ
ته به ما پیدا کړی او سید و والا صبر کونکی ، او ستا
د هیڅ حکم نا فرمانی به نه کوم - وروسته د غه رنګه
مرشد ته په کار ده چه مرید ته د مستقیمی لاری
د خوف بیری او هلاکت د ځایونو مخ ته را تلو خبر
ورکړی ددی د پاره که چه که چیری مرید د دنیائی

خواهشات تولاندی د مریدکیدو د پاره را غلی وو نو بیرته
ځی او که چیری په حقیقت کی طالب را غلی وو نو د لاری
تکلیفونه به په پیره خوشحالی او اخلاص سره قبول
کړی - د دی څخه وروسته دی مرید ته حکم وکړی چه
راسته لاس را اوبن دکړی او مرشدی هم خپل راسته
لاس ورا اوبن دکړی او د مرید د پنجی سره دی خپله
پنجه دا رنګه یوځای کړی چه د پیر وروغوی سر
بیره وی او مرشدی خپله بټه ګوته د مرید د
بټی ګوتی سره پیوسته او د مبلوی او لاسونه
دی په یو ټوکره سره او یا دستمال سره پټ کړی - او
اول واړدی مرید ته د استغفار او توبی کښلو تلقین
او تعلیم ورکړی - ځکه چه حضور علیه الصلوة و
السلام فرمایلی دی: لَا صَغِيْرَةَ مَعَ الْاِصْرَارِ وَلَا كَبِيْرَةَ
مَعَ الْاِسْتِغْفَارِ ؕ یعنی کوچنی ګناه د پریښودلو څخه
د منځه ځی او لیری کیږی او ګناه کبیره (لویه ګناه)
د استغفار کولو څخه نه پاته کیږی (بخښل کیږی)

بیا هم د توبی حق دادی چه هر وخت په استغفار
سره د ګناهونو ګرځ او غبار د خپل ځان څخه لیری
ولری - بیادی مرشد مرید ته وایی ای زویه!

دوایه: اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الْعَظِیْمَ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ وَ اَتُوْبُ اِلَیْهِ ؕ

دُرّی (۲) واره دی پخپله ووایي او دُرّی (۳) واره دی په مرید ووایي - لکه څرنګه چه ئې خپله وایي بیادی - ارشاد کوی چه ووایه:

اُشْهِدُ اللّٰهَ وَ مَلَائِکَتَهٗ وَ اَنْبِیَآئَهٗ وَ رُسُلَهٗ وَ اَوْلِیَآئَهٗ وَ الْحَاضِرِیْنَ مِنْ خَلْقِهٖ یَا بُنَیَّ تُبْ اِلَی اللّٰهِ الَّذِیْ حَلَّلَ الْحَلَالَ وَ حَرَّمَ الْحَرَامَ وَ لَازِمْ عَلَیْکَ الذِّکْرَ کَمَا قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَ اَلْزَمَهُمْ کَلِمَةَ التَّقْوٰی لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ الطَّاعَةَ بِحَسْبِ الْاِسْتِطَاعَةِ ط

شاهد گرځوم الله تعالیٰ او دده ملائکی او دده رسول صلی الله علیه وسلم او دده استاذی او رالیږل سوی او دده ولیان او دده مخلوق څخه کوم چه دلته حاضر او موجود دی - بیا دی (مرشد) ووایي ای زویه توبه وکاږه د خدای تعالیٰ په حضور کښی چه هغه حلال (شیان) حلال کړه او حرام ئې حرام کړه او پر تا باندی ئې د طاقت په اندازه لازم کړی ذکر د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ او طاعت، زهد او عبادت - وروسته دی مرید هم دغه رنګه ووایي - لکه څرنګه چه وروسته ویل

سویدی۔ بیادی مرشد مریدته ووایي چه ووایه
القطب ربّانِي و الهیکل نورانی والمعارف صمدانی سیّدی
واستاذی حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی قدس الله
تعالیٰ سِره نه ماپیں، مرشد اوستاذ او د الله تعالیٰ
طرف ته د تللو د پاره زمونږ هیره بنه وسیله ده
اوده (قدس سره) پیر زمونږ پیر اوده طریقه
(قادریه) زمونږ طریقه ده او هرڅه چه موږ وایو
الله تعالیٰ ئې کړونکی دی۔ بیادی مرشد مریدطرف
ته متوجه سی او وفرمایي ای خدایه دغه قبول
کړه اوده تخنه نوں قبول کړه۔ بیادی داسی ووایي چه
د قبولیت دروازه پرده خلاصه کړه او دی په نیکو
کارونو کښی مصروف کړی نه په بدو کارونو کښی او
ده د دنیا او آخرت په ژوندکی دی پرده غه ثابته
او محکمه خبره باندی قائم کړه یعنی پر کلمه د لَآ اِلٰهَ
اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ده ته د دنیا په ژوند
او آخرت کښی تقویت (طاقت) وفرمایه په خیل تقویت
سره یَا عَزِیْزُ یَا حَکِیْمُ بِرَحْمَتِكَ یَآ اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ ؕ
بیادی مرشد مریدته اشاره وکړی چه زه تاته
وصیت کوم چه دالله تعالیٰ سره پرهیزګاری، طاعت

او عبادت او په احکامو کښې فرمانبرداری او د -
موانعاتو (منعه کړه سره شیانو) څخه مخ ګرځول اختیار
کړه او ددې خبرې قسم ستا څخه اخلم چه د ګناه کبیره
کونکی به نه جوړیږی او د صغیره ګناه څخه به پرهیز
کوی ځکه چه د صغیره ګناهونو همیشه کول (پخپله
تایا هر کونکی) د کبیره ګناهونو دا قدام وطرف نه وړی
او د همدغه وجه څخه په چا بکی یا څنډه سره کبیره
ګناهونه څنډی کیږی.

د غه رنګه پر کومو شیانو چه ستا د پاره عمل کول
په کار دی هغه دالله تعالیٰ کتاب قرآن مجید او سنت
یعنی د خدای د پیغمبر محمد رسول الله صلی الله
علیه وسلم طریقه، رسم او عادات دی او پر شریعت
او طریقت په بنه اخلاص عمل کول دی - په د غسی
طریقه چه مرشد د د غه مرید څخه عهد او پیمان
واخلی چه هغه مرید وایی چه ما ستا وصیت قبول
کړی دی - وروسته دی مرشد د مجلس د حاضرینو
څخه د هریوه د پاره بلکه د عالَم د ټولو مسلمانانو
په حق کښې دی د خیر دعا وکړی او د غه دعا دی
وایی - اَللّٰهُمَّ اَصْلِحْنَا وَاَصْلِحْ بِنَا وَاهْدِنَا وَاهْدِ

بِنَا وَاَرْشِدْنَا وَاَرْشِدْ بِنَا وَاَرِنَا الْحَقَّ حَقًّا وَاَلْهِمْنَا
اتباعَهٗ وَاَرِنَا الْبَاطِلَ بَاطِلًا وَارْزُقْنَا اِجْتِنَابَهٗ اَللّٰهُمَّ
اقْطَعْ عَنَّا كُلَّ قَاطِعٍ يَقْطَعُنَا عَنْكَ وَنَقْطَعُنَا بِالْاَغْيَارِ
بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ۝

بیادی وایی اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ
اللّٰهَ يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ فَمَنْ نَّكَثَ فَاِنَّمَا
يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيْهُ اللّٰهَ
فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ دغه ایت مبارک د عهد
او بیعت - خاص د نارینه وُ د پاره دی - که چیری
بیعت د بنځی د پاره وی - بیادی مرشد دغه ایت
شریف ووایي.

يَآ اَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ اَنْ
لَّا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْئًا وَّلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ وَلَا
يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ
اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِيْ مَعْرُوْفٍ —
فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ

حضرت عائشه رضی الله تعالیٰ عنها فرمائی چه
حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د بیعت
کولو په وخت کی یوازی په ژبه مبارکه سره ارشاد

فرمایه، او په لاس مبارک سره ئې د هیڅ بنځې لاس نه مسحه کاوی - نقل سویدی چه بنځو به د اویو په پیاله کې لاس واهی تر هغه وروسته به آنحضرت صلی الله علیه وسلم خپل مبارک لاس په دغه پیاله کښی دا خیلاوه - بس خاص د غه طریقه د بنځو د بیعت د پاره وه - (نوټ:- په وروسته بیان کښی تر دعا پورې د مرید د لفظ څخه مراد بنځه مرید ده ذکر چه بیان د بنځې د بیعت دی)-

د دی څخه وروسته دی مرشد مرید ته اشاره وکړی چه زما څخه دُرّی[۳] واره کلمهٔ توحید واوره او د لُغتو په کتابونو کښی د توحید مطلب د خدای تعالیٰ عزوجل یو ګډل دی (یعنی خدای ج یو ګډل د توحید نوم دی) او ته هم زما په پوله ووایه یعنی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دی دُرّی[۳] واره مرشد ووایي او همدغه رنګه دی مرید هم ووایي - وروسته دی مرید د دغه پاکی کلمی د صحیح والی او حق والی اقرار وکړی بیا دی مرشد مرید ته د دغه پاکی کلمی د ډیر ذکر کولو په هر حالت کښی چه ولاړ وی یا ناست وی یا پروت وی شپه وی یا ورځ وصیت

وکړی او د غه مرید ته دی د سلوک د حقوقو او د
مرشد د حقوقو او د ورونو د حقوقو او د ټولو
مسلمانانو د حقوقو ښوونه او زده کړه وکړی د دی
څخه وروسته دی مرشد د غه مرید او د جهان
د ټولو مسلمانانو په حق کښی پر نیکی باندی د قائم
او ثابت او سیدو د پاره د خیر د عا وکړی او وډی
وایي:- اَللّٰهُمَّ کُنْ لَّنَا بَرًّا رَّحِیْمًا جَوَّادًا کَرِیْمًا
اَللّٰهُمَّ دُلَّهُ بِکَ اِلَیْکَ اَللّٰهُمَّ خُذْ اَللّٰهُمَّ افْتَحْ
عَلَیْهِ وَلِوَالِدَیْهِ فُتُوْحُ الْاَنْبِیَآءِ وَالْاَوْلِیَآءِ بِجُوْدِکَ
وَکَرَمِکَ یَآ اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ ۝ وَصَلَّی اللّٰهُ عَلٰی
سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَعَلٰی جَمِیْعِ
اِخْوَانِهٖ مِنَ الْاَنْبِیَآءِ وَ الْمُرْسَلِیْنَ وَاٰلِهِمْ وَ
اَصْحَابِهِمْ اَجْمَعِیْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ ۝

د ذکر بالجهر و بالخفی د تشریح او د شروع کولو د ترتیب او ترکیب په بیان کې

باید پوه سی چه ذکر کونکی دی د ذکر د شروع کولو څخه مخکښی سورة فاتحه (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ) شریفه د (۳) درې واړه - سورة بقره د الٓمٓ څخه تر - مُفْلِحُوْنَ - پورې د آیت (۱) څخه تر (۵) پورې یو واړ - ایت الکرسی د اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ څخه تر خَالِدُوْنَ پورې یو واړ (سیپاره ۳) سوره بقره د آیت نمبر (۲۵۵) څخه تر (۲۵۷) پورې - وَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ - تر - فَانْصُرْنَا عَلَی الْقَوْمِ الْکَافِرِیْنَ ۶ پورې (سیپاره ۳ د سورة بقره آخرۍ د (۳) آیتونه د آیت ۲۸۴ څخه تر آیت ۲۸۶ پورې یو واړ) - حَسْبُنَا اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَکِیْلُ نِعْمَ الْمَوْلٰی وَ نِعْمَ النَّصِیْرُ - د دې (۳) درې واړه وایي بیا دی په لوړ آواز (جهری) ذکر مشغوله سی.

باید پوه سی چه ذکر په دوه ډوله دی یو کرار دوهم په لوړ آواز سره - او هر یو په دغه باره کی خپل خپل دلائل وړاندی کوی چه په دواړه ډوله ذکر کول صحیح او درست دی حکه چه په معتبر ه

کتابونو کښی لیکلی دی چه څه وخت کافران (د نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم په زمانه کښی) غالبه وه نوی د اذان، لمانځه، قرائت، او د قرآن کریم د تلاوت او د ذکر او تسبیح کولو فرمان (حکم) په کړاو اوهسته کولو سره وو۔ لکه چه د هغه وخت د پاره۔ اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۚ وَ قوله تعالیٰ۔ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً وَّ دُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ :۔ حکم وو۔ یعنی تاسی خپل رب و یولی د خپلی هری سا کښلو سره په عاجزی او تواضع سره په کړاو والی سره بیله لوړ آواز نه او په ژبه د ویلو۔ او څه وخت چه د اسلام غلبه سوه او کفار مغلوب سوه نو خدایي حکم وسو۔ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى الَّذِيْ۔ ای اِرْفَعْ صَوْتَكَ بِذِكْرِ رَبِّكَ :۔ یعنی تسبیح او پاکی بیان کړه د خپل رب د نامه چه لوی دی یعنی د خپل رب ذکر په لوړ آواز سره وکړه۔ وړو سته نو د اوریدونکی د پاره چهری ذکر بهتره او د عابدانو (عبادت کونکی) د پاره کړاو ذکر بنه دی۔

د ذکر ابتداء دی د چپه بغل د خوا یعنی د زړه

څخه وکړی ـ او د الله د لفظ ﷻ چه په دې د بن رګی والا
توری دی د کلمې د ختم کولو څخه وروسته دی هم
خاص د زبر ه پس چې په طرف په ن وی د سره ورته
یعنی د زبر ه د ځایه څخه دی الف په کشولو سره تر
راسته اوږی پورې راوړی سرته دی او وروسته
بیا دی د هغه ځایه څخه د چې اوږی طرف ته را
وړی په دې ډول د سره د د لَهُ توری پس زبر ه
ورته هم او ستر ګی د ی بند ځکه چې د زبر ه کښې د دا نور
سیالات نه ورګډ ځکه او په مخکښې توری سره د ی
په ه باندې سره ذکر کړ ځکه وخت په په ذکر کښې
غږ ی بیا چه ئې څه رنګه خوښه وی په هغه
ډول د ی وکړی ـ

وروسته چه د ذکر څخه فارغ سی پرده لاز مده
چه سورة فاتحه دُرُود واره وروسته د غه آیت شریف
درې واره ووایي ـ اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى
النَّبِيِّ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ۝

وروسته چه هر څوک د خدای تعالیٰ او د ده د
رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم عاشق او دلدار
(عاشق وی پس هغه لازمه ده چه درود او سلام پس

آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم باندی ولیږی ـ د
سلام مقصد دادی چه د حضور پاک صلی اللہ علیه
واله وسلم په احکامو کښی د تسلیمی غاړه کښته کول
دی دا هم په کار ده چه څه وخت درود شریف وایی
نو سلام دی هم ورسره شامل او یوځای کړی ددی
دپاره چه په فرمان (حکم) الهی عمل وسی ـ بیادی
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ كُلَّمَا
ذَكَرَكَ وَذَكَرَهُ الذَّاكِرُوْنَ وَكُلَّمَا غَفَلَ عَنْ ذِكْرِكَ
وَذِكْرِهِ الْغَافِلُوْنَ وَرَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْ اَصْحَابِ
رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَنِ التَّابِعِيْنَ
وَتَابِعِ التَّابِعِيْنَ لَهُمْ بِاِحْسَانٍ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ
وواېي ـ ورو سته دی د غه دعا وواېي ختم دی کړی.
اَللّٰهُمَّ اَحْيِيْنَا وَاَمِتْنَا عَلٰى حُبِّهِمْ وَاحْفَظْنَا مِنْ
بُغْضِهِمْ وَسَبِّهِمْ وَلَا تَجْعَلْ لِاَحَدٍ مِّنْهُمْ وَلَا مِنَ
الْمُسْلِمِيْنَ فِيْ اَعْنَاقِنَا ظِلَامَةً وَاجْعَلْهُمْ شُفَعَاءَنَا
اِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَللّٰهُمَّ اَرْضَ عَنْ قُطْبِ الْاَقْطَابِ
وَفَرْدِ الْاَحْبَابِ الْعَامِلِ عَلَى الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ الْقَائِلُ
عَلٰى رُءُوْسِ الْاَشْهَادِ قَدَمِيْ هٰذَا عَلٰى رَقَبَةِ كُلِّ وَلِيِّ
اللّٰهِ الْغَوْثُ الْاَعْظَمُ الْفَرْدُ الْاَحَدُ اَبِي الْمَكَارِمِ وَ

اَلْمَحَاسِنِ اَعْنِیْ شَیْخُ مُحِیُ الدِّیْنِ عَبْدِ الْقَادِرِ
جَیْلَانِیْ قَدَّسَ اللّٰہُ تَعَالٰی سِرَّہٗ وَاَعَادَ عَلَیْنَا وَ
عَلَی الْمُرْسَلِیْنَ من بَرَکَاتِہٖ وَخُصُوْصِیَاتِہٖ وَنَفْعَاتِہٖ
وَجَلْوَاتِہٖ وَاحْشُرْنَا فِیْ زُمْرَتِہٖ وَتَحْتَ لِوَآءِ سَیِّدِ
الْمُرْسَلِیْنَ نَحْنُ وَوَالِدَیْنَا وَمَشَایِخِنَا وَمُعَلِّمِیْنَا
وَلِاِخْوَانِنَا وَاَصْدِقَائِنَا وَسَائِرِ الْمُسْلِمِیْنَ وَصَلَّی اللّٰہُ
عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ اَجْمَعِیْنَ ۵

د نفی او اثبات د ذکر د تعلیم بیان د مرشد د طرف څخه د مرید په حق کښې

پس مرشد دی پوه کړی او وروډی ښیی چه
ای زویه د لا آلتوری د خپل زړه د مرکزه څخه ذهن او
خیال کښی تر راسته تی پوری کش کړی سوی بیا تر
راسته اوږی پوری راوړل سوی د سر تر څوکی
پوری راوړه اِلٰـهَ وایه یعنی په هر صورت
اِلٰـهَ د خپل سر پر څوکه ختم کړه بیا په همدغه
خیالی صورت کښی د سر د څرکی څخه تر چپه اوږی
پوری کښته راوړل سوی پر چپه تی باندی لفظ د
اِلَّا اللّٰہُ راوړه او آخری د لا آلتوری کوم چه د پیری

بزرگۍ او جلالت والادی د نړۍ په پرتله سر لـه وړوا یه
پـه څېر هـم زړه سره ټـول پـر نـړۍ وو وهـه (یعنی ضرب وکړه)
د غـږ ضرب دومره سخت پـه کار دی چـه نړۍ
حرکت وکړی ـ او ټول بـدن پـه لـړزه سی او پـه هر
حالت کښی ستاذ کر د غـږ ځای څخه شروع سی ـ او
پر هم د غـږ ځای ختم سی ځکـه چـه د غـږ د بنسټانو
ځای دی چـه هغـه تـه نفس امـاره ویل کیږی چـه
څېر نړیات سرکښته ، نافرمانه ، نـه تابع کیدونکی
او څېر سخت د نفسانی لـذتونو او د فانی او ممنوعـه
خواهشاتو طرف تـه میل کولو والادی ـ لکـه څرنګـه
چـه الله تبارک وتعالیٰ فرمایلی دی ـ اِنَّ النَّفْسَ
لَاَمَّارَةٌ بِالسُّوْٓءِ ـ پـه تحقیق نَفْس امـاره د بدی طرف
تـه حکم کولو والا دی ـ ورو سته د اثبات د نفی د ذکر
د لَآ لفظ چـه نفی کونکی دی پـه هـد سره وایـه
او د دومره قدر حرکت ورکوه چـه د څومره ضرورت
وی ـ بیا دی ورو ښیی چـه د اِلٰـهَ الف پـه ښیی
سره وواید او لَآ پـه سپک زور سره یعنی داسی
اوږد یا ډک دی نـه وایی چـه پر ځای د زور الف
بنکاره او پیدا سی ـ بلکـه پـه قرار او آرام سره دی

وایي اود اِلّا اللّٰهُ آخری ۀ چه اسم جلالی دی په سخت
ضرب (وهلو) سره دی ووایي - اود اِلٰـه د ۀ او د اِلّا
اللّٰهُ په ویلو کښی دی جلا والی نه کوی حُکه چه کچیری
لَآ اِلٰـهَ د اِلّا اللّٰهُ څخه جلا کړی یاد واپی کلمی په دوو (۲)
ساوو سره جلا جلا ووایي نو په اوله ساکښی یوازی
نفی کول ثابتیږی او د اِلٰه نفی بیله اثباته یعنی بیله
اِلّا اللّٰهُ څخه کفر دی - ورو ستد ذکر کونکی که چیرته
د علم خاوند وی په دی اوله ساه کښی کافر دی او
که چیری بی علمه دی نو گنهگاره دی - د دغه خبری
په سبب چه بیان سوه - ای ذکر کونکی سالکه بیانونه
تالاسه مه ده چه د اِلٰـهَ د لفظ د الف په بنکاره کولو
کښی بنه کوښښ وکړه حُکه چه که چیری ته په دغه ځای
کښی د غفلت څخه کار واخلی او سستی وکړی نو ستا په
وینا کښی د الف آواز د نه ښه په وجه د بی علمی یا بی پروایي
څخه داوښ د ویلو څخه دی - په آواز بدلیږی نو ستا
ذکر داسی کیږی - لَآ اِیلَاهَ اِلّا اللّٰهُ - نو دا ټول
غلط دی - او همدا رنگه د اِلٰـهَ د ۀ د زور - د
اوښ د ویلو څخه پس هیر وکړه - حُکه چه کچیری
ۀ ډکه ووایي - نو پس ځای د زور د الف آواز راځی

وړو سته نو په دغه صورت کښې ستاذکر د غه
رنګه کیږي ـ لَآ اِلٰهَا اِلَّا اللّٰهُ چه بنکاره غلط دی او
همدغه رنګه د ـ اِلَّا ـ دالف دزیږ په ویلو کښې احتیاط
کول په کار دی د دی دپاره چه د زیږ پرځای د ـَ
آواز جوړ او پیدا نه سی بیا دا رنګه جوړیږي —
لَا اِلٰهَ اِیَّلَا اللّٰهُ ـ او دغه هم ټول غلط دی ـ نکه
چه په دغه ټولو حالتونو کښې کلمه توحید نه سی
وړته ویل کیدلای ـ وړو سته نو د دغسی غلط
ویلو څخه نه ثواب سته او نه تاثیر بلکه گناه لازمیږي
بلکه د ذکر کونکی د پاره د دین خطره ده ـ د دغه زمانی
ذکر کونکی په عام ډول سره د دغه بدنما او رسوا
کونکی نقص او عیب کونکی او لږ وونکی دی (یعنی په
دوی کښې دغه نقص او عیب سته) حال دا دی چه
دخپل جهالت، کم علمی او ناپوهۍ په سبب خپل ضرر
او نقصان نه پیژني.

دغه رنګه تاته د اِلَّا اللّٰهُ د ـَ ـ دا دا کولو
څخه وروسته وقف کول (در یدل) لازم دی ـ ځکه
چه د قرأت په قاعده د مخرج په لحاظ او د الفاظو
دا دا کیدو سره بالکل موافق او برابر دی کچیږي

ته پس ۀ د اِلّا اللّٰهُ ساه مانته کړی نو د غه ۀ د کلمه
توحید د اول الف سره گډه کړی نو د غه رنگه ویل
ئ بنکاره غلط دی - پس ۀ بنه بنکاره و وایه - ساه
وا خله د الف ابتداء په زوړ سره وکړه.

حُکه چه د زوړ او زیر لن والی او پیش والی د
توحید د کلمی په معنا گانو کښی نقصان او ضرر پیدا
کوی کوم چه په هیڅ حال کښی روا نه دی - د دی تعلیم
او بنو ونی ورو سته دی مرشد د الحمد لله شریفی
سورة وایی د مرید او ټولو مسلمانانو په حق کښی
دی دعاءِ خیر (بنه د خیر دعا) وکړی - مرید ته په کار
ده چه پیش وخت نه خپله ژبه د الله تبارک و تعالیٰ
د ذکر په وخت کښی ماسیوی د الله تعالیٰ څخه د نورو
شیانو څخه وساتی د دی د پاره چه د ذکر په ذکر کښی
خلل او تاوان واقع نه سی حُکه چه د اقاعده ده چه
څوخت ژبه خبرو مشغوله وی نو زړه د ذکر کولو
څخه دریږی یعنی ذکر نه کوی ـه

عمر خود ضائع مکن اے ابوالہوس
لب مزن جز نام اللہ یک نفس

باید پوه سی چه ذکر پیدوه ډوله دی یو ذکر

تقلیدی دوهم ذکر تحقیقی ۔ تقلیدی ذکر دادی چه
بیله اجازی او بیله تلقینه د مرشدئ کوی ددی څخه
هیڅ فایده نه حاصلیږی ځکه چه کچه تخم کچیری
په محکه کښی وپاشی او وئ کری نو هغه نه راشین
کیږی او نه میوه او حاصل کوی په دی هم باید
پوه سی چه ذکر کول د بنده د پاره د محبت ذریعه ده
ددی علامی دادی چه څوک بنده خاص الله
تعالیٰ دوست وگڼی نو ددی ذکر پرین کوی ۔ لکه چه
رسول مقبول صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایی.
مَنْ اَحَبَّ شَیْئًا اَکْثَرَ ذِکْرَہٗ ، هرڅوک چه یوشی
خوښ او دوست لری هغه په خاص پرول سره پرې
یادوی ۔ په دی هم پوه سی چه حضرت غوث پاک
رضی الله تعالیٰ عنه په فتوح الغیب کتاب کښی فرمایی.
وَلَا یَبْقٰی فِیْ قَلْبِکَ شَیْءٌ سِوَی اللّٰہِ تَعَالٰی ، یعنی ستا په
زړه کی ما سیوئ د الله تعالیٰ څخه هیڅ نه پاته کیږی.
درو سته به ستا زړه د خدایی محبت څخه پک سی اود
مدعا موافق به د هغه په طلب کی درست او صحیح
سی ۔ دا رنگه صدق او اراده داده چه هیڅ شی د
دنیایی غرضونو څخه ستاد زړه د خیمی پرې شاوخوا باندی

ګرځیدل پیدا نه کړی د دی د پاره چه د حقیقی اخلاص
قبلونکی وی او د ارادی معنیٰ د زړه خواهش دی چه د
چا په زړه کښی پیدا کیږی بس د غه د زړه خواهش ته
اراده وایی او خاص د غه نیکه اراده ده چه بنه شی ده چه د
ټولو نیکبختیو تخم دی لکه چه بزرګان فرمایی چه اراده
د انسانی صفتونو څخه نه ده بلکه د الله تعالیٰ د صفتونو
د انوارو څخه یو نور دی بلکه داسی وګڼه چه مریدی
د خدای ج صفت دی چه خدای تعالیٰ ج د د غه صفت څخه
د انسان پر روح باندی تجلّی کوی.

د د غه سببه څخه د انسان په زړه کښی د الله تعالیٰ
د ارادی د انوارو عکس بشکاره کیږی او څه وخت چه
د ارادی د د غه تخم څخه د مؤمن بنده د زړه په محکه
کښی الٰهی محبت پیدا سی نو د غه انسان ته په کار ده چه
د غه غنیمت وبولی او د غه غیبی میلمه په دین عزت
کښی وساتی او په مناسبو غذاؤ د او خوراکونو سره د
ده خدمت وکړی ځکه چه اراده د مرید په زړه کښی
نوی زیږید لی غیبی کوچنی دی او د د غه کوچنی
غذا او خوراک ماسیوی د مرشد د تقرب او تصرف
د تیوُ څخه بل هیڅ ځای نه پیدا کیږی او نه حاصلیږی

ورو ستونلانه ده چه د شیخ کامل چه د تصرف او تقرب خاوندوی په طلب کی مشغوله سی او خپل ځان د هغه په رضا او تصرف کی پریږدی.

گر توانی بدریائے خطیر رونشین در بطن کشتی دستگیر
کشتی غوث الورٰی جائے امان سوئے قرب رہروان بلند عیان
خوف طوفان نیست وزکام نہنگ میرد و بابال وپر تیر و خدنگ

د طریقه قادریه موافق په خلوت کښی داخل چله کشی کول.

خلوت ته د داخلیدو په وخت کښی دی د غه نیت وتړی اَللّٰھُمَّ نَوَیْتُ الْخَلْوَتَ تَبَتُّلًا اِلَیْکَ وَ ابْتِغَآءَ لِمَرْضَاتِکَ وَوَجْھِکَ الْکَرِیْمِ بِفَضْلِکَ وَ فَیْضِکَ وَ جُوْدِکَ یَا اَکْرَمَ الْاَکْرَمِیْنَ وَ یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ ۵ یعنی ای الله زه د چله کشی نیت یا اراده کوم ستا طرف ته د رجوع کولو د پاره او ستا د خوشحالی او رضا حاصلولو د پاره د دنیا څخه د زړه قطعه کوم ځکه چه ته بخښلو والا او د هری ګناه څخه توبه قبلولو والا د خپل فضل په بخښنی اولوی فیض او د بی انتهائی سخاوت د بخشش په سبب بی ای د بخښلو والاؤ بخښنکی او ای په ډیره بزرګه د بخښلو والاؤ

څخه - بس څه وخت چه په خلوت (چله خانۍ) کښی داخل ځی
نو په کار ده چه د وړځی روژه و نیسی ځکه چه روژه
نیول د بشری تعلقاتو او نفسانی خواهشاتو څخه د انسان
تعلق قطعه کوی - ځکه چه روژه نیول لوی خاصیت او قوی
تاثیر لری د دی سبب مرید نه لازمه ده چه خپل نفس
په مجاهده او ریاضت او عبادت مطمئن کړی ځکه چه د
نفس د اصلاح دپاره هیڅ مجاهده د لوبن ی سره برابره
نه ده د دی سبب په کار ده چه هره وخ بیله ناغه
کیدو روژه و نیسی تر هغه وخته پورې چه مقصود ته
رسیږی او د شپی دی ناسته اختیار کړی ځکه چه ده ته
د چیر خوب او بیدیدو اجازه نسته او سالک ته په کار
ده چه د خوب د لږ والی او کموالی کو بښښ وکړی ځکه چه
دالاره د کښینستونکو (د شپی بیدارو) او سیدونکو) د
پاره ده - بلکه د خپل حال مناسب دی په ذکر اوذکارو
کښی مشغوله او سیږی. او د ذکر حقیقت دی په فکر
کښی ساتی وروسته که چیرې ده ته د ذکر د حقیقت
څخه ماسیوی دو هم خیال یا خطره په مخکښی راسی
نو د ذکر د معنا ګانو طرف نه دی رجوع کوی که څه
هم لا د نفی د پاره دی مګر دد غه ذکر حقیقت پیدا

کول او حاصلول دلوازمانتو څخه دی.

ورو سته نو د غه رنګه د ذکر معنی په خیال کی ساتل خطره رفع کوی - که چیری خوب پرده غلبه وکړی نو لږ قدر دی بیده سی - باید پوه سی چه سالک دی بغل (اړخ) پر مځکه نه لګوی مګر د غه وخت چه کله د خوب د غلبی څخه سست او ستړی سی چه د د غه په سبب په عبادت کښی ملال، خفګان او سستی بنکاره سی - د ملال او سستی په حالت کی عبادت کول په کار نه دی د غه وخت دی د یوه ساعت د پاره پرځنګون تکیه وکړی څه وخت چه را پوره تازه سی نو او دس دی تازه کړی او دوه (۲) رکعته لمونځ تَحِيَّةُ الْوُضُوْءِ دی وکړی او دوه (۲) رکعته لمونځ تَحِيَّةُ الْمَكَانِ په نیت وکړی - سالک ته په کار ده چه د لمانځه په پیل والی کی کوشش وکړی ځکه چه د شپی د یږ لمونځ کول د عاشقانو معراج دی او د صلوٰة تسبیح (د تسبیح د لمانځه) پر کولو دی همیشه تو ب وکړی او الفت دی ورسره پیدا کړی ځکه چه په دی کښی بی حسابه فایدی ستة ځکه چه د د غه (صلوٰة تسبیح) څخه په ټولو لمنځونو کښی د زړه حضور حاصلیږی بیله د

زړه د حضور څخه لمونځ نه کیږي لکه څرنګه چه
د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی:
لَا صَلٰوةَ اِلَّا بِحُضُوْرِ الْقَلْبِ ۵ بیا دی د لمانځه
دا اکولو څخه وروسته په ذکر مشغوله سی او که
چیری خوب غلبه پرې وکړي نو د دغه دفعه کولو د
پاره دی کوښښ په ولاړ ید و په کراره اوسرمی
په هغه ځای کښی د ننه گرځید و (چل قدمی کولو) او
دنوی سره پښه استنجاء، او دس تازه کولو او پاکی
کولو سره وکړي ځکه چه الله تبارک و تعالیٰ فرمائي
اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِیْنَ ۵ یعنی الله تعالیٰ د پاک
او سید و نکو سره محبت کوی - مصداق د محبت په
کرامت سره مخصوص وی -

بیا هم که چیرې خوب سخته غلبه وکړي - نو
بیان سوی لوړه طریقه دی په عمل کښی راوړی کوم
چه اوس بیان سوه - د مقصد حاصل دادی چه هیڅ
لږ دی بیدیږي - د غه رنګه د چله کشی ځای (خلوت
خانه) په هرحال تنګه او کو چنی پکار ده چه په هغی
کښی د د روازی څخه ماسیوای روښندان یا سوری هم
نه وی د دی د پاره چه مخالفه آوازونه ترغوږ پورې

راوړنه رسیږي او دده وخت د هغه آوان څخه مشوش او
پریشانه نه سي او په هرحال کښې دې دروازه بنده
ساتي او پرده دې پرې وځړوي د دې دپاره چه د نړۍ
تاثیر د دروازې د دې وځړ څخه بیکاره نه سي چه حواس
خمسه د خپلو کارونو څخه بې کاره او معطله سي۔ او
روح د عالم الغیب سره پیوند سي او په پوره ډول
د خدای تعالیٰ سره مشغول سي د دې جهان څخه مخ
وګرځوي او څ به دې د عبث او بې فایدې خبرو څخه
او حواس خمسه دې د بیهوده نقص فاتو څخه منعه
کړي حکه چه الله تبارک و تعالیٰ فرمایي :۔ وَمَا يَلْفِظُ
مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ۝ هره خبره چه
کیږي د هغې د هر لفظ د پاره رقیب (نګهبان ۔ او
ساتونکی) سته ۔ بیا ئې فرمائیل :۔ اِنَّ السَّمْعَ وَ
الْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُوْلًا ۝ یعنی په
تحقیق د غوږ او ستر ګو او زړه غرض دادی چه
د ټولو څخه دد وی په اړه وتنه پوښتنه کیږي ".

ورو سته که چیرې داسی څای پیدا نه سو
چه د آوازونو څخه ساتلی وی نو په داسی صورت
کښې دې خپل دواړه غوږونه په پنبه ټ سره بند

کړی - او ستړګی دی د ذکر کولو په وخت کښی بندی
(پوښتې) کړی او مخ پر قبله شریفه دی چار زانو - د
لمانځه د ناستی په شکل کښینی او تکیه دی نه لګوی
ځکه چه تکیه لګول خوب راولی او که چیرې تن ی وړ
نو او به دی بیخی لږ قدر وچینبی ځکه چه او به چیښل
خوب راولی او د خپل ران د شکاره کولو څخه دی په هر
حال کښی منعه سی - او په کار ده چه د چله کشی شروع
هغه وخت وکړی چه کله لمر د جدی په برج کښی وی
او هغه وخت خاص د یخ د وخت شروع ده او په خلوت
کښی دی د ومره وړځی کښینی د څو مرځی او رځو تین
چه د ده مرشد کړی وی او د مرشد په حکم سره
دی د خلوت (چلی) څخه د باندی راووزی او لاز می
ده چه په چله کښی د مرشد په امر او اجازه سره
کښینی که چیرې د مرشد بیله اجازې خلوت (چله)
اختیار وی هیڅکله به مقصود ته نه وړ سیږی.

بلکه د مرشد پر زړه هم کدورت (خیره)
پیدا کیږی - بلکه چه خاص هغه کدورت د مرید
د پاره د حق په لارکی حجاب او پرده ګرځی او مقصود
د حجاب د وجه څخه نه حاصلیږی - باید پوه سی چه

د چلہ کشی د آدبونو څخہ یو آدب دا دھم دی چہ د طلب (غوښتنی)
او د نیائی غرضونو د ککړو والی څخہ نیت پاک وی او یوازنی
غرض ئی دا دی چہ د آخرت لحاظ وساتی بیا دی د صدق او
صفائی سرہ مخامخ د قبلی شریفی پر طرف کښینی (اوطاسی
خیال دی وکړی) چہ حضرت رسول اکرم صلی اللہ علیہ
وسلم پہ دغہ ځای کښی تشریف فرما دی د دی د پارہ
چہ (مرید) د احترام او آدبونو، وقار، عزت او حرمت
پہ قید کښی پاتہ او د او سینې ی او سالک دی د دی
خبری یقین وساتی چہ د باطن د حضوری قرب دده
(صلی اللہ علیہ وسلم) د خاص عنایت او اطاعت څخہ
ماسیوئ نہ سی حاصلیدلای ځکہ چہ د اللہ تبارک
و تعالیٰ حکم دی :- وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ
وَاُولُوا الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ یعنی د اللہ تبارک و تعالیٰ او د
رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم او کوم څوک چہ ستاسی
څخہ د امر خاوند یعنی مرشد وی تابعداری وکړی
باید پوہ سی چہ جناب رسول کریم صلی اللہ علیہ
وسلم د لامتناهی عشق د غلبی پہ سبب د مخلوق
څخہ بر کناره او جلا سو کلہ کلہ ئی غار حرا تہ تشریف
وړی او پہ هغہ ځای کښی پہ ذکر او عبادت کښی

عنه په فتوح الغیب کتاب کښی فرمائی :- وَاتْرُكِ الْكُلَّ عَلٰى بَابِ خَلْوَتِكَ وَادْخُلْ وَحْدَكَ وَتَرٰى مُؤْنِسَكَ فِيْ خَلْوَتِكَ بِعَيْنِ سِرِّكَ - یعنی هر دنیایئ خیال او خواهش د خلوت د دروازی څخه دباندی پس ږنده یوازی او تنها داخل سه ددی دپاره چه تر دخپل باطن به ستر گو سره خپل محبوب او بخښلو والا په تنهائی او یوازی والی کښی وویني او په عین الیقین سره د هغه مشاهده وکړی کوم چه د دغه مناظرو او مخلوقاتو څخه بالاتر دی کوم چه د سر په ستر گو سره لیدل کیږی .

سالک ته په کار ده چه څه وخت خلوت اختیار کړی نو ما سیوی د خدای پاک څخه دی د ټولو مشاغلو څخه یوه طرف ته سی په عبادت کښی دی مشغول سی د هغه وجه څخه چه څه وخت د ظاهری اسبابو لاری پس خپل ځان بندی کړی نو د باطنی حواسو دروازی دده پر حال باندی ور خلاصیږی او ددی سره سره داهم ور ته په کار ده چه پر خوله باندی د خاموشی دی اختیار کړی او همیشه دی د دنیایئ خبرو او د دغسی نورو شیانو څخه چپ وای سیږی په او داسه او

لمانځه دی د معروف او سپین ږیرۍ. نکه چه امام زاهدی ابوعثمان
مغربي په خپله رسالې کښې فرمایي چه د حقیقت دلاری
د طی کولو او قطع کولو دپاره اول قدم خلوت اختیارول
دی وروسته چه هر څوک خلوت یا چله کشی کوی ـ د
هغه دپاره اول شرط د خدای پاک د یاد څخه ماسیوی
د هټولو مخلوقاتو څخه د زړه خالی کول دی یعنی چه په
ده کښې د الهی یاد څخه ماسیوی بل هیڅ نه وی ـ او
ماسیوی د خدای پاک د رضا د طلبه څخه د نورو ټولو
خواهشاتو څخه فارغ وی او څه وخت چه د خلوت څخه
دباندی راووزی نو په کار ده چه د هیڅاسره خبری
نه کوی او د مخکی څخه دی خپل نظر نه پورته کوی
او د هیڅاسې دی په خبرو او داسی نورو شیانو
کښې نه مشغوله کیږی او ژبه دی هروخت په ذکر
او تسبیح ویلو او د قرآن کریم په تلاوت کولو سره
مشغوله وساتی او هیڅ یوه سادی د دغه شغله څخه
بیکاره نه کاږی ـ بس تنهائی، یوازی والی او خلوت د دغه
حقیقت دلاری د لوازمو څخه دی. کوم چه دبزرګانو
طریقه اولاره ده.

باید پوه سی چه طالب د مقصود مقام ته هغه

وخت رسیږی کله چه ده ذهن ماسیوی د الله تعالی څخه د
نورو شیانو څخه خالی او منقطع سی لکه چه الله تبارک
وتعالی حضور سرور انبیاء علیه الصلوة والسلام ته
وفرمایل :- وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ۝
یعنی پس ذکر وکړه د خپل پروردګار او د خلګو څخه
پرې یکړه وکړه - پوره پرې یکړه ده طرف نه او د ټولو څخه
جلا او علیحده سه او د غه رتبه ماسیوی د مجاهدی
او اخلاص څخه نه حاصلیږی او د کامل پیر او عارف
د صحبت په اختیار ولو کښی میسر او پیدا کیږی
وروسته نو هر څوک چه غواړی چه د ده د ذهن
د عالم الملکوت طرف ته خلاص سی نو هغه ته په کار
ده چه په تاریکه حجره کی کښینی د دی د پاره چه د ذهن
مطمئن وی او د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ د ذکر ورد او وظیفه
دی هر وخت کوی د دی د پاره چه د ده حال داسی
سی لکه څرنګه چه انسان په خوب کښی شیان
وینی هغه دی د ویښوالی په حالت کښی وینی د
نبیانو او ولیانو روحان وینی او ورته وګوری.
او د هغوی څخه فایده حاصله کړی او حال پرده باندی
بنکاره سی (صاحب حال سی) او عارف بالله جوړ سی.

باید پوه سی چه د علم ټول شرطونه په پوره
ډول په مجاهده کښې استعمالول په کار دی۔ ځکه چه
نه په د هنداری په مثل دی او پر د غه هنداره غبار
او ګرځ پر یو تل مه پریږدی (یعنی داسی نه چه
ګرځ آلوده سی)۔ ځکه چه د اسی وګڼی چه علم
د نه په پر هنداره لیکل سویدی او د نه په فکر و نه
د غبار او ګرځ په رنګه دی او د ګناه څخه مراد سیاهی
او رنګ دی چه د ګرځ په رنګه پر د غه نه په باندی
غوره بدلی دی۔

که چیرې د د غه ممنوعه شیانو څخه نه په
علیحده او جلا کړی نو په انکشاف کښې هیڅ امر
نه مانع کیږی۔ (یعنی د اسی امر او کار به نه وی
چه د انکشاف په مخ کښې خنډ جوړ سی) او نه په
د هغه ناقصه ځ معلوماتو څخه خالی کیږی او د عالم
غیب صور تونه په ده کښې پیدا او ښکاره کیږی۔

وَمَا تَوْفِيْقِيْ اِلَّا بِاللّٰهِ ه

د مقاماتو تشریح پر څلورو فصلونو او اوځلو یینټو مقاموتو مشتمله ده

اول فصل د شریعت په بیان کی

د شریعت د دغه باب لس مقامات په لاندی ډول لیکلی دی

اول مقام :- پس الله تعالیٰ او دده پیغمبرانو، کتابو پیغمبرانو، د قیامت یعنی د جزا او سزا پس ورځ - د الله تعالیٰ د طرفه څخه د نیکی او بدی پر اندازه کیدو باندی ایمان راوړل او د مرګ څخه وروسته پس بیا ژوندی کیدو) یقین کول او حق ګڼل.

دوهم مقام :- پنځه وخته لمونځونه فرض بلل او د پنځو لمونځونو پر وخت ادا کول خصوصًا د صلوة وسطیٰ یعنی د ماښګر د لمانځه حفاظت کول.

دریم مقام :- زکوٰة چه د هغه ادا کول د نصاب پر خاوند باندی واجب دی.

څلورم مقام :- روژه؛ چه هغه الله تبارک وتعالیٰ پر امت محمدیه باندی فرض کړی ده.

پنځم مقام:- د بیت الله شریفی حج کول په شرط د استطاعت (طاقت او قدرت) په عمر کی یو واری.

شپږم مقام:- په حلال کوښښ سره حلال رزق او روزی حاصلول ځکه چه الله تبارک و تعالیٰ په حلالو کښی برکت ورنصیب کوی او د حلالی ګټی د خاوند د دعا د قبلیدو امید ستنه.

اووم مقام:- د حرامو څخه پرهیز کول ځکه چه حرام زهره تورووی او د چا پر په رنګه ټی سخته وی بلکه تر د غه ټی هم ډیر سخت اوتوروی.

اتم مقام:- د شریعت تر فرمانونو حکم لاندی داخلیدل- هغه د اچه د الله تعالیٰ دارشاداتو متابعت اودده د ممنوعاتو څخه پرهیز کول او د خدای تعالیٰ حلالو- حلالو او د خدای ﷻ حرامو حرام بللو دی

نهم مقام:- د قرآن مجید تلاوت او په ده باندی ښه پوهیدل او ددې په ټولو حکمونو د زړه په صدق او اخلاص عمل کول.

لسم مقام:- د نیکو کارونو کولو حکم او د بدو کارونو

څخه منعه یې د الله تبارک و تعالیٰ د امر بالمعروف او
نهی عن المنکر تعمیل لکه چې په قرآن کریم کښې چې
حکم فرمایي :- اَقِیمِ الصَّلٰوةَ وَ اْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَ انْهَ
عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلٰى مَا اَصَابَكَ اِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ
الْاُمُوْرِ ۵ یعنی پنځه ویشته لمونځونه وکړه او د نیک
کار هدایت او بنو ونه وکړه او د بدو او ناخوښه
کارونو څخه منعه وکړه او پر هر مصیبت صبر وکړه
چې پر تا باندې راسې په تحقیق د غه کار دلویو او
مقصودې کارونو څخه دی.

دوهم فصل په طریقت کښې

د طریقت د باب لس[۱۰] مقامه لرې.

اول مقام: توبه:- داده چې پر هر بالغ او عاقل
مسلمان فرض ده چې همیشه د مالک حقیقي
څخه د خپلې ګناه بخښنه وغواړي.

دوهم مقام:- حسن خلق:- یعنې نیک عادتونه په دې
کښې ټول نیک عادات چې قابل د تعریف
وي او هر بنه کار چې قابل د صفت وي.
داخل دي حکه چې حسن خُلق هر نیک او

بنه کار پیدا وی۔

دریم مقام:- مجاهده، تقوٰی، پرهیزگاری او طاعت د خدای پاک او طاعت د رسول الله صلی الله علیه وسلم دی ورو سته چه هرچا کو بښنی وکړی هغه حق لاړ پیدا کړه او هغه چا چه (کو بښنی) نه وکړی هغه بیله مشاهدی پاته سو۔

څلورم مقام:- خوف او رجا: دا دی چه په بیره او امید کښی بنده او سیږی یعنی د الله ج د رحمته څخه نا امیده نه وی او د ده د عذاب څخه بیله خوفه او بیږی نه سی۔

پنځم مقام:- د شهوتونو پریښودل۔ یعنی د نفسانی خواهشاتو څخه متعه او سیدل او د نفسانی لذتونو پیښ وی نه کول۔ څکه چه خواهشات زړه سخت او تور وی۔

شپږم مقام:- د شبهاتو څخه ځان هیښ: دا دی چه د هغو شیانو څخه چه په هغوی کی شک او شبهه پیدا کیږی یا د حرام، حلال او مکروه تمیز (جلاوالی) نه سی کیدلای یا په هغوی

کښی د شک او شبهی امکان یا گمان وی
سخت پر هیڅ وکړی۔

اووم مقام:- تضرع الی الله: یعنی په الٰهی دربار کښی زاری کول: او زاری داده چه ده په حضور کی گریه، زاری او څړاند توبه کښلو او مغفرت غوښتلو د پاره وی چه په دې خلوص قلبی، عاجزی خاکساری او د زړه په حضور سره وی او د شیطان د شره څخه په امان او ساتنه کښی د او سیدلو د پاره وی۔

اتم مقام:- د مرشد رضا: یعنی په هر امر کښی د مرشد رضا۔ د غه د مرشد رضا — او خوشحالی د ده د محبت او نصیحت او د ده د خبرو او حکم پوره کولو او د ښو ده فرمانبرداری بیله یو قیاس او وهم (اتکل او شک) څخه د پرځای کولو څخه۔ حاصلین ی څکه چه د مرشد او استاد په حضور کی مرید دا رنګه په کار دی لکه څرنګه چه مړی د غسال (غسل ورکونکی)

په لاس کښی وی د دی د پاره چه کوم
طرف ته چه غواړی اړوی یه۔

نهم مقام:۔ سماع الوعظ۔ داچه د وعظ مجلسونو ته تلل متوجه کیدل د پند او نصیحت ـــ اوریدل او د دی قبلول او په دی عمل کونکی جوړیدل تر دی حده پوری چه د نصیحت کونکی د نصیحت د اوریدلو څخه به شرم نه کوی او څه وخت چه پخپله نورو ته وعظ او نصیحت کوی نو په دې آرام نرمی او خوش اخلاقی سره خبری کوی.

لسم مقام:۔ ترک ماسیوی الله: یعنی ماسیوی د الله تعالیٰ څخه نور ټول شیان پریښودل او د مخلوقاتو څخه علیحده والی او جلا والی ځکه چه د غیر الله د اختلاط او ګډون د سببه څخه د الله تبارک و تعالیٰ په قرب او نژدیکی کښی دې سخت حجاب واقع کیږی.

دریم فصل د حقیقت بیان

د دی باب هم لس[10] مقامات دی چه په لاندی ډول لیکلی دی

اول مقام:- تواضع، مسکینی، عاجزی، خاکساری، او د جسمانی او روحانی طاقت نه ښکاره کول.

دوهم مقام:- دادی چه ستا په خپله پوهی کښی د مساوات او برابری په لحاظ د بهتره فرقو (ډلو) څخه هیڅ یو فرقه (ډله) یا فرد حقیر او خوار و نه ګڼی نه هم په هغوی کښی فرق وکړی مګر صرف د هغوی د ګمراهی په سبب (فرق پکښی وکړی). ځکه چه ډغه ټولی فرقی ما سیوی د اهل سنت والجماعت د فرقه څخه ګمراهان دی. بس د غسی ګڼلو والا د الله تبارک وتعالیٰ په حضور کښی مقرب دی

دریم مقام:- خوراک اوچښاک چه هر څه هم د خوراک د قسمه څخه وی لږ وی یا ډیر دهر قسمه څخه چه هم وی چه مخ ته ئی ورته راوړی هغه خوری او د نوی مزه دار ه خوراک په انتظار کښی نه وی خاص پر هغه اول راوړل سوی خوراک صبر کوی

څلورم مقام:- دادی چه همیشه د حقی لاری په پیدا کولو کی کوښښ کونکی اوسی او د خدائ د مخلوق څخه هیچا نه تکلیف نه وګوی بلکه د دوی د تکالیفو په لیری کولو کښی په ډیر اخلاص سره کوښښ کوی.

پنځم مقام:- دادی چه د ده په زړه کښی بغض او کینه (عناد او حسد) نه وی - بلکه هر څوک چه د ده سره بدی کوی د هغه سره په نیکی مخامخ کیږی او د کوم چا سره چه ئی دیو وجی څخه تعلقات او اړیکی منقطع اوږی وی د هغه سره د امکان په اندازه د جوړولو کوښښ کوی بلکه د هغوی څخه د عوض او بدلی غوښتونکی هم نه وی کوم چه پرې ده ئی ظلم کړی وی.

شپږم مقام:- دادی چه پر مسکینانو او فقیرانو او غریبانو باندی سختی نه کوی بلکه دوی ته دی د ډیری مهربانی او شفقت په نظر ګوری او ترکومه حده چه کیدلای سی په نیکی خوش اخلاقی او ورین تندی سره دی ورسره مخامخ کیږی.

اووم مقام: ـ دادی چه د خدای ج په لاره یا حقه لاره کښی دده هر قول او فعل، هر عمل او عبادت خالص د الٰهی ذات د خوشحالی او رضا د پاره مخصوص وی نه د ریا او د خلګو د نمایش د پاره.

اتم مقام: ـ دادی چه د خپل زړه نه د مخلوق څخه پټ و ساتی بلکه د خدای ج د مخلوق څخه دی د هیچا ران نه بنکاره کوی که څه هم هغه هر څه د ول ران وی بلکه څه وخت چه ګناه کول هم وویني نو پرده پوشی دی کوی.

نهم مقام: ـ دادی چه همیشه په الٰهی مناجات کښی اوسی او د دنیایي کارونو څخه دی هیڅ یو مدعا او دعوه په مناجات کښی نه داخلوی ماسیوی د هغه صورت څخه چه هلته په دینی امورو کښی د سهولت او آسانی د پاره سخت د نیایي ضرورت وی. (بیانو د نیایي کارچه د دین د سهولت د پاره وی که په مناجات کښی داخل سی منعه نه دی).

لسم مقام: ـ دکومو شیانو طرف ته چه ګوری دهغوی

څخه دی نصیحت او سبق حاصل کړی. دغه رنګه د نفس د بهترۍ او ښه والی د پاره دی د علم نافع د حاصلولو کوښښ وکړی ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:- اَلْعِلْمُ زُهْدٌ وَاٰدَابُ الْمُرِیْدِ خَیْرٌ لَّهٗ مِنْ زُهْدِهٖ: یعنی علم یو زهد او عبادت دی او د مرید د پاره ادب خیر او بهتر دی د ده تر زهد چه په دغه کښی د ده د پاره خاص برکتونه دی.

څلورم فصل د معرفت بیان

د دی باب لس[10] مقامات دی

اول مقام:- داد بو لحاظ: یعنی د اد ب پر طریقه محکمه او سیدل - ځکه چه هر شخص چه عاقل، دانا او با ادبه وی هغه خامخا د شریعت په آدابو کښی مؤدب، مهذب او تعلیم یافته وی او هر وخت چه د دغو د ابو محافظ او ساتونکی وی.

دوهم مقام: ردا دی چه د ظلم ستم، تنګی او تکلیف

برداشتولو او زغمرلو والاوی هرمشوک چه ده
ته تکلیف ورسوی د هغه سره کینه او عناد
نه ساتی بلکه که چیری هغه ده ته تکلیف ور
ورسوی (نو دی دخپل تکلیف) دلیری کولو پاره
کوښښ کوی او د هغه گناهونو معافولو او
تیریدلو بخښلو والا وی.

دریم مقام:- دادی چه د بد وخلگو د شر او تاوتوو اوره
څخه ځان ساتو نکی وی - د نیکو خلگو مجلس
دی اختیار کړی د فتنی او د بنکاره فساد
څخه دی لیری اوسی.

څلورم مقام:- د مرشد خدمت: دادی چه د مرشد
خدمت ږی پاک دلی او اخلاص باندی موقوف
او مینی وی او کوم څوک چه ده ته خدمت
کښی او سید و نکی وی هغه ته نیک او ښه
نصیحت کوی او د هغه سره ښه ظاهره
او بنستیا دوستی کوی.

پنځم مقام:- دادی: چه د الله تعالی د عبادت څخه
یو ساعت هم غافله نه وی او په هرشی
کښی د ده جلوه وینی بس د عبادت حق دا

دی چه داسی وگڼی چه نړه الله تعالی وینم
که ئې چیرې پخپله نه سی لیدلای نو په
دغه دی پوه سی چه الله تعالی ما وینی.

شپږم مقام:- دادی چه د قدرت او طاقت په اندازه
سخی وی او خپل ځان ته پر نور وخلګو
باندی لوړوالی نه ورکوی.

اووم مقام:- د قهر او ستم په مقابله کښی صبر کول.
دادی چه په هیڅ کار کښی د تلوار څخه کار
وا نه خلی بلکه د هر ین عزم او فکر څخه
وروسته د صبر او خوش اخلاقی څخه کار
واخلی.

اتم مقام:- دادی چه د الله تعالی په ذکر سره
د زړه رنګ او توره والی لیرې کړی. او
رڼا وښانه ئې کړی. ځکه چه رسول الله صلی
الله علیه وسلم فرمایی:- اِنَّ هٰذِهِ الْقُلُوْبَ
تَصْدَأُ كَمَا يَصْدَأُ الْحَدِيْدُ فَاجْلُوْهَا
بِذِكْرِ اللّٰهِ - یعنی د انسانانو زړونه
دا رنګه توره او په زنګو ککړ ین ی لکه
څرنګه چه اوسپنه د زنګ څخه توره او

بنه وی یا بده، عزت پیښو نکی یا عزت لږ ونکی هر څه
چه د مرید په زړه کښی وی د مرشد څخه پټ نه
کړی او په کار ده چه خپل کار او خپل ځان او مال
دده په سپارنه کښی ورکړی او پر ده باندی دی
په هیڅ حال کښی هیڅ اعتراض نه کړی یعنی خپل
ځان دی د مرشد په تسلیم او تصرف کښی ورکړی
او په هر حال کښی دی مطیع او فرمانبردار اوسی.
او د هیڅ وجی څخه دی په خپل ظاهر او باطن کښی د
مرشد پر تصرفاتو اعتراض نه کړی او هر حکم دی
ظاهراً او باطناً په رضا او خوښی سره قبول کړی.
او د تنګ لاسی (تنګدستی)، غریبی، مفلسی ـ او
عاجزی په حالت کښی دی دده د حکم څخه سر نه
گرځوی او خپل مال او حال روح او بدن بلکه هر
څه هم چه د مرید په ملکیت کښی وی پر مرشد
قربانوی والا وی.

ځکه چه مرید د مرشد په لاس کښی د مړی
په مثل دی د دی د پاره چه هر چیری دده خوښه
وی هلته ئی گرځوی د غه رنگه دی مرید د دده تن
معنه نه ځی بلکه تن شا او ورو ستنه دی ځی او دده

څخه د [illegible] په [illegible] کښې اوسی او دده په هر امر د
عمل کولو کې د اوده د خبرو څخه د ځان ساتنه خفه
کوی او د مرشد د داسی حکم فرمایلو څخه د ډډه
کې اوسی چه د هغه حکم تعمیل دده (مرید) څخه ناممکن
وی - او مرید که د نصیحت کولو لیاقت درلودی - ده
ته په کار ده چه د مرشد په حضور کښې نورو
خلګو ته نصیحت وکړی او پخپله فرمان نه بردارۍ وکړی
او د مرشد په هر حال او خبرو او معاملو کښې په خاص
ډول لحاظ ساتنه وکړی - او د حکم د تعمیل د پاره هر
وخت تیار اوسی او خپل ټول کار و نه مرشد ته و
سپارۍ او د ده راندې پوښتنې او هر څه چه مرشد
درته و فرمایي هغه دې په خیال او توجه کښې ساتی
او هیڅ خبره دې په دې نیت نه پریږدی چه دا فایده
ده او هیڅ خبره یا حکم دې نه هیروی او د مرشد
په ټولو مرتبو کښې دې د آدب لحاظ وساتی.

او د مرشد هر یوازنۍ خو خصلت او ده په هر
حالت کښې یعنی په حال او قال او [illegible] نورو
امورو کښې پیروی کولو والا وی او هغه کار چه په
هغه کښې د مرشد رضا نه وی نه دې کوی او هیڅ

کارکه هم هغه دینی وی یا دنیایی دمرشد بیله اجازی
او اشاری دی نه شروع کوی او نه دی هم دشروع کولو
دلاوری کوی ـ یکه څرنگه چه دمرشد بیله اجازی
نه خوراک کوی نه چښاک کوی نه اغوستل نه راکړه
ورکړه کوی بلکه همدغه رنگه عبادتونه هم مثلاً
روژه نیول روژه ماتول په نفلی لمنځونو کښی دپیروالی
کول اوپس فرایضو قائم او ثابت او سیدل او ذکر، د قرآن
کریم تلاوت، مراقبه او داسی نور شیان دی دمرشد
بیله اجازی نه شروع کوی اوکوم کار چه مرشد
ناخوښه کړی هغه دی هیڅکله نه کوی بلکه هیڅ کار
دی پخپله خوښه سره دمرشد بیله اجازی نه کوی
د اوامرو او نواهیو څخه چه هرڅه مرشد وفرمایی
فوراً دی په هغه عمل کوی یعنی دکومو کارونو د
کولو حکم چه ورکړی دی هغه د ټاکلی او دکومو
کارونو دکولو څخه چه ئې منعه کړی دی هغه دی
نه کوی ـ دادی هم نه وایی چه زما دپاره دکومی
کوی خبری اجازت دی او دکومی کومی څخه چه ممانعت
دی ـ ورو سته په داسی صورت کښی دیوخبری
په متعلق د امر او یا نهی حکم درکوی نو په دغه

کښی هیڅ فایده نشته د غه رنګه دی د ده د ناستی
پرځای په هیره سره هم قدم نه ایښودی او نه دی
پر کښینی او نه دی د ده و سره بدیښودی او نه دی
هم د ده په جامو کښی یو جامه اغوندی او نه دی
هم د ده په کیږدی او جامو کښی بیله امره څخه د مرشد
داخلیږی او نه دی هم د ده د خولا کو نو څخه کوم څه
هم د هر قسمه څخه وی خوړک کوی - که چیری
داسی نه کوی کوم چه بسوول سویدی نو د فایدی
او فیض څخه بی برخی ځانته کیږی - سر بیره پر د غه
دی د مرشد د وفات څخه وروسته د ده د بڅی سره
نکاح نه کوی که ئی چیری کوی نو د مرشد د روحانی
فیض څخه د لیږی والی او نا امیدی سبب گرځی. د غه
رنګه دی د ده پر مونږ او حکم باندی که څه هم ډیر
بنکنځل یا سختی او سستی خبری ورته وکړی پر نږه
کدورت نه راوړی بلکه د ده پر محبت دی قائم اوسی
او هر څه بنه یا بد اش چه ئی په زړه کښی پیدا سی فوراً
دی د زړه څخه باسی د غه رنګه دی د ده په مجلس
کښی تر ضرورت نه زیاتی خبری نه کوی که څه هم هغه
(مرشد) پرده باندی ترمونږ او پلار مهربانه هم وی.

او کوم څه چې ته نه ورته ښکاري هغه دی پرې ږدی.

که چیرې دمرشد په مجلس کښې یو شخص دمرید خبرې جواب ورکړي نو دهغه سره دې جنګ اومقابله نه کوې که څه هم مرشد موجود وي یا نه وي. دغه رنګه دا هم په کار ده چې په مرشد دا اعتقاد ولرې چې هغه موجوده زمانې دکاملانو څخه پرته زیات کامل دی او د دښمنانو او عنادکوونکو پرخبرو ونه غږیږې. بلکه دده په عصمت (پاکۍ) دې دګناه اعتقاد نه کوې. او دبې حیایۍ خبرې دې نه کوې. او شطحات یعنې کومې خبرې چې د صوفیانو په اصطلاح کې ظاهراً غیر شرعي دي د ده د مجلس په حضور کښې دې نه وایې. او کومه خطره یا خیال یا شوق یا وجد (هغه دبې خودۍ حال چې صوفیان ته د سماع څخه پیدا کیږي) چې دمرید په زړه کښې پیدا سي دمرشد په حضور کښې دې نه بیانوې. ځکه چې هغه پخپله په پوهیږي.

او ده په حضور کښې دې خندا جنګ او جدل یعنې جنګ او مقابله او په خبرو کښې غوټه کیدل دې بالکل پرې ږدي بلکه هرڅه چې بیانیږي په ټاټوبۍ

سره دی اوږی بلکه کوم وخت چه په مجلس کښی
حاضر وی خپل نظر دی د مرشد طرف ته کوی او په
مجلس کښی د ډله ډغه دناستی په شکل کښینی او
همدغه ادب دی چه د مرشد په حاضری کښی پر
مرید واجبیږی ـ او همدغه رنګه د مور او پلار
په حضور کښی هم پر اولاد باندی په ادب او سیدل
لازم دی خاص الله تعالیٰ هدایت ورکولو والا دی او
پردغه قادر دی

بایدپوه سی چه د ادب څخه مراد دادی چه د
ناوړه خبرو څخه ځان په ګونګی کړی او د ناوړه حرکاتو
او کارونو څخه ځان اندامونه منع کړی او د خپل ځان
او نورو مرتبی دی د مرتبو په اندازه په لحاظ
کښی وساتی د خپل ځان او نورو عزت دی نه برباد وی
ورو سته نو هر څوک چه په دغه صفتونو سره متصف
وی همغه د مرتبو بدلو حقدار ه دی او د هر خاص
او عام په نزد نو کښی مقبول ګرځی او په دنیایی درجو
او په دینی مرتبو کښی به کامیاب او نیکبخته اوسیږی

نقل دی حضرت امیرالمؤمنین علی کرم الله تعالیٰ
وجهه ابن ابی طالب د ما بنام د لمانځه د ادا کولو دپاره

مسجد نبوی (علیه الصلوٰة والسلام نه تشریف وړی.
یو ضعیف آتش پرست (چه د اور عبادت ئې کاوه) دسپین
ږیرې والی او کمزوری په سبب په کرار کرار د آنحضرت
رضی الله تعالیٰ عنه مخ مخ ته روان وو - آنجناب
ولایت مآب (حضرت علی کرم الله تعالیٰ وجهه نژدې
وختې پورې نژدې نه رسیدی نژدې چې هغه
آتش پرست د مسجد دحده څخه ئې نه وتلو.
حالانکه د لمانځه په ادا کولو کښې د دغه توقف
دوه جزء څخه کندا غلی.

بله قصه :- د سلطان محمود غزنوی څخه خلګو
پوښتنه وکړه چه ستاسی په حضور کښې د دومره
د جمال او ښایست لرونکی غلامان موجود دی مګر ستاسی
د طبیعت میلان چه څومره قدری دایان طرف ته
دی د نورو وخوا ته نه دی حالانکه هغه دومره
ښایسته هم نه دی. سلطان محمود په جواب کښې
وفرمایل: چه پیره توجه ئې پرهغه باندی ده دی
وجهې څخه ده چه هغه د خدمت آداب په ډیره ښه
او په اعلیٰ درجه پرځای کوی حال دا دی چه د غه
خاصیت په نورو کښې نه پیدا کیږی لکه چه بوه ورځ

د ښکار په میدان کښې هُمَا[عه] (بان) راووتې او والوتې تولو
مرغانو او مرغلرو ته یې ښکاره وکړه او دهما مرغه
د سایې په طلب کښې سوه او پسې وې څغستله۔ مګر
آیا ان د آس څخه لاندې راکښته سو نشو دې راغلې زما په
رکاب کښې ټې لاس راچاوې ما ورته وویل چه د هما مرغه
د سایې په طلب پسې ولې نه ولاړې؟ هغه جواب راکړ
چه زما پتلې دوستان د هما مرغه د سایې په طلب کښې دې
او زه خاص د حضور د سایې تمنا او امید لرم د دغه بنه
ادب د وجهې څخه د ده قدر زما په نظر کښې د مرغانو
اندازه په ډیر سو څکه چه بنه ادب د الله تبارک و
تعالیٰ په دربار کښې ډیر مقبول دی۔

(۳) بله قصه:- یوه سړې خپل ټول عمر په ګناهونو
او نافرمانۍ کښې تیر کړې وو او هیڅ د ثواب کار نه ده
څخه نه وو پیښ سوی۔ یوه ورځ ده دلاسې څخه یو کاغذ
پورته کړې چه وکې کتل پر هغه د الله تعالیٰ مبارک
نوم لیکلی وُو۔ د ادب په لحاظ ده دغه کاغذ مچ کړې۔
په ستر ګو او سر پورې ټې و نیوې او تعویذ ټې څنې جوړ

عه هما یو مشهور د ښایسته مرغانو دی چه د هغه په نسبت ویل کیږي چه د
کوم چا پر سر باندې چه تیر سی هغه بادشاه کیږي ۱۲ مترجم

کړی په غاړه ئې کړی - څه وخت چې هغه مړ سو - یوه
بزرګ هغه په خوب کښې وليدی چې د جنت په سر د
لوړه درجه کښې اوسيږی او په قسم قسم نعمتونو
کښې مشغوله دی د هغه بزرګ پوښتنه ځينې وکړه
چې د کوم ښه عمل په عوض کې تا دغه لوړه مرتبه
پيدا کړه؟ هغه جواب ورکړ چې ما د الله تعالیٰ د
نامه د تعظيم او تکريم د آدابو پرځای کولو په خاطر
چې په ټول عمر کښې يو واری واقع سوی اوپښې سوی
وُ - چې د هغه د وجه څخه ما د ټول عمر ګناه و
بخښل سوه او د جنت د نعمت او دولت سره کامياب
وصل سوم - د دی سبب څخه بايد پوه سی چې د
علم د پاره ادب لازم دی مګر د آدب د پاره علم ضروری
نه دی حالانکه علم اشرف او اعظم دی.

که چيری د علم خاوند بی ادبه وی هغه هيڅ
نه سی حاصلولای او د آدب د خاوند انو په نظر کښې
بی عزته ښکاره کيږی او که چيری بی علمه انسان
با آدبه وی - هغه به هرځای عزتمند او مکرم
وی او د خلګو په زړه وکښې به مقبول وی.

★

هغه آداب چه د مرید د پاره ئ د خپل پیر د مرید انو سره ادا کول واجب دی

هغه دادی چه د هغوی تولو سره په پوره درجه محبت او دوستی و سائی او د هغوی مطیع او فرمان بردار ه اوسی - د دی د پاره چه هغوی د ده څخه راضی سی - د غه رنگه دی د هغوی د ضروریاتو په پوره کولو کښی هر ممکن کوښښ وکړی او د هغوی د نیکو حاجتونو پخپله پوره کولو یا د بل چا څخه په ورپوره کولو کښی دی په پوره هوډ کوښښ وکړی بلکه د خپل حاجت پوره کولو څخه دی د هغوی حاجت پوره کول مخکی وګڼی او کوم کوم نصیحتونه چه هغوی ته کوی د هغه په متعلق دی دا کوښښ وکړی چه هغوی د غه (نصیحتونه) پوره کړی (عمل په وکړی) او تر کومه حده چه ممکنه وی د هغوی خدمت دی و کړی او د خپل نفس د پاره دی د هغوی څخه ژیاته فایده په لحاظ او نظر کښی نه ساتی - بلکه د هغوی فایدی دی پر خپلو فایدو او ګټو باندی مخکی کړی. او کوم شه چه د خپل ځان د پاره خوښوی هغه دی

دوی ته ور پیش کړی.

دغه رنګه داهم په کار ده چه د لوی او کوچنی سره په ډیر ادب کښینی او د لوی او کوچنی سره دی تکبر نه کوی او د اچه د د وی د احوالو خبر واوکړی څه دی مخ نه ګرځوی - بلکه د د وی سره دی په ټولو خبرو کښی کوم چه ذکر سوی موافقت کوی مګر شرط دا دی چه په هغه حالاتو، خبرو او کړنو کښی کوم چه د شریعت سره برابر وی (د هغوی سره د ی موافقت کوی) او څه وخت چه د هغوی څخه یو نفر مړ سی نو د هغه د جنازی سره دی تر شا او ورو ورو سته ځی او که چیری یو څوک د هغوی د احوالو، اقوالو - او افعالو په متعلق پوښتنه وکړی نو په نیکی او ښه والی سره دی د هغوی تعریف کوی او د هغوی په نه موجودګی کښی دی حتی الامکان د هغوی اسباب او سامان ته لاس نه ورواچوی. او د هغوی سره دی په ظاهری او باطنی دوول موافقت کوی او څه وخت چه د هغوی سره ملاقات کوی نو د هغوی په حق کښی دی د خیر دعا کوی او د د وی په متعلق دی د هیڅ قسم درواغجن او حسد کونکی خبره نه منی، نه دی اوری بلکه کوم څوک چه و

هغوی ته تکلیف رسوی د هغه څخه دی ځان گوښه کړی
او نه دی هم د آزار د هغه څخه د انتقام او بدلی اخستلی
هدایت ورته کوی او د هغوی څخه دی د هیڅ څخه بدله نه
اخلی که څه هم ده ته پر هغه باندی د بدلی اخستلو
حق هم وی - او دادی چه هغه مال او اسباب چه د هغوی
په قبضه کښی وی د هغوی ملکیت وگڼی او که چیری
یو بد کار د هغه څخه وویني نو پرده پوشی دی وکړی
او د هغه حال او راز دی نه بنکاره کوی او نه دی
هغه د هغه گناهونو او بدیو د وجه څخه شرمنده کوی.
او نه دی ورسوا کوی - مگر څه وخت چه هغه بد ی او
گناهونه په بنکاره کوی نو پر هغه گناهونو دی هغه
ته لعن، غصه، پیغور او تنبیه ورکړی د دی دپاره
چه هغه د دغه بدو کارو څخه رجوع او توبه وکاږی.
او دغه رنگه دی د هغه په حق کښی په خفیه او بنکاره
طور سره د خدای پاک په حضور کی د عاو غواړی
او دا چه په اخلاص او بنه نیت سره دی د هغه سره
دوستی او محبت ساتی او څه وخت چه غواړی چه د
هغوی څخه یو چاته نصیحت وکړی نو په ډیره نرمی
او محبت سره دی ورسره مخامخ کیږی او دا چه که

چیرې د هغوی څخه دیوې یا مقصد حاصل سی د هغه سره
دی حسد او عناد نه کوی - ورو ستنه که چیرې دی واقعی
د طریقت د دغه ملګرو څخه دیوې چا ته تکلیف او رنځ ورسوی
نو هغه ضرر رسول ئې د خپلې خوارۍ او ناامیدۍ
سبب جوړ یږي . د دغه رنګه ډې شیخ څخه د خپل
ځان د پاره بیله شی یکرالی د هغوی نه روا کوی او نه
دی خاصوی . (چې وایي د دغه زما دی بلکه داسې
دی وایي د دغه شی زمونږ دی) او که چیرې د هغوی
څخه یوشوک د ده سره په ځنډ او تکبر مخامخ کیږي
نو دی د هغه په ډول د هغه مقابله نه کوی بلکه د
هغه سره د ټ ټ او له په ډیره خنده روئي او شوخښو
سره مخامخ کیږي او دا چې که چیرې یو شوک د هغوی
سره یعنې د هغوی یو ملګري د خپلو ملګرو سره
بد ډاکوی نو د دغه هر بد د د هغه بد ډاکونکی مرید
سره ملګرتیا نه کوی او که چیرې هغه (مرید) د طریقت
د ورونو څخه یو مرید ته نسبي یا کسبي طعنه (تانه)
ورکوی نو پر هغه دی لعنت او ملامتیا وکړي او د داسې
کولو څخه دی منع کړي په داسې صورت کښې چې دغه
منع کونکی مرید د هغه بل مرید په نیکۍ او بدۍ سره

پوره واقف او خبروی - او دا چه په څه پوله د خپل
پیر د مریدانو سره کوم چه د عمر یا مس تبی په لحاظ
غټتان دی سلوک او چلن کوی هم هغه پوله دی د خپل
پیر دکوچنیو او کم حیثیته مریدانو سره سلوک او
گذاره کوی - او که چیری د هغه مریدانو څخه یو غائب
یا غیر حاضر وی نو په طریقه سره چه ممکنه وی.
د نورو څخه دی پوښتنه وکړی که چیری هغه (غائب
یا غیر حاضر) ته یو ضرورت پیښ سوی وی نو د
هغه کومک او مدد دی وکړی او پر مریدانو دی هم
زور ولگوی څومره چه په ده کښی طاقت او قدرت
وی او دا چه که چیری د هغه مریدانو څخه یو مریید
پر معلوم یا غیر معلوم تاریخ د قرض د نه اداکیدو
په وجه قید او بندی وی نو د هغه د خلاصولو د
پاره دی د هغه د قرض په اداکولو کی دکومک کولو
کوښښ وکړی - او دا چه مرشد د هغوی څخه کوم
څوک مقدم او محکی کړی وی د هغه پیروی دی
کوی او د هغه په خدمت کولو کی دی کوشش کوی.
که څه هم هغه په عمر کښی د ده څخه هر څومره
هم کوچنی وی او پر هغو مریدانو د واجب ده چه

کوم څوک چه مرشد مقدم کړی وی په هغه پسی اقتداء وکړی او د هغه تیری ګناوی او بدکاری هغه ته نه کړی ور یادی او داچه د خپل نفس په متعلق دی دغه مکمل اعتقاد وساتی چه ن ما نفس د دوی پوټلو څخه کم دی نه دی د اوایئ چه زه د هغه څخه ښه یم نه دی د اوایي چه فلانی د فلانی څخه ښه دی.

هغه آداب چه مرید ته ئ د خپل نفس او ذات په متعلق ادا کول واجب دی

هغه آداب دی چه پر هغوی مرید ته پخپله ثابت او سیدل او عمل په کول ضروری دی لکه چه هغه آداب د خپل نفس عاجزی، لونډه او تذلل دی سره د دی نفس په پټلو نیکی عملونو سره په قبضه کښی راوستل او د ده د اثراتو څخه مخ ګرځول او ده خواهشات پریښودل هم (د آدابو څخه) دی تر دې حده چه خاص د همدغه نفس د مخالفت په کار کښی مرګ ورته راسی یعنی د مرګ د آخری سګانی پورې دی د نفس اماره په مخالفت کښی کوښښ کونکی اوسی او داچه په دغه دنیا کښی مجاهده

اوپر هیڅ ګاړی اختیار کړی ددی د پاره چه دغه نفس اماره د دنیا طرف ته رغبت او میل پیدا نه کړی بلکه دغه (د دنیا) مبغوضه او ملعونه وګڼی او ددی محبت دی نه ساتی حُکه چه د دنیا محبت سالک د خدای تعالیٰ د قرب څخه لیری کوی او دا دی چه د خپل نفس اماره سره د اسی جهاد وکړی لکه څرنګه چه د جهاد کولو حق دی حُکه چه هر څوک چه مجاهده نه کوی ـ مشاهده نه سی پیدا کولای او هر څوک چه کوښښ کوی مشاهده پیدا کوی .

الله تبارک و تعالیٰ په قرآن پاک کښی فرمائی :ـ

وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ـ یعنی کوم خلګ چه زمونږ د دین په لاره کښی کوښښ کوی مونږ هغوی ته خپلې لارې وربنکاره کوو ـ هر څوک چه په خپل ګمان کښی تر الله تبارک و تعالیٰ پورې د رسیدو یقین نه ساتی دا ټول د هغه بنکاره جهالت دی ـ هغه ته ماسیوای د لا حاصل (چه فایده او نتیجه نه لری) څخه هیڅ نه حاصلیږی ـ الله تعالیٰ د حدود و اوجهاتو څخه پاک دی ـ هیڅ ملک یا طرف یا ولایت نسته چه په هغه کښی بند سوی وی (چه هغوی دی پر الله ج احاطه کړی وی)

او نه هم د ده هیڅ مکان سته چه نیستی سی.

علاوه د دی څخه (نور آداب) دادی چه د نفس د غفلت په سبب په عیش او آرام کښی اخته نه سی او نه هم د مشاهدی د لږ والی په وجه عبادات او عملیات پریږدی او داچه د شپی په آخیری دریمه برخه کښی دی نه بیدیږی - او دا دی چه د نورو ځوانانو او بیگانه نه سره د مجلس څخه که څه هم په مابین کښی ټ د ورود او خوږ تصور کړی وی همیشه دی منعه او سیږی ماسیږی دمس شد د حکم څخه دی یو قدم هم که څه هم هغه د مور او پلار د خدمت په متعلق وی نه اخلی - ځکه چه د سالک د پاره داسی فعل سالک د الٰهی محبت او د خلگو د حقوقو څخه لاندی راغورځوی یعنی مرتبه ټ ورکموی - که چیری بالفرض د دوه (۲) حقوق یو د بله سره لاحق او پیوسته سی نو اول حق د الله تعالیٰ د پاره دی د بل چا د حق څخه دی د الله تعالیٰ حق مقدم او محکم او پیښتنی - د غه رنگه د مور او پلار د حقوقو څخه د مرشد حقوق ته تر جیح ورکول او د مرشد حقوق لوړ پر بلل د هیر و وجهو په سبب دی.

(۱) اول دا چه مرشد دراسته لاری وطرف ته ده
رهنمائی کړی مګر مور او پلار ته خونه د خدای پاک
قرب حاصل دن او نه د لاری واقفیت او خبر ورته سته.

(۲) دوهم دا چه مرشد څپل مرید دګناهونو د خواری
او بربادی څخه راکاږی د عزت او د الله تعالیٰ د طاعت
طرف ته ئې راولی مګر په مور او پلار کښی خاصیت نسته.

(۳) دریم دا چه مرشد دغه مرید د بد بختی دلاری
څخه کوم چه ده د جهالت او ناپوهی په سبب اختیار کړی
ده اړوی یې د همیشه سعادت او نیکبختی طرف ته ئې
راولی مګر مور او پلار د دا سی کولو څخه کوتاه اوقاصر
دی.

(۴) څلورم دا چه مرشد مرید ته د دنیا په څیزونو
کښی د زهد او عبادت او مجاهده او ریاضت ترغیب
(بلنه) او د آخرت دکور رغبت ورکوی - مګر په مور
او پلار کښی دغه طاقت چیرته سته.

(۵) پنځم دا چه مرشد د قیامت د ورځی د محاسبی
بیری او مایوسی څخه د خلاصیت ورکولو او د همیشه
او نه نیستی کیدونکی نعمتونو د ورکولو ذریعه او
سبب دی - حال دا دی چه په موږ او پلار کښی دغه

طاقت نسته۔ بلکه هغوی د راستلاری څخه مخالف
طرف ته د ده وړونکی دی ۔ لکه چه د حضور صلی الله
علیه وسلم فرمان دی چه :۔ لَوْ جَازَ السُّجُوْدُ لِغَيْرِ اللّٰهِ
لَسَجَدَ الْمُتَعَلِّمُ لِلْمُعَلِّمِ وَالْمَرْأَةُ لِزَوْجِهَا ۔ یعنی که
چیری سجده کول غیر ته د خدای پاک روا وای نو د
شاگرد د پاره د استاد په حق کښی او د بنځو د پاره
د خاوند په حق کښی روا کیده ۷

د غه رنګه په دوهم روایت کښی نقل سویدی
چه: لَوْ اَمَرْتُ اَحَدًا اَنْ يَّسْجُدَ لِاَحَدٍ لَاَمَرْتُ الْمُتَعَلِّمَ
اَنْ يَّسْجُدَ لِلْمُعَلِّمِ وَالْمَرْاَةَ لِزَوْجِهَا لِكَثْرَةِ الْحُقُوْقِ
الْوَاجِبَةِ عَلَيْهَا ۸ یعنی که چیری ما دیل چا په مخ
کی د سجدی کولو حکم ورکولای نو شاگرد ته می د استاد
په حق کښی او بنځو
ته می د خاوند انو په حق کښی د دین وحقوقو په سبب
چه پر دوی واجب دی (حکم) ورکاوی ۔ د غه رنګه
دی خپل ورد وته او وظیفی هیڅکله نه پریږدی او
نه دی ناغه کوی ځکه چه کومه ورځ ورد او وظیفه
پریږدی هغه ورځ غیبی امداد قطعه کیږی بس
هر شخص چه د ورد او وظیفی پریښودونکی وی د هغه

د پاره هیڅ غیبی امداد نشته - د دی سببه په کار ده چه همیشه آداب ، ورد و نه او وظیفی د نه په خیال او توجه کښی و ساتی او د دی د اداکیدو حقوق په پوره ډول سره اداکړی .

یُوفَّقُ اِنشَآءَ اللّٰہُ تَعَالٰی ۔

هغه آداب چه د ذکر و فکر ، ورد و نو او وظیفو په حالت کښی اداکول واجب دی

څرنگه چه د ذکر آداب شل دی . پنځه د ذکر د شروع کولو څخه مخکی دوولس[۱۲] د ذکر په حال کښی او دری[۳] د ذکر ختم کولو څخه وروسته - بس د ذکر د شروع کیدو څخه د مخه پنځه آداب د ذکر دا دی .

① اول غسل او اودس کول ② دوهم توبه او استغفار ③ دریم خاموشی ④ څلورم سکون ⑤ پنځم د خپل هادی او مرشد د ذریعی او سببه څخه د امداد پیدا کیدو پوره اعتقاد او دا یقین هم ساتل چه د ده (مرشد) امداد آنحضور صلی اللّٰہ علیه و سلم کوی - د غه رنگه هغه آداب چه د ذکر په حالت کښی دوولس[۱۲] دی ① د هغوی څخه اول آدب مخ د

قبلی شریفی طرف ته کول او د لمانځه د ناستی په صورت
کی کښینستل۔ (۲) خپل دواړه لاسونه پر دواړو ـ
ورنو ایښوول (۳) دریم سترګی پټې ساتل (۴) خلورم
پاک صاف (۵) پنځم په تاریک ځای کی کښینستل (۶)
شپږم د دغه بنوول سوی ذکر په ذریعه د مقصد پر
حاصلیدو کلی اوپوره اعتماد ساتل (۷) اووم خلوص
او پاک نیت۔ (۸) اتم بدن اوجامونه خوشبویي
ورلګول۔ (۹) نهم داوسیدو په ځای (معبد خانه)
کښی خوشبویي لرونکی څراغان لګول (۱۰) لسم د خپل
زړه څخه د خطراتو او خیالاتو لیرې کول (۱۱) یوولسم
خفی اشاعت: یعنی د لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ معنا ګانی په خیال
او توجه کښی ساتل (۱۲) دوولسم د هرشد خیال او
تصور په زړه کښی برقراره اومضبوطه کول ـ په
داسی ډول سره چه بین دم هم غفلت نه وی۔ بایدپوه
سی چه دزړه تعلق د شیخ د تصور سره دی او د سلوک په
دغه لارکښی د هر شد د وجود تصور په ټولوحالاتو
کښی مقدم او مخکښ دی۔ لکه څرنګه چه ویل سوی
دی ـ اول مخلص ملګری ددی څخه ورو ستله لاړ۔
بیا د ذکر د ختمیدو څخه ورو سته دری[۳] آداب دادی۔

(۱) اول خاموشی او آرام (۲) دوهم د شیخ تصور
سره د هری سا سره لفظ د الله جل جلاله جاری کیدل
او خپل نفس ذلیله، خوار، او حقیر گڼل - مردود او
بد یئ بلل - (۳) دریم د ذکر کولو څخه وروسته او به
نه چیښل څکه چه او به چښل د شوق او وجد (هغه
د بی خودی حالت چه صوفیانو ته د سماع څخه پیدا
کیږی) گرمی مړه کوی چه وجد کچیری د واو په
زیر سره وویل سی نو دده معنیٰ په طاقت ورکیدو
یا پیدا کیدو سره کیږی او که چیرې په زور سره
وویل سی نو په معنیٰ د غمگین کیدو یا عاشق کیدو
سره کیږی - او په عام دول وجد وایي د ذوق او
شوق حالت ته کوم چه صوفیانو ته د سماع په حالت
کښی حاصلیږی او دلته خاص دغه معنیٰ مراد ده -
وروسته تر کومه څایه پوری چه هاته علم سته
هیڅ کامل پیر د ذکر څخه تر فارغه کیدو وروسته
لږ تر لږه د نیم ساعت څخه مخکی هیڅ ذکر کونکی نه داوبو
د چښلو اجازه نه ده ورکړی د دی سببه څخه تاته
لازمه ده چه د ذکر کولو څخه وروسته هیڅکله په
تلوار سره او به مه چیښنه که ئی وچیښی د غیبی مراد

څخه بې برخې پاته کیږي ـ د ذکر کولو څخه وروسته دې په او بو چې بلې کښې یو کړې صبر وکړي د دې دپاره چې د خپل مقصد په پیدا کولو کښې کامیابي پیدا کړي کچیرې بالفرض سره د محاله وجد او محبت یا د وجد او محبت اوږده په وجود کښې دومره قدر زیات اوږدیږي چې صبر کول ناممکن وي نو په کومه طریقه سره چې زمون مخکښې اجازه ورکړې ده د اوبو استعمال دې وکړي اود اوبو په چې بلو کې دا احتیاط هم لازمي دي چې د سختې تندې په حالت کښې دې هم د عادت څخه نیابتي اوبه نه چیښې ـ وَاللّٰهُ هَادِیْ وَمِنْهُ التَّوْفِیْقُ ـ

د الٰهي تقرب دپاره د اسمآء اصول او فروع بیان

اسم اصول او توجه

اسمآء اصول او فروع چې د اللّٰه تعالیٰ د قرب سبب دي په تعداد کښې دیارلس (۱۳) دي ـ په دغه پورې اسمآء اصول اووه (۷) دي او اسمآء فروع شپږ دي ـ او روسته اووه (۷) اسمآء اصول چې کوم دي هغه دا وه قسمه نفسونو دپاره دي ـ او دهر نفس جلا جلا نوم دي، او روسته دهر اسم دپاره (دویلس) تعداد مقرر دي او د توجه

ضرورت ئی ستر چه د هر یو نفس د پاره ویل کیږی دغه رنګه د هر نفس متعلق سیر ستر، عالم ستر، محل ستر، ورود ستر، نور ستر او ذکر ستر.

(۱) ⊙ ورو ستر اول اسم د نفس امماره د پاره دی کوم چه تر ټولو زیات د ګناهونو طرف ته میل ورکولو والا په پیره سختی سره د دنیایي لذتونو طرف ته په کش بیولو والا - او د بدکارۍ او فواحشو اوداسی نورو طرف ته رغبت ورکولو والا دی - لکه څرنګه چه الله تبارک و تعالیٰ ارشاد فرمایئ - اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌ بِالسُّوْٓءِ ۵

(۲) ⊙ دوهم اسم د نفس لوامه د پاره دی نفس لوامه هغه نفس دی چه د زړه د نورو د هدایت په سبب په ګناه کښی پر واقع کیدلو او کولو خپل ځان سخت ملامتوی او د هغه نفس صالحانو او ولیانو ته حاصل دی د هم د هغه وجه څخه الله تعالیٰ د د قسم اخستی دی - لَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ۵

(۳) ⊙ دریم اسم د نفس ملهمه دی هغه نفس دی کوم چه د نیکی د قسمه خیالات په زړه کی اچوی او په خوب کښی ئی بنکاره کوی.

(۴) ⊙ څلورم اسم د نفس مطمئنه دپاره دی: نفس مطمئنه هغه نفس دی چه د بدی خویونو څخه پاک او په نیکو خویونو سره متصف سړی په الهی حکمونو کی د کامیابی په حال کښی اطمنان ته رسیدلی دی سبب دده نوم نفس مطمئنه ایښودلی سویدی. چه مصداق د دی آیت کریمه د - يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ارْجِعِي (الخ) -

(۵) ⊙ پنځم اسم د نفس راضیه د پاره دی: نفس راضیه هغه نفس دی چه په مصداق د رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ؕ ماهیت او کیفیت او حقیقت پیدا کوی. په ارشاد الهی د رضی کیدو ترغیب ورکوی.

(۶) ⊙ شپږم اسم د نفس مرضیه د پاره دی.

(۷) ⊙ اوم اسم د نفس کامله د پاره دی.

مرید ته لازمه ده چه لومړی د اسم اصول ورد چه د هر نفس سره تعلق لری د معلم څخه واخلی سره برابر او موافق وکړی - د دی څخه وروسته د اسم توجه کوم چه د ورد کړه سړی اسم اصول طرف ته منسوب ده وکړی (وایی).

د غه رنګه د اچه کوم اسم چه مقرر کړه سویدی

دد دغه پرځای بل هیڅ دوهم اسم بدل نه کړی
ترڅو پورې چې دد دغه اسم پرځای دد دوهم اسم د
بدلیدو مستحق نه سی یعنی دمرشد په اجازه او
اشاره سره یا خدای تعالیٰ د امداد او فیض څخه کوم
چې د نخښنو او علاموڅخه پرته بنکاره سی یا ئې د
مرشد په ظاهره حکم سره کوم چې ده دې بنو ولې دی
بدل کړه - پس دغه برکتمند اسمونه دی په دغه
طریقو ، ترکیبو او علاماتو سره ووایي ددی دپاره
چې دیونکی منورا و روښانه و ځلوی او دهر نفس
په اړه طریقې ، علامې او رنګ او داسی نورې شیانې
موږ ته معلوم دی .

وروسته دغه راز یادکړه او پټ ئې وساته
مګرکوم څرک چې ئې مستحق وی هغه ته ئې بیله شکه
بنکاره کړه بیا چې څه وخت داوق(۷) قسمونو اسمآء
اصولو د ورد څخه فراغت حاصل کړی نو بیا اسم فروع
هرشپږ قسمه دهریوه ورد ودوسته تر بل شروع
کړه - کله چې د دوی ورد هم ختم سی نو بیا د سره
څخه اول اسم اصول شروع کړه - ترداسی حده پورې
چې الله تعالیٰ په خپل فضل او کرم سره راڅخلاص او

بنکاره کړی۔ ورو ستړلاز می خبره داده چې په پاک او خالص نیت سره او د تنهایي او یوازې والی په حالت کښې په عاجزی او ژړا په ډول سره په ذکر کښې مشغوله اوسی ۔ وَاللّٰہُ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۝

(۱) اول اسم اصول دادی:۔ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ دده (۱۰۰۰۰۰) دورد تعداد یولک واړه دی ۔ او دده توجه داده اِلٰہِیْ اِظْهَرْ عَلَیَّ ظَاهِرِیْ سُلْطَانَ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ۔ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحَقِّقْ بَاطِنِیْ بِحَقَائِقِ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ۔ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ۔ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ۔ وَاسْتَغْرِقْ فِیْكَ ظَاهِرِیْ بِاِحَاطَةِ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ۔ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ۔ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ۔ وَاحْفَظْنِیْ اَللّٰهُمَّ لَكَ فِیْ مَرَاتِبِ وُجُوْدِكَ بِشُهُوْدِكَ وَصِفَاتِكَ حَتّٰی لَآ اَشْهَدُ غَیْرَ اَفْعَالِكَ وَصِفَاتِكَ بِوَجْهِكَ الْحَقِّ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ۔ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ۔

دغه اسم خاص د نفس اماره د پاره دی. دده سیر الی الله یعنی د الله تعالیٰ طرف ته دی ۔ او جهان یا عالم ئې د اجهان او محل (د اوسیدو ځای) یې سینه او حال ئې فقط توجه او د خدای پاک وطرف

ته خواهش دی او دده وارد (را تلل او لاړ بنودل)۔
شریعت دی۔ او نور یعنی رنګ ئې سیاهی ته مایل
نیلی یعنی اسمانی دی

(۲) دوهم اسم اصول۔ اَللّٰهُ ۔ دی دده دوردتعداد
(۷۸۰۸۴)
اته او یا ن ره او خلور اتیا واره دی او دده اسم توجه
داده یَا اَللّٰهُ یَا اللّٰهُ یَا اللّٰهُ اِلٰهِیْ دُلَّنِیْ بِكَ عَلَیْكَ وَ
اَنْزِقْنِیْ الثَّبَاتَ عِنْدَ وُجُوْدِكَ لِاَكُوْنَ مُتَاَدِّبًا بِهٖ
بَیْنَ یَدَیْكَ یَا اللّٰهُ یَا اَللّٰهُ یَا اَللّٰهُ ۔ اِلٰهِیْ بِعِظْمَتِكَ وَ
جَلَالِكَ اُنْزُقْنِیْ حُبَّكَ یَا اَللّٰهُ یَا اللّٰهُ یَا اللّٰهُ ۔ اِلٰهِیْ
اِجْعَلْ قَلْبَ عَبْدِكَ الضَّعِیْفَ مَظْهَراً لِذَاتِكَ وَمُتَّبِعًا
لِاٰیَاتِكَ یَا اَللّٰهُ یَا اَللّٰهُ یَا اَللّٰهُ

ذکر سوی پورته مبارک اسم د نفس لوزامه دپاره
دی۔ بس دده سیر لله دی او دده عالم بر نړ دی۔
یعنی هغه منځنی زمانه چه د مرګ د وخته نیولی
تر قیامته پورې ده او دده محل (دا وسیدو ځای)
نړه دی کوم چه په اندازه د څلورو(۴) یا دوو(۲) گوتو
تر چپه تی لاندی دی او دده نوم (رنګ ژړه دی۔

(۳) دریم(۳) اسم اصل۔ هُوْ ۔ دی او دده دوردتعداد
(۴۴۶۳۶)
د څلور څلویښت زر شپږ سوه شپږ دیرش واره

دی او توجہ ئی دادہ - یَا هُوَ یَا هُوَ یَا هُوَ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ
اَنْتَ یَا هُوَ یَا هُوَ یَا هُوَ - حَقِّقْ بَاطِنِیْ بِسِرِّ هُوِیَّةِ
ذَالِكَ وَاقْنِ مِنِّیْ اَنَانِیَّتِیْ اِلٰی اَنْ تَصِلَ اِلٰی هَوِیَّةِ
ذَاتِكَ وَاقْنِ مِنِّیْ اَنَانِیَّتِیْ اِلٰی اَنْ تَصِلَ اِلٰی هُوِیَّةِ
ذَاتِكَ الْعُلِیَّةِ یَا مَنْ لَیْسَ كَمِثْلِهٖ شَیْءٌ اَفْنِنِیْ عَنْ
كُلِّ شَیْءٍ غَیْرَكَ وَخَفِّفْ عَنِّیْ ثِقَلَ كَثَائِفِ الْمَوْجُوْدَاتِ
وَامْحَ عَنِّیْ نُقْطَةَ الْغَیْرِیَّةِ لِاُشَاهِدَكَ وَلَا اَرٰی
غَیْرَكَ یَا هُوَ یَا هُوَ یَا هُوَ لَا سِوَاكَ مَوْجُوْدٌ لَا
سِرَاكَ مَعْبُوْدٌ لَا سِوَاكَ مَقْصُوْدٌ یَا وَاجِدَ الْمَوْجُوْدِ یَا
اللّٰهُ یَا هُوَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ط

پوره تنی لیکل سوی د هُوَ مبارک اسم د نفس
مطهره د پاره دی - د دغه مبارک اسم سیر او
رفتار علی الله او عالم یی ارواح دی - د عالم څخه د
صوفیهٔ کرامو په اصطلاح کښی عالم حقیقت یا عالم
غائب یا عالم ملائکه دی او عالم ارواح پس تولو
حاوی (احاطه کونکی) دی او دده مقام یا مقام روح
دی کوم چه د سینی په راسته طرف عینی دقلبی
لطیفی مقابل او مقابل دی او دده حال عشق دی او
دده وارد (راتلل او لاره ښودل) معرفت دی او دده

نور سوردی۔

④ څلورم اسم اصول حَیُّ دی دد غه اسم دورد
(۲۰۰۹۲۷)
تعداد شل زره اودونیوی واره دی۔ اودده توجه
داده = یَاحَیُّ یَاحَیُّ یَاحَیُّ اِلٰهِیْ اَحْیِیْنِیْ حَیٰوةً طَیِّبَةً
وَاَسْقِیْنِیْ شَرَابَ مُحَبَّتِكَ اَعْذَبُهٗ وَاَطْیَبُهٗ یَاحَیُّ یَاحَیُّ
یَاحَیُّ اِلٰهِیْ حَقِّقْ حَیَاتِیْ یَاحَیُّ یَاحَیُّ یَاحَیُّ اَحْیِ
رُوْحِیْ بِكَ حَیَاةً اَبَدِیَّةً وَمَتِّعْ سِرِّیْ بِسِرِّكَ فِی الْحَضْرَةِ
الشُّهُوْدِیَّةِ وَامْلَاْ قَلْبِیْ بِالْمَعَارِفِ الرَّبَّانِیَّةِ وَاَطْلِقْ
لِسَانِیْ بِالْعُلُوْمِ اللَّدُنِیَّةِ یَاحَیُّ یَاحَیُّ یَاحَیُّ۔

دغه څلورم اسم خاص د نفس مطمئنه د پاره
دی دده سیر من الله دی۔ او دده عالم محمدی
حقیقت دی او دده محل یا خان یا لطیفه سر دی
کوم چه مابین دراسته او چپ بغل دی۔ چه د
معدی خمی او کجی ده او دده حال وصل دی او د
ده وارد (یعنی زاتلل او لاړه ښودل) حقیقت دی او
دده نور یا تجلی یار نگ سپین دی۔

⑤ پنځم اسم اصل وَاحِدٌ دی۔ او ددی مبارک اسم
(۹۳۴۲۰)
دورد تعداد درې نیم زره څلور سوه شل واره دی۔ او
دده توجه داده۔ یَاوَاحِدُ یَاوَاحِدُ یَاوَاحِدُ۔ اَللّٰهُمَّ

اَنْتَ الْمَوْجُوْدُ اِجْعَلْنِیْ مَوْجُوْدًا بِنُوْرِ وَحْدَانِیَّتِكَ
مُؤَیِّدًا بِشُهُوْدِ اُنْسِكَ یَا وَاحِدُ یَا وَاحِدُ یَا وَاحِدُ اِلٰهِیْ
اَنْتَ الْمَوْجُوْدُ فِیْ ذَاتِكَ الْعُلْیَا بِاُلُوْهِیَّتِكَ یَا وَاحِدُ
یَا وَاحِدُ یَا وَاحِدُ ۵

دغه مخکنی مبارک اسم د نفس راضیه د پاره مخصوص دی او ده سیر فی الله دی او دده عالم لاهوت یعنی عالم ذات الهی دی چه هلته سالک ته په دغه مقام کښی د فنا فی الله مرتبه حاصلیږی۔ او د صفاتو مرتبی ته جبروت

او د اسماؤ مرتبی ته ملکوت وایی او دده محل (د او سیدو ځای) سر یعنی ماغزه دی او حال یی فناء دی۔ او وارد نه لری۔ تجلی او نور یی شین دی.

(۶) اسم اصول یَا عَزِیْزُ دی دده دوه د تعداد څلور اویا زره څلور سوه څلویښت واړه دی نور یی داده یَا عَزِیْزُ یَا عَزِیْزُ یَا عَزِیْزُ اِجْعَلْنِیْ مِنْ عِبَادِكَ الْعَزِیْزِیْنَ الذَّاكِرِیْنَ یَا عَزِیْزُ یَا عَزِیْزُ یَا عَزِیْزُ یَا اِلٰهِیْ عَزِّزْنِیْ بِعِزَّتِكَ یَا عَزِیْزُ یَا عَزِیْزُ یَا عَزِیْزُ اِلٰهِیْ وَاجْعَلْنِیْ مُكَرَّمًا یَا عَزِیْزُ یَا عَزِیْزُ یَا عَزِیْزُ ۔

دغه مخکنی ذکر سوی اسم د نفس مرضیه د پاره

دی د ده سیرعن الله او عالم ئ شهادت دی د عنه ته عالم مشاهده او عالم مخلوق هم وایي کوم چه عرش او کرسی او (۷) وه اسمانونه او اوه محکی سره د دی د هغه ملائکی کوم چه ټولی محکی ئ په دواړو لاسو کښی نیولی پس سنګ مرمر ولاړه ده او سره د هغه غوایي چه هغه سنګ مرمر پس خپلو سنګرونو باندی ایښی دی . پس توره په بره ولاړ دی . سره د هغه لوی ماهی چه هغه توره په بره پس خپله غاړه ایښی ده او سره د لوی دریاب کوم چه ساکن دی (حرکت نه کوی) چه سره د هغی هوا چه پر هغی باندی هغه دریاب قائم دی د غه هر څه ټوله په عالم مشاهده کښی محسوس او معلوم دی . او د ده حال حیرت ، او د ده وارد حسینی شریفه اسرار دی . او د ده تجلی یا نور تود دی .

(۷) اووم اسم اصول یَاوَدُوْدُ - دی - د د غه اسم مبارک د ورد تعداد شل زره (۲۰۰۱۰) اولس واره دی - توجه ئ داده : یَاوَدُوْدُ یَا وَدُوْدُ یَاوَدُوْدُ اِلٰهِیْ اَعْطِنِیْ وَدًّا فِیْ قَلْبِیْ اِلٰهِیْ اِجْعَلْ لِیْ عِنْدَكَ عَهْدًا وَاجْعَلْ لِیْ فِیْ صُدُوْرِ الْمُؤْمِنِیْنَ الْعَارِفِیْنَ مَوَدَّةً اِلٰهِیْ اَكْفِنِیْ شَرَّ مَنْ كَفَیْتَهٗ وَكَفَیْتَهٗ بِیَدِكَ ؕ

دغه مخکنی ذکر سوی اسم مبارک د نفس کامله د پاره دی - د ده سیر بالله دی او عالم نۍ وحدت په کثرت او کثرت په وحدت کښی لیدل دی د ده ځای یالطیفه پټه (اخفا) ده - د ده مقام تندی یعنی د سر مخکنی برخده - او حال نۍ بقاء ده - او د ده ولړ دتول نیک صفتونه دی کوم چه د نفس نو په ذکر کښی بیان سویدی - او (۷) وه اصول ختم سوه -

دَاسْمَآءِ فُرُوْعِ تَفْصِيْلُ

اسماء فروع د غه شپږ دی - ① حَقٌّ ② قَهَّارُ ③ قَيُّوْمُ ④ وَهَّابُ ⑤ مُهَيْمِنُ ⑥ بَاسِطُ.

ورو سته نو اسماء اصول او اسماء فروع چه مخکی نۍ ذکر سویدی پتله د یارلس سوه - او په هم دوی کښی اسم اعظم دی او هر یو شی د الله تعالی په علم کښی دی - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ - د اسمآء فروع د هر اسم د ورد تعداد او حساب یو یو لک دی - یعنی حَقٌّ (۱۰۰۰۰۰) یو لک واره - قَهَّارُ (۱۰۰۰۰۰) یو لک واره - قَيُّوْمُ (۱۰۰۰۰۰) یو لک واره وَهَّابُ (۱۰۰۰۰۰) یو لک واره - مُهَيْمِنُ (۱۰۰۰۰۰) یو لک واره - او بَاسِطُ (۱۰۰۰۰۰) یو لک واره

پس خپل پټ ران او حال د نورو خلګو څخه پوښیده او محفوظ ساتل پر تا باندې لازم دی. اوهر وړ د (وظیفه) دهغه پر معلوم ځای باندې د امانت په ډول ایښودل او پر پرهیزګارۍ باندې قائم او ثابت اوسیدل ستا دپاره ضروري دي - د دې د پاره چه مطلوب او مقصد ته ورسیږي - انشآء الله تعالیٰ -

باید پوه سی چه د حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه څخه نقل سویدی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه فرمایله او دکوم چا د پاره چه ئې نصیحت فرمایلی - چه ای د عالم خلګو ستاسی رب یودی - ستاسی پلار یو دی - عرب پر عجمو هیڅ فضیلت نه لری او نه هم عجم پر عربو هیڅ بهتری لری - دهر یوه بزرګی پر پرهیزګارۍ موقوفه ده - لکه څرنګه چه الله تبارک وتعالیٰ په قرآن مجید کښې فرمایلی دی :- اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰکُمْ - یعنی په تاسی کښې تر ټولو بزرګ د خدای تعالیٰ په نیز تر ټولو هغه پرهیزګاره دی.

پس تر ټولو زیات بزرګ او د تعظیم قابل هم هغه څوک دی کوم چه تر ټولو زیات پرهیزګاره اونیکوکاره دی - د دغه وجوهاتو په سبب خاص هم هغه د

خدای پاک مخلص جوړین ی

لکه څرنګه چه مرشد پاک فرمایي که چیرې تقوی، عمل، ریاضت او مجاهدې سره ملګرې وي نو هغه شخص یقیناً حقیقي ولي دی بس د تقوی څخه مراد د الله تعالی څخه په بیره کښې اوسیدل - د ده دهر حکم پر تعمیل کمر بسته او تیار اوسیدل او د ده په رضا د راضی کیدو او اوسیدو نوم دی.

په حُینو کتابونو کښې اووه (۷) اسمآء اصول دارنګه لیکلی دی - اول (۱) لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ - دوهم (۲) اَللّٰهُ درېیم (۳) هُوَ - خلورم حَقٌّ - پنځم حَيٌّ شپږم قَيُّوْمٌ اووم قهار یا صَمَدُ -

بس د دغه اسماء فروعو د ورد کولو څخه مخکې سالک ته لازمه ده چه د خپل مرشد څخه اجازه واخلی د الفاظو تفاوت او فرق دی لیږی کړی د حقیقی اسم او ورد اجازه دی ورکړی د وردکولو څخه وروسته دی دغه درود شریف چه د حضرت نبی صلی الله علیه وسلم طرف ته منسوب دی - روایي

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ نِ النُّوْرِ الذَّاتِي السَّارِيْ سِرُّهٗ فِيْ جَمِيْعِ اٰثَارِ السَّمَآءِ وَالصِّفَاتِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ

عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِكَ مُضَاعِفًا بِدَوَامِ مُلْكِكَ وَ اَمْدِ يَتِكَ ۵

دغه درود شریف یو واړی ویل د ثواب په لحاظ د زړو وردونو دویلو سره برابر دی. د دغه درود شریف په متعلق بزرګانو او د کشف خاوندانو دا هم فرمایلی دی چه د ټولو دینی او دنیایی مقصدونو د حاصلولو د پاره ټ ویل تجربه سوی دی. وَ بِاللّٰهِ التَّوْفِيْق ۵

دغه رنګه په یو بل روایت کښی اسمآء فروع نور اووه (۷) هم راغلی دی چه دواړه سره یوځای کړی خو (۱۴) لس کیږی - اوهغه دادی :- حَيٌّ قَيُّوْمٌ - سَرِيْعٌ مُبِيْنٌ - كَبِيْرٌ مُتَعَالٌ - فَتَّاحٌ عَلِيْمٌ - عَزِيْزٌ قَدِيْرٌ - مَلِكٌ قُدُّوْسٌ - هَادِيٌ خَبِيْرٌ - پس نو د یکشنبی په ورځ د حَيٌّ قَيُّوْمٌ ورد یو سل (۱۹۴) خلور نیوی واړه - د دوشنبی په ورځ د - سَرِيْعٌ مُبِيْنٌ ورد خلور سوه (۴۴۲) دوخلویښت واړه - او د سه شنبی په ورځ د كَبِيْرٌ مُتَعَالٌ ورد اووه سوه (۷۷۳) درو او یا واړه - د چهار شنبی په ورځ د - فَتَّاحٌ عَلِيْمٌ - ورد شپږ سوه (۶۳۹) نه دیرش واړه - د پنجشنبی په ورځ د - عَزِيْزٌ قَدِيْرٌ ورد خلور سوه (۴۸۰) اتیا واړه - د جمعی په ورځ - د - مَلِكٌ قُدُّوْسٌ ورد

اووېل دوه سوه (۲۶۰) شپیته واړه - دشنبی په ورځ دهَادِیٌ
خَبِیْرٌ ورد اته سوه (۸۳۲) دودیش واړه - دیکشنبی په ورځ
ئ کول ضروری دی چه د تهجد څخه ئ وروسته کول
په کار دی - الله تعالی چه پر مستقیمه لار دکوم چا
برابروی او غواړی په خپل فضل او کرم سره هغه ته
مستقیمه لار ورښکاره کوی.

دَاوُوْ (۷) قِسْمُوْ نفسُونُو اوُ دَ هَغُوئ دَ صفتُونُو پَه بَیَان کښئ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی
سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ ۵ دحمد
او درود څخه وروسته باید یوه سی چه په دغه
انسانی غالب کښی اووه (۷) قسمه نفسونه دی اوهر نفس
په خپل خپل صفت سره متصف دی ددوی څخه دهر
یوه جلا جلا نوم دی او دهر یوه کار هم دصفت په
لحاظ جلا جلا دی - لکه چه ددوی د نجات پیدا کولو
یوازنی ذریعه خلوت (خاص چله کشی) ده -

(۱) اول نفس اماره دی ـ د ده صفتونه کنجوسی، بخیلی، حرص او طمعه، بی وقوفی بدی، کینه، غضب او غصه او داسی نور دی ـ او د دغه صفاتو څخه نجات (خلاصون) پیدا کول په اول اسم سره ممکن دی ـ هغه اسم ـ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ـ دی ـ د ده د ورد تعداد او یا زړه (۷۰۰۰۰) واړه دی لکه چه تر پاکی او اوداسه وروسته دی دوه رکعته نفل لمونځ وکړی او په هر رکعت کښی دی یو واړی سورة فاتحه (الحمدلله) او د دی څخه وروسته چه کوم سورة غواړی ودی وایی بیا دی د سلام گرځولو څخه وروسته د دغه وروایی :ـ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَشْتَرِیْ مِنْكَ نَفْسَ الْاَمَارَةَ بِهٰذِهِ سَبْعِیْنَ اَلْفًا ـ یعنی ای الله تبارک وتعالیٰ زه د دغه مبارک اسم د او یا زړه (۷۰۰۰۰) واړه ویلو په عوض خپل نفس اماره ستا څخه اخلم او را نیسم یُ ـ بیا دی د مرشد د زمان سره برابر هره وخ ورد وایی.

(۲) دوهم نفس لوّامه دی :ـ د ده صفتونه مکر، هوا، خود بینی، خواهشات نفسانی او قهر دی او د دغه نفس څخه خلاصیت په دوهم اسم سره ممکن دی ـ هغه اسم اَللّٰهُ دی (۶۰۰۰۰). او د دغه مبارک اسم ورد شپیته زره واړه دی ـ پس د دغه اسم د ورد کولو مخکی دی لومړی

حُل په ډول نفل لمونځ ادا کړی. او دغه دی ووایي :-
اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَشْتَرِیْ مِنْكَ نَفْسِیَ اللَّوَّامَةَ بِهٰذِهِ السِّتِّیْنَ اَلْفًا - یعنی ای پاکه خدایه زه د شپیته زره واړه داسم د ویلو په عوض خپل نفس لوّامه ستا څخه رانیسم - بیا دی د طریقی سره برابر اسم اوورد شروع کړی تر مقرر او معلوم وخته پورې دی ختم کړی - مخکښی اسم دی شروع کړی.

(۳) دریم نفس ملهمه دی :- د دی صفتونه قناعت سخاوت، علم، تواضع، توبه او صبر او تحمل دی. او د دغه نفس څخه نجات پیدا کول په دریم اسم سره ممکن دی او هغه اسم هُوْ دی - د ده د ورد تعداد پنځوس زره (۵۰۰۰۰) واړه دی. ورو سته دی د اول واړی په رنګه نفل لمونځ ادا کړی او دی ووایي :- اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَشْتَرِیْ مِنْكَ نَفْسِیَ الْمُلْهِمَةَ بِهٰذِهِ خَمْسِیْنَ اَلْفًا - یعنی ای خدایه پاکه زه د دغه اسم د پنځوس زره واړه ویلو په عوض خپل نفس ملهمه رانیسم - بیا دی د اول اسم د طریقی سره موافق ورد شروع کړی. تر معلوم وخت پورې دی ختم کړی - مخکښی اسم دی شروع کړی -

کړی۔

⑥ شپږم نفس مرضیه دی۔ دده صفتونه حسن خلق، نرمی، د خدای پاک قرب او د مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم د سنتو متابعت دی او د دغه څخه خلاصیت پیدا کول په شپږم اسم سره ممکن دی او هغه اسم قَيُّوْمُ (۲۰۰۰) دی او دده د ورد تعداد شل زره واړه دی

بس د اول حُل په رنګه دی نفل لمونځ وکړی او ورځی وایي: اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَشْتَرِیْ مِنْكَ نَفْسِیَ الْمَرْضِیَّةَ بِهٰذِهِ الْعِشْرُوْنَ اَلْفًا یعنی ای الله زه ستا څخه خپل نفس مرضیّه د دغه اسم شل زره واړه ویلو په عوض رانیسم۔ بیا دی د اسم اول د طریقی موافق ترمعلم وختم پورې ختم کړی او مخکنی اسم دی شروع کړی۔

⑦ اووم (۷) نفس کامله دی۔ چه هغه ته صافیه وایي۔ دده صفتونه ګوښه نشینی، عبادت، د بښځی او زوی څخه جلا والی دی۔ خاموشی، د بښتیا ویل، مددګاری د وعدې وفایي، د فرمانبرداری او نورو الهی احکامو دی۔ او دده څخه خلاصیت په اووم (۷) اسم سره دی او هغه اسم قَهَّارُ یَا صَمَدُ۔ دی او دده د ورد تعداد لس زره (۱۰۰۰۰) واړه دی بس د اول وار

په رنګه دی نفل لونځ ادا کړی او وړی وایي اَللّٰهُمَّ
اِنِّیْ اَشْتَرِیْ مِنْكَ نَفْسِیَ الضَّبِیْحَةَ وَ الصَّانِیَّةَ بِهٰذِهِ
الْعَشَرَةِ الْاٰفٍ ۔ یعنی ای الله تعالیٰ زه ستا څخه خپل
نفس کامله چه خالص، خلص او مصفا دی دد عشره
اسم لس زره واړه ویلو سره را نیسم څه وخت چه
ته دغه نفسونو څخه خلاص سی نو د خاصانو او کاملانو
څخه کیږې تا ۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ

صوفیانہ مقامات اور نفس و روح اسماء و اوصافیانہ تجلیات (۷)

شمارہ		۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷
۱	مقام	اول	دوسم	دریم	خلوتم	پنجم	شپنم	اوم
۲	نفس	امّارہ	لوّامہ	ملہمہ	مطمئنہ	راضیہ	مرضیہ	کاملہ
۳	سیر	الی اللہ	فِی اللہ	علی اللہ	مع اللہ	فی اللہ	عن اللہ	باللہ
۴	عالم	شہادت	برزخ	ارواح	حقیقت محمدیہ	لاھوت	شہادت	کثرت پہ وحدت اور وحدت پہ کثرت کی
۵	محل	سینہ	زہرہ	روح	سر	سرالسر (ماعزہ)	خفی	اخفاء
۶	حال	میل	محبت	عشق	وصل	فنا	حیرت	بقاء
۷	وارد	شریعت	طریقت	معرفت	حقیقت	×	دشریعت راز	ہتو لانیک صفتو نہ
۸	نور	نیلی	ژرہ	سور	سپین	شین	تور	×

		۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷
۹	صفات	کنجوسی مرض	حرص، هوا	سخاوت	بخشش	کرامات	حسن خلق	گوشه نشینی
۱۰		نادانی، جهالت	سوء بینی	قناعت	توکل	زهد، ذکر	او	دنیی او زوی
۱۱		بدی، کینه	دنفس خواهشات	علم	بردباری	عشق او	نوی	تخته تنهائی
۱۲		غصه	قهر	تواضع	عبادت	پرهیزگاری	او	عبادت او
۱۳		غفلت	غضب	توبه، صبر	رضا	او ترک	اخلاق حسنه	خاموشی ربنتیا ویل
۱۴		او	تکبر	تحمل مزاجی	او	هاسیوی الله	قرب الهی	دوعدی وفائی
۱۵		شهرت	او	او	شکر	او	او متابعت	فرمانبرداری
۱۶		×	اعتراض	خلوص	×	وفا	درسول الله	دالله او رسول

۲۷۲

(۷)
دخوب په ذریعه د اوو نفسونو د حالاتو اظهار او د هغوی علاج

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَیْرِ خَلْقِہٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِہٖ وَاَصْحَابِہٖ اَجْمَعِیْنَ ۔

کښی او سیدلی خاص د جسم په ذریعه بنکاره کیږی
او د جد او جهد، حرکاتو، سکناتو، خبرو، او ډیر لو خوراک
او څښاک، هوش او حواس او داسی نورو د پاره دد وارو
عنصرونو یعنی د روح او بدن یو ځای کیدل لازمی امر دی.
ځکه چه څه وخت چه روح د جسم عنصری څخه جلا
سی نو جسم بیکاره، بی حسه او بی حرکته کیږی تر یوځو
زمانی وروسته په شړ ډیدو سره تباه او خراب گرځی
دغه رنگه روح هم کوم چه مشهور کارونه په دغه
عنصری جسم کښی بار بار بنکاره کوی قطعا د ده خاتمه
کیږی. غرض دا دی چه د ژوند د پاره د روح او عنصری

جسم یود بله سره تعلق لازم او ملزوم دی .

زائډ پر دغه روح جوهر دی - جوهر دهغه طاقت نوم دی چه هغه شی یا جسم کوم چه دهغه سره د د ه اړه او تعلق وی قائم او ثابت ولری ترڅو پورې چه په الهی حکم سره وده ته د بیں ته تلو حکم ونه سی او ولاړ نه سی الله تعالیٰ فرمایلی دی ، اَلْاَرْوَاحُ جُنُوْدٌ مُّجَنَّدَةٌ یعنی روح حرکت کونکی لښکر دی .

جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په حدیث شریف کښی فرمایلی دی - اِنَّ اللهَ تعالیٰ خَلَقَ الْاَرْوَاحَ قَبْلَ الْاَجْسَامِ بِاَلْفَتَیِ اَلْفَ عَامٍ :- یعنی الله تعالیٰ روحان د اجسامو څخه په لکونو کلونو مخکښی پیدا کړه نو خامخا روح مخلوق دی او حادث سو د دی سبب کوم بی دینه او ملحدین چه روح قدیم بولی بلکه قل الروح من امر الله وایی - همغه ملحدین ، کافران او لعنتیان دی د قرآن پاک او حدیث شریف څخه هیڅ څای هم د غه خبره نه ده ثابته او نه هم د دین د بزرګانو څخه هیڅ بزرګ د خطایا د مستی په حالت کښی داسی فرمایلی دی

د الله تعالیٰ د توحید په اړه

الله تعالیٰ په قرآن مجید کښی د یر ځایونه فرمایلی دی

وَالٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ، یعنی ستاسی معبود یودی، بیا
ئ فرمایلی دی :- لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ
وَاحِدٌ ، یعنی په هیڅ حال کښی معبودان دوه مه جوړوی
بیله شکه او شبهی ستاسی برحق معبود بالکل یودی -
بیائ په واضح او بنکاره ډول فرمایلی دی چه وویه:
اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ
اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ - یعنی دزړه په صدق
اوزبان حال سره شاهدی ادا کړه چه په تحقیق د
الله تبارک و تعالیٰ څخه ماسیوی هیڅ معبود (د عبادت
لائق) نسته - هغه یودی او هیڅوک دهغه شریک نه
دی او ددی خبری شاهدی هم دزړه په صدق سره
ورکړه چه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم
ددهٔ بنده او رسول دی - بیائ په کلمه طیّبه کښی
هم کوم چه د اسلام لوی جزء ده او چه د هغی بیله ویلو
او تصدیق کولو څخه بالکل مسلمان کیدلای نه سی.
او نه هم مسلمان جوړیدلای سی -
فرمایلی دی - لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ
نو د دغه ربانی کلمو څخه دوی خبری ثابتی سوی: یوه
دا چه الله تبارک و تعالیٰ یو منل او حضرت محمد

رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم چه هغه الله تبارک
و تعالیٰ د پټولو مخلوقاتو څخه مختاره او خپل خاص حبیب
او شمس الضحیٰ بدر الدجی نور علی نور فرمایلی دی ۔
هغه هم یو بنده دی او دده راليږل سری برحق پیغمبر
دی ۔ د هغه پیدایښت هم د یو انسان په ډول سرمیدی
او ژوندۍ هم د یو انسان په ډول تیرکړی دی او وفات
ئې هم د یو انسان په ډول ۔ مګر الله تبارک و تعالیٰ وَحْدَهٗ
لَا شَرِيْكَ لَهٗ : دی په ذات او صفاتو کښی تنها، بی مثله
او بیوازی دی . د حدوث او حلول څخه پاک بی مثله بیله
شبیه د جوهر او عرض څخه یو مبرّا وجود دی چه
بیله د یدارہ په وهم او گمان کښی د هغه را تلل ناممکن
دی عارف بالله (خدای پیژندونکی) تر ټولو مخکی د
خدای تعالیٰ پر وحدانیت (یوازی والی) ایمان راوړل
او یقین کول پر ټولو عبادانتو مخکی گڼی

په دی خبره بنه پوه سی او بیله شکه او شبهی
څخه د قرآن پاک او حدیث شریف د حکم مطابق یقین پر
وکړی چه الله تبارک و تعالیٰ د وصل او فصل څخه پاک
دی د دو(۲) یا غیریّت اطلاق پرده هیڅکله روا نه
دی هغه په مکانی یا زمانی قید کښی محدود نه دی

هغه لا مکانی او دائمی وجود دی لکه څرنګه چه حضرت غوث پاک قدس سره العزیز په الهی دربار کښی سوال وکړی چه یَارَبَّ الْغَوْثِ لَیْسَ لَهُ مَکَانٌ یَاغَوْثُ الْاَعْظَمُ اَنَا مُکَوِّنُ الْمَکَانِ وَلَیْسَ لَهُ مَکَانٌ - یعنی نه په هر مکان کښی یم مګر زما هیڅ ځای نسته ددی سببه پوه سی چه هغه نه جوهر دی نه عرض دی نه روح دی نه جسم دی نه دیوشی سره پیوند یا وصل دی بلکه د حلول او اتحاد څخه مبرّا او پاک دی هغه په هیڅ جسم مادی یا روحی کښی یا جوهر کښی یا عرض او یا په هیولا کښی نه داخل دی نه محلول دی بلکه هغه د ټولو نقائصو څخه بری او د ټولو افتونو څخه پاک دی - د بنځی او نر وی، پلار او زوی، د بدن او اندام ونو، د قرابتونو او رشته داری د تعلقاتو د تحمل او برداشت څخه پاک او - اَلْاٰنَ کَمَا کَانَ وَلَمْ یَزَالَا - دی.

د ده مثل په دواړو جهانونو کښی هیڅ شی نسته د ده هیڅ مثال نسته، نه ئ مشابه، نه ئ هم شکله یا تمونه سته، د ده د ذات هر تغیر روا نه دی چه کوچنیوالی، ځوانی او زړ والی ئ بشکاره سی - هغه په هغه صفتونو سره موصوف دی چه د هغوی ذکر ده په

قرآن پاک کښی فرمایلی دی او چه د هغوی وضاحت حضور
پاک صلی الله علیه الصلوٰة والسلام په حدیث پاک
کښی فرمایلی دی۔ هغه حَیٌّ قَیُّوْمٌ دی، هغه رؤف
اورحیم دی، هغه کریم او قدیر دی۔ هغه سمیع او
بصیر دی۔ غرض چه په ټولو صفاتو سره چه په
قرآن پاک اوحدیث شریف کښی لیکل سویدی متصف
دی، د ده صفتونه همیشه قدیم دی هرڅه چه
وعواړی کوی یئ اوهرڅه چه غواړی هغه د انله
څخه پیژنی او ورته معلوم دی۔ د ده هیڅ حکم بیله مقصده
او بیله نتیجی نه دی۔

د نیکی او بدی اندازه کول د ده په مشیت سره دی. د
نفعی او ضرر خالق او مختاره همدی دی ماسیوی دانحضرت
صلی الله علیه وسلم د پاک ذات څخه په دنیا کښی هیڅ
شخص خونه د ده د دیدار او وصل تاب لری او نه هم
تری ده پوری د رسیدو طاقت لری۔ د ده تشبیه اوجهت
نسته چه ودی ویلای سی چه داسی دی یادغه رنګ
دی۔ او لیاوڼه په دی دنیا کښی د ده د تجلیاتو مشاهده
روا او صحیح ده مګر دنورد څادر په حفاظت او حجاب
کښی د حضرت غوث الاعظم قدس سره العزیز څخه خلګو

دهغه دیو مرید په اړه پوښتنه وکړه چه آیا ستاسی مرید په دغه ویناکښی حق په جانب دی؟ چه هغه وایي زه خدای تعالیٰ وینم او دیدار ئې کوم - هغه قدس سره العزیز وفرمایل چه د الٰهی دیدار تاب او طاقت ماسیوای د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په دنیاکښی هیڅ چاته نشته دغه د الله تعالیٰ نور د څادر په حجاب او حفاظت کښی وینی چه هغه ته دغه په فکر او خیال کښی ورځی چه زه د الله تعالیٰ دیدار کوم او وینم ئې.

د حضرت جنید بغدادی رضی الله تعالیٰ عنه څخه د توحید په باره کښی پوښتنه و سوه هغه وفرمایل چه قدیم د حادث څخه جلا کول او تمیز کول د توحید نوم دی - یعنی قدیم د حادث او حادث د قدیم محل مه ګڼه ځکه چه الله تعالیٰ قدیم دی او نه او نور ټول خلګ حادث دی - د دی سبب ستاد جنس هیڅ شی د الله تعالیٰ سره نه سی چسپیده او پیوسته کیدلای حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه فرمایلی: هغه مقدس ذات د هر کفر او شرک څخه پاک دی چه هغه خپلو بندګانو ته د معرفت د تحصیل او تکمیل ذریعه عجز،

انکسار، تسلیم او رضا جوړ کړل۔

حضرت داتا گنج بخش صاحب په کشف المحجوب کتاب کښی د توحید په باره کښی فرمایی چه توحید د خدای پاک د طرفه څخه دیو پټ راز وار یدیدل یا بنکاره کیدل دی۔ په عبارت (الفاظو) کښی د دی اظهار نه سی کیدلای۔ تقریر او تحریر د دغه د بیان د احاطی څخه عاجزه دی۔ ځکه چه بیان او بیان کولو والا دواړه غیر (حادث) دی۔ او د غیر ثابتول د توحید په اثبات کښی د شرک سره برابر دی د الله تعالیٰ موجد ضرور کیږی مګر لاهی (فنا فی الله) نه سی جوړیدلای۔

د ایمان په اړه

الله تبارک و تعالیٰ فرمایلی دی: یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۔ یعنی ای ایمان لرونکو پر خدای پاک او د ده پر رسول باندی د هر حیثیت څخه پوخ یقین راوړی (وکړی) پر دغه باندی آنحضرت صلی الله علیه وسلم هم ارشاد فرمایلی دی: ایمان دا دی چه د الله تعالیٰ پر ذات او صفاتو، د ده پر وحدانیت د ده پر ټولو رسولانو د ده پر نازل کړه سوو کتابونو

دده پر ټولو ملائکو، د قیامت پر ورځ پر حشر او نشر،
(د قیامت په ورځ راځ و ندی کیدل)، پر حساب او میزان،
پر جزا او سزا، پر جنت او دوزخ او د تقدیر پر عوا ملو باندی
محکمه او متزلزل یقین وسائی - یعنی په زړه سره محکمه
تصدیق او په ژبه سره اقرار کوی - یعنی د قول بلسان او
تصدیق بالقلب او د احکامو اطاعت د دغه مجموعی نوم
ایمان دی - غرض دادی چه په حقیقت کښی ایمان دا
دی چه د بنده ټول اوصاف او اعمال د خدای تعالیٰ په
طلب او غوښتنه کښی لګیدلی وی ځکه چه د ایمان غلبه
بد اوصاف لیری او نیستی کوی په کوم ځای کښی چه
ایمان کامل کیږی د هغه ځای څخه بد اعمال په خپله
نیستی او نابود گرځی او ټول شکونه او شبهی محوه او
نیستی کیږی او د خدای پاک د ذات سره دومره قدر -
پیوسته کیږی چه هغه هرځه وینی یائی اوری یائی
وایی یائی کوی ټول د الٰهی امر په دایره کښی کیږی -

د مؤمن پیژندنه حضور سرور کائنات فخر موجودات
آقای نامدار حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه
وسلم د غه رنګه فرمایلی دی چه د هغه اصحابی
حضرت حارث رضی الله تعالیٰ عنه د هغه په خدمت

کښی په پوره اولوی مجلس کښی حاضر سو - هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای حارثه تا څه ډول سهار کړی؟ ده عرض وکړی چه ای حضرت مادیو صادق مؤمن په حیثیت سره سهار کړی.

آنحضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایل - بیا په بنه ډول غور او فکر وکړه چه ته څه وایی - په دنیا کښی دهرشی د پاره یو حقیقت اود لیل وی ستا د ایمان د پاره دلیل او برهان څه شی دی؟

حارث رضی الله تعالیٰ عنه عرض وکړی: چه ما په دی دنیا کښی خپل نفس په بنه ډول سره پیژندلی دی د دغه اثر او تاثیر دادی چه زما په نیز ډبره، سره زر، سپین زر، د خاورو کوټه او داسی نور ټوله شیات یو ډول سویدی - پس د شپی د ذکر او عبادت د پاره راپورته کیږم د روحی تنبی او سینم او روژه نیسم تر داسی اندازی چه اوس زه د خپلو روحانی تجلیاتو او کشف په سبب گویا که جنتیان په جنت کښی یو دبل زیارت کونکی وینم او د دوزخیانو په دوزخ کښی په څرګ او زاری کولو کی وینم په یو بل روایت کښی راغلی دی چه هغوی په خپل منځ کښی جنګ او جګړه کونکی وینم -

د دغه پاک حدیث څخه معلومه سوه چه د ایمان د خاوند څومره مرتبه او څومره شان دی. پس د ایمان روح د توکل حفاظت دی او د ماسیوی الله پر یښو ول او د الهی احکامو تکمیل او پر ځای کول او په هر حال کښی د الله تعالیٰ پر ذات پاک توکل کونکی او سید ل ایمان دی. لکه څرنگه چه الله تبارک و تعالیٰ فرمایلی دی: وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ، یعنی که چیری تاسی رشتیا ایمان لرونکی یاست نو خاص پر الله تعالیٰ پوره اعتماد ساتل په کار دی. پس هر شخص چه زړه د خدای پاک د معرفت سره پیوند او وابسته کوی هغه مؤمن جوړیږی او د خدای پاک د ذات سره واصل کیږی.

د عشق او محبت په اړه

الله تبارک و تعالیٰ فرمایلی: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ، یعنی د خلگو څخه هغه څوک هم شته چه د الله تعالیٰ څخه علاوه د مخلوقاتو څخه نور معبودان جوړوی (یعنی ماسیوی د الله تعالیٰ څخه د مخلوق عبادت کوی) او د هغوی سره د دومره محبت کوی لکه څومره چه د خدای

پاک سره کول په کار دی - لیکن کوم څوک چه په ربنتیا ایمان
لرونکی دی د هغوی ټول محبت د خدای تعالیٰ دپاره
وقف کیږی - بیا آنحضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایل
چه ما د جبرائیل علیه السلام څخه واوریدل او جبرائیل
علیه السلام د الله تعالیٰ څخه واوریدل هغه فرمایی
چه کوم شخص چه زما دولی توهین (سپکتیا) او بی عزتی
وکړه - گوایا کی هغه زما توهین وکړی او زما دوست
د تذلیل او بی عزتی څخه زما مقابلی ته تیار سو.

زما بنده یا عاشق یا محب د فرائضو او نوافلو د
ادا کولو څخه زما د قرب حاصلولو په کوښښ کښی او بیږی
تر دا سی اندازی چه زه هغه خپل دوست جوړوم نو
کله چه زه دی دوست جوړوم نو زه دده ستر گه
جوړیږم چه په هغه سره دی وینی او دید کوی او
په قدرتی طور هم د الله تعالیٰ محبت بنده ته او د
بنده محبت الله تعالیٰ ته په خوښ او محبوب دی.
شیخ شبلی رحمة الله علیه فرمایی: د محبت نوم ددی
سببه محبت ایښودل سویدی چه محبت د زړه د نه
څخه د محبوب څخه ماسیوای نصرځه خرابوی یعنی د محبوب
د ملاقات دپاره د زړه شوق او اضطراب (بی قراری) تر

داسې اندازی وی لکه څرنګه چه د ټول جسم دا د روح
سره کیږی - د غه رنګه د محب قیام د محبوب د دیدار
او وصل څخه کیږی.

د خبری حاصل دا دی چه د بنده محبت یا عشق خاص
د الله تعالیٰ د پاره دا دی، چه هغه د ده په ذات او
صفاتو کښی هیڅوک شریک نه کړی او د ده د ټولو
اوامرو او احکامو اطاعت وکړی - د الله تبارک وتعالیٰ
محبت یا عشق په خپله معنیٰ کښی د الٰهی تعظیم او احترام
خاص تقاضا کوی او غواړی چه د بنده توجه او محویت
د ذات الٰهی د پاره خاص سی - او د ده د ذکر او فکر
عادت پیدا کړی او د غیر الله د ذکر څخه بیزاری بشکاره
کړی - پس د الله تعالیٰ محب د ده په عشق کښی محوه
(نیستی) کیږی او د ده محبت خاص د ده د پاره ساتی
او د ده قرب او وصل د راحت غوښتلو والا کیږی - د
دی څخه ورو سته د محبت دوه قسمونه دی - یو
محبت د جنس د خپل جنس سره په د غه محبت کښی
محب د خپل ځان ډه د اطمنان او قرار طلب کوی - د دی
د پاره چه په محبوب سره آرام پیدا کړی لکه د محبوب
دیدار کول، خبری ورسره کول او د محبوب نژدی محرم

اوراز دارجوړیدل د غه ټول شیان تن نفسانی خواهشاتو
لاندی پیدا کیږی کوم چه نن سبا عام دی.

دوهم قسم د خدای پاک محبت - یعنی چه دده ټول
بخښښونه او رحمتونه د دوستی د وجهی څخه د حجاب
په محل کښی وساتی او نعمتونه هم د منعم او دده - د
رضا د حصول ذریعه او سبب وگڼی - د غه ډیره لوړه
رتبه ده او د توحید خاوند ته ورکول کیږی. غرض
دا دی چه محبت یو حالی شی دی چه هیڅکله نه سی
فانی کیدلای د غه سړی پایه ټول عشق دی - که
چیری ټول جهان وغواړی چه محبت په تکلیف او
کوبښښ سره د خپل ځان د پاره جوړ کړی نو داسی
هیڅکله نه سی کولای - همد غه د ول په کومو زړورتو
کښی چه محبت خپل مسکن (داوسیدو ځای) جوړ کړی.
د غه په تکلیف او کوبښښ سره هم نه سی لیږی
کولای - ځکه چه کشف او حال د الله تعالیٰ د طرفه
څخه دی نه چه په کسب او محنت سره حاصل سی ځکه
چه محبت یو خالص الهی شی دی او انسان په لهو او
لعب کښی مصروف او سیدو والا دی او هیڅ لاهی
(فانی فی الله) هم په یوازی کوشش سره الهی نعمت

نه سی پیدا کولای - حضرت ابو القاسم قشیری رحمة
الله تعالیٰ علیه فرمائی محبت دادی چه محب د خپل
محبوب د ذات د اثبات د پاره خپل بشری صفات او
خواهشات نیست او نابود کړی.

څه وخت چه حضرت حسین بن منصور دار ته
پورته کړل سو نو د هغه آخری خبره دا وه - حُبُّ
الْوَاحِدِ اِفْرَادُ الْوَاحِدِ لَهُ - یعنی خاص دیوه ذات د محبت
او له تقاضا داده چه د ده ذات د هره جهته څخه یوازی
او تنها وګڼی په ذات او په صفاتو کښی د ده - بل هیڅوک
شریک نه کړی -

حضرت سهل بن عبد الله تستری رحمة الله تعالیٰ علیه
فرمایی محبت دادی چه د محبت په احترام کښی د ده - د
اوامرو او احکامو پوره اطاعت وکړی او د ده د (نواهیو)
منعه کړه سو و کارونو څخه همیشه اجتناب او پرهیز وکړی.

حضرت سحنون محب رحمة الله تعالیٰ علیه فرمایی.
چه محبت کونکی په دنیا او اخرت کښی خاص د الله (ج)
د نیکو او فرمانبردارو بندګانو محبت اختیار کړی دی.
حکمه چه حضور صلی الله علیه و اله وسلم فرمایلی
دی چه په قیامت کښی به هم د هغه شخص سره وی

چه دی د هغه سره په دنیا کښی محبت کوی۔

حضرت یحیٰی معاذ رازی رحمة الله علیه فرمایی چه حقیقی محبت دا دی چه په ده کښی خونه د - جور، جفا، ظلم او ستم کمی وی - نه د رحم، کرم، بخشش او عطا څخه امنا نه وی۔

د انسان پیدا ره

سبحان الله - دکرن او مکان د غه خالق انسان په څومری عمده او بهترین صورت کښی جوړ کړی۔ هغه د د غه ضعیف البنیان په وجود کښی خپل څرخه حکمتونه او صنعتونه ښکاره کړی دی - که چیری انسان د خپلو خواهشاتو پیروی نه کوی نو هغه د خپل عقل د فضیلت د وجهی څخه د انسان څخه نه بلکه د فرشتو څخه افضل دی که چیری په ده کښی طبعی کثافت نه وای یعنی خاوره، اوبه، اور او هوا دده په طینت (طبیعت او عادت) کښی نه وای گډ سوی۔ نو بیخی ډیر به لطیف وای - د غه یو خزانه ده چه ډیر عجیب حسیات او غیبی اسرار او د غیبو ټول اقسام په د غه خزانه کښی اینبودل سویدی - انسان

وجود یو مکان دی چه د نورو او تاریکی د واړو څخه
ډک دی - د غه یو داسی پرده ده چه په دی کښی - د
ډول ډول پردو څخه روح د نورو د ستر گو څخه پټ ایښودل
سویدی - وَ لَقَدْ کَرَّمْنَا بَنِیْٓ اٰدَمَ - ئ وفرمایل - الله
تبارک و تعالیٰ د ملائکو څخه ددې فضیلت بلند اولوړ
کړی دی چه د د غه څخه د دی خبری طرف ته اشاره
ده چه دی د عالَم الغیب و الشهاده څخه دی یعنی د
عالم علوی او سفلوی څخه مرکب دی د ده د جسمونو
کندی د روحانو د ملظرو څخه ډکی سویدی کوم چه د
وجود په دریاب کښی د علم پر کښتیو باندی باسویدی
د روح د باد په ذریعه د ریاضت او مجاهدی وخوانه او د نفس
د باد په سبب د نفسانی خواهشاتو وخواته په راکشولو کی نود
آنهو یونکی دی د خواهش د سلطان د لښکر سردار نفس او
عقل د سلطان د لښکر سردار روح دی اوس د دواړه فرقو
تر مخامخ کیدلو وروسته مؤذن الهی نعره وکړه وئ ویل
د مقابلی د پاره میړنو خوانانو مخ ته سی اوس د دواړو
خواو څخه یو پر بل باندی د کامیابی د حاصلولو د پاره ډول
ډول مکر و تنه او هیلی شروع سولی د غه وخت توفیق الهی
د غیبو په څ به نعره وکړه د واړو لښکرونو ته ئ وویل

چه دکوم چا کومک چه نه وکړم دکامیابی میدان دهغه په
لاس کښی لویږی دکوم چا سره چه نه ملګری کیږم - بیا
هیڅکله هم دهغه څخه جلاوالی نه کوم اوهغه ولوړمقام
ته رسوم توفیق دالهی توجه اودهغه دفضل اوکرم
نوم دی چه هغه ئې دخپلواو لیاړ سره ملګرې کوی.

هغه دعقل دنړی تابعداری کوی چه ابدی نیک
بختی حاصله سی اودنفس تابعدارې دپرږیدی پس
قدرت الهی باندی غوږ کوی چه روح کوم چه دعالم
غیب څخه او نفس کوم چه دمحکی اوعالم شهود څخه
دی دواړه ئې یوځای جمع کړی دی.

بنایی چه دغه لطیف مرغه دعنایت الهی پراحاطو
باندی دغه کثیفه (خړه) پنجره پرږیدی - دحضرت
القدس پیدرخته باندی خپله څانګی جوړه کړی او دتقرب
الهی پر بناخو باندی کښینی رین وکړی او دمعارفو د
میدان څخه غمی راټول کړی او کثیف (خړ) نفس دوجود
په تاریکه کښی پرږیدی بیانوکله چه خاکی اجسام فنا
کیږی نو دنړ ونو اسرارئې پاتیږی که چیرې الهی
توفیق دیوه کړی لپاره ملګری سی نو دهغه نظر اوتوجه
هغه ترعرشه پورې رسوی او ستایه نړه کښی دحقائقو

اوعلومو څخه ډک اود اسرارو او معرفت خزانه جوړوی.

دغه وخت د عقل د ستر گو څخه دانل جمال په نظر راځی - د الهی تقرب په اندازه کښی د مقام سره د ستر گو څخه عالم ملکوت تاته په نظر راځی او د ظاهری اکوانو (موجوداتو) آثار ستا دن په د تختی څخه خرابیږی د افکارو په تاریکی کښی د میږ نیو څرانانو څراغ د هغوی عقل وی هغه د - معارفو او حقائقو د خاوندانو دلیل دی. څه وخت چه دلیل نه ناقص پاته سی بیا نو نو فیق الهی ملگری کیږی باطل فکرونه د قدرت په لاس پاکیږی (اوخرابوی ئی).

د نفس ماهیت (حقیقت او کیفیت)

نفس هم د روح په مثل یو لطیف وجود دی چه د انسان په وجود کښی قدرت (الله تعالیٰ) امانت اینی او سپارلی دی. لکه څرنگه چه انسان جسم د درو (۳) شیانو څخه مرکب دی. یو روح دوهم نفس، او دریم جسم. دغه رنگه د هر عین یعنی جوهر د پاره یو عرض یعنی صفت سته چه په دغه صفت سره هغه (جوهر) قائمیږی. لکه چه د روح د پاره عقل (د خدای پاک تلاش) او د نفس د پاره هوا او هوس او د جسم د پاره حواس خمسه مخصوص

صفتونه دی ـ د محقیقینو د رائی څخه ښکاره ده چه نفس
د روح په مثل سره هغه وخت هم موجود وُو کله چه ده
(نفس) ظاهری جسم نه وو پیدا کړی لکه څرنګه چه
الله تبارک و تعالیٰ فرمایلی دی ـ هَلْ اَتیٰ عَلَی الْاِنْسَانِ
حِیْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ یَکُنْ شَیْئًا مَذْکُوْرًا ـ یعنی آیا پیر
انسان باندی داسی وخت نه وو تیر سوی چه په هغه
زمانه کښی د غه انسان ذکر سوی شی نه وُو یعنی د
هغه نفس وجود د لوی د جسمانی وجود نُ نه د لوی
اوپیدی خبره هم پوښ متفق دی چه د زړه د اخلاقو
او اعمالو اظهار د هم د غه جسم څخه کیږی ـ

او د اظهار دوُه (۲) صورتونه دی :ـ یو خو د نیکی صورت
دی ـ دوهم د بدی شکل دی بدی ته اخلاق رذیله
ویل کیږی چه تکبر، حسد، بخل، غصه، غضب، بغض
کینه، دروغ، افترآء (بهتان او تهمت) غیبت، خیانت
او چلبازی، غلا، دروغ او داسی نور د هم د غه ډول
نالایقه او بد صفات او د نیکی په صورت کښی ټول بنه
اخلاق مثلاً حسن خلق، د شریعت پابندی، نیکی، ایثار
(د بل چا نفعی ته پر خپله نفعه ترجیح ورکول) عدل،
انصاف، جود او سخاوت، پر هیزګاری، د حلا لو خوراک

غرض چه د ټولو رذیلو اخلاقو بالکل پر عکس ټول عادات وخویونه۔ حمیده او ښه وګڼې دنفس هم اوه قسمونه ؛ی چه د جلا جلا اثراتو پورته کونکی او لرونکی دی چه ؛هغوی نومونه په لاندی ډول دی۔

① نفس اماره ② نفس ملهمه ③ نفس لوّامه
④ نفس مطمئنه ⑤ نفس راضیه ⑥ نفس مرضیه
⑦ نفس کامله ۔ د دوی ټولو دا فعالو او خواصو جلا جلا تشریح په مخکنی برخه کښی تیره سوېده او د دوی په ډه علاج هم ښودل سوی تیر سوی دی۔

لکه چه د دوی ټولو څخه تر ټولو قوی او د بدی طرف نه میل کولو والا بلکه په کشیدو بیولو والا نفس اماره ی۔ کوم چه انسان د بدو کولو او د الهی احکامو څخه د ځیدو او انکار کولو بلنه ورکوی او د عیش پرستی دکاری، بد اخلاقی او د اسی نورو بدو اخلاقو او فعالو طرف ته ټې په کشیدو بیایي ۔ چه د هغه د مکر او فریب څخه ځان ساتل ماسیوای د خدای پاک د فضل او کرم څخه کان نه لری ۔ څرنګه چه د حضرت یوسف علیه السلام ه رنګه پاک سین ته او پاک عادته پیغمبر او د پیغمبر وی او د پیغمبرلمسی هم د دغه نفس اماره طاقت ناقابل

برداشت تصور کړی سوی وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِیْ اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌ بِالسُّوْءِ اِلَّا مَا رَحِمَ - یعنی نه دغه نفس اماره دبدی څخه پاک نه گڼم مگر پر هغه چا چه زما رب رحم و فرمایی؛ په خپله مبارکه ژبه سره و فرمایی -

ددی سببه څخه ترڅو پورې چه الهی تائید شریک اوو د سره ملگری نه وی - د دغه نفس اماره د شره څخه هیڅکله نه سی خلاصیدلای - لکه چه ابلیس هم د دغه نفس اماره د وجهی څخه د الهی دربار څخه راندې (شړلی سوی) اوملعون سو - پس د نفس د شره څخه محفوظ - او سیدو او د الله تبارک و تعالیٰ د معرفت د پیاره د نفس پیژندنه کول لازمی او ضروری خبره ده - لکه څرنگه چه الله تبارک و تعالیٰ فرمایلی دی - وَمَنْ یَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ اِبْرٰهِیْمَ اِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ - یعنی د ملت ابراهیمی (د ابراهیمی دین او مذهب) څخه هغه شخص مخ گرځول اختیار وی چه د هغه نفس په جهالت او بی عقلی سره موصوف وی - د دغه په ډول آنحضرت صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی - مَنْ عَرَفَ نَفْسَهٗ فَقَدْ عَرَفَ رَبَّهٗ - یعنی کوم چا چه نفس و پیژندی ده خپل رب و پیژندی -

اوس دغه خبری ته کتل په کار دی چه د نفس د
پیژندنی کومه طریقه ده او د دغه (نفس) څرخه صورتونه
او شکلونه دی ـ پیادئ لری چه د هر انسان د پاره دده
د نفس جلا جلا شکلونه دی او جلا جلا تاثیرات ئ دی،
هغه شکلونه عموماً په مجاهده او ریاضت په زهد
او تقوٰی او داسی نورو سره ـ غرض چه په پوره ډول
د الهی احکامو د تعمیل او فرمانبرداری په سبب په بنو
اخلاقو مؤ شره سوی په بنه صورت او پاکیزه شکل ته
کښی او د الهی احکامو اړد رسول الله صلی الله علیه و
آله وسلم د متابعت څخه د مخ گرځولو او نه تعمیلولو
په صورت کښی د بد و مناظرو په شکل متشکل سوی
په خوب کښی (د غه نفس) خپل مخ او شکل بنکاره کوی
چه عموماً د هغوی تعبیر پدالو تلو خوبونو سره کیږی
پس نو په لومړی مرحله کښی د د غه خوبونو څخه خپل
خپل نفس پیژندلای سی چه په کومه دائره کښی
محیط دی ـ د دی په اړه مفصله تشریح په فصل باب
نمبر ۲ کښی سویده .

د دی څخه درسته چه د حقیقت دلاری هر
سالک د مرشد د رهنمایی څخه زهد او ریاضت، مجاهده

ار تقوی او د الهی احکامو پابندی او د شریعت پیروی
په اخلاص او بنه نیت سره کوی نو ده ته د ده بفس په
ظاهری جسم کښی متشکل سری هم مخامخ ودته راځی
لکه چه حضرت محمد بن غلیان نسوی کوم چه د حضرت
جنید بغدادی رحمة الله تعالی علیهما د لویو ملګرو څخه
دی بیان کوی چه په ابتدائی حالا تو کښی زه په خپل
نفس اګاه او خبر سوم - هغه داچه ول چه یوه ورځ
زه ګورم چه هغه د ګیدړی د بچی په شان زما د
خلق څخه د باندی راوتی زه پوه سوم چه همدغه
زما نفس دی خرنګه چه زما په زړه کښی دده - د
طرفه څخه د اوله څخه نفرت وُ ما نوګډا شروع
وکړه دی می په لغتو راهی هرځومره چه می په لغتو
او پښو وهیر راهی هغه هغومره غټیدی او لوییدی
ما دده څخه د دغه وجه وپوښتله ده جواب راته
راکړی چه زما ساخت همدغه خدای تعالی په دغه
د ول جوړ کړی دی چه په کومو شیانو سره چه
نوروته تکلیف رسیږی په همدغه شیانو سره ما
ته راحت رسیږی - لکه چه د دغه خاصه زما په خمیر
(مزاج او طبیعت) کښی موجوده ده چه زه د مخالفت

څخه نور ډیر تقویت پیدا کوم -

همدغه ډول شیخ ابوالقاسم گورگانی رضی الله تعالی عنه د خپل لومړنی حال په متعلق فرمایي: چه ما خپل نفس د مار په صورت کښی ولیدی او یوه درویش وفرمایل چه ما خپل نفس د هوښک په بڼه (شکل) کښی ولیدی - ما ورته وویل چه ته څوک یي هغه وویل زه نفس یم زه د خام طبیعت او غافله خلگو هلاکوونکی یم - ځکه چه زه د بدی او گناه طرف ته بلنه ورکوم او د خدای پاک د بښتنو عبادتونکو او طالبانو ته نجات ورکولو والا هم یم ځکه چه هغوی د بدی د ترغیبانق او بلنی په صورت کښی پر ما لعنت او ملامتیا وایي او زما خلاف جهاد او مجاهده کوی او حقه لاره تلا بنوی - آنحضرت صلی الله علیه واله وسلم ارشاد فرمایلی دی: چه د ټولو د بښمنانو څخه ډیر بد د بښمن ستا نفس دی چه د دواړو اړخونو او بغلونو په مابین کښی دی -

اوس پوه سی چه د نفس پیژندل او دده — د عیبونو څخه په خبر یدو باندی طالب ته دده د موجودگی څخه هیڅ بیره او خوف نه ورځی ځکه چه نفس د غفا

کونکی سپی په مثل دی چه د هغه پر وحشت باندی
د ریاضت او مجاهدی د برکته څخه تابوان قبضه پیدا
کول بیله شکه او شبهی څخه ممکن دی لکه څرنگه چه د
داولیاؤ کرامو او بزرگانو عظامو رحمة الله علیهم
اجمعین د حالاتو څخه بنکاره ده۔

د حضرت پیر دستگیر محبوب سبحانی غوث
صمدانی حضرت سیدنا شیخ عبدالقادر
جیلانی قدس سره العزیز مدحه

لله الحمد صاحب ایمانم — رونق افزائے بلغ عرفانم
گوهرِ تاج پادشاهانم — دست گیر است غوث صمدانم

از غلامانِ شاه جیلانم

یارب از ما سوائے ملولم کن — پیرو حضرتِ رسولم کن
رحم اگرچه بے فضولم کن — باهمه معصیت قبولم کن

از غلامانِ شاه جیلانم

کیستم ذرهٔ حقیر رهم من — بگمنده گناه اسیرم من
شیئاً لله کار نتیرم من — نے فقط گفته ام امیرم من

از غلامانِ شاه جیلانم

اے فلک گرچه تو ستمگاری — تخم کین وجفا بدل کاری

بعد ازین تو مرا نیازاری　　من چہ گویم تو خود خبر داری

از غلامان شاہ جیلانم

خوب افتادہ است طوارم　　اعتبارے برائے خود دارم
از ہمہ برتر است مقدارم　　سر بگردن کسے فرد آرم

از غلامان شاہ جیلانم

روز محشر بایں ہمہ عصیاں　　لب من ہمچو گل بود خنداں
پرسد از من کسے کہ اے انسان　　کیستی من بگویم از دل و جان

از غلامانِ شاہ جیلانم

رخت بندد چو از وجود ہوش　　واکند بہر من بحمد آغوش
گر بپرسد کسے از من مدہوش　　کیستی من بگویمش کہ خموش

از غلامان شاہ جیلانم

کیستم اے سپہر مپیدانی　　اندریں خویش از چہ حیرانی
سر نوشتم اگر نمیخوانی　　داغ ہر بندگی مرا بہ پیشانی

از غلامانِ شاہ جیلانم

روز محشر چو عاصیان خراب　　زآتش جرم خود شوند کباب
من بگویم بسالکانِ عذاب　　ہر کہ سوئے من کسے بہ عتاب

از غلامانِ شاہ جیلانم

کسے بود از گنہ ملال مرا　　خوب بیں بحشر حال مرا
نبود جرم در خیال مرا　　چرخ مشمر شکستہ بال مرا

از غلامانِ شاہ جیلانم

مغفرت چشم از خدا دارم　　کہ شفاعت ز مصطفےٰ دارم

غوثِ کونین رہنما دارم　　من چہ پروائے جرم ہا دارم

از غلامان شاہ جیلانم

کیست تا ئید بندۂ گمراہ　　عاصیٔ ہرزہ کرد نامہ سیاہ

بسوئے خلد راہ برد ناگاہ　　دردِ خود گر کند گہ و بیگاہ

از غلامانِ شاہ جیلانم

بلہ مدحہ

در دو عالم کیست در اقبال باشد ہمسرم　　چوں شہ جیلان ز رحمت سایہ کردہ بر سرم

چاکر شاہم ز شاہان جہان بالاترم　　از رہ فقر و غنا گوئی شہِ بحر و برم

تا بجان و دل گرائے شیخ عبدالقادرم

آں سوارِ ترک عجمی چوں بسنانہ دلغریب　　یک نظر کرد و ربود از دل مرا صبر و شکیب

در جنونِ عشقِ او بس والہ و شیدا شدم　　ہست دائم در طوافِ کعبۂ کوئش دلم

در رہ صدق و صفا ایں است حجِ اکبرم

ایکہ یاد تو مرا در دل خیالت در سراست　　چشم مشتاقم شہا ہر لحظہ بر راہِ در است

کہ نسیمِ کوچۂ تو بس مرا جان پرور است　　سینۂ من از ہوائے خلد کوئش کوثر است

آب حسرت میخورد رضوان ز خوانِ کرتم

نیست ملجائے منِ مسکین بجز تو نے مفر　　میرود تا کے فغان دل حزیناں بے اثر

آہ سرد و روئے زرد و چشم تر دارم مدام　　مے نہم گریاں رخِ خود بر درت ہر صبح و شام

رحمتے بر روئے گرد آلود و چشم تر م

صد ہزاراں ناز تو دامن کشاں رفتی ز من　　ہاں کتابِ فقر را شیرازہ را کردی ز من

رنج و غم شاہا زہ من در فراقت بردہ ام　　چند روزے شد کہ بحر و بم ازاں رد روہ ام

جلوۂ جاں پرورم ذرہ کتا ان پرورم

اے نسیم صبح گر پابوش شاہ دستت رہد — از من مسکین پیامے دہ کہ بے تر کے زید
گر خطا دارم ولے دارم امید از لطف تو — اے سبا از من بآن سلطان گیلانی بگو

سوختم اکنون بیا بر باد دہ خاکسترم

یک نظر اے سید جیلان خدا را یک نظر — الامان اے شاہ دوران جانم آمد در خطر
مدتے بگذشت و بیحد مضطرب شد ساعتے — گر نہ بینی کنون سوئم ز عین مرحمت

جائے آن دارد کہ در دنیا نہ بینی دیگرم

بس گنہگارم پریشان روزگارم الغیاث — یک نگاہ لطف فرما بیقرارم الغیاث
در جہان فریادرس جز تو ندارم الغیاث — مردم از غم الغیاث اے غوث اعظم الغیاث

وقت آن آمد کہ بنمائی جمال انورم

اے کریم فرمانگاہِ تو نجات جان و دل — الغیاث اے شاہ جیلان پائے دل مانند بگل
عقدۂ من پیچ پیچ و لیکہ این لا یحل است — بے جمالِ جانفزایت زندگانی مشکل است

رحمتے در نہ من و این خرقہ باہم مے درم

لائق پائے سگِ کوئت نبودم شاہ من — خود تبولم بانگاہِ مہر کردے ماہِ من
اے زہے دولت نداشتم ز عشقت راہ دم — غرۂ لطفِ تو بردم کس نیاوردم بچشم

زآن بچشم غیرت آورد ید محنت بر سرم

مدتے شد در تب و تابم زار نجوری بسے — حاذق درد مریضان جز تو کے دانم کسے
بہر تادیبم صعوبت ہائے نہ شفقت کردہ اند — ہر چہ بر من کردہ اند آخر نہ غیرت کردہ اند

وائے بر من گر مہائے نہ گردد یاورم

شد پریشان حالِ مسکین در مصائب ہائے غم — شاہ جیلان دست خود آخر بدامانت نہ زم
من گنہگارم شہا للہ مگرداں کو بہ کو — نیست یا غوثا از من جرم و خطا از ہیچ رو

رو مکش از من کہ بس بے دل خراب آیم ترم

یادم آمد از زمان کز مہر مے کردی نظر — بر کمین مکر سگانِ کوئے خود در ہر سحر
مثل بلبل نغمہ ہا کردم بایام بہار — کرد مے پرواز بر گلزار کوشت چون ہزار

چون پرم سنگ جفا شکست اکنوں چون پرم

غرقہ ام در بحر غم رو بر درت آوردہ ام — رو مکن شاہا سوالم بسکہ دل آزردہ ام
بر سرِ بالین بیالینم شدم گر نیم جان — شد ز تاب آتشِ غم تن مرا انگشت نیل

ہست گوئی خرقہ ماتم ز حسرت در برم

داخلِ ایمان اگر سجدہ نباشد گو مباش — دا خطا اللہ نمک بر زخمِ مشتاقان مپاش
سر بسجدہ کردہ ام آخر خدا را شفقتے — در تب و تابم شب و روز عنایت رحمتے

میخورد خونم غم و من ہم بہ غم خونش میخورم

آرزوئے تبسم از لبت مے داشتم — وائے بر من شد ز حاصل آنچہ در دل داشتم
چیست تقصیرم خدارا اے شہ جیلان بگو — ماندہ ام در گنج غم از بے التفاتی ہائے تو

ہمچو صد یعقوب بخت روزگارے می برم

شد تباہ حالِ من مسکین مکش دامن زمن — نیست شاہا بعد ازین تابِ غم و رنج و محن
مضطرب از گردشِ افلاک گشتم سیدا — دارم امید آنکہ از برج سعادت با صفا

گر شود طالع بود طالع ہمایون اخترم

شد خطا از من عطا از تو رجا دارم شہا — اے سبوئے خاک بوسان بہر یک لحظہ بیا
بر گناہ من ز غفوت کش قلم از روئے لطف — اے کرم فرما برائے کبریا از روئے لطف

نہ بکوئے من چہ شد آخر ہمان خاک درم

یک نگاہ لطف فرما تا بکے سوزم شہا — سر بپائت مے نہم آخر خدارا رو نما
ہر چہ کردم یافتم حقا شدم بس منفعل — میکنم ختم سخن تا چند گویم سوز دل

کز نوشتن باقلم در نالہ آمد دلستم

گر بچشم مہربانی سوئے من گردد چہ کم — الغیاث اے پیر پیران ماندہ ام در کنج غم
بر دل پر درد و چشم ترنگوں سر کن نظر — گر گناہے رفتہ باشد توبہ باکردم ز سر

عذر من بپذیر و نہ از لطف افسر بر سرم

داستان غم رسید آخر نقطہ این الف — در دل محزون است باقی ماندہ شاہ عبدالقادر را
یک نگاہ مہر فرما بر امین فرقتی — چیست در پیش کرم ہائے تو جرم غرقتی

الکرم یا غوث اعظم بالترحم الکرم!!

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

در حضرت غوث الثقلین شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سرہ العزیز۔ مدحہ

بدہ دست یقین اے دل بدست شاہ جیلانی — کہ دست اربود اندر حقیقت دست یزدانی
سگ درگاہ میران شو چو خواہی قرب سبحانی — کہ بر شیران شرف دارد سگ درگاہ جیلانی
امیرے دستگیرے غوث اعظم قطب ربانی — حبیبے سید عالم زہے محبوب سبحانی
نشان شان بے چونی بیان سر مکنونی — بسیرت مثل پیغمبر بصورت مرتضیٰ ثانی
نیاز آمد جناب پاک او را زد سیان باید — کہ آمد جبرائیل از بہر کار دربانی
زمین بوس اند درگاہت نظام الدین چشتی ہم — معین الدین اجمیری بہاؤ الدین ملتانی

کسے بدخواہ تو باشد بشانت حرف در آورد
ندا ندا ر الولامر ندارد او مسلمانی

د سلام هدیه په دې بار کښې د خیر الانام

او بن ګانو عظامو علیهم الصلوٰة و

السلام سره د شجرۂ پیشوائی

اے کریم و اے رحیم و اے حمید و اے مجید
صاحبِ لولاک احمد مجتبےٰ پر ہو سلام

آل پر اصحاب پر ازواج پر اخدام پر
داعیانِ شرع و دین مصطفےٰ پر ہو سلام

مرتضےٰ مشکل کشا خضر طریق اتقاء
صدرِ بزمِ اذکیا و اولیا پر ہو سلام

مشعلِ راہ علیؒ خواجہ حسن بصریؒ ولی
ساتھ ہی ان کے حبیب عجمی پر ہو سلام

حضرت داؤد طائی و سری سقطی ولی
حاملانِ پرچمِ صدق و صفا پر ہو سلام

واقفانِ سرِّ حق معروف کرخیؒ و جنیدؒ
وارثانِ تخت و تاجِ اصفیا پر ہو سلام

شیخ شبلی و ابوالفضل حقیقت آشنا
باوفا و باصفا و باخدا پر ہو سلام

ابوالفرح و ابوالحسن، ذی شان پیرانِ زمن
راہبرانِ منزلِ زہد و ہدیٰ پر ہو سلام

آفتاب برجِ عرفان و شریعت بوسعید
مرشدِ کامل حبیبِ کبریا پر ہو سلام

پیرِ پیران، شاہِ جیلان، نورِ یزدان دستگیر
شیخ عبدالقادر و غوث الوریٰ پر ہو سلام

شیخ دین عبدالعزیز است و محمد الہتاک
مشعلانِ محفلِ علم و ذکا پر ہو سلام

شاہ شمس الدین و شرف الدین شمس و شرف دین
کاملانِ و مرشدان و راہنما پر ہو سلام

پیر زین الدین، ولی الدین نقیبان شیوخ
پیکرانِ جود و فخر و استجا پر ہو سلام

شیخ نور الدین، ویکی برگزیدہ پیشوا
بزمِ فقر و عشق کے نور و ضیا پر ہو سلام

واجب العزت ابی بکر و حسام الدین شاہ
جاودان اے کبریا ان اتقیا پر ہو سلام

واقعی درویش و درویش محمد پر سلام
نیز نور الدین صغیر ذوالعطا پر ہو سلام

النجیب و الشریف و سید عبدالوہاب
شیخ اسماعیل مرد باحیا پر ہو سلام

شیخ ابوبکر صفیر و عبدالقادر نامور — شاہان و مرشدانِ بے ریا پر ہو سلام
دستگیر بے کساں سید علی عبدالنقیب — عبدالرحمٰن النقیب باوفا پر ہو سلام
شاہ محمود حسام الدین نازِ خاندان — پیکرِ صدق و صفا و اتقا پر ہو سلام
طاہر و طیب علاؤالدین فرخندہ پیشوا — اے خدا مخدوم و فخر الاتقیا پر ہو سلام
التجا ہے ساختہ لب کے اے الٰہ العالمین — اس عزیز دل حزین و بے نوا پر ہو سلام

دیوبل روایت موافق د حضرت علی کرم اللہ وجہہ څخہ د بیعت سلسلہ تر حضرت معروف کرخی پورې دغہ رنګہ هم صحیح ده۔

سیدالشہداء حسین ابن علیؓ نور نبیؐ — وارثِ بنت شہیدِ کربلا پر ہو سلام
پیشوائے عالمین مظلوم زین العابدین — مقتدائے اولیاء اذکیا پر ہو سلام
باقر و جعفر پہ ہو دائم خداوندا درود — موسیٰ کاظم و علی موسےٰ رضا پر ہو سلام

دکتاب خاتمه

الحمد للہ رب العالمین اللہ لا إلٰہ الا ھو الملک القدوس السلام المؤمن المھیمن العزیز الجبار المتکبر سبحان اللہ عما یشرکون والصلوۃ والسلام علی سیدنا و نبینا و شفیعنا وکریمنا و رحیمنا محمد رسول اللہ صلی اللہ علیہ وبارک علیہ و علیٰ جمیع الانبیآء والمرسلین و علیٰ آلہ واصحابہ واھل بیتہ و تابعین و تبع تابعین الیٰ یوم الدین برحمتک

یا ارحم الراحمین ۔

اما بعد ؛ د لکنو ان کړو پرو نو حمدونو او صفتونو لائق
هغه تنها خالق دی ۔ چه هغه په یوه حرف سره د ـ کُن ۔
(۱۸۰۰۰)
اتلس زره نړۍ عالم (الخلق) پرې پرې صفتونه او مختلف ۔
قسمونه او په رنګارنګ شکلونو او په پرې پرې هیئت
او صورت پیدا کړې او دهر یوه د پاللنې انتظام ئې خاص د
ازل دوران ئې څخه مقدر او تیار و فرمایی ۔ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ ۔
اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ ۝

او بې انتهآ سلوٰة او سلام پر هغه محبوب کبریا حضرت
سیدنا و مولانا او شفیعنا او حبیبنا منبع هر دو سرای (دد راښه
جهانونو) رحمة للعالمین شفیع المذنبین مظهر کائنات مفخر
موجودات نور مجسم حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه
وسلم باندې چه هغوی د خپل رحم او کرم او د بښنا نرد
خیرخواهی بین (بښکاره ثبوت په طائف ، جنګ احد او
داسې نورو نازک ترینو مواقعو باندې په اللهم اهدی
قومی ،، غوندې مبارک ترینو الفاظو سره پیښ کړې او
د شفیع المذنبینی او رحمة للعلمینی اظهار ئې په السلام
علینا وعلی عباد الله الصالحین ، د معراج په شپه په الهی
دربار کښې په حاضرۍ او ورپاندې کیدو کښې یوه ذ ر ه

خوف او تأسل محسوس نه کړی (اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ سُوْلِهِ اُلكَرِيْمِ) بیا - بې انتها درود او سلام پر هغه او د هغه پر صحابه کبار ، اهل بیتو ال پاک ، ازواجو مطهراتو او پر تولو نبیانو او رسولانو علیهم السلام باندې او پر تولو اولیاؤ عظامو او بزرګانو کرامو خصوصًا پر السیدنا ومولٰنا شیخ الکل صاحب تصرف التامه سلاب الاحوال الفرد الجامع الصمدانی محبوب سبحانی قطب ربانی غوث یزدانی الحسیب النسیب فخر الاولیآء غوث الورٰی شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز رضی الله تعالیٰ عنه وارضاه عنا - او د ده پر پاک اولاد ، ازواجو مطهراتو ، خلفاء راشدینو ، طلباء صالحینو او پر مریدان صادق الیقین باندې چه هغوی ته ده قدس سره العزیز مریدی لا ټینګ - و فرمائی. درحمت په غیږ او د مهربانی په لمن کښې مأمون او ساتلی دی ، د درود او سلام لیږلو څخه وروسته احقر العباد (عزیز احمد قادری) عرض کوی چه د غه - کتاب مستطاب د الله تعالیٰ د فضل او کرم او د آنحضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د صدقې څخه او د حضور غوث پاک قدس سره العزیز او نورو لویو

بزرگانو او د اسی نورو لخکینو موصوفینو د برکتونو ذریعی
او د سیلی څخه تکمیل او پوره والی ته رسیدلی دی ۔ اَلْحَمْدُ
لِلّٰہِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ ۝

د دی کتاب مصنف او مؤلف اعلیٰ حضرت سیدنا و
مولٰنا و مرشدنا و هادینا شیخ المشائخ زبدة العارفین
سراج السالکین نقیب زاده سید طاهر علاؤالدین القادری
الگیلانی دام ظله العالی او سیدونکی د باب الشیخ بغداد
شریف ملک عراق چه او لاد الاولاد د حضرت محبوب
سبحانی غوث صمدانی شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره
العزیز دی ۔ کوم (گیارهویں والا پیران پیر) دی ۔

کوم چه د شریعت د علومو بحر او د طریقت ماهر او عارف
باالله خدای ج ته رسیدلی کامل او اکمل بزرگ مجدد
د طریقهٔ قادریه العالیه دی مظهر د ظاهری حسن او
جمال دی او د باطنی کمالاتو خزانه ده او صاحب دکشف
او د معنوی کراماتو د زمانی یوازنی او تنها شخص دی ۔
(هغه سید طاهر علاؤالدین دام ظله العالی) خالص و
مخلص ته د فیض رسولو د پاره د طریقه قادریه د صحیح

عه د حضرت غوث الاعظم نیاز ته چه په یوولسمه د الاخری د ۔
میاشتی ودکول کیږی (گیارهویں) والی ۱۲

تعلیم او تشهیر په خاطر په دین مال او دولت مصرف کړی
د غه کتاب ئې چاپ او مشهور کړی دی په د غه کتاب کښی
ئې د پټو لو مطالبو او مقاصد و د حل د پاره هر ډول ورد ونه
او خاندانی وظیفی او د ګیلانی خاندان د حالاتو پټ رازونه
او رموزات، خطبات او د محبوب سبحانی ملفوظات او
ربانی ارشادات د غه رنګه عملیات او بی مثله اوراد بعینه
په عربی ژبه د تراکیبو او د عمل د طریقی سره سره په
اسانه پښتو ژبه د هر خاص او عام د فایدی د پاره درج
کړی دی - و ما علینا الا البلاغ -

احقرالعباد (عزیز احمد القادری) یو ضعیف العمره
کم عقل، بی علمه او بی هنره د ممدوح الصدر مصنف دام
ظله العالی - حلقه بگوش، غلام او نام نهاده مرید دی -
هغه " دام ظله العالی " د کرم د لاری څخه د د غه کتاب د مضامینو
د ترتیب او تکمیل کار د سلګونو عالمانو، فاضلانو، تذکره
نویسانو او مضمون نګارانو او حلقه بگوښه مریدانو او په
دین شوق او خوشحالی سره د د غه کار د سرته رسولو د خواهش
سره سره ئې وو قرصهٔ نال بنام من دیوانه زدند " مصداق ئې د د غه
ناچین او احقرالعباد په سپارنه کښی ورکړی - د غه د
حضور خاص الخاص عنایت او مهربانی ده چه د هغه شکریه

بنده په خپل ژوند کښی نه سی ادا کولای - په اصل کښی
د حضور منشأ او مقصد دستد خلافت د عالی ارشاداتو
« الولد القلبی واجن ته لجمیع ما اجازنی) د تعلیم او تربیت
فرمایل ، دغه په ټولو وجوه مکمل بنکاره کول او د
گیلانیه بغداد یه خاندان روایات یعنی جود او سخا
فضل او عطا د وجود په ډگر کښی راوړل په نظر کښی د
لوده - ددی سببه هغه (مدظله العالی) په خاص خلوت
کښی د راستلاس طرف ته ناچین بنده ته ځای ورکړی
د ټولو پټو اسرارو او د بانی نیض اتو د یوځای جمع کولو
او تر تیب ورکولو حکم ئی وفرمایی او د یوځای اسرارو او
رموزاتو د راتر په ډول د پټ ساتلو حکم ئی وکړی - ځکه
چه د دا سی رازونو بنکاره کول د خام طبیعته موریدانو
د پاره د هلاکت سبب او د بنکاره کونکی د پاره هم د
نقصان او تاوان موجب گرځی - لکه څرنگه چه د لاندی
شعر څخه حضرت معین الدین چشتی رضی الله تعالی عنه
په بنکاره ډول تبیه فرمایلی ده :

معینی گر همی خواهی که سرش بر زبان رانی
مقام ار سر داراست بر منبر نه می گنجد

لکه چه د هغه مد ظله العالی د ټولو ارشاداتو د تعمیل

په وجه د مِنْ او عَنْ څخه نیولی لفظ لفظ او حرف حرف ټول
مضامین پر خپلو خپلو ځایونو باندی په ترتیب سره
یوځای جمعه سویدی ما سیوی دیوی شجرهٔ پیشوائی ،
سلام منظوم او خاتمة الکتاب یا اداب او القاب د کتاب
د مصنف په اړه ناچیز بنده دهیڅ یو حرف تغیر او تبدل
یا د افراط او تفریط ظهور حتی الامکان نه دی کړی
ځکه چه حضور ممدوح د اسی توصیفی الفاظ یا آداب
د څه بی مبارکی څخه را ایستل د « ثنائے » خود بخود گفتن » مصداق
گڼی - اوس د اختصار څخه کار اخیستل سویدی اخری آرزو
او امید د کتو نکو او اوریدو نکو په لوړ خدمت کښی -
وړاندی کوم او د کتاب خاتمه ختم کوم چه د بدکردار ه
او گنهگاره احقر العباد (عزیز احمد قادری) د سهوی او
خطا ټولی غلطی نظر انداز ه فرمایلی سوی او دده په حق
کښی د خیر دعا وکړی چه الله تبارک و تعالیٰ په وسیله
د آنحضور حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او په صدقه
د حضرت غوث الاعظم دستگیر قدس سره العزیز او په
برکت د مرشدنا و مولانا پیر روشن ضمیر سراج العارفین
انیس الغریبین سید طاهر علاؤ الدین القادری الگیلانی
دام فیوضه ، خپل د رحمت د لمنی په سایه کښی ځای ورکړی

او په آخری (د ځکندن) په وخت کښی کلمه شهادت او کلمه توحید په خندید و نکی شنډانو سره پر زړه او ژ به باندی د جاری ساتلو سره سره -

او په دواړو وجهانو کښی دی ماخدای پاک د درگاه جیلانی سپی و بولی دار البقاته دی می رخصت کړی.

سره د دی د خپل برحق مرشد، رهنما او پیشوا سیدنا ومولٰنا محمد طاهر علاؤ الدین الگیلانی مد ظله العالی په پاک خدمت کښی په ډیر ادب عرض کیږی چه دا حقرالعباد بی لاری، بدکردار ه، قاصرالعقله، سپین بږیری، د درگاه جیلانیه د سپی سهوه او صدقه د غوث پاک او په وسیله د محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم معاف کړی سوی خپل د رحمت په غیږ کښی تر ابد الاباد پوری ځای ورکړی او په غاړه ترلی سپی حینځیں د خپل مبارک لاس څخه ایله نه کړی

وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰی -

الجامع احقر العباد پر تقصیر د دربار غوثیه سپی د بغداد د شاهی دربار خلیفه حکیم عزیز احمد قادری چک نمبر ع۲۷۹ کلان گلی نمبر ع۵ دار الفیوض غوثیه داخلی شهر لالپور - تمت بالخیر -

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د سلسلہ قادریہ غوثیہ بغدادیہ

شَجَرَةُ الْعُلْيَا

مَثَلُ كَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ اَصْلُهَا ثَابِتٌ وَّفَرْعُهَا
فِي السَّمَآءِ ۝ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ
الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِنَا وَنَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ رَّسُوْلِهِ
الْكَرِيْمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰهِيْ بِجَلَالِ قُدْسِكَ
وَبِجَمَالِ مَحَبَّتِكَ وَاُنْسِكَ بِحَقِّ رُسُلِكَ الْمَلٰٓئِكَةِ الْمُقَرَّبِيْنَ
مِنْهُمْ جِبْرَائِيْلُ رُوْحُ الْاَمِيْنُ عَلَيْهِ السَّلَامُ اِلٰهِيْ بِحُرْمَةِ
سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ صَادِقِ الْوَعْدِ الْاَمِيْنِ حَضْرَتْ مُحَمَّدٍ
الْمُصْطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَاَزْوَاجِهٖ وَاَهْلِ بَيْتِهٖ وَ
اَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ اِلٰهِيْ بِحُرْمَةِ الْخُلَفَآءِ الْاَرْبَعَةِ مِنْهُمْ
اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ اِمَامُ الْمُتَّقِيْنَ سَيِّدِنَا عَلِيٌّ اَسَدُ اللّٰهِ الْغَالِبُ
اِبْنُ اِبْنُ اَبِيْ طَالِبٍ كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى
عَنْهُ اِلٰهِيْ بِحُرْمَةِ سَيِّدِيْ شَبَابِ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَقُرَّةِ
الْاَعْيُنِ اَهْلِ السُّنَّةِ الْاِمَامَيْنِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ رَضِيَ اللّٰهُ
تَعَالٰى عَنْهُمَا اِلٰهِيْ بِحُرْمَةِ سَيِّدِنَا الْاِمَامِ الشَّرِيْفِ وَ
الْحَسِيْبِ حَضْرَتْ زَيْنُ الْعَابِدِيْنَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ

اِلٰهِیْ بِحُرْمَةِ سَيِّدِنَا الْاِمَامِ الشَّرِيْفِ وَالْحَسِيْبِ حَضْرَتْ
مُحَمَّدٍ بَاقِرْ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اِلٰهِیْ بِحُرْمَةِ سَيِّدِنَا
الْاِمَامِ الشَّرِيْفِ وَالْحَسِيْبِ حَضْرَتْ جَعْفَرِ صَادِقْ رَضِیَ اللّٰهُ
تَعَالٰی عَنْهُ اِلٰهِیْ بِحُرْمَةِ سَيِّدِنَا الْاِمَامِ الشَّرِيْفِ وَالْحَسِيْبِ
قِبْلَةُ الْبَاطِنِ اَبِی الْحَسَنِ عَلِیِّ ابْنِ مُوْسٰی رَضَا رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی
عَنْهُ اِلٰهِیْ بِحُرْمَةِ سَيِّدِنَا الْاِمَامِ الشَّرِيْفِ وَالْحَسِيْبِ
قِبْلَةُ الْبَاطِنِ اَبِی الْحَسَنِ عَلِیِّ ابْنِ مُوْسٰی رَضَا رَضِیَ اللّٰهُ
تَعَالٰی عَنْهُ اِلٰهِیْ بِحُرْمَةِ شَيْخُ الْمَشَائِخِ النَّجِيْبِ الشَّرِيْفِ
الْاِمَامِ حَضْرَتْ معروف الکرخی رضی اللّٰه تعالٰی عنه
اِلٰهِیْ بحرمة شیخ المشائخ الامام الشریف حضرت
سری سقطی رضی اللّٰه تعالٰی عنه اِلٰهِیْ بحرمة شیخ
المشائخ الامام الشریف حضرت ابی القاسم جنید البغدادی
رضی اللّٰه تعالٰی عنه اِلٰهِیْ بحرمة شیخ المشائخ الامام
الشریف حضرت ابی بکر الشبلی رضی اللّٰه تعالٰی عنه اِلٰهِیْ
بحرمة شیخ المشائخ الامام الشریف حضرت عبد الواحد
التمیمی رضی اللّٰه تعالٰی تعالٰی عنه اِلٰهِیْ بحرمة شیخ
المشائخ الامام الشریف حضرت ابی الفرج الطرطوسی
رضی اللّٰه تعالٰی عنه اِلٰهِیْ بحرمة شیخ المشائخ الامام
الشریف حضرت ابی الحسن الهنکاری رضی اللّٰه تعالٰی عنه

إِلٰهِیْ بحرمة شیخ المشائخ امام الشریف حضرت ابی
سعید المخزومی رضی اللّٰه تعالیٰ عنه إِلٰهِیْ بحرمة
سید السادات قطب الوجود الدرة البیضاء مالك ازمة
المتصرفین الامام الجوهر الفرد سلاب الاحوال قطب
الاقطاب محبوب السبحانی غوث الثقلین الغوث الاعظم
شیخ المشائخ حضرت عبد القادر جیلانی قدس سره
العزیز رضی اللّٰه تعالیٰ عنه وارضاه عنا إِلٰهِیْ بحرمة
شیخ المشائخ مرشد السالکین منهاج العارفین القطب
العارف باللّٰه سید الامام حضرت عبد العزیز القادری
الجیلانی رضی اللّٰه تعالیٰ عنه إِلٰهِیْ بحرمة شیخ المشائخ
الامام الشریف سیدنا حضرت محمد الهتاك القادری
الجیلانی رضی اللّٰه تعالیٰ عنه إِلٰهِیْ بحرمة شیخ المشائخ
الامام الشریف سیدنا حضرت شمس الدین القادری
الجیلانی رضی اللّٰه تعالیٰ عنه إِلٰهِیْ بحرمة شیخ المشائخ
الامام الشریف سیدنا حضرت شرف الدین القادری
الجیلانی رضی اللّٰه تعالیٰ عنه إِلٰهِیْ بحرمة شیخ المشائخ
الامام الشریف سیدنا حضرت زین الدین القادری الجیلانی
رضی اللّٰه تعالیٰ عنه إِلٰهِیْ بحرمة شیخ المشائخ الامام
الشریف سیدنا حضرت ولی الدین القادری الجیلانی رضی

اللہ تعالیٰ عنہ اِلٰہِیْ بحرمۃ شیخ المشائخ امام الشریف
سیدنا حضرت نورالدین القادری الجیلانی رضی اللہ
تعالیٰ عنہ اِلٰہِیْ بحرمۃ شیخ المشائخ الامام الشریف
سیدنا حضرت یحییٰ القادری الجیلانی رضی اللہ تعالیٰ
عنہ اِلٰہِیْ بحرمۃ شیخ المشائخ الامام الشریف سیدنا
حضرت ابی بکرن القادری الجیلانی رضی اللہ تعالیٰ عنہ
اِلٰہِیْ بحرمۃ شیخ المشائخ الامام الشریف سیدنا
حضرت حسام الدین القادری الجیلانی رضی اللہ تعالیٰ
عنہ اِلٰہِیْ بحرمۃ شیخ المشائخ الامام الشریف
سیدنا حضرت محمد درویش القادری الجیلانی رضی
اللہ تعالیٰ عنہ اِلٰہِیْ بحرمۃ شیخ المشائخ الامام
الشریف سیدنا حضرت نورالدین القادری الجیلانی
رضی اللہ تعالیٰ عنہ اِلٰہِیْ بحرمۃ شیخ المشائخ الامام
الشریف سیدنا عبدالوہاب القادری الجیلانی رضی اللہ
تعالیٰ عنہ اِلٰہِیْ بحرمۃ شیخ المشائخ الامام الشریف
سیدنا حضرت اسماعیل القادری الجیلانی رضی اللہ
تعالیٰ عنہ اِلٰہِیْ بحرمۃ شیخ المشائخ الامام الشریف
سیدنا حضرت ابی بکر القادری الجیلانی رضی اللہ تعالیٰ
عنہ اِلٰہِیْ بحرمۃ شیخ المشائخ الامام الشریف سیدنا

عبد القادر القادری الجیلانی رضی اللہ تعالیٰ عنہ
اِلٰہِیْ بِحُرْمَةِ شَیْخِ الْمَشَائِخِ الْاِمَامِ الشَّرِیْفِ سَیِّدِنَا
حَضْرَتْ عَلِیِّ الْقَادِرِیِّ الْجِیْلَانِیِّ نَقِیْبُ السَّادَاتِ وَالْاَشْرَافِ
وَمُتَوَلِّیِ الْاَوْقَافِ الْقَادِرِیَّةِ الْبَغْدَادِ الْمُحَمِّیَّةِ رَضِیَ اللّٰہُ
تَعَالٰی عَنْہُ اِلٰہِیْ بِحُرْمَةِ شَیْخِ الْمَشَائِخِ اَلْاِمَامِ الشَّرِیْفِ
صَاحِبِ السُّمُوِّ وَالسَّمَاحَةِ سَیِّدِنَا حَضْرَتْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ الْمُحْفِ
ظَهِیْرُ الدِّیْنِ الْقَادِرِیِّ الْجِیْلَانِیِّ نَقِیْبُ الْاَشْرَافِ وَمُتَوَلِّیُ
الْاَوْقَافِ بِبَغْدَادِ الْمُحَمِّیَّةِ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اِلٰہِیْ
بِحُرْمَةِ شَیْخُ الْمَشَائِخِ الْاِمَامِ الشَّرِیْفِ شَمْسُ الْعَارِفِیْنَ
سَیِّدِنَا مَحْمُوْدِ حِسَامِ الدِّیْنِ الْقَادِرِیِّ الْجِیْلَانِیِّ نقیب
الْاَشْرَافِ وَمُتَوَلِّیُ الْاَوْقَافِ بِبَغْدَادِ الْمَحْمِیَّةِ رَضِیَ اللّٰہُ
تَعَالٰی عَنْہُ اِلٰہِیْ بِحُرْمَةِ شَیْخُ الْمَشَائِخِ الْحَسِیْبِ النَّسِیْبِ
الْاِمَامِ الشَّرِیْفِ صَاحِبِ الْجَاہِ وَالتَّمْکِیْنِ سِرَاجِ السَّالِکِیْنَ
اِمَامِ الْمُتَّقِیْنَ اَنِیْسِ الْغَرِیْبِیْنَ سَیِّدِنَا وَمَوْلٰنَا حَضْرَتْ
ابن النقیب مُحَمَّدُ الطّاهر علاؤ الدین القادری الجیلانی
دام فیوضه وظله وبرکاته الی ابد الاباد مجدد الطریقة
القادریة العلیا رضی اللہ تعالیٰ عنه اِلٰہِیْ بحرمة
جمیع الانبیآء والمرسلین والمجتهدین و العلمآء ـ
العاملین والشهدآء والصالحین المقربین نور قلوبنا

بنور معرفتك واسقنا بشراب محبتك ونجنا بها من جميع
المحن والاحن والاحوال والبليات وتسلمنا بها من جميع
الفتن والاسقاوالا فات والعاهات وتطهرنا بها من جميع
عيوب والسيئات وتغفرلنا جميع الذنوبات وتمح بها
منا جميع الخطيئات وتقضى لنا بها جميع مانطلبه من
الحاجات وترفعنا بها عندك اعلى الدرجات وتبلغنا بها اقصى
الغايات من جميع الخيرات فى الحيات وبعد الممات ياربّ
يا اللّٰه يا مجيب الدعوات ۝

وصلى اللّٰه على خير خلقه ونور عرشه سيد المرسلين
شفيع المذنبين رحمة للعٰلمين سيدنا ومولٰنا محمد وعلى
اله واهل بيته واولاده وازواجه واصهاره وانصاره
واحزابه واتباعه وموالیه وخدّامه وحجابه وسلم ۝

.....★.....